اسلامي حکومت د فقيرانو حامي او متکفل وي

او مشر ئې د يوسف ع په څېر پوه او متقي وي

إسلامي اقتصاد

ځانګړتيا او امتيازات ئې

د کمونيزم او پانګوال اقتصاد په پرتله

حکمتيار

اسلامي حکومت د فقيرانو حامي او متکفل وي
او مشر ئې د يوسف ع په څېر پوه او متقي وي

إسلامي اقتصاد

ځانګړتيا او امتيازات ئې

د کمونيزم او پانګوال اقتصاد په پرتله

حکمتيار

إسلامي اقتصاد؛

ځانګړتياوي او امتيازات ئې

د کمونيزم او پانګوال اقتصاد په پرتله

ناکاره حکومت او بيمار اقتصاد سره تړلي وي

د هر بيمار اقتصاد تر شا به حتماً خائن حکام او فاسد حکومت ومومئ او د هر بريالي او رغنده اقتصاد تر شا به حتماً يو اهل او صالح زعيم او حکومت.

که غواړئ له قحطي او لوږي وژغورل شئ نو د يوسف (ع) په څېر پوه او متقي لارښود غوره کړئ

آيا پوهېږئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي:

«إِنَّ صَاحِبَ الْمَكْسِ فِي النَّارِ» مسند احمد

د ټکس او مالیې اخیستونکی دوزخي دئ

«لَا يَدْخُلُ صَاحِبُ الْمَكْسِ الْجَنَّةَ» سنن ابي داؤد

د ټکس اخیستونکی به جنت ته داخل نه شي

«لَيْسَ فِي الْمَالِ حَقٌّ سِوَى الزَّكَاةِ» سنن ابن ماجه

د مسلمان په مال کې له زکات پرته بل حق نه شته

آيا پوهېږئ چې: بانکنوټونه کله رائج شوي او په اسلام کې ئې حکم څه دئ؟

او دا چې اسلام د پانګوال اقتصاد ټول بنسټونه تحريم کړي؛ لکه سود، احتکار، انحصار، قمار، لاټري، ګمرکي تعرفې، بيمه، ټکس او هره هغه معامله چې د چانس، تصادف، بخت آزموينې او قمار په څېر وي او له فقير او مسکين ټکس او مالیه اخیستل وي؟

فهرست

عنوان صفحه

فهرست ---------- ا
د ناشر مقدمه ---------- ۱
مقدمه ---------- ٤
إسلامي اقتصاد؛ ---------- ۱۱
په غرب کې مروج پانګوال نظام ---------- ۱۱
د پانګوال نظام اقتصادي بنسټونه ---------- ۱۵
غربي پانګوال سیستم ---------- ۲٤
که د شیطان پاچایي ---------- ۲٤
سود ---------- ۳۰
احتکار ---------- ۳۰
قمار ---------- ۳۱
لاټري ---------- ۳٤
بیمه ---------- ٤۳
ګمرکي تعرفې ---------- ٤۵
انحصار ---------- ٤۷

د غربي ټولني د سياسي او اجتماعي نظام بنسټونه: ---------- ٤٩
د غربي ټولني فرهنگي بنسټونه: ---------- ٤٩
د غربي ټولني ديني او مذهبي جوړښت: ---------- ٤٩
د بې ساري او بې سيالي امريکا رؤيا! ---------- ٥٧
ماتريياليزم او کمونستي اقتصاد ---------- ٦٢
د کمونيزم ستر فکري او عملي عيبونه ---------- ٦٤
په روسيه کې د کمونيزم برخليک ---------- ٦٨
په چين کې د کمونيزم برخليک ---------- ٦٩
د اسلام اقتصادي سيستم ---------- ٧٣
مسکو او په شمال کې زمونږ نفت او گاز ---------- ٧٦
مسکو او د افغانستان د شمال نهرونه ---------- ٧٦
زمکه به د هغه چا وي چې په خپله ئې کري---------- ٨٢
د اسلامي اقتصاد مباني ---------- ٩٣
د اقصادي چارو په اړه د اساسي قانون احکام ----------١٠٢
اسلام او د ميراث جامع قانون ئې ----------١٠٦
په احاديثو کې د ميراث په اړه مهمي لارښووني ----------١١٤
سهامي شرکتونه او مضاربت ----------١١٦
د اوبو مهارول ----------١١٧
د معادنو په برخه کې پانگونه ----------١١٨
روغتيا او صحت ----------١١٨

د تعليم او تربيې په برخه کې پانګونه ----------۱۱۹
د اسلامي حکومت اساسي دندي ----------۱۲۵
او د ولس په وړاندي ئې مسئوليتونه ----------۱۲۵
اسلامي حکومت د مظلومانو مدافع؛ د فقيرانو متکفل --------۱۲۸
له کار ځيو ماليه، د برېښنا لوړ بل او جريمه----------۱۳۱
عمر بن عبد العزيز ولي د عمر ثاني په نامه ياد شو؟ ----------۱۳۵
امير او غدر ----------۱۴۰
د طبقاتي نظام په اړه د اسلام وينا او دريځ ----------۱۴۳
اسلامي اقتصاد عدالت محور دئ ----------۱۴۹
د حلال کسب ارزښت ----------۱۵۸
قرآن د سود په اړه څه ويلي؟ ----------۱۶۲
مؤمنانو ته د سود په اړه د قرآن لارښوونه ----------۱۶۹
له مأمورينو سود اخيستل ----------۱۷۱
د سود او نورو ناجائزو معاملاتو په اړه ځيني روايات -- ۱۷۲
د غلې دانې پلورل او احتکار ----------۱۸۱
د مسلمان په بيع داو لګول جواز نه لري ----------۱۸۴
د مزايدې بيع ----------۱۸۷
د جنس نه شتون کې او د حيوان نه زېرېدلي بچي بيع ---------۱۸۹
د جنس او مبيعې عيب بايد ښکاره شي ----------۱۸۹
باب: هغه څه چې په پېر پلور کې کرکجن دي ----------۱۹۱

منډيي ته د جنس تر رسېدو وړاندي په نيمه لار کي پېر پلور --۱۹۲
د اجناسو تبادله ----------۱۹٤
په پېر پلور کي دوکه ----------۱۹٦
ناکاره حکومت او بيمار اقتصاد ----------۱۹۷
ظالمانه اقتصادي سيستم او د بې وزلو تدريجي مرګ ----------۲۰۵
غير اسلامي حکومت او فرعوني نظام ----------۲۰۹
د هر فرعوني نظام نسکورېدا؛ د الله نه بدلېدونکی سنت؛ -----۲۱۰
د کوم واکمن چلن له مظلومانو سره فرعوني دئ؟ ----------۲۱۲
له جهاد پرته؛ له بلي لاري اقتدار ته د رسېدو بدي پايلي؛------۲۱۵
الف- په قرآن کي عدم تدبر ----------۲۲۵
ب ـ مسخ شوی زړه ----------۲۲۷
د نړۍ اقتصادي بحران ----------۲۲۸
د قرآن بل اعجاز ----------۲۲۸
د ۲۱ مي پېړۍ له ننګونو ډک وضعيت ----------۲۲۹
يو پر بل ظلم او تېری ----------۲۳۰
د زمکي د تودوخي زياتېدا ----------۲۳۸
کاغذي بانکنوټونه او بدي پايلي ئې ----------۲٤۱
ډيجيټل کرنسي ----------۲٤۵
رهن (ګروي) څه ده او له سود سره ئې توپير څه؟ -----۲٤۷
باب: د ګرو شوي څاروي له سپرلۍ او شيدو استفاده ------۲۵۸

زکات، نصاب او مقدار ئې ---------- ٢٦١
د زکات د فرضیت شروط ---------- ٢٦٢
د زکات نصاب او مقدار څنګه ټاکل شوی؟ ---------- ٢٦٤
زکات او د حکومت مالي ستونزي ---------- ٢٦٩
کله پر زکات سربېره نور څه له شتمنو اخیستل جائز دي؟ ----- ٢٧٧
حکومت او د شخصي ملکیت مصادره ---------- ٢٨١
د زکات کتاب ---------- ٢٨٨
١ باب: د زکات فرضیت ---------- ٢٨٨
٢ باب: د زکات نه ورکولو ګناه ---------- ٣٠١
٣ باب: د کوم مال چې زکات ورکړل شي هغه کنز (ذخیره کول) نه ګڼل کېږي ---------- ٣٠٩
٤ باب: زکات یا خیرات په پاک مال کي وي ---------- ٣١٥
٥ باب: تر رد کېدو وړاندي صدقه ---------- ٣٢١
٦ باب: صدقه له اور د نجات سبب دئ ---------- ٣٢٦
٧ باب: کومه صدقه غوره ده ---------- ٣٣٠
٨ باب: له صدقه ورکولو سره مینه ---------- ٣٣١
٩ باب: غني ته صدقه ورکول ---------- ٣٣٦
١٠ باب په نا خبرۍ کې خپل زوی ته صدقه ورکول ---------- ٣٣٩
١١ باب: خادم ته د صدقې امر او په خپل لاس نه ورکول -- ٣٤٠
١٢ باب: غوره صدقه هغه ده چې د غناء په حالت کي وي- ٣٤١
١٣ باب: صدقې ته هڅونه او د فقیر لپاره ئې سپارښتنه ---- ٣٤٣
١٤ باب: صدقه د توان تر حد ---------- ٣٤٤

۱۵ باب: څوک چې له صدقې ورکولو وروسته مسلمان شي--۳٤٤
۱٦ باب: د خادم ثواب چې د بادار په امر صدقه ورکړي ----۳٤٦
۱۷ باب: د الله تعالی دا قول: (فَأَمَّا مَنْ أَعْطَى وَاتَّقَى)-------۳٤۷
۱۸ باب: د سخي او بخيل مثال ----------۳٤۸
۱۹ باب: پر مسلمان صدقه لازمه ده، که نه نو د خير کار ---۳۵۰
۲۰ باب: د زکات او صدقې اندازه ----------۳۵۱
۲۱ باب: په زکات کې د مال اخيستل ----------۳۵۵
۲۲ باب: متفرق دي نه يو ځای کېږي او ګډ دي نه بېلېږي--۳۵۷
۲۳ باب: ګډ مال کې ګډ زکات په متناسبه توګه ----------۳۵۷
۲٤ باب: د اوښانو زکات ----------۳۵۸
۲۵ باب: د چا زکات چې بنت مخاض وي خو نه ئې لري ---۳۵۹
۲٦ باب: د مېږو (پسونو) زکات ----------۳٦۱
۲۷ باب: د زکات مال بايد سالم وي ----------۳٦۳
۲۸ باب: په زکات کې د خلکو غوره مال نه اخيستل--------۳٦٤
۲۹ باب: خپلوانو ته د زکات ورکول ----------۳٦٤
۳۰ باب: د آس زکات نه شته ----------۳٦۷
۳۱ باب: يتيمانو ته صدقه ورکول ----------۳٦۹
۳۲ باب: خاوند او تر کفالت لاندي يتيمانو ته زکات ورکول-۳۷۱
۳۳ باب: د الله دا قول: (وفي الرقاب والغارمين وفي سبيل الله)
----------۳۷۳
۳٤ باب: له سوالګرې ډډه کول ----------۳۷٦
۳۵ باب: چا ته چې الله له سؤال او حرص پرته څه ورکړي --۳۸۱
۳٦ باب: څوك چې ډېر سؤال کوي (د ډېرښت په موخه) ---۳۸۱

۳۷ باب: د غناء (شتمنۍ) اندازه ----------۳۸٤
۳۸ باب: د خرما د اندازې تخمين ----------۳۸۵
۳۹ باب: هغو حاصلاتو عشر چې په باران او ----------۳۹۱
٤۰ باب: د خرما زکات د ټولولو په مهال اخیستل کېږي-----۳۹۱
٤۱ باب: آیا څوك کولی شي خپل زکات (صدقات) وپېري؟---۳۹۳
٤۲ باب: د رسول الله مېرمني او آزاد شوي غلام ته صدقه --۳۹۵
٤۳ باب: د زکات په حالت کې بدلون ----------۳۹۵
٤٤ باب: زکات له شتمن اخیستل کېږي او فقیر ته ورکول---۳۹٦
٤۵ باب: د صدقه ورکوونکي لپاره د خیر دعاء ----------۳۹۷
٤٦ باب: څه چې له سمندر په لاس راځي ----------۳۹۸
٤۷ باب: د ګنج او زېرمي زکات پنځمه برخه ده ----------٤۰۲
٤۸ باب: د الله تعالی دا قول: (...وَالْعَامِلِينَ عَلَيْهَا.. ----------٤۰۵
او د زکات راغونډوونکو محاسبه له امام سره ----------٤۰۵
٤۹ باب: امام د زکات اوښان په نښه کوي ----------٤۰٦

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

د ناشر مقدمه

د الله تعالى له پېرزوينو منندوی يو او د شکر له اداء کولو ئې ځان عاجز ګڼو؛ چې موږ ته ئې د مجاهدينو او دعوتګرانو په ليکو کې د عضويت او مبارزې سعادت او توفيق راپه برخه کړ؛ د شوروي او ناټو اشغالګرانو خلاف ئې د جهاد شرف رانصيب کړ او د دواړو زبرځواکونو د ماتې او زوال په ليدو ئې ونازولو؛ هيله ده هغه ورځ هم وګورو چې سر لوړی، له جنګ او ناامنيو فارغ، مستقل، خپلواك او په واقعي معنی اسلامي افغانستان ولرو؛ اسلام مو د ژوند پر ټولو فردي او اجتماعي برخو حاکم وي؛ فضاء او زمکه مو په بشپړه توګه په خپل واك کې وي، کورنۍ او بهرنۍ سياستونه، اجتماعي، اقتصادي او سياسي تګلاري مو له اسلام سره په بشپړ مطابقت کې وي؛ د ملت ممثله منتخبه درنه شوری ولرو، همدا شوری د ټولو دغو چارو په اړه د هر تصميم او پرېکړې وروستۍ مرجع وي؛ ټول ملت؛ لوی او ووړ، مشر او کشر، حکومت او ولس ورته بشپړ تمکين ولري؛ إن شاء الله زموږ مؤمن او مجاهد ولس به حتماً دا ورځ په خپلو سترګو وګوري؛ همداسي چې د روسي او امريکايي اشغالګرانو ماته ئې وليده.

د ميثاق ايثار اداره ويارې چې په فرهنګي ډګر کې ئې کافي شمېر معتبر علمي آثار خپاره کړي؛ د شوروي او بيا امريکايي اشغال په دوران کې هم؛ او له اشغال وروسته هم؛ دا دئ اوس؛ د اسلامي فرهنګ مينه والو ته؛ د حزب اسلامي افغانستان محترم امير حکمتيار صاحب؛ د اسلامي اقتصاد په اړه دا مهم او علمي اثر (إسلامي اقتصاد؛ ځانګړتياوي او امتيازات ئې)؛ وړاندي کوو؛ په دې کتاب کې به لوستونکي ډېر هغه

څه وګوري چې هم د اسلام اقتصادي نظام په ښه توګه وپېژني، په دې اړه د خپلو پوښتنو ځوابونه وموميِ، د غرب پانګوال نظام او د کمونيزم اقتصادي سيستم پراخ عيبونه ورته جوت شي؛ او ډېر هغه امتيازات درک کړي چې اسلام ئې د دې سيستمونو په پرتله لري. نن ټول اسلامي امت په عامه توګه او خداى پال مبارزين او دعوتګران په خاصه توګه؛ دې ته ضرورت لري چې د اسلامي علومو او لارښوونو هغه برخې ښه وپېژني چې د دعوت او جهاد په دې پړاو کې ورسره مخ دي؛ بايد خپله پرې پوه شي او خپل مخاطبين پرې پوه کړي، هغه اندېښنې له منځه يوسي او پوښتنې ځواب کړي چې د اسلامي نظام او د هغه د حکومتولۍ، سياست او اقتصاد د څرنګوالي په ارتباط کورنې او بهرنې دښمن رامنځته کړې، د اسلامي امت ځوان نسل د دوى تر پراخ فکري هجوم لاندې دئ؛ زهرجن تبليغات کوي، شکوك او شبهات خوروي، پوښتنې او اندېښنې زېږوي، د دې پوښتنو ځوابونه د مدرسو په کتابونو کې نه مومي؛ د اسلام سياسي نظام، اقتصادي سيستم، له نړۍ والو نظامونو او سيستمونو سره ئې مقايسه، امتيازات او ځانګړتياوي ئې پېژندل او په مدرسه او جومات کې د درس او خطبو په دوران کې خپلو مخاطبينو ته ښودل او بيانول؛ هغه څه دي چې نه د مدرسو په درسي نصاب کې شامل وو او نه استاد، مدرس او خطيب په دې اړه د څه ويلو ضرورت احساسولو؛ هلته دا ورته کافي برېښېدو چې په ورځنيو عباداتو او فرائضو لکه اودس، لمونځ، نکاح، حيض، نفاس، روژه، حج، جنت او دوزخ؛ ... ترکيز وکړي؛ خو نن اسلام او اسلامي امت له ډول ډول ګواښونو او چلنجونو سره مخامخ دئ، له پراخ سوړ او تود جنګ سره، پرون د بريتانيا او شوروي له لوري تپل شوو جنګونو او د دوى لاسپوڅو حکومتونو سره او نن د هغوى ځاى ناستي او خلف امريکا او ناټو او په غرب پورې تړلو ډلو او حکومتونو سره؛ د ننني حاکم وضعيت غوښتنه دا ده چې په هره عرصه او ډګر کې د دغو فکري، فرهنګي، سياسي او نظامي بريدونو مخې ته ودرېږو، خپل ملت او اسلامي امت ئې مقابلې ته چمتو کړو.

دا کتاب او تر دې وړاندې؛ بایبل د قرآن په رڼا کې، دین او سیاست، د امریکا ضد اسلامي جهاد، ۱۱ سپتمبر، فتنه تکفیر و انتحار؛ د هغو کتابونو په ضمن کې دي چې مورږ اوس ورته ضرورت لرو او د میثاق ایثار اداره ئې د طبع او توزیع سعادت تر لاسه کړی.

محترم ورور حکمتیار دا کتاب د خپل ژوند په داسې پړاو کې لیکلی چې عمر ئې ۷۷ کلونو ته رسېدلی، له دې عمر ئې تر ۵۵ کاله زیات په دعوت، جهاد او مبارزې کې تېر کړي، د قرآن پلوشې تفسیر ئې په اتو جلدونو کې او د بخاري نژدې دوه ثلثه روایات ئې د حکمة الباري په څلورو جلدونو کې ترجمه او شرح کړي، د کتابونو او رسالو شمېر ئې تر ۱۴۰ اوښتی، که په عربي، اردو، ترکي او انګرېزي کې ژباړل شوي او نشر شوي کتابونه ئې هم پرې علاوه کړو نو شمېر ئې تر ۱۶۰ اوړي؛ د اسلامي اقتصاد په اړه تفصیلي علمي کتاب لیکل؛ همداسې پوخ عمر، پراخي علمي زېرمي او ذخیرې ته ضرورت درلود؛ الحمد لله چې د دې تشې ډکولو سعادت د ده په برخه شو او نن د اسلامي امت ستر کتابتون؛ د اقتصاد په اړه په یوه جامع او معیاري کتاب؛ لا زیات غني کېږي.

هیله ده زمورږ مؤمن او مجاهد ملت؛ د آزموینو، جهاد او مبارزې په دې پړاو کې هم د مخکې په څېر بریالی او د خیر الناصرین رب له فضل او کرم برخمن وي او د خپلو ټولو سپېڅلو آرمانونو د تحقق شاهد وي. ربنا آمین!

د میثاق ایثار اداره

بسم الله الرحمٰن الرحيم

مقدمه

اَلْحَمْدُ لِلَّهِ وَ كَفَى وَ سَلامٌ عَلَى عِبَادِهِ الَّذِينَ اصْطَفَى و بعد: فاعوذ بالله من الشيطن الرجيم

وَلَا تَتَمَنَّوْاْ مَا فَضَّلَ ٱللَّهُ بِهِۦ بَعْضَكُمْ عَلَىٰ بَعْضٍۚ لِّلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِّمَّا ٱكْتَسَبُواْۖ وَلِلنِّسَآءِ نَصِيبٌ مِّمَّا ٱكْتَسَبْنَۚ وَسْـَٔلُواْ ٱللَّهَ مِن فَضْلِهِۦٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا ﴿٣٢﴾ النساء صدق الله العظيم

درنو لوستونکو وروڼو خوښندو!

د دې کتاب د لیکلو ضرورت مي هغه مهال احساس کړ چې د کابل امریکایي حکومت؛ د اقتدار په وروستیو کې؛ له یوې خوا تر خپلې سلطې لاندې سیمو کې؛ د پلازمېنې کابل په شمول؛ د اسلامپالو شخصیتونو، علماءو او خطیبانو ترورونه زیات کړل او له بلې خوا ئې د دیني او ملي ارزښتونو سپکاوی انتهاء ته ورسولو؛ دا سپکاوی او اهانت د هغو ملحدینو، کمونستانو او سیکولرانو کار دئ چې اشغالګرانو د اروپا او امریکا له بازارونو، کابارو، نایټ کلپونو او هوټلونو راغوند کړل، د کابل له اشغال وروسته ئې هېواد ته راانتقال او د اقتدار پر کرسیو کښېنول؛ ارګ د دوی په واك کې وو او پردیپالي رسنۍ د دوی په خدمت کې، په لوړو پستونو، مأموریتونو او دندو ګمارل شوي، د فوځ او امنیتي ادارو اکثر مهم پستونه ئې دوی ته سپارلي، ناټو کرایي جنګیالیو ته ضرورت درلود، په مارکیټ کې ئې کمونستان منتظر وموندل، په ارزانه بیعه ئې وپېرل او د خپلو ګټو لپاره ئې وجنګول، خبره ئې دې ځای ته ورسوله چې غوښتل ئې د افغانستان د تاریخ تر ټولو ستر جاني او قاتل؛ جنرال

نجيب تلين په پرتمينه توګه او د لويي جرګې په خيمې کې ولمانځي؛ داسي چې جمهور رئيس غني به له جګپوړو چارواکو سره په غونډې کې شرکت کوي؛ خو اسلام ته د ژمنو مجاهدينو او خلکو له لوري ئې مخنيوی وشو؛ معلومه ده چې په دې شرارتونو سره ئې غوښتل د جنګ پر سره اور مزيد تېل توی کړي؛ دا ځکه چې د دوی اقتدار، بقاء او ژوند په جنګ پوري تړلی وو، جنګ هر څه ورکول او په سولې کې ئې هر څه له لاسه وتل.

په همدې لړ کې د اشرف غني لومړي معاون په يوې ناستې کې پر طالبانو د توندو نيوکو، اعتراضاتو او اتهاماتو او پر هغوی د تمسخر او استهزاء تر څنګ؛ خبره هغه ځای ته ورسوله چې اسلام ته سپکاوی وکړي او لارښوونې ئې مبهمې او ناکافي وګڼي؛ او ووايي: طالبان د هري پوښتنې په وړاندې فقط يو ځواب لري او هغه داچې وايي: بايد اسلامي وي!! که تري وپوښتل شي: د هېواد اقتصادي سيستم به څنګه وي؟ وايي: بايد اسلامي وي!! ... دا پاته ده چې تري وپوښتل شي: موسمي او د هوا چاري به څنګه وي؟ ځواب به ئې دا وي: بايد اسلامي وي!! دا خبري ئې له خندا او تمسخر سره توأم کولې او له ناستو ناکسانو ئې په سترګکونو، د شونډو کړولو او يوې بلې خوا ته د لاسونو خوځولو سره د تحسين، تمجيد او لاسونو پرکولو انتظار درلود او هغوی هم په قهقه خنداوو سره دی مزيد تمسخر ته هڅولو!!

د ده موخه يوازې پر طالبانو تمسخر نه وو؛ بلکې غوښتل ئې ثابته کړي چې د (اسلامی اقتصاد) فقره؛ يو مبهم شعار او ځواب دئ!!

که څه هم ځينو درنو، خدايپالو او زړه ورو علماءو او خطباءو؛ لکه مولانا مجيب الرحمن انصاری او مولوی بشير احمد خطيبی؛ دغو سيکولرانو ته مناسب ځوابونه ويلي؛ چې تري منندوی يو او د دين له حريم په دفاع کې د دوی د لا زياتو بريالو او موفقيتونو لپاره دعاء کوو؛ په همدې ارتباط څو عرائض لرم:

همغه مهال مي د اسلامي نظام د اقتصادي برخي په اړه د يوه داسي

ځانګړي کتاب ضرورت احساس کړ چې هم د اسلام دا برخه په کې توضیح شي او هم د نړۍ له دوو معروفو اقتصادي نظامونو (د غرب پانګول نظام او کمونستي اقتصاد) سره پرتله شي؛ خو وضعیت ته په پام سره مي هغه مهال د جمعې ورځي پر یوې خطبې اکتفاء وکړه؛ او د کتاب لیکنه مي داسي وخت ته پرېښوده چې هېواد مو آزاد او خپلواك وي او افغانانو د خپل برخلیك ټاکلو او د خپلې خوښې نظام او حکومت جوړولو اختیار او واك تر لاسه کړی وي. د اشغالګرانو له وتلو وروسته پراو کې له داسي پېښو او انکشافاتو سره مخامخ شوو چې مورږ ئې نورو او ورځینو قضایاوو په اړه بحثونو، څېړنو او لیکنو ته اړ کړو؛ د (دین او سیاست) کتاب یو له هغو کتابونو وو چې په دې مرحله کې ورته ضرورت وو؛ په دې کتاب کې په دې ارتباط بحث شوی چې آیا اسلام د حکومتولۍ، سیاسي او اجتماعي زعامت او د ټولنې د چارو د سمبالولو په ارتباط څه لري که نه؟ آیا اسلام د هغو قضایاوو په اړه بحث کړی او لارښوونې لري که نه چې په سیاسي او اجتماعي نظام پورې مربوط دي؛ لکه قانون، اداره، اقتصاد، قضاء، محکمه، شوری، د زعیم انتخاب، د جائز او ناجائز په اړه احکام، مجازات او مکافات، د حکومت داخلي او خارجي سیاست او نور؟ دا کتاب د هغو ۱۸ درسي حلقو د بحثونو او سؤال ځواب مجموعه ده چې د دین او سیاست تر عنوان لاندې؛ د حزب اسلامي په مرکزي دفتر کې او هره اونۍ دوه ځلي ترسره شوې؛ هري حلقې یو نیم ساعت وخت نیولی، ګڼ شمېر مینه والو پکې شرکت کړی؛ د بریا تلویزیون له لورې خپره شوې او بیا د کتاب په بڼې کې نشر شوې. په دې کې د اسلامي نظام په اړه دا پوښتنې هم ځواب شوې: مشر به ئې څوك وي؟ مواصفات به ئې څه وي؟ د چا له لورې او د څومره مودې لپاره به غوره کېږي؟ صلاحیتونه او مسئولیتونه ئې کوم او امتیازات ئې کوم دي؟ د عزل او نصب موجبات ئې څه دي او مرجع ئې کومه ده؟ د دې تر څنګ دا کتابونه هم چاپ شوي: حجاب، فتنه تکفیر و انتحار، جایګاه احزاب سیاسي در اسلام، د فتوی ګانو تور بازار او د حکمة البارئ درېیم او

څلورم جلدونه.

سیکولرانو ته وایو: اسلام هغه دین دئ چې د تاریخ ستر هېواد او پر عدالت او برابرۍ ولاړ بې ساری او عظیم دولت او حکومت ئې رامنځته کړ؛ دا نن چې هغه ستر هېواد او عظیم امت ټوټې ټوټې شوی؛ هره برخه ئې له سیاسي، نظامي او اقتصادي پلوه د یوه استعماري ځواك تر تسلط او اشغال لاندي ده؛ ډېرى حکومتونه ئې د پردیو لاسپوڅي، مارکیټ، بازار او اقتصادي زېرمې ئې د پردیو په واك کې دي، خو بیا هم هغه ستر امت په بالقوه توګه خپل لوړ مقام لري؛ هر کال تر دوه ملیونه زیات مؤمنان او اسلام ته ژمن افراد، د حج په موسم او مراسمو کې د بشپړ وحدت، یو والي او یو رنګ والي مظاهره کوي، د عرفات په ستر میدان کې؛ د یوه امام په قیادت او امامت کې، یو خدای لمانځي او د یوې قبلې لوري ته لمونځ کوي!! په همدې ۲۱ پېړۍ کې ئې هیڅ دین، مذهب، ایدیولوژي او فکري مسلك؛ نه سیالي کولی شي او نه برابري؛ کمونیزم د یوې بوړبوکۍ په څېر راڅرګند شو او عمر ئې تر نیمي پېړۍ کم وو؛ مسیحیت په داسي مذهب بدل شوی چې فکري او اعتقادي بنسټونه ئې نړېدلي، د مسیحیانو د عملي ژوند په هیڅ برخي کې فعال حضور نه لري؛ د حلال او حرام پولي په کې ړنګي شوې، هغه څه چې د داؤد، موسی او عیسی علیهم السلام په مذهب کې حرام وو؛ لکه شرك، مجسمې ساتل او لمانځل، زنا، شراب، سود، قمار، ... ټول هغه څه چې هر الهي دین او د هر پیغمبر مذهب کې تحریم شوي؛ مسیحیان ئې نه له حرمت خبر دي او نه ئې درناوی او مراعات کوي؛ مذهبي کتابونه ئې مسخ او په بشپړه توګه تحریف شوي، له خرافاتو او د علم او عقل خلاف باورونو دومره ډك شوي چې په ټول بایبل کې به د تورات، انجیل او زبور څو روغي کرښې ونه مومئ؛ په مقابل کې ئې اسلام تر نیمي پېړۍ کمي مودې کې د تاریخ داسي ستر هېواد جوړ کړ چې مثال ئې نه مومو، له مراکش تر اندونیزیا پوري؛ ډېرى ستر ستر ننني هېوادونه ئې ولایتونه او ایالتونه وو؛ او داسي عظیم امت ئې رامنځته کړ چې په لسګونو ملتونه او په

زرګونو قومونه ئې د واحد امت په غېږ کې د وروڼو په څېر راغونډ کړل؛ او د دې ستر هېواد او عظیم امت؛ د ژوندانه ټولې عرصې ئې په خپل فکري، معنوي، اخلاقي او عملي قالب کې تنظیم او ټولې چارې ئې داسې ترتیب او سمبال کړې چې هم په کور کې اسلام حاکم وو، هم د کور د غړو تر منځ ټول روابط او اړیکې اسلامي وې، د حلال او حرام پولې مراعات کېدې، د هر غړي حقوق معلوم وو او درناوی ئې کېدو، په هر کلي کې جومات وو چې د ورځې پنځه ځلي د لمانځه لپاره په کې راغونډېدل او په منظمو صفوفو کې؛ اوږه په اوږه؛ یو د بل څنګ ته ودرېدل، کورنیو هم د جاهلیت د دور مخکینی جوړښت د اسلام په قالب کې واچولو او کلیو هم؛ د دې نوي ستر هېواد په هیڅ ځای کې هیڅا ځان پردی نه ګڼلو او هیڅا ورته د پردي په سترګه نه کتل؛ د هېوادونو تر منځ مخکینی قومي او ملیتي ترکیب ختم او پولې ئې ونړېدې او په واحد ستر هېواد کې مدغم شول، اسلام په مارکیټ او بازار کې همداسې حاکم وو لکه په جومات کې، نه حرام تجارت وو، نه سود، قمار، احتکار، غدر او خدعه، د حکامو په دفترونو او محاکمو کې هر فرمان، پرېکړه او قضاوت د اسلام مطابق وو؛ نه رشوت وو او نه ناروا مالیات او ټکسونه؛ په دندو ګمارنه د اهلیت له مخې وه؛ د رسول الله صلی الله علیه و سلم لارښوونه دا وه چې مور هغه په دندو نه ګمارو چې په خپله ئې غواړي، هغه له الله تعالی، پیغمبر او مسلمانانو سره خیانت کوي چې د خپلوی او رفاقت له مخې څوك پر دندې ګماري، د امیر ټاکنه او ګمارنه په جومات کې او د مسلمانانو په خوښه او معلن بیعت تر سره کېده، امارت او اختیارات ئې د ولس امانت ګڼل کېدو او دا د مسلمانانو حق او وجیبه وه چې دا امانت اهل شخص ته وسپاري. دا ستر هېواد او دا عظیم او سرلوړی امت؛ تر هغه بریالی او متحد پاته شو چې خلافت په ملوکیت بدل شو، موروثي او قبیلوي شو، اموي او عباسي شو، او د امیر انتخاب د جومات پر ځای قصرونو ته او له عوامو خواصو ته انتقال شو؛ خو سره له دې غمیزې او بد بدعت؛ نژدې ۱۴ پېړۍ سر لوړی او متحد وو، نه

ئې سیال درلود او نه بدیل او رقیب، هم په فکري میدان کې مخکښ وو، هم د علمي لاسته راوړنو له پلوه او هم له سیاسي، اجتماعي او نظامي پلوه؛ د فردي او اجتماعي قضایاوو په ارتباط د اسلام لارښوونې دومره جامع او واضح دي چې نه یوازي هیڅ څه ئې مبهم نه دي پرېښي او د حقپالو هري پوښتنې ته ئې ځواب ویلی؛ بلکې له لاس او مخ مینځلو او یو بل ته له روغبړ او سلام اچولو نېولې؛ د هېوادونو تر منځ د جنګ او سولې تر پېچلو معاهداتو پورې ئې ټول مسائل څېړلې او خپلې روښانه لارښوونې او سپارښتنې ئې د مخاطب په وړاندې ایښې دي. هغه چې له اسلام او د اسلام له اقتصادی نظام او اصولو ئې خبر وي؛ هغوی اسلام منلی او لارښوونې ئې کافي، شافي او د عقل او علم مطابق ګڼي؛ نه یوازې پرې قانع او راضي دي بلکې د پلي کولو لپاره ئې هري مبارزې او قرباني ته چمتو او په ټول توان او طاقت ترې دفاع کوي؛ اما هغه چې نه له اسلام او اسلامي علومو خبر دي او نه د اقتصاد د علم په الف باء پوهېږي؛ په دواړو برخو کې ئې فهم او پانګه له هیڅ سره برابره ده؛ د خپلې کلمې په معنی هم نه پوهېږي او د قرآن دومره ووړ آیت چې د یوې صفحې تر یوه سطر هم ووړ وي؛ زېر او زبر هم ولري؛ او د مدرسې یو ماشوم ئې سم لوستی شي؛ دا شاغلی ئې په لوستلو کې څو څو ځلي بندېږي او غلطېږي!!

ناپوه سیکولرانو او معترضینو ته وایو: اسلام په مجموع کې او اقتصادي نظام ئې په خاصه توګه؛ دومره څرګند، مفصل، جامع، د اقتصادي چارو پر ټولو ابعادو حاوي، د عدالت ضامن، د فرد او ټولنې د ټولو حقوقو تأمینوونکی، د انسان له فطرت او جوړښت سره همغږی، د هغه د ټولو فطري، معنوي او جسمي غوښتنو او ارتیاوو مراعاتوونکی دئ چې هیڅ دین او مذهب او هیڅ ایدیولوژي، مسلك او منهج؛ په هیڅ برخې کې نه شي کولی له اسلام سره سیالي او برابري وکړي.

د اسلامي اقتصاد ټول ابعاد څېړل تفصیلي بحث ایجابوي؛ که تاسو د فقه کتابونو کې د مالي او اقتصادي چارو په اړه بحثونه راغوندٍ کړئ نو

ضخيم كتاب ترې جوړېږي؛ لكه څنګه چې اسلام د غاښونو له مسواك او خلال نيولې د جنګ او سولې په څېر؛ نړۍ والو مسائلو په اړه ژور او پراخ بحثونه کړي؛ همدا راز د مالي او تجارتي امورو په ارتباط دقيق او جامع بحثونه لري؛ د دوو تنو تر منځ له عادي پېر پلور نيولې، د شاړو او آبادو زمکو، عامه معادن او د چا په شخصي زمکي کې معادن، سود، احتکار، انحصار او نور هغه پېچلي او نړۍ وال اقتصادي مسائل ئې څېړلي چې د غربي پانګوال نظام او کمونستي اقتصاد اساسي بنسټونه دي؛ تاسو به د دغو دوو مطرح اقتصادي سيستمونو هيڅ داسې بنسټ ونه مومئ چې اسلام نه وي څېړلی او په اړه ئې واضح او څرګند دريځ ونه لري؛ که څوك د فقهي له کتابونو دا بحثونه راغونډ کړي نو د ماركس تر (کاپيتال) به لوی او ضخيم کتاب ترې جوړ شي؛ دلته په دې کتاب کې د دې برخې ځينې مهم مباني او ستر ستر اساسي موارد څېړو؛ او د نړۍ له دوو مهمو اقتصادي سيستمونو؛ د غرب پانګوال نظام او د کمونيزم له اقتصادي سيستم سره ئې مقايسه کوو. و ما توفيقي إلا بالله عليه توكلت و إليه أنيب

إسلامي اقتصاد؛

ځانګړتياوي او امتيازات ئې

د کمونيزم او پانګوال اقتصاد په پرتله

نن په نړۍ کې د مالي او اقتصادي چارو په اړه دري مطرح لید لوري او معروف اقتصادي سيستمونه مومو؛ غربي پانګوال نظام (کاپيتاليزم)، د کمونيزم سوسياليستي مارکسيستي سيستم او د اسلام اقتصادي نظام؛ نو به وي چې لومړی دا دواړه غير اسلامي سيستمونه وڅېړو او بيا اسلامي اقتصاد.

په غرب کې مروج پانګوال نظام

د غرب اوسنی پانګوال (کپيتاليستي) سيستم؛ د آزاد بازار له شعار او له هري لاري د ثروت د کسب له جواز سره؛ د سترو شتمنو او فيودالانو (زمکه والو) له لوري رامنځته شوی سيستم، هغه چې وايي: حکومت به د بازار مهارولو او کنترول کې له هر ډول مداخلې او لاسوهنې ډډه کوي؛ دا اقتصادي سيستم نژدې دوه پېړۍ مخينه لري؛ کمونيزم د همدې نظام په غېږ کې وزېرېدو خو د مخالف او متعرض خوځښت په توګه او د نسکورولو په موخه ئې؛ اصلاً کمونيزم په مجموع کې؛ فکري لید لوری، سياسي، اجتماعي او اقتصادي تګلاره ئې د ظالمانه پانګوال نظام په خلاف د ټولنې له منځ راټوکېدلی عکس العمل دئ، د کارګرانو بد او له تحمل او زغملو لوړ حالت او د کشيش او کليسا خرافي او د عقل او علم خلاف باورونه، د ساده زړو مسيحيانو غولول او جيبونه

ئې لوټل؛ له ظالم او مفسد نظام د دوی حمایت؛ هغه هم د یوه غولوونکي مذهب تر پوښښ لاندي؛ هغه مذهب چې سپېځلی کتاب (بایبل) ئې خپلو پلویانو ته وایي: که کوم رومي افسر له تا وغوښتل چې پېټی ئې یو فرسخ پر شا یوسه؛ نو ته هغه دوه فرسخه یوسه؛ که کوم افسر پر یوه مخ په څپېړه ووهلې ته بل مخ هم وروړوه!! همدا وضعیت په دې منتج شو چې کارګران هم د مسیحیت خلاف پاڅي او هم د شتمنو او د فابریکو خاوندانو په خلاف؛ دې نظام له یوې خوا ټولنه په ډېر فقیر او ډېر غني ووېشله، داسي چې د ټولني لویه برخه شتمني د معدودو شتمنو په لاس کې لوېږي او اکثریت وګړو ته وړه برخه پاته کېږي؛ دا تناسب هم په سریع توګه د اقلیت شتمنو په ګټه او د اکثریت غریبانو په زیان وړاندي درومي؛ له بلې خوا ئې د شتمنو افرادو او غني هېوادونو تر منځ وسله وال رقابتونه رامنځته کړل؛ دوه نړۍ والي خونړۍ جګړې دغه نظام وزېږولې او پر نړۍ ئې تحمیل کړې؛ په ترڅ کې ئې لومړۍ نړۍ والي جګړې تر ۱۰ ملیونه زیات او دوهمې جګړې له ۷۰ تر ۸۵ ملیونه انسانانو ژوند واخیست؛ او د دې شمېرې لږ تر لږه دوه برابره ئې زخمیان کړل؛ ټوله اروپا په کې ویجاړه شوه، آسیا او افریقا د فاتحینو تر منځ ووېشل شوه، ځواکونه ئې په کې مستقر شول، ستري ستري اډې ئې په کې جوړې کړې او د خپلې خوښې حکومتونه، پاچایان او جنرالان ئې پرې تحمیل کړل. چېرې چې پانګوال نظامونه مسلط دي؛ په ولس کې ئې د شتمن او نېستمن توپیر دومره پراخ دئ چې یو د کور نه درلودو له امله شپه د سړك ژۍ کې تېروي؛ بل په لسګونو آسمان څکي ماڼۍ او په ملیاردونو ډالر لري؛ په امریکا کې د ډېرو نېستمنو همدا حالت دئ؛ سږ کال (۲۰۲٤ م) کې تر (۸۰۰۰۰۰) زیات امریکایان کور نه لري، دا شمېره په ۲۰۲۳ کې ٦٥۳ زره وه، څېړونکي وایي چې د کورونو کرایه په سریع توګه ورځ په ورځ زیاتېږي او ورسره جوخت د بې کوره خلکو شمېره هم زیاتېږي. دا د رسمي ادارو وینا ده؛ معلومه نه ده چې حقیقي شمېر به ئې تر دې څومره زیات وي. اقتدار او شتمني د سپین

پوستو لاس کې دي؛ د امریکا اصلي اوسېدونکي او هغه چې انګرېز اشغالګرانو د غلامانو او اسیرانو په توګه له افریقا او آسیا ورانتقال کړي؛ په سر کې یو ډول غلامان وو او اوس بل ډول؛ اوس په زمکې او فابریکې پوري تړلی بزګر او کارګر دئ؛ شتمني ئې میاشتنی معاش، که لور او څټك پرېږدي نو ورته ګرانه ده چې له بلې لارې خپله روزي تأمین کړي؛ یا کانګسټر (بد معاش) ترې جوړېږي یا د مخدره موادو کار و باري او پرې روږدی؛ خو په همدې امریکا کې د نړۍ تر ټولو شتمن یو امریکایي تبعه؛ ایلان ماسك دئ چې په ۲۰۲٤ میلادي کال کې ئې شتمني ۳٤۸ ملیارد ډالرو ته رسېدلې؛ په داسې حال کې چې دی په ځوانۍ کې له افریقا امریکا ته مهاجر شوی او له امریکایي سپین پوستو واکمنو او شتمنو سره د قرب له امله وتوانېدو په نژدې دېرشو کلونو کې د دومره شتمنیو خاوند شي او د امریکا د نوي جمهور رئیس ټرامپ په بریا او سپینې مانۍ ته په رسولو کې د همدې ملیاردر او د هغه د شتمنیو لویه ونډه وه؛ چې په بدل کې ئې ټرامپ د ده لپاره په کابینه کې نوی وزارت او کرسۍ جوړه کړه؛ معلومه نه ده چې دا طلایي چانس به د ټرامپ د حکومت تر پایه د ده شتمني څومره زیاته کړي؟! واقعیت دا دئ چې داسې ستري ستري شتمنۍ هیڅکله او هیڅوا ته د هغه د نبوغ، هنر، عقل، کسب، زیار، د لاس تناکو او د بدن خولو له امله نه دي په برخه شوې؛ که داسې وی نو «انیشتین» او «نیوټن» به د نړۍ تر ټولو زیات شتمن وو. د انسانانو تر منځ د نبوغ، عقل او هنر توپیرونه هم دومره پراخ نه دي او د انرژي، هنر او استعدادونو له پلوه توپیرونه هم؛ که ایلان ماسك په خپل هېواد جنوبي افریقا کې پاته شوی وی او د امریکا له مالي چینلونو سره د کار او له دې لارې د بې زحمته او وړیا ګټو تر لاسه کولو فرصت ئې نه وی په برخه شوی؛ هیڅکله به دې ځای ته نه وو رسېدلی. د افغانستان په شمول د نورو هېوادو وضعیت هم دې ته ورته دئ؛ تاسو به ډېر افغانان لیدلي وي چې په پاکستان کې د صرافي له لارې په لنډه موده کې ملیونران شول؛ تاسو به د امریکایي اشغال او د امریکا په لاس تپل شوي جمهوریت په

دوران کې ډېر ناکاره او کم عقله افراد لیدلې وي چې له امریکایي جنرالانو سره د ارتباط او د قراردادونو تر لاسه کولو له لارې ملیونران شوي؛ هغه چې د یوه ښوونځي معلم وو او تګ راتګ به ئې په بایسکل وو؛ په جمهوریت کې د قصرونو او مارکیټونو خاوند شو؛ هغه چې تر جهاد وړاندې ئې ګاډۍ چلوله؛ په جمهوریت کې د جهازونو او آخرین ماډل زره لینډکروزرو څښتن شو؛ هغه چې د روسي ځواکونو په څنګ کې د افغان فوځ یو افسر او د روسانو یو مزدور جنګیالی وو؛ په امریکایي جمهوریت کې جنرال، مارشال او ملیونر تر ډوډۍ شوی، د بګرام د سترې امریکایي اډې یو افغان قراردادي؛ د شتمنیو له پلوه ملیونر شو او له سیاسي پلوه د پارلمان رئیس. امریکایي جنرالان چې دا ناکاره افغانان ئې ملیونران او سیاسي واکمنان کړل؛ خپله به کوم ځای ته رسېدلي وي؟! حقیقت هغه دئ چې ویل شوي: ما هیڅ لوړه مانۍ نه ده لیدلې مګر دا چې په خوا کې مې تلف شوی حق موندلی؛ ملیونران او ملیاردران په هغه نظام کې راټوکېږي چې بنسټ ئې پر ظلم، بې عدالتي، دوکې او فساد ولاړ وي!! چېرې چې شتمني د معدودو شتمنو تر منځ لاس په لاس کېږي او د ټولنې اکثریت هستوګن په فقر او مسکنت کې ساتل کېږي؛ دا حتماً یو ظالمانه نظام دئ چې د ځواکمنو ظالمانو له لورې پر مظلوم او مقهور ولسونو تپل کېږي.

قرآن مور ته د قارون او د هغه د شتمنیو یادونه کوي او وایي: د خپل قوم خلاف ئې د فرعون ملګرتیا وکړه؛ له همدې لارې هغه شتمن قارون تر ډوډۍ شو چې د خزانو کنجیاني ئې یوه فرد نه بلکې یوه قوي ټولې انتقالولې شوی.

د پانګوال اقتصادي سیستم او د هغه د اساسي بنسټونو په اړه به په تفصیل سره بحث کوو.

د پانګوال نظام اقتصادي بنسټونه

د پانګوال نظام اقتصادي سیستم بنسټونه دا دي:

۱- داسي آزاد بازار چې د شتمنو تر بشپړ تسلط او اغېز لاندي وي؛ امریکا چې د دې غولوونکي شعار جارچي ده؛ خو عملاً دې ته چمتو نه ده چې د متحده ایالاتو مارکېټونه د چین په څېر سیالانو په وړاندي پرانیستي پرېږدي؛ ټرامپ په انتخاباتي کمپاین کې هم ویل چې د چین په شمول به پر ټولو اقتصادي سیالانو لوړي ګمرکي تعرفې ولګوي!! او سپیني ماڼۍ ته د ننوتلو په درشل کې هم پرې ټینګار کوي!!

۲- د معدود شتمنو په لاس کې د شتمنیو تمرکز؛ غواړي شتمني د هغو معدودو شتمنو، سترو شرکتونو او د لویو کمپنیو تر منځ لاس په لاس شي چې پانګوال نظام ئې په چوپړ کې دئ.

۳- د سود (ربا) جواز؛ دا ئې پر ټولې نړۍ تحمیل کړی، د امریکا او بالتبع د ټولې نړۍ هغه بانکي سیستم چې د امریکا تر اغېزمني سلطې لاندي دئ؛ پر سود ولاړ دئ؛ د شتمنو په لاس کې د نېستمنو، غریبانو او محتاجانو د زېښلو وسیله، د اسلام له نظره له شرك او انسان وژنې وروسته تر ټولو سترە ګناه؛ د الله او د هغه له رسول سره د جنګ مترادف جنایت دئ.

٤- انحصار؛ چې هم د عدالت خلاف، د قیمتونو غیر معمول او ظالمانه لوړېدو باعث، د ټیټې او نېستمني طبقې د زېښلو وسیله او هم د آزاد بازار د اصولو ضد دئ.

۵- احتکار؛ چې شتمنو ته دا مجال برابروي چې ضروري او حیاتي اجناس د وفرت په وخت کې وپېري، ذخیره ئې کړي، او هغه مهال ئې بازار ته وړاندي کړي چې بیه ئې لوړه شوې؛ او څو برابره ګټه تر لاسه کړي؛ هر الهي دین او انساني مکتب او فلسفه دا شنیع ظلم غندي او تحریموي.

٦- استثمار؛ د مجبور او محروم انسان او ولس له مجبوریت او احتیاج ګټه پورته کول او د خپلو ظالمانه ګټو لپاره ئې استخدامول؛

۷- استعمار؛ که څه هم استعمار؛ د اعمار، آبادولو، آزادولو، دیموکراسي او نورو غولوونکو شعارونو لاندي هېوادونه نیول او ولسونه اېلول؛ اوږده سابقه لري خو د امریکا او اروپا پانګوال نظام؛ د دې آفت لمن دومره پراخه کړه چې غربي شتمنو او استعماري هېوادونو ټوله نړۍ؛ آسیا، افریقا، استرالیا، جنوبي امریکا او د اروپا وروسته پاته هېوادونه ځپ هم مستعمرې وې او هم د اوږدو خونړیو جګړو توده ډګر؛ د دوی فابریکو خامو موادو ته ضرورت درلود؛ د اقتدار واګي د شتمنو او د فابریکو خاوندانو لاس کې وې؛ د هېوادونو د اشغال او د هغوی خامو موادو وړیا تر لاسه کولو لاره ځپ غوره کړه؛ د همدې ځواکونو تر منځ د همدغو خامو موادو پر سر خونړۍ سیالي او جګړې پیل شوې؛ لومړۍ او دوهمه نړۍ والي جګړې له همدې کبله رامنځته شوې؛ نن که نړۍ د یوې بلې خونړۍ جګړې له ګواښ سره مخامخ ده؛ او د یو ویشتمي پېړۍ ټولې جګړې امریکا له افغانستان پیل کړې؛ اصلي وجه ځپ د پانګوال غربي نظام استعماري سیاستونه دي. په دې کې هیڅ شك نه شته چې افغانان او هېواد ځپ د خپلو پرېمانه معادنو او خپل حساس ستراتیژیك موقعیت قرباني شوي؛ په یوې پېړۍ کې د نړۍ دریو بې سیال زبر ځواکونو؛ بریتانیا، شوروي او امریکا؛ د زور، ځواك، غرور او بد مستۍ په اوج کې زمور پر هېواد بریدونه وکړل، هر یوه پر همدغو زېرمو د بشپړ او دائمي تسلط په موخه پر افغانستان برید کړی او اوږده خونړۍ جګړه ځپ رامنځته کړې؛ د امریکا جمهور رئیس ټرامپ؛ چې د خولې تنابونه ځپ سست دي او هره پټه او سري خبره هم ترې راوځي؛ د اوکراین جمهور رئیس زیلینسکي ته وویل: که د امریکا مالي او نظامي حمایت او مرسته غواړې؛ خپل معادن مور ته وسپارئ!! افغانستان ته په همدې موخه راغلل او شل کاله ځپ پر افغانانو بمونه او راکټونه ووروول؛ د هر چا پر سر چې ځپ د تش په نامه واك تاج ایښی او د ارګ پر ګدۍ ځپ کښېنولې؛ همدا تعهد ځپ ترې اخیستی.

۸- د شتمنو بې بریده واک؛ په دې نظام کې د شتمنو لاس آزاد پرېښودل

شوی؛ د هر څه کولو او له هري لاري د ګټو تر لاسه کولو جواز ورکړی شوی؛ حتی جنسي کاروبار او مېرمنو ته د عفت پلورني مجوز ورکول او کمیشن ترې اخیستل هم عادي ګڼل کېږي!!

خو اسلام د کاپیتالیزم او غربي پانګوال نظام ټول مباني او بنسټونه تحریم کړي او د هر یوه په اړه څرګند دریځ او موضع لري:

۱- ربا او سود ئې تحریم کړی؛ دا ځکه چې سود د محتاج او مجبور انسان له ستونزمن وضعیت او مجبوریت غلطه او غیر انساني ګټه تر لاسه کول دي؛ ربا هغه ګټه او منفعت دئ چې سود خور ئې له کار او زیار پرته تر لاسه کوي؛ وړیا د شتمن په کڅوړي کې لوېږي؛ اسلام په دې اړه دومره جدي دئ چې د یوه درهم سود ګناه تر ٦۰ ځلي زنا سترې ګڼي.

۲- احتکار ئې حرام ګڼلی؛ احتکار یعني ضروري او حیاتي مواد؛ د وفرت او کثرت په وخت کې ارزانه اخیستل، تر هغه ئې خوندي ساتل او بازار ته ئې له عرضه کولو ډډه کول چې بیه ئې په بازار او مارکیټ کې د دغو توکو د کمښت له امله لوړه شي او بیا ئې محتکر په زړه پوري او لوړي بیي وپلوري.

۳- انحصار؛ یعني دا چې حکومت یا کوم شرکت؛ بازار ته د کوم خاص جنس او توکې عرضه او پلور د خاص کس په انحصار او واك کې ورکړي او له بلي لاري او بل چا ته د دې جنس د عرضه کولو او پلورلو اجازه ورنه کړي؛ کومه مغازه او پلورنځی؛ له اړوند شرکت او فابریکې یا د حکومت له کومي اداري د خاصو اجناسو او توکو د انحصار واك او اختیار تر لاسه کړي؛ له دولت او یا تولیدونکې کمپنۍ؛ بازار ته د دې اجناسو د عرضې او پلور؛ د انحصار مجوز تر لاسه کړي؛ په بدل کې ئې یا رشوت ورکړي او یا کمیشن؛ او بیا همدا اجناس د خپلې خوښې په بیه او تر اصلي قیمت ډیري لوړي بیي وپلوري؛ سره له دې چې دا انحصار؛ د آزاد بازار د مزعومي فلسفې مغایر عمل دئ؛ خو غرب د آزاد بازار د دروغجني ادعاء خلاف هغه مجاز ګڼي؛ په داسي حال کې چې د اسلام له نظره حرام

او مردود دئ.

٤- اسلام د ګټې او منفعت یوازې هغه لارې چارې جائز ګڼي چې په خپله عامل انسان، بل انسان او ټولنې ته جسمي، معنوي او مالي تاوان ونه رسوي. د ټولو هغو مضر او تاواني شیانو تجارت، پېر پلور او تولید ئې حرام کړي چې د انسان صحت، روح، اخلاق او مال ته زیانمن وي؛ د حلال او حرام پرېکړه ئې پر دې اصل ولاړه ده چې؛ هر مفید او ګټه ور شی؛ حلال او جائز ګڼي او هر مضر او تاواني شی حرام او ناجائز. لکه چې قرآن فرمایي:

يَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلْخَمْرِ وَٱلْمَيْسِرِ ۖ قُلْ فِيهِمَآ إِثْمٌ كَبِيرٌ وَمَنَٰفِعُ لِلنَّاسِ وَإِثْمُهُمَآ أَكْبَرُ مِن نَّفْعِهِمَا ۗ ... ﴿٢١٩﴾ البقرة

د شراب او قمار په اړه تا پوښتي؛ ووایه: په دواړو کې څه ستره ګناه ده او خلکو ته ځیني ګټې؛ خو ګناه ئې تر ګټې ډېره ستره ده.

ګورئ چې دلته د (اثم: ګناه) په مقابل کې د (منفعت: ګټې) ذکر شوی؛ له دې په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې د حلال او حرام د ټاکلو په اړه دا اصل په پام کې نیول شوی چې څه انسان ته ګټه لري او څه تاوان؛ هغه چې انسان ته ئې تاوان تر ګټې زیات وي؛ الله تعالی حرام کړي او هر څه چې ګټه ئې تر تاوان زیاته وي؛ هغه ئې حلال کړي؛ شراب او قمار د دې لپاره حرام کړی شوي چې تاوان ئې تر ګټې زیات دئ؛ هم فرد ته او هم ئې ټولنې ته؛ شراب انسان له خپل طبیعي حالت باسي؛ په خپلو حواسو او مشاعرو د ده واك کمزوری کوي، له سده ئې باسي او داسي کارونو ته ئې هڅوي چې په طبیعي حالت کې ترې ځان ساتي؛ نه یوازې حواسو او اعصابو ته ئې صدمه رسوي بلکې د مرض په وړاندې ئې مقاومت کمزوری کوي. د ۲۰۲٤ م کال په پای کې غربي محققینو د شرابو په اړه د خپل تحقیق پایله کې وویل: شراب لږ تر لږه د (۹) ډوله سرطان باعث کېږي؛ او د سګریټ په اړه وایي: هر سګریت څو دقیقې (له ٦ تر۱۱ پوري) د انسان عمر لنډوي!! اوس دې مطالبې

زور اخیستی چې د شرابو پر بوتلو باید ولیکل شي چې (د صحت لپاره مضر دي)؛ همغسي لکه چې د سګریټ په ډبیو ئې لیکل حتمي شوي!! اسلام دواړه حرام کړي؛ لږ تر لږه ۱٤ پېړۍ وړاندي؛ او غرب اوس پرې پوه شوی؛ زمور الهي او فطري دین په هر څه کې همداسي دئ؛ تر ساینس وړاندي دئ نه وروسته، تر نن پوري ساینس داسي څه نه دي ویلي او نه شي ثابتولی چې د قرآن د وینا خلاف وي، ما د قرآن نژدې ۲۰۰ هغه آیتونه د (ساینس او د قرآن علمي اعجاز) په کتاب کې راوړي چې ساینس د قرآن له نزول څو پېړۍ وروسته پرې پوه شوی. په ۲۰۱۹ م میلادي کال کې او هغه مهال چې د کرونا مرض زور اخیستی وو او نړۍ ئې له مخنیوي ناتوانه شوې وه او ډاکټرانو په مکرره او مؤکده توګه سپارښتني کولې چې هره ورځ څو ځله خپل لاسونه، خوله او پزه ومینځئ؛ مسلمانانو وویل: الحمد لله چې مور ټول عمر همدا کار کوو؛ د پنځه وخت لمونځونو لپاره اودس کوو او په اودس کې د همدې غړو مینځل شامل دي؛ خو پر دغه سپارښتني مي د ښاغلي ټرامپ هغه تمسخر هم ښه په یاد دئ چې دا ئې هسي یوه ټوکه ګڼله او په اهمیت او ارزښت ئې هغه مهال پوه شو چې د کرونا تر بریده لاندي راغی!! حقیقت دا دئ چې غربي ساینسپوهانو ته تر نن وړاندي هم د شراب او سګریټ ضررونه معلوم ول؛ څوك نه پوهېدو چې د لانجو، نښتو او د ګاډو تصادماتو او مرګ ژوبلې کې د شرابو څومره لویه ونډه وه؟ خو سره له دې په غربي رسنیو کې د شراب او سګریټ په اړه دومره پراخ او د ځوانانو راماتولو تبلیغات کېدل چې ویلي شو په دغو مخدره توکیو د روږدو او معتادانو لویه سلنه د همدغو تبلیغاتو قرباني شوې. او دا ځکه چې دا رسنۍ هم د شتمنو په واك او خدمت کې دي او د شرابو د تولید فابریکې او مارکیټ ئې هم د دوی په واك کې؛ ښایي اوس چې د شرابو د ضرر په اړه کومه اعلامیه خپره شوې؛ دا به د هغو کار وي چې انسانیت ته ژمن دي او د شتمنو د سلطې خلاف د بغاوت همت او جرأت لري.

همدا راز قمار په ناحقه او د دوکې په مټ؛ د بل د مال غصبولو

وسیله ده؛ په دې سره هغه حریص انسان په دام کې اچول کېږي چې غواړي له آسانه لاري او ژر د ډېر مال او ثروت خاوند شي؛ د ده له دغه کمزورۍ په استفادې سره زرنګ او ماهر ټګماران د ده موجود ثروت هم ترې غارت کړي؛ اوس خو متأسفانه حکومتونه له خپلو ولسونو سره همدا دوکه کوي؛ د لاټرې په غولونکو اعلاناتو کې وایي: خپل بخت وآزمویئ، د ملیونر کېدو دا طلایي موقع له لاسه مه ورکوئ، کېدی شي د شلو روپو یو ټکټ تاسو ته هومره څه په لاس درکړي چې ټول آرمانونه مو تر سره کړي!! ناپوه او حریص کسان په دې غولوونکو اعلاناتو دوکه کړي، له زرګونو کسانو پیسې تر لاسه کړي او د هغه پنځه په سلو کې څو (په اصطلاح بختورو ګټونکو) ته ورکړي او باقي ئې د غلو او خائنو چارواکو د عیش عشرت سامان شي.

۵- شراب او قمار هغه دوه ستر آفتونه دي چې د فرد او ټولنې صحت او سلامتیا ته زیان رسوي؛ اسلام دواړه یو ځایي تحریم کړي؛ خو د غرب لا دین او بې مهاره ټولنو کې نه یوازې جائز بلکې د عوائدو تر ټولو ګټور او آسان کسب دئ. په شرابو چې کوم مصرفونه کېږي؛ تر بل هر مورد زیات دي او د شرابو د تولید او تجارت له لاري چې کومې وړیا او ډېرې ګټې تر لاسه کېږي؛ له بلې لاري نه شي تر لاسه کېدی.

٦- اسلام نه یوازې جنسي کاروبار، د فحشاء او عفت پلورنې کسب او مراکز جوړول تحریم کړي او د کبیره ګناهونو په فهرست کې ئې نیولې؛ بلکې د قتل نفس معادل ئې ګڼي؛ تر دې هم وړاندې ځي او د مېرمني له شایست او جمال؛ د تجارتي اعلاناتو؛ او هوسپالو د اغواء لپاره هر ډول استفاده تحریموي. خو په غرب کې؛ جنسي کاروبار؛ د شراب او قمار په څېر د عوائدو تر هر بل کسب زیات سودمن او د عوائدو ستره مرجع ده؛ حکومتونه د دې ګنده کسب فعالانو او ناموس پلورو ته رسمي مجوز ورکوي؛ او ځان پلوري فاحشې د رسمي مجوز په بدل کې دولت ته کمیشن ورکوي!! حتی ویل کېږي د یوه لوی پانګوال هېواد جمهور رئیس؛ له همدې ګنده او غیر انسانی کسب؛ د دومره زیاتې شتمنۍ خاوند

شو چې له کبله ئې وتوانېدو د جمهوري رياست په انتخاباتو کې بريالی شي!! د ډونالډ ټرامپ د دا ډول تجارتي فعاليتونو يو مورد هغه د تفريح او قمار ځايونه دي چې يو ئې په دې نامه يادېږي:
(Trump Entertainment Resorts, Inc)
او بل ئې د تاج محل هوټل او قمار ځی په نامه
(Hard Rock Hotel & Casino Atlantic City) دا ئې په ۱۹۹۰ ميلادي کال کې د شاوخوا يو ميليارډ ډالرو په لګښت جوړ کړی.

۷- اسلام د دې کلك مخالف دئ چې ملي شتمني او د ټولني ثروتونه د يوه مفت خور اقليت او معدودو اغنياءو په لاس کې پرېوځي؛ دې هدف ته د رسېدو لپاره خپل ځانګړي او مؤثر اصول، اسلوب او تګلاره لري؛ سود، احتکار، انحصار او دې ته ورته نور ظالمانه تعاملات چې د پانګوال سيستم اساسي بنسټونه دي؛ تحريموي؛ د ميراث د وېش لپاره ئې خاص قانون وضع کړی؛ چې د شتمنيو په عادلانه وېش منتج کېږي او د غير عادلانه تمرکز مخه نيسي؛ زکات په شتمنيو کې؛ عشر او د عشر نيمايي په زراعتی حاصلاتو کې، خمس په معادنو او غنائمو کې، صدقات او کفارې؛ چې شتمن او زمکه وال ئې په تأديې مکلف شوي، اغنياءو ته وايي: ستاسو په شتمنيو او مالونو کې د فقراء او مسکينانو ثابت او مسلم حق شته چې بايد هغوی ته ورکړی شي، دا د حکومت او واکمنو قانونی وظيفه او مکلفيت ګڼي چې د ټولني د فقيرانو او مسکينانو متکفل وي؛ له فقر ئې وژغوري له شتمنو او اغنياءو ئې واخلي او دوی ته ئې ورکړي.

اسلام وايي: که څوك د فقر او لوږې په سبب ومري؛ نه يوازې د کلي او سيمې خلك ئې په وژنې او قتل کې مأخوذ او شريك دي؛ بلکې د سيمې او هېواد واکمنان ئې مسئول او مأخوذ دي.

اسلام وايي: که احياناً؛ د دولت امکانات او عائدات؛ د زکات، عشر، معادن او نورو عائداتی مدارکو له ناحيې؛ د ټولني اړتياوو او حاجتونو ته بسنه ونه کړی شي؛ او د فقر او مسکنت د ازالې لپاره کافی نه وي؛ دولت کولی شي د سد ذرائع او مصالح مرسله تر عنوان لاندې؛ شتمن او اغنياء

په داسي مساعداتو او مرستو وګماري چې حاجتونه رفع او نېستمن وګړي وژغوري.

اسلام له يوې خوا هغه شخصي ملکيت چې له جائز او قانونی لارو کسب شي؛ جائز او محترم ګڼي او دفاع ترې کوي او هيڅا ته؛ د حکومت او واکمنو په شمول اجازه نه ورکوي چې د چا مايملك غصب او مصادره کړي او مالك ته ئې حق ورکوي چې له خپل مال دفاع وکړي او که څوك په داسي دفاع کې وژل کېږي؛ شهيد ئې ګڼي؛ او که د دې دفاع په ترڅ کې متجاوز او غاصب ووژل شي؛ وينه ئې هدر بولي. خو شخصي ملکيت ته له دومره درناوي سره سره؛ دا نه خوښوي او مخه ئې نيسي چې شتمني د اغنياءو په لاس کې داسي متمرکز شي چې ټولنه په ډېر فقير او ډېر غني ووېشل شي؛ د ټولنې اکثريت د فقر له کرښې لاندې او يو مفت خور اقليت د ډېر غناء او وفرت له کرښې اوښتي؛ يو په دنګو دنګو مانيو او د سرو زرو په لوښو کې خوري او څښي او بل نه کور لري، نه د سر او تن پټولو لپاره خيمه او د خيمې ودرولو لپاره زمکه او نه جامه؛ په ژمي کې له يخني کړېږي او په دوبي کې له تودوخي. د مرغانو او حيواناتو وضع تر دوې ډېره ښه ده چې د هر خپل د ټولو جامه سره ورته؛ په ژمي کې ئې له يخني ساتي او په دوبي کې له تودوخي؛ نه په لباس کې سره توپير لري او نه خوراك او څښاك کې؛ ځينې تل په يوې سيمې کې اوسي او ځينې په تودوخي او يخني کې خپل ټاټوبی په ګډه بدلوي؛ خو د مخلوقاتو اشرف انسان؛ هغه چې رب العالمين پر فرشتو هم فضيلت ورکړی او د ده لپاره ئې ځکه په سجده ګمارلې چې علم ئې تر فرشتو زيات او پراخ او له کبله ئې د زمکې د خلافت لپاره تر دوی غوره او وړ؛ خو همدا انسان له نورو او له خپل همنوع سره هغه څه کوي چې وحشي او دارونکي حيوانات ئې له کولو ډډه کوي!! اسلام عدالت غواړي؛ هم په نسلي او نژادي برابري باور لري او هم په اجتماعي او اقتصادي برابري او تعادل. فرعون، قارون او هامان نه مني؛ پر ظلم او بې عدالتي د ولاړ نظام او ټولنې دا درې واکمنان؛ يو ئې سياسي مطلق العنان او مستبد واکمن، بل

ئې د لوټمارو شتمنو ممثل او درېيم ئې د ټګمارو مذهبي مشرانو مرشد او د پيرانو پير؛ د نسکورولو لپاره ئې موسی له خپلې عصا سره د مظلومو بني اسرائيلو د آزادۍ له شعار سره لېږي.

دا هم بايد په پام کې ولرو چې اسلام دا څو پېړۍ او وروسته له هغه چې ستر خلافت ئې نسکور او ستر هېواد ئې ټوټې ټوټې او غربي اشغالګرانو په خپلو منځونو کې ووېشو؛ داسې حکومت او زمکه او سيمه په واک کې نه درلودله چې پرې حاکم وو او د چارو تنظيم او مديريت ئې په اختيار کې؛ خو سره له دې مسلمانان؛ د ژوند په ډېرو فردي او اجتماعي برخو کې د اسلام لارښوونو ته عملاً ژمن او متعهد پاته شوي، پر اوامرو ئې عمل کړی او د حلال- حرام او جائز- ناجائز پولې ئې په ټولو قضاياوو کې؛ د اقتصاد په شمول مراعات کړې دي؛ زکات او عشر ئې ورکړی؛ په داسې حال کې چې د زکات او عشر راغونډول د حکومت دنده او مسئوليت دئ او حکومت ته بايد ورکړی شي!!

په مقابل کې ئې؛ په جرأت او بشپړ اطمئنان سره ويلی شو چې که امريکا؛ د وسلو خرڅلاو مارکيټونه او بازارونه له لاسه ورکړي؛ په نورو هېوادو کې او تر منځ ئې د جګړو اورونه بل نه کړی شي؛ که ډالر په بانکي او تجارتي تبادلاتو کې خپل ځای نورو اسعارو ته تخليه کړي او د ډالر اوسنی اعتبار او سلطه له منځه ولاړه شي؛ او له دې سره سم په مستعمراتو او اقمارو کې ئې د امريکايي مصنوعاتو مارکيټونه بند شي؛ له شك پرته به د امريکا بر لاسي، بد معاشي او بدمستي پای ته رسي، اوسنی وضعيت به د لنډي مودې لپاره حفظ نه کړی شي؛ او د شوروي اتحاد په برخليك به اخته کېږي.

غربي پانګوال سيستم

که د شيطان پاچايي

که غربي پانګوال سيستم ته د اسلامي لارښوونو په رڼا کې وګورو نو دې نظام ته (د شيطان پاچايي) نوم ورکولی شو؛ دا ځکه چې په دې نظام کې ټول هغه څه راغونډ شوي چې اسلام او هر الهي دين شيطان ته منسوب کړي؛ آيا کله مو په دې اړه فکر کړئ چې که دا د هر الهي دين له نظره د شر سمبول، د ګناه محرك، د شخړو او منازعاتو پاروونکی او د فساد باعث؛ چېرې د زمکې پر سر په کوم ملك کې خپله واکمني او پاچايي جوړه کړې وی؛ او هلته ئې د خپلې خوښې نظام او حکومت رامنځته کړی وی، دا به څنګه نظام وو؟ د انسانانو له نظامونو سره به ئې څه توپير او ورته والی وو؟ په نړۍ کې د شته نظامونو له کوم يوه سره به ورته وو؟ هلته به د ټولنې سياسي، اجتماعي، اقتصادي او فرهنګي او مذهبي جوړښت څنګه وو؟ څه به حلال او جائز او څه به حرام او ناجائز ګڼل کېدل؟ څوك به د قدرت پر ګدۍ ناست وو او څوك به په زندان کې او تر تعذيبونو لاندې وو؟ چا ته به د مجرم، مفسد اوسپېره په سترګه کتل کېدل او څوك به په سمې لارې برابر، مصلح او مُحِق ګڼل کېدو؟! کوم حزب به واکمن وو او کومه ډله به د نظام مخالفه ډله او د رټلو، شړلو او وژلو مستحقه ګڼل کېده؟؟ چا ته به ښه ويل کېدل او چا ته بد؟ د چا په تندي به د (تروريست)، (افراطي)، (اشرار)، (مفسد في الارض)، (د ترقي او تمدن مخالف) ټاپه وهل کېده او چا ته به د (شريف)، (نجيب)، (ديموکرات)، (مترقي)، (آزادي غوښتونکی)، (مصلح)، (ملي اتل)، (ستر جنرال) او (مارشال) لقب ورکول کېدو؟! د غرب له موجوده نظامونو سره به د دې نظام څه توپيرونه وو؟

دې پوښتنې ته د ځواب لپاره بايد وګورو چې شيطان څه غواړي، څه خوښوي، کوم کار او عمل ئې خوښ دئ او له کوم کرکه لري، څوک ئې خوښيږي او له چا متنفر دئ او د ځان دښمن ئې ګڼي، د شيطان د خوښي نظام کوم دئ؟ آيا په غربي ټولنو کې هغه څه روان دي چې رحمن خداى او د ده دين ئې خوښوي او که هغه څه چې شيطان ئې غواړي؟

د اسلام او هر الهي دين له مخي (شيطان) د (شر سمبول) او د انسان او انسانيت دښمن دئ، ده د انسان د پيدايښت له لومړۍ ورځې لوړه کړې چې په هر ګام کې به انسان ته کمين نيسي، له ښي او کيڼ اړخ به بريد پرې کوي، له سمې لارې به ئې کړوي، بد څه او بد کار به ورته ښايسته کوي، د خپل انساني فطرت خلاف جګړې ته به ئې هڅوي او دا به ثابتوي چې انسان د دې وړ او مستحق نه دئ چې د زمکې خلافت ئې په واک کې وي.

دين چې څه د انسان په ضرر ګڼي او هغه ئې حرام کړي، که دا د ده په ذات پورې تعلق لري او که ئې په ټولنې پورې، که د اقتصاد په برخه کې وي او که د اخلاق په برخه کې، که د ده د سياسي او اجتماعي نظام مربوط مسئله وي او که په اعتقادي او فکري امورو پورې مربوط مسئله؛ شيطان نه يوازې د دې حرمت نه مني او د انسان په تاوان او ضرر ئې نه ګڼي، بلکې هغه د (خلود او دوام) موجب او د (ارتقاء او تعالي) باعث ګڼي، څه چې دين ته کرکجن بربښي او انسان ترې منع کوي؛ شيطان ئې انسان ته ښايسته کوي او د هغه په لور ئې لاس غځولو ته هڅوي. لکه چې قرآن فرمايي:

فَوَسْوَسَ لَهُمَا ٱلشَّيْطَٰنُ لِيُبْدِيَ لَهُمَا مَا وُۥرِيَ عَنْهُمَا مِن سَوْءَٰتِهِمَا وَقَالَ مَا نَهَىٰكُمَا رَبُّكُمَا عَنْ هَٰذِهِ ٱلشَّجَرَةِ إِلَّآ أَن تَكُونَا مَلَكَيْنِ أَوْ تَكُونَا مِنَ ٱلْخَٰلِدِينَ ﴿٢٠﴾ وَقَاسَمَهُمَآ إِنِّى لَكُمَا لَمِنَ ٱلنَّٰصِحِينَ ﴿٢١﴾ الأعراف

نو شيطان وسوسه کړل، د دې لپاره چې له دوى پټې جټې ئې ورته بربنډې کړي او (ورته) وئې ويل: خپل رب يوازې د دې لپاره له دې وني

منع کړي يئ چې داسي نه (فرشتې) شئ او (تلپاته) شئ. او لوړه ئې ورته وکړه چې زه مو خواخوږی يم،

دلته څو ټکو ته توجه وکړئ:

- شيطان آدم او حواء عليهما السلام په وسوسې سره دوکه کړل؛ پوښتنه راولاړېږي چې څنګه ئې وسوسه کړل، په محسوسه توګه که په غير محسوسه توګه؟ ورته مجسم شوی که نه؟ دوی په خپلو سترګو ليدو که نه؟ ځواب ئې دا دئ: لکه څنګه چې نن د آدم عليه السلام اولاد وسوسه کوي؛ همداسي ئې هغوی وسوسه کړي، لکه څنګه چې اوس په غير محسوس توګه انسانان وسوسه کوي، دوی ئې نه ګوري، هلته ئې هم په همدې توګه هغوی وسوسه کړي، هغه رأيه د قرآن د وينا، د الهي سننو او د واقعيتونو خلاف ده چې له دې پرته بل څه وايي او ادعاء کوي چې شيطان په مجسمي بڼې کې ورته راغلی. دا رأی ئې له بايبل او يهودي کتابونو کاپي کړې؛ نه په قرآن کې کوم سند ورته لري او نه د رسول الله صلى الله عليه و سلم په ارشاداتو کې کوم مدرك؛
- د دې خبرې معنی څه ده چې شيطان د دې لپاره وسوسه کړل چې د ممنوعه مېوې په خوړلو سره د دوی د بدن هغه برخې ورته بربنډې کړي چې ترې پټې وې؟ ځينې مفسرين په دې نظر دي چې شيطان غوښتل د دوی عورت بربنډ شي، دوی (سوءات) د (غليظه عورات) په معنی اخلي، په داسي حال کې چې قرآن د المائدې د سورې په ٣١ آيت کې په ډېر وضاحت سره وايي چې له سوءة مراد بدن او جثه ده نه يوازې فرج او عورت.

فَبَعَثَ ٱللَّهُ غُرَابًا يَبۡحَثُ فِي ٱلۡأَرۡضِ لِيُرِيَهُۥ كَيۡفَ يُوَٰرِي سَوۡءَةَ أَخِيهِۚ قَالَ يَٰوَيۡلَتَىٰٓ أَعَجَزۡتُ أَنۡ أَكُونَ مِثۡلَ هَٰذَا ٱلۡغُرَابِ فَأُوَٰرِيَ سَوۡءَةَ أَخِيۖ فَأَصۡبَحَ مِنَ ٱلنَّٰدِمِينَ ٣١ المائده

نو الله يو کارغه ولېږو چې زمکه ئې سپړله، چې وروښيي د خپل ورور جثه څنګه پټه کړي، وئې ويل: هاى افسوس! آيا له دې هم عاجز شوم

چې د دې کارغه په څېر وی او د خپل ورور جثه مي پټه کړې وی، نو له پښيماني کوونکو شو.

دلته ځکه دا د عورت په معنی نه شو اخيستلی چې له انسان؛ نه خپل عورت پټ وي او نه د زوج؛ په لباس سره خو عورت له نورو پټېدی شي، هغه مهال خو له دوی دواړو پرته بل انسان نه وو، دا خبره خو بيا بې معنی ده چې شيطان غوښتل دوی ته خپل عورتونه وروښيي؛ همدا راز مور ته د آدم عليه السلام د جامې څرنګوالی راښيي؛ چې دا د نورو ژوو د فطري جامې په څېر جامه وه نه مصنوعي جامه؟! که دا مصنوعي جامه وګڼو نو له مصنوعي جامې خو انسان د شيطان له وسوسې پرته په خپله ځان لوڅوي، هم د غسل په وخت کې او هم د جامو بدلولو په وخت کې او دا لوڅول يوازي د بل نامحرم انسان په وړاندي ګناه ده نه په هر صورت کې.

د قرآن الفاظ داسي دي چې ښيي په مخکينۍ الهي جامه کې د دوی بدن پټ وو، حتی په خپله له دوی هم، خو کله چې دا جامه تري اخيستل شوې، نو داسي بربنډ شوي چې خپل ځان يعني د خپل بدن پوستکی ئې هم ليدلی. صحيح خبره دا ده چې شيطان غوښتل دوی بربنډ کړي، له هغې جامې ئې محروم کړي چې الله تعالی ورکړې وه، هغه جامه چې الله تعالی هر ژوي ته د هغه له حالت سره مناسب ورکړې، هم ئې له يخني ژغوري او هم له تودوخي، هغه چې نه زړېده، نه شړېده، نه خيرنېده، نه ئې اوبدل او ګنډل غوښتل او نه مينځل او نه هيڅکله انسان تري بربنډېدو، همغسي لکه چې قرآن فرمايي:

إِنَّ لَكَ أَلَّا تَجُوعَ فِيهَا وَلَا تَعۡرَىٰ ١١٨ طه

يقيناً چې په دې (جنت) کې به ته داسي وې چې نه به وږی کېږې او نه به بربنډ کېږې.

او تاسو پوهېږئ چې په مصنوعي جامه کې ډېر ځلي انسان لوڅ او بربنډ کېږي.

- ګناه ته هڅوونکی شيطان، که جني وي که انسي، نه يوازي انسان ته

ګناه ښایسته کوي بلکي په ټول تأکید سره ورته وایي چې ستا خیر غواړم، زما مشوره ستا په ګټه ده، په دې کې ډېرې ښېګڼې درته پرتې دي. که دا له حرامو لارو مال تر لاسه کول وي او که په حرامو لارو ئې مصرفول؛ که له ناروا لارو قدرت ته رسېدل وي او که د اقتدار له امانت ناجائزه او ظالمانه استفاده، که دروغ او دوکه وي او که ریاء کاري او منافقت، ... شیاطین دا هر څه انسان ته مزین او ښایسته کړي او د ټګمار او ډنډه مار مفتي په څېر ئې ورته جائز او د ثواب کار ثابتوي؛ د درایت، ځیرکتیا او هوښیاري تقاضی ئې ګڼي!! د شیطان له لوري هر غولېدلی او دوکه شوی به داسي ومومئ چې رذالت او منافقت ورته هنر او کمال برېښي.

قَالَ فَبِمَآ أَغۡوَيۡتَنِي لَأَقۡعُدَنَّ لَهُمۡ صِرَٰطَكَ ٱلۡمُسۡتَقِيمَ ١٦ ثُمَّ لَأٓتِيَنَّهُم مِّنۢ بَيۡنِ أَيۡدِيهِمۡ وَمِنۡ خَلۡفِهِمۡ وَعَنۡ أَيۡمَٰنِهِمۡ وَعَن شَمَآئِلِهِمۡۖ وَلَا تَجِدُ أَكۡثَرَهُمۡ شَٰكِرِينَ ١٧ الأعراف

۱۶- وئې ویل: نو چې بې لاري دي کړم، هرومرو به ستا په مستقیمي لاري کې دوی ته (په کمین کې) کښېنم، ۱۷- بیا به د دوی له مخي، له شا ئې، له ښي اړخ ئې او له کیڼ اړخ ئې ورته راځم او ډېرې به ئې شکر کوونکي ونه مومې.

دلته څو اساسي خبرې زمونږ مخي ته ایښودل شوې:

- شیطان خپل عصیان او سرغړاوی الله تعالی ته منسوبوي او د ده له لوري اغوا ئې ګڼي، یعني الله ته وایي: تا زه دې ته اړ کړم، تا داسي چا ته پر ما ترجیح ورکړه چې زه ترې غوره وم، د ده له مخالفت پرته بله لار دي راته پرې نښوده!! دا داسي ده لکه په یوه حزب یا حکومت کې چې څوک د یوه مقام لپاره ځان وړ ګڼي، د لاس ته راوړو هڅه ئې کوي، خو خپل مقصد ته نه رسېږي، دا مقام بل چا ته سپارل کېږي، دی د اطاعت پر ځای د مخالفت لپاره ملا تړي، له تنظیم وځي او بیا خپل عصیان او وتل د حزب مشرتابه ته منسوبوي او وایي: تا له حزب وتلو ته اړ کړم!! قرآن د شیطان دا وینا د همدې لپاره زمونږ مخي ته ایښې

ده چې له داسې غلط کار ډډه وکړو.

- شیطان لوړه کوي چې د انسان د بې لارې کولو او په خپل مأموریت کې د ده د ناکامولو هڅه به کوي، په هر ګام کې به په کمین کې ورته کښېني، له هر لورې به ئې تر برید لاندې نیسي، هڅه به ئې دا وي چې ثابته کړي آدم علیه السلام او اولاد ئې د دې مقام وړ نه دي، د دې الهي پېرزویني قدر او پاس نه شي اداء کولی. دا هم داسې ده لکه له حزب هغه مرور یا وتلی کس؛ د خپل رقیب د نااهله ثابتولو لپاره هغه ته موانع راولاړوي، غواړي هري خوا ته فتنې او ستونزې راولاړې کړي، ثابته کړي چې د ده په اړه د مشرتابه پرېکړه سمه نه وه، دا ټولې ستونزې د دغې ناسمې پرېکړې نتائج دي. قرآن د همدې لپاره مورِ دې شیطاني کار ته متوجه کوي چې ځان ترې وساتو.

که د غربي نظام مختلفو برخو ته لږ ځیر شئ نو وبه ګورئ چې په دې نظام کې ټول هغه څه حلال ګڼل شوي چې هر الهي دین تحریم کړي، که د قرآن، تورات او انجیل په رڼا کې دا نظام وڅېړئ نو هغه به داسې ومومئ لکه چې شیطان په سپینې مانۍ کې د جمهوري ریاست پر کرسۍ ناست او د خپلې خوښې نظام ئې قائم کړی وي، په دې نظام کې ټول هغه څه روان دي چې الهي کتابونه ئې د شیطان کار ګڼي.

که شیطان ته د دې موقع په لاس ورشي چې د نړۍ په کوم ګوټ کې د خپلې خوښې ټولنه جوړه کړي او هغه نظام په کې قائم کړي او هغه قوانین په کې پلي کړي چې دی ئې غواړي نو د امریکا له اوسنۍ ټولنې او نظام سره به ئې هیڅ توپیر نه وي، د غربي ټولنو په څېر به ئې یوه ټولنه جوړوله او سیاسي، اجتماعي، اقتصادي او نظامي پالیسي به ئې همغسې وه چې جورج بش او خلف او سلف ئې پلي کوله.

که وغواړو چې غربي ټولنه په څو مختصرو کرښو کې تشریح کړو او د دې ټولنې د فرهنګي، سیاسي، اجتماعي او اقتصادي برخو اساسي بنسټونه په ګوته کړو نو ویلی شو چې د غربي ټولنې د اقتصادي نظام بنسټونه دا دي:

سود

سود چې د مظلوم او بې وزلې له اړتیا او مجبوریت د ګټې اخیستو وسیله ده او په ټولو الهي ادیانو کې تحریم شوی، د غربي ټولنې د اقتصادي نظام اساسي بنسټ دئ، د غرب ټوله راکړه ورکړه او اقتصادي مناسبات پر سود ولاړ دي، که د دې ټولنې له بانکي سیستم او تجارتي او اقتصادي تعامل سود وباسئ نو دا نظام په ټپه ودرېږي او د یوه ګام مخکې اخیستو توان نه لري.

احتکار

د نړۍ د مالي نظام بل بنسټ او د اوسني ستر مالي بحران بل سبب؛ احتکار دئ چې بډایانو، شتمنو او سترو شرکتونو ته دا موقع په لاس ورکوي چې د خپلې خوښې نرخونه پر بازار تحمیل او بې وزلې لوټ او عام ولس له ستونزو او کړاوونو سره مخامخ کړي، له خپلې شتمنۍ په استفادې سره د خلکو د اړتیا وړ شیان په ارزانه بیه اخلي، بازار او نرخ په خپل کنترول کې راولي، کله چې په بازار کې د احتکار شوو شیانو عرضه محدوده او تقاضی زیاته شوه او نرخونه اوچت شول، هغه ځې د خپلې خوښې په بیه بازار ته راوباسي او وړیا ګټه تر لاسه کوي، د دې ګټې عامل او سبب نه د ده زیار او زحمت دئ او نه د ده هنر او حکمت، فقط خپلې شتمنۍ او د نورو اړتیا او مجبوریت دا فرصت ورکړی چې خلك غارت کړي. دا د احتکار د جواز او هغه ته د مشروعیت ورکولو په وجه ده چې ضروري خوراکي توکي تر اصلي قیمت په لوړه بیه پلورل کېږي؛ له غریب، حاجتمن او فقیر اخیستل کېږي او د ظالم او بې رحمه محتکر په جیب کې لوېږي، شتمن د ارزانۍ په وخت کې د اړتیا وړ توکي پېري او ذخیره کوي ځې او هغه مهال ځې بازار ته باسي چې د خپلې خوښې په نرخ ځې وپلوري، شرکتونه سره مدغم شي، څو ملیتي شرکتونه رامنځته کړي، واړه شرکتونه له رقابت او سیالۍ عاجز کړي، د مشخصو

توکيو مارکيټ په خپلي ولکې کي ونيسي او خپل توکي د خپلي خوښي په نرخ بازار ته وړاندي کړي، د نرخونو د لوړېدو لويه وجه همدا ده، يو ساده مثال ئې د کمپيوټر يوه سي ډي ده چي که فابريکه ئې په جوړولو تخميناً پنځه افغانۍ لګوي خو د سوني شرکت په شل برابره قيمت بازار ته وړاندي کوله. هغه کمپيوټر چي يو وخت ئې قيمت زر ډالره وو، څو کاله وروسته چي نوري کمپنۍ رامنځته شوې او دې ته ورته کمپيوټر بازار ته راووتل؛ قيمت ئې دوو سوو ډالرو ته راپرېوت، د قيمت د کموالي وجه ئې دا وه چي مخکي د يوې کمپنۍ په احتکار کي وو، د خپلي خوښي په قيمت ئې خرڅولو، خو وروسته چي بازار د دې کمپنۍ له کنټرول ووت؛ نرخ ئې راکم شو، د ټولو توکيو د قيمتونو د لوړېدو يوه ستره وجه دغه ناولی احتکار او انحصار دئ چي اسلام دواړه تحريم کړي، تر هغه چي د هېوادونو او په مجموع کي د ټولې نړۍ مالي نظام داسي جوړ نه شي چي د احتکار او انحصار امکانات پکي ختم شي؛ موجوده مالي بحران او دې ته ورته ستونزي نه شي حل کېدی. خو د نړۍ له اقتصادي نظام د سود او احتکار ايستل به تر هغه پوري هسي يوه هيله وي چي په موجودو سياسي نظامونو کي ژوره تبديلي رانه شي، موجوده سياسي نظامونه د دغه مالي نظام عامل او حامي دي، د هېوادو واګي د شتمنو په لاس کي او سياسي نظامونه د دوی په خدمت کي دي. بې له شکه چي نړۍ يوه ستر انقلاب ته ضرورت لري، يوه واقعي اسلامي انقلاب ته، له دې پرته نه په نړۍ کي د جګړو لړۍ پای ته رسېدی شي او نه سياسي او اقتصادي بحرانونه ختمېدی شي.

قمار

قمار چي له زحمته پرته او د يوه حريص انسان د غولولو له لارې وړيا ګټه تر لاسه کول دي او د هر دين او هر عادلانه انساني قضاوت له مخي ناروا او ظالمانه عمل دئ، په غرب کي نه يوازي جائز دئ بلکي هم په شخصي توګه او هم په دولتي کچه د وړيا ثروت لاسته راوړلو يوه

مهمه ذريعه ده. که وغواړو د قمار له لوبې؛ دوکه، تېر ايستنه، چل او د نورو په غولولو کې مهارت نفي کړو او يوازې د چانس او طالع آزموينې معامله ئې وګڼو؛ بيا هم د هر انساني، اخلاقي او عقلاني معيار او ملاك له مخې ظالمانه چلن دئ؛ ولې بايد يو تن مفت، وړيا، آسانه او بې له زيار او زحمت؛ د بل هغه مال تر لاسه کړي چې په حاصلولو کې ئې خولې توی شوې او لاسونه ئې تناکې شوي، او په دې مال کې د ده د کورنۍ ګڼ شمېر غړي ورسره شريك دي؟! کوم عاقل او شريف انسان دا مني چې د عربي هېوادو د پاچايانو او شيخانو زامن د لندن په يوه قمار خوني کې په يوه شپه مليونونه ډالر بايلي؟! لومړی ئې په شرابو مست او ګنګس کړي، بيا ئې د قمار ميز ته کښېنوي او جيبونه ئې تش کړي؟! په داسې حال کې چې د شهزادګانو په بکسونو او جيبونو کې دا پيسې د ټول اسلامي امت امانت او په ځانګړې توګه د هغو مليونونو حاجيانو پيسې دي چې د حج په سفر کې ترې اخيستل کېږي!! حال دا چې د مکې د حرم زمکه د ټول امت لپاره وقف شوې زمکه ده؛ همغسې چې په دې اړه د امام ابوحنيفه رحمه الله د رأی په ارتباط الطيبي ويلي:

وَعِنْد أَبِي حَنِيفَة أَرْضُ الْحَرَمِ مَوْقُوفَة لِأَنَّ رَسُول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم فَتَحَ مَكَّة قَهْرًا، وَجَعَلَ أَرْض الْحَرَم مَوْقُوفَة، فَلَا يَجُوز أَنْ يَتَمَلَّكهَا أَحَد. كَذَا فِي الْمِرْقَاة. عون المعبود - (ج ٤ / ص ٤٠٤)

د امام ابوحنيفه رحمه الله له نظره د حرم ټوله زمکه وقفي (عامه ملکيت) ده؛ دا ځکه چې رسول الله صلى الله عليه و سلم مکه په زور فتح کړې؛ او د حرم زمکه ئې موقوفه زمکه ګرځولې؛ نو هيڅا ته جائزه نه ده چې تمليك او تصرف ئې کړي.

عائشه رضي الله عنها د منىٰ په ارتباط ويلي:

عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَلَا نَبْنِي لَكَ بِمِنًى بَيْتًا لِيُظِلَّكَ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا، مِنًى مُنَاخُ مَنْ سَبَقَ». ابو داؤد، ابن

ماجة و اسحاق بن راهويه

له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم ته مي وويل: آيا په منىٰ کې کوم کور يا داسي استوګنځى درته جوړ نه کړو چې له لمر درباندي سيورى وکړي؟ وئې فرمايل: نه؛ دا د مخکينيو څړځاى وو.

الطيبي د دې روايت په شرح کې ليکلي:

قَالَ الطِّيبِيُّ: مَعْنَاهُ أَتَأْذَنُ أَنْ نَبْنِي لَك بَيْتًا فِي مِنًى لِتَسْكُن فِيهِ فَمَنَعَ وَعَلَّلَ بِأَنَّ مِنًى مَوْضِع لِأَدَاءِ النُّسُك مِنْ النَّحْر وَرَمْى الْجِمَار وَالْحَلْق يَشْتَرِك فِيهِ النَّاس، فَلَوْ بَنَى فِيهَا لَأَدَّى إِلَى كَثْرَة الْأَبْنِيَة تَأَسِّيًا بِهِ فَتَضِيق عَلَى النَّاس وَكَذَلِكَ حُكْم الشَّوَارِع وَمَقَاعِد الْأَسْوَاق. وَعِنْد أَبِي حَنِيفَة أَرْض الْحَرَم مَوْقُوفَة لِأَنَّ رَسُول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم فَتَحَ مَكَّة قَهْرًا، وَجَعَلَ أَرْض الْحَرَم مَوْقُوفَة، فَلَا يَجُوز أَنْ يَتَمَلَّكهَا أَحَد. كَذَا فِي الْمِرْقَاة. عون المعبود - (ج ٤ / ص ٤٠٤)

طيبي وويل: معنى ئې دا ده چې عائشې وويل: اجازه راکوې چې په منى کې داسي کور درته جوړ کړو چې په کې واوسې؟ خو ممانعت ئې وکړ او دا ئې علت وښودو چې منى د حج د ځينو مناسکو د اداء کولو ځاى دئ؛ لکه قرباني، د جمراتو ويشتل او د سر وېښتان لنډول او خرېيل؛ ټول خلك په کې شريك دي؛ که په دې کې کوم تعمير جوړ شي؛ نو دا به سبب شي چې په تقليد او تأسي کې ئې ډېر نور تعميرونه په کې جوړ شي؛ او دا به ساحه پر خلکو تنګه کړي؛ د لويو لارو او بازارونو په اړه هم حکم همداسي دئ. د امام ابوحنيفه له نظره د حرم ټوله زمکه وقفي (عامه ملکيت) ده؛ دا ځکه چې رسول الله صلى الله عليه و سلم مکه په زور فتح کړې؛ او د حرم زمکه ئې موقوفه زمکه ګرځولې؛ نو هيڅا ته جائزه نه ده چې کومه زمکه ئې تملیك او تصرف کړي.

خو متأسفانه اوس مکه په يوه داسي ستر تجارتي ښار بدله شوې چې د پاچايانو مجلل قصرونه هم لري او قيمتي مجلل هوټلونه هم؛ څه چې په کې نه شته هغه د مسافرو حاجيانو لپاره مجاني موقت هستوګنځي دي!!

لاټري

دا پر قمار ولاړه لوبه ده؛ د انفرادي قمار لمن ئې پراخه کړې او په يوه مجازي ميدان کې په زرګونو هغه وګړي په لوبې کې شاملوي چې له آساني او لنډې لاري د شتمن کېدو حرص لري؛ خو له سلو يوه ته څه په لاس ورشي اما ۹۹ ئې تش لاس ستانه او نامراد شي!! عجيبه ده چې نن حکومتونه او مفسد حکام ئې له خپل ولس سره همدا څرګند، قبيح او شنيع غدر او خيانت کوي!! دولت مجوز ورکوي، رسنۍ ورته تبلغات کوي، تلويزيونونه غولووونکي تشويقي إعلانات ورته خپروي او امنيتي ځواکونه ئې امنيت تأمينوي؛ يعني چې پوليس او ټول حکومت؛ د رڼا ورځې غلو او لوټمارانو په خدمت کې! په اروپا او أمريکا کې په سلګونو شرکتونه همدا کار کوي او په مليونونو غربيان په دي ګنده مصروفيت کې ښکېل، د ټګمارانو په لومو کې نښتي او ړانده غربپال همدي جهل ځپلې ټولنې ته د متمدن او مترقي په سترګه ګوري!! قرآن شراب، قمار او ازلام يو ځای يادوي، پليد او د شيطان کار ئې ګڼي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّمَا ٱلۡخَمۡرُ وَٱلۡمَيۡسِرُ وَٱلۡأَنصَابُ وَٱلۡأَزۡلَٰمُ رِجۡسٞ مِّنۡ عَمَلِ ٱلشَّيۡطَٰنِ فَٱجۡتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ٩٠ المائدة

اې مؤمنانو! اصلي خبره دا ده چې شراب، قمار، بتان او د فال غشي د شيطان پليتي کړنې دي؛ نو ځان ترې وساتئ چې بريا ومومئ.

په دې جامع آيت کې ستر ستر حرام شيان په لاندي توګه ښودل شوي: شراب، قمار، د بتانو لمانځل او د فال غشي. له بتانو او د فال له غشو مراد هغه حيوانات دي چې د بتانو په نامه ذبح کېږي او يا ئې غوښه د

غشو په وسيله وښل کېږي، تفصيل ئې د قرآن پلوشې تفسير؛ د المائده سورې په درېيم آيت کې ولولئ.

د اجتماعي ستونزو په حلولو کې اسلام خپله خاصه کړنلاره لري. د ځينو خاصو اجتماعي ستونزو د حلولو لپاره ئې دا کړنلاره غوره کړې چې ورو ورو د هغوی جړې باسي، تدريجي بدلون غوره ګڼي، لومړی د داسي تبديلي لپاره ذهني شرائط برابروي، مقدماتي کارونه سر ته رسوي، ريښې ئې يوه په بلي پسي قطع کوي او په پای کې د دې اجتماعي ستونزي کرغېړن بوټی له بېخه باسي. د شراب او قمار په اړه اسلام همدا اسلوب غوره کړ، په تدريج سره ئې د دې خبيثه بوټو جړې وايستلې.

دا آيت د شرابو د تحريم په اړه د قرآن وروستی حکم دئ؛ تر دې د مخه ئې لومړی دا وويل:

يَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلْخَمْرِ وَٱلْمَيْسِرِ ۖ قُلْ فِيهِمَآ إِثْمٌ كَبِيرٌ وَمَنَـٰفِعُ لِلنَّاسِ وَإِثْمُهُمَآ أَكْبَرُ مِن نَّفْعِهِمَا ۗ... ﴿٢١٩﴾ البقرة

د شراب او قمار په اړه تا پوښتي؛ ورته ووايه: په دوی کې ستره ګناه ده او د خلکو لپاره څه ګټې؛ خو ګناه ئې تر ګټې ډېره ستره ده.

يعني شراب او قمار د دې لپاره حرام کړی شوي چې تاوان ئې تر ګټې زيات دئ، هم فرد ته او هم ئې ټولنې ته. شراب انسان له خپل طبيعي حالت باسي، په خپلې ارادې، ضبط نفس، حواسو او مشاعرو د ده واک کمزوری کوي، له سده ئې باسي او داسي کارونو ته ئې هڅوي چې په طبيعي حالت کې ترې ځان ساتي. او قمار په ناحقه د بل د مال غصبولو وسيله ده، په دې سره هغه حريص انسان په دام کې اچول کېږي چې غواړي له آساني او لنډې لارې د ډېر مال او ثروت خاوند شي، د ده له دغه کمزورۍ په استفادې سره ځېرک، زرنګ او ماهر ټګماران د ده موجود ثروت هم ترې غارت کړي. اوس خو متأسفانه حکومتونه له خپلو ولسونو سره همدا دوکه او لوبه کوي، د لاټرۍ په غولونکو اعلاناتو کې وايي: خپل بخت وآزمويئ، د مليونر کېدو دا طلايي موقع له لاسه مه ورکوئ، کېدی شي د شلو روپو يو ټکټ تاسو ته هومره څه په لاس درکړي چې ټول آرمانونه مو تر سره کړي!! ناپوه او حريص

کسان په دې غولوونکو اعلاناتو دوکه کړي، له زرهاوو کسانو پيسې تر لاسه کړي او د هغه پنځه په سلو کې څو (په اصطلاح بختورو ګټونکو) ته ورکړي او باقي ئې د غلو او خائنو چارواکو د عيش عشرت سامان شي.

ورپسې ئې د النساء سورې په ٤٣ آيت کې وفرمايل:

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَقۡرَبُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَأَنتُمۡ سُكَٰرَىٰ حَتَّىٰ تَعۡلَمُواْ مَا تَقُولُونَ...

اې مؤمنانو! په داسي حال کې لمانځه ته مه نژدې کېږئ چې مست وئ؛ تر هغه چې پر هغه څه پوه شئ چې وايئ...

يعنی لمونځ په داسي حالت کې مه کوئ چې مست وئ او په دې نه پوهېږئ چې څه وايئ. لمونځ خو له الله تعالی سره ستاسو راز او نياز دئ، هغه ته خپل حاجتونه وړاندي کوئ، له خپل زړه راخوټېدلې خبرې او دعاء ګاني ورته کوئ؛ په داسي حالت کې په لمانځه ودرېږئ چې خپلو خبرو ته مو پام وي او وربانديې پوهېږئ.

ځيني محققين په دې باور دي چې د شرابو د تقبيح په اړه لومړنی آيت دا دئ:

وَمِن ثَمَرَٰتِ ٱلنَّخِيلِ وَٱلۡأَعۡنَٰبِ تَتَّخِذُونَ مِنۡهُ سَكَرٗا وَرِزۡقًا حَسَنًاۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗ لِّقَوۡمٖ يَعۡقِلُونَ ٦٧ النحل

او د خرما او انګورو له مېوو چې ترې شراب او غوره رزق تر لاسه کوئ؛ يقيناً چې په دې کې هغو ته نښه ده چې تعقل کوي.

د دغه آيت په اوربدو سره ډېرو صحابه وو له شرابو ډډه وکړه؛ ځکه چې دلته شراب د غوره رزق په مقابل کې ذکر شوی.

په پای کې ئې په قاطع او څرګندو الفاظو سره د دغو تحريم اعلان کړ او وئې ويل چې دا څلور واړه شيطاني کارونه دي نو ځان ترې وساتئ، ستاسو سعادت او بريا په دې کې ده چې له دغو شيطاني کارونو ځان لري وساتئ.

د المائده سورې په ٣ آيت کې دا لارښووني مومو:

حُرِّمَتۡ عَلَيۡكُمُ ٱلۡمَيۡتَةُ وَٱلدَّمُ وَلَحۡمُ ٱلۡخِنزِيرِ وَمَآ أُهِلَّ لِغَيۡرِ ٱللَّهِ بِهِۦ وَٱلۡمُنۡخَنِقَةُ وَٱلۡمَوۡقُوذَةُ وَٱلۡمُتَرَدِّيَةُ وَٱلنَّطِيحَةُ وَمَآ أَكَلَ ٱلسَّبُعُ إِلَّا مَا ذَكَّيۡتُمۡ وَمَا ذُبِحَ عَلَى ٱلنُّصُبِ وَأَن تَسۡتَقۡسِمُواْ بِٱلۡأَزۡلَٰمِۚ ذَٰلِكُمۡ فِسۡقٌۗ ٱلۡيَوۡمَ يَئِسَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِن دِينِكُمۡ فَلَا تَخۡشَوۡهُمۡ وَٱخۡشَوۡنِۚ ٱلۡيَوۡمَ أَكۡمَلۡتُ لَكُمۡ دِينَكُمۡ وَأَتۡمَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ نِعۡمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ ٱلۡإِسۡلَٰمَ دِينٗاۚ فَمَنِ ٱضۡطُرَّ فِي مَخۡمَصَةٍ غَيۡرَ مُتَجَانِفٖ لِّإِثۡمٖ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ٣

۳- پر تاسو مردار څاروی، وينه، د خنزير غوښه او هر هغه څه چې د غیر الله لپاره پرې غږ شوی وي، د خفه کړی شوي، وهل شوي، غورځېدلي، په ښکر څیرل شوي، ځناور خوړلي؛ مگر هغه چې حلال کړی مو وي، هغه چې په کوم درشل کې ذبح شوی وي او هغه چې په غشو سره ئې په خپلو کې وېشئ؛ حرام کړی شوي؛ دا به مو فسق او سرغړونه وي. نن کافران ستاسو له دین مأیوس شول، نو له دوی مه وېرېږئ او له ما ووېرېږئ. نن مو ستاسو دین درته بشپړ کړ او خپل نعمت مي پر تاسو پوره کړ او اسلام مي د دین په توګه درته غوره کړ. خو که څوك په سخته لوږه کې اړ شو؛ په داسي حال کې چې د ګناه په لوري تلوسه کوونکی نه وي؛ نو الله مهربان بخښونکی دئ.

(۳)_ په دې مبارك آیت کې د لسو حرامو شیانو ذکر شوی:

- ميتة: په خپل مرګ مړ شوی څاروی، څرېدونکی حیوان او مرغه، (له ماهي او ملخ پرته، مشروط په دې چې ګنده شوی نه وي).
- په رګونو کې بهېدونکې وينه.
- د خنزير غوښه. خنزير که څه هم د څارويو په څېر واښه خوري؛ خو دوه ډېري ناولې ځانګړتياوي لري: ۱- هر ګنده شیء خوري، د حیواناتو ګندګي هم او حتی یو د بل ګندګي هم. ۲- په جنسي عمل کې ډېر افراط کوي، یو د بل له جنسي عمل خوند اخلي. په دې کار کې له هیڅ څاروي سره نه شي مقایسه کېدلی، ډېر څاروي داسي دي چې یوازي

د القاح په وخت کې د لنډ وخت لپاره جنسي نژدېوالی کوي، د کال په نورو وختونو کې ئې دا تمایل سوړ او ساکت وي او ډېر نور بیا داسي دي چې په خپلې ښځې غیرت کوي او د بل د تېري په مقابل کې شدید عکس العمل ښیي؛ خو خنزیر له دغو دواړو توپیر لري.

د خنزیر غوښه د نورو څارویو په پرتله ډېره غوړه ده؛ نژدې ۳۶٪ کې ئې وازګه وي؛ او دا د پسه په پرتله نژدې دوه ځله زیاته ده؛ د علمي تحقیقاتو او تجربو له مخې ثابته شوې چې زیاته وازګه انسان ته تاوان لري، دغو ځانګړتیاوو او هغو تاوانونو ته په پام سره هم چې ورو ورو به انسان ته څرګندېږي؛ د خنزیر غوښه حرامه شوې. ساتل، پېر پلور او تجارت ئې هم حرام دئ؛ خو په غربي ټولنو کې ئې هم خوراك زیات دئ او هم ئې پالل، ساتل او تجارت؛ دا په داسي حال کې چې بایبل ئې حرام ګڼي او تر دې عنوان لاندې (حرام او حلال شیان) وایي: د وچې هغه حیوانات درته حلال دي چې شخوند وهي او نوك ئې یو نه بلکې په منځ کې بېل وي، اوښ، سوی او کوني کېر حرام دي، ځکه شخوند وهي خو نوك ئې په منځ کې بېل نه دئ او خوګ حرام دئ چې که څه هم نوك ئې بېل دئ خو شخوند نه وهي... د اوبو له ژوو هغه درته حلال دي چې پَرې او په پوستکي فلس لري (د ماهي په څېر وي) له دې پرته نور ئې درته حرام دي... له مرغانو به دا نه خورئ: کونګ، باز، شاهین، عقاب، باښه، ټپوس، کاغ، شتر مرغ، دریایي مارغه، لکلك، ماهي خوړونکی مارغه، هدهد، آسمان څکالی. وزر لرونکې خزندې به نه خوړل کېږي مګر هغه چې ټوپ وهي، یعني ملخ او مختلف ډولونه ئې،... څوك چې د دغو حیواناتو لاش ته لاس وروړي تر ماښامه به نجس ګڼل کېږي... پر زمکه ښویېدونکي حیوانات که پښې ولري او که نه حرام دي.

ګورئ چې بایبل هر څه حرام ګڼي مګر هغه چې نومونه او ځانګړتیاوي ئې په ګوته کوي، خو قرآن هر څه حلال ګڼي مګر هغه چې نوم ئې اخلي او ځانګړتیاوي ئې بیانوي، د بایبل له نظره اصل د اشیاوو حرمت دئ مګر هغه څه چې بایبل حلال کړي؛ خو د قرآن له نظره اصل

د اشياوو حلال والی دئ مګر هغه څه چې الله تعالی حرام کړي، د اشياوو د حل او حرمت په اړه د دې دواړو دريځونو ترمنځ ډېر ژور او بنيادي توپير شته، بايبل د حرامو شمېر زيات کړی او قرآن د حلالو شمېر، بايبل خپل پلويان له کړاوونو سره مخامخ کړي او بې ځايه بنديزونه پرې لګوي، خو قرآن د انسانانو ستونزه حل کړې، بايبل د حلال او حرام پربکړه له کوم منطقي او معقول دليل پرته کوي، خو قرآن هغه څه حرام ګڼي چې انسان ته تاوان رسوي او هغه څه حلال ګڼي چې ګټه ئې تر تاوان زياته وي.

- هغه څاروی چې د حلالولو په وخت کې ئې له الله تعالی پرته د بل چا نوم اخيستل شوی وي، د بل په نامه او د هغه د تعظيم لپاره ذبح شوی وي.
- په زندۍ کولو وژل شوی وي.
- په وهلو ټکولو مړ شوی وي.
- له لوړي په رارغښتو او راغورځېدو مړ شوی وي.
- بل حيوان په ښکر وهلی او وژلی وي.
- کوم داړونکي ځناور خوړلی وي او له حلالولو پرته مړ شوی وي. البته دا او مخکيني څلور که له مرګ مخکې ذبح شي حلال دي.
- د بت، قبر، زيارت او د چا په درګاه او درشل کې ذبح شوی وي؛ که څه هم د حلالولو په وخت کې د الله نوم پرې ويل شوی وي.
- او هغه چې وېشل ئې د قمار په توګه او د غشو په اچولو سره وي؛ مګر دا چې نه په مشرکانه دود دستور سره وي او نه د قمار په توګه، بلکې مساوي او برابري برخي په قرعه ووېشل شي.

دا ټول کارونه فسق او سرغړونه ګڼل کېږي. خو که څوك ډېر اړ وو، له لوړي ئې د مرګ وېره وه، په داسي حالت کې وو چې د دغو حرامو غوښو له خوړلو پرته ئې بله چاره نه وه، نو خوړل ئې په دې شرط ورته روا دي چې ګناه ته د تمايل په وجه به دا کار نه کوي، د ګناه تلوسه به ئې په زړه کې نه وي، نه به د بغاوت په جذبه دا کار کوي او نه به تر

ضرورت زیات خوري. د مجبوریت په حالت کې دا رخصت ځکه ورکړی شوی چې الله تعالی مهربان بخښونکی دئ.

د دې آیت له مخې هغه ټولنه یوه شیطاني ټولنه ده چې دغه شیطاني کړنې په کې تر سترګو کېږي. د کومې ټولنې په زړه او دماغ چې شیطان حکومت کوي؛ همدغه څلور شیطاني کارونه به په کې وګورئ.

که د غربي نظام هره برخه د قرآن په رڼا کې وڅېړئ او د شیطان او شیطاني کړنو په اړه چې قرآن څه ویلي؛ د هغوی په خوا کې ئې کښېږدئ وبه ګورئ چې په غربي نظامونو کې ټول هغه څه راغونډ شوي چې هر الهي دین شیطان ته منسوب کړي.

تاسو به په بایبل کې وګورئ چې اکثر پیغمبران علیهم السلام په شراب څښلو او نورو ناوړه کارونو متهموي، حال دا چې هیڅ پیغمبر او حتی هیڅ شریف او هوښیار انسان د شرابو څښلو شوق نه کوي.

نن په غربي ټولنې کې شراب عمومیت لري، دغو شرابو غربیان هغه ځای ته رسولي چې جنسي بې لاریتوب عام شي، پر زړه او ذهن ئې بې مهاره جنسي تمایلات مسلط شي، ټول ژوند ئې د دې تر اغېز لاندې راشي، هر څه له دغې زاویې ګوري، د جنسي هوس بنده شي، هم ئې دوستي د دې لپاره وي او هم ئې دښمني، له دې پرته بله مینه نه پېژني، د ښځو او نارینه وو آزاد اختلاط او بربنډتوب وربانديې مزید تیل توی کړي، مسته موسیقي، رقص او نڅا او د عشق او شهوت په ستاینې کې سندري لا زیات ورته لمن ووهي، هم ئې بټان او هم ئې مجسمې د ښځو انځورونه شي. که تاسو دا اوس غربي ټولنې ته لږ په دقت سره ځیر شئ؛ هرې خوا ته به مو د ښځو مجسمې تر سترګو شي، هم په معبد کې او هم په مغازه کې، هم د کشیش په وینا کې او هم د ټلویزیون په تجارتي اعلاناتو کې، هلته د تجارت لپاره ښځه او د دې ښایست کارول کېږي، هلته لوړو مراتبو ته رسېدل د ښځو له لارې وي، هلته مور او پلار هېر شوي، د دې مینې ټغر ټول شوی، ځای ئې جنسي هوس او تعلق ته خالي شوی، له نکاح او د کورنۍ له جوړولو ډډه کېږي دا ځکه چې نکاح د

آزاد جنسي تعلقاتو مانع کېږي، له اولاد سره د ښځي او مېړه علاقه او مينه نشته او دا د دې لپاره چې اولاد ساتل او روزل زحمت غواړي او د جنسي تلذذ او خوند اخيستو په وړاندي خنډ کېږي، مېړه او ښځه د دې پر ځای چې اولاد ولري؛ سپی او پشۍ ساتي، هلته به تاسو له کشيشانو هم واورئ چې مريم عليها السلام په زنا تورنوي او په دې خبري خاص تأکيد کوي او وايي چې هغې توبه وکړه او بيا ئې دا مقام تر لاسه کړ او دا د دې لپاره چې د يوه زناکار ولس معبود هم بايد د زنا سمبول وي، هلته به تاسو د فرويد په څېر د دوی له فيلسوفانو هم واورئ چې وايي: د انسان د ټولو کړنو، اړيکو او روابطو منشأ جنسي تمايل دئ، د پلار مينه له لور سره او د مور مينه له زوی سره؛ له دغه تمايل راولاړېږي، هم د انسان د ويښې ټول فعاليتونه او هم ئې د خوب خوبونه؛ جنسي منشأ لري. هلته به په بايبل کې ولولئ چې دا د عيسی عليه السلام معجزه ګڼي چې په يوې مېلمستيا کې ئې له اوبو ډك منګي په شرابو بدل کړل.

بايبل د (مختلف قوانين) تر عنوان لاندي:... بت مه جوړوئ او بتان مه لمانځئ، مجسمه، د ډبرو څلي او تراشلې ډبري د لمانځني لپاره مه جوړوئ...د مور او پلار احترام کوئ، غلا مه کوئ، درواغ مه وايئ، څوك مه دوكه كوئ،... جادوګري مه کوئ، فال مه نيسئ، د بت لمانځونکو په څېر پر خپلو مړو ماتم مه کوئ او خپل مخ او ځان مه زخمي کوئ، د سر وښتان مو د ماتم په توګه مه ګونځي کوئ او خپل ګربوان مه څيرئ او د دوی په څېر خالونه مه وهئ، کله چې د عبادت خيمې ته درومئ نو هيڅکله شراب او نور مست کوونکي مشروبات مه څښئ... د خنزير غوښه مه خورئ... زنا او لواطت کوونکي بايد ووژل شي، جادوګران او د روح احضاروونکي بايد ووژل شي...

او دا هغه خبري دي چې هر الهي دين ئې کوي، خو تاسو ګورئ چې د بايبل منونکي د دغو ټولو خبرو مخالفت کوي، نه شراب او قمار حرام ګڼي او نه بتان او مجسمې؛ اوس خو ئې د کليساګانو چتونه او دېوالونه هم په بتانو او مجسمو ښايسته شوي.

قرآن چې څه تحريم کړي نو د حرمت دلائل ئې هم ښودلي؛ دې آيت ته ځير شئ:

إِنَّمَا يُرِيدُ ٱلشَّيۡطَٰنُ أَن يُوقِعَ بَيۡنَكُمُ ٱلۡعَدَٰوَةَ وَٱلۡبَغۡضَآءَ فِي ٱلۡخَمۡرِ وَٱلۡمَيۡسِرِ وَيَصُدَّكُمۡ عَن ذِكۡرِ ٱللَّهِ وَعَنِ ٱلصَّلَوٰةِۖ فَهَلۡ أَنتُم مُّنتَهُونَ ٩١

شيطان خو غواړي چې په شرابو او قمار سره په تاسو کې دښمني او کينه واچوي او د الله له ذکر او له لمانځه مو مخنيوی وکړي؛ نو آيا امتناع کوونکي يئ.

تر دې وړاندي آيت کې د شرابو د تحريم په ارتباط ويل شوي چې دا له يوه پلوه ګنده شيء دئ او له بله پلوه د شيطان د خوښي شيء، په دې مبارک آيت کې د شراب او قمار په رائجولو کې د شيطان موخه په ګوته شوې او همدا د دغو دواړو د تحريم دلائل ښودل شوي؛ شيطان غواړي په دې سره څو اهداف تر لاسه کړي:

- په خلکو کې د دښمنۍ اورونه بل کړي.
- د خلکو زړونه له کينو ډک کړي.
- د الله تعالی له ياده ئې غافل کړي.
- له هغه لمانځه ئې منع کړي چې دوی هم په خپلو کې سره نژدې کوي او هم ئې له خپل رب سره.

کله چې مؤمنانو دا آيت واورېدو ډېرو په اوچت غږ وويل: انتهينا انتهينا يا ربنا: اې زمونږ ربه! لاس مو ترې واخيست، لاس مو ترې واخيست؛ د مدينې په کوڅو کې دومره شراب په زمکه توی شول لکه باران چې په کې ورېدلی وي، تر اوږدې مودې له کوڅو د شرابو بوی تر سپږمو کېدو.

عن ابْنِ عُمَرَ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " لُعِنَتِ الْخَمْرُ عَلَى عَشْرَةِ وُجُوهٍ: لُعِنَتِ الْخَمْرُ بِعَيْنِهَا، وَشَارِبُهَا، وَسَاقِيهَا، وَبَايِعُهَا، وَمُبْتَاعُهَا، وَعَاصِرُهَا، وَمُعْتَصِرُهَا، وَحَامِلُهَا، وَالْمَحْمُولَةُ إِلَيْهِ، وَآكِلُ ثَمَنِهَا " رواه أبو داود

وابن ماجه

له عبد الله بن عمر روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: شراب له لسو اړخونو لعنتي شوی: په خپله شراب، څښونکی ئې، ساقي ئې، پلورونکی ئې، پېرونکی ئې، زېښونکی ئې، د چا لپاره چي زېښل کېږي، وړونکی ئې، د چا لپاره چي وړل کېږي او د بها (د پيسو) مصرفوونکی ئې.

اسلامي حکومت په دې مکلف شوی چي د شرابو د توليد، پېر، پلور او څښلو مخه ونيسي، مجرم ته سزا ورکړي، د مجرم سزا د ځينو فقهاءو له نظره څلوېښت درې او د احنافو او ځينو نورو له نظره اتيا درې ده. د عمر رضي الله عنه په زمانه کي د بني ثقيف د قبيلې د يوه کس دکان له دې امله وسوزول شو چي په پټه ئې شراب پلورل.

بيمه

- بيمه دا ده چي يو فرد له بل فرد يا شرکت؛ د يو مقدار پيسو په بدل کي؛ د خپل ځان، کورنۍ، کور، ګاډي يا بلي شتمني په اړه دا ژمنه او تضمين تر لاسه کړي چي تر فلان تاريخ او نېټې پوري به ده ته د مصيبت، مرض او تاوان رسېدو په صورت کي د علاج، ترميم او جبران مصارف په غاړه اخلي؛ دا په غربي هېوادو کي دومره خوره شوې چي د ټولني پر هري برخي ئې خپل وزر غوړولی؛ هر څوك ئې دې ته هڅولی چي خپل ځان، صحت، کور، دکان، فابريکه، موټر، کشتۍ، جهاز، ... بيمه کړي؛ دا هم قمار او لاټري ته ورته معامله ده؛ د اسلام له نظره هره هغه معامله چي قمار ته ورته وي، پر طالع او بخت آزموينې ولاړه وي؛ هغه حرامه او ناجائزه ده. ښه ده چي په يوه مثال سره ئې توضيح کړو: تا د ځان او کورنۍ لپاره نوی ګاډی واخيست، په سبا ئې د بيمې يوه شرکت ته ورشې، د پنځوس زره افغانيو په بدل کي دا ګاډی بيمه کړې، داسي چي تر يوه کال پوري به د بيمې شرکت؛ ستا د ګاډي د هر ترميم مصارف په غاړه اخلي، که دا د کومي پرزې ترميم يا تعويض وي او که له بل ګاډي

سره د ټکر په نتیجه کې د اوښتي تاوان رغولو مصارف وي. ته خوښ یې چې په پنځه لکه افغانیو اخیستی موټر دي په دېرش زره بیمه کړ؛ د خپلې محاسبې له مخې دا درته ګټوره معامله برېښي، د بیمې شرکت همداسې معامله له ۹۹ نورو سره کړې؛ له هر یوه ئې همدومره مبلغ اخیستی، جمعاً ئې (۱۰۰x ۳۰۰۰۰ =۳۰۰۰۰۰۰) افغانۍ تر لاسه کړې؛ په دې مبلغ کولی شي ستا د ګاډي په څېر شپږ ګاډي وپېري؛ نو د شرکت خاوند به حتماً تر تا زیات خوښ وي؛ دا د بیمې کاروبار ئې د ګټې لپاره غوره کړی، فکر کوي چې که ډېر هم کم بخت او بد طالع وي نو له ۱۰۰ بیمه شویو ګادو به ښایي ۵۰ د پرزو تعویض او بل داسې ترمیم ته اړ شي چې مصارف ئې ۳۰۰۰۰ یا تر دې لږ زیات وي؛ په بد حالت کې به هم د شرکت لګښتونه د عائد نیمایي ته ونه رسېږي؛ د بیمې شرکت کولی شي دغه درې ملیونه افغانۍ چې د معاملې په ابتداء کې تر لاسه کوي؛ په کار واچوي او په عوائدو ئې ډېر تخریب شوي ګاډي ترمیم کړي.

همدا راز که د بیمې یو خصوصي شرکت؛ سل کشتۍ تر یوه کال پوري بیمه کړي، داسې چې له بشپړ سوزېدو او تخریب پرته د بل هر زیان رغولو مصارف به د شرکت په ذمه وي؛ که د هري کشتۍ بیمه د کال ۳۰۰۰۰ ډالر وي؛ نو د شرکت عائد به د کال درې ملیونه ډالر وي؛ دا د معاهدې په پیل کې تر لاسه کوي؛ او پر دې سربېره کولی شي دا درې ملیون ډالر په کار واچوي او دومره ګټه تر لاسه کړي چې د ډېرو کشتیو د ترمیم لپاره کافي وي؛ د شرکت ټول لګښتونه به په ډېر بد حالت کې دومره وي چې د دغو کشتیو نیمایي داسي زیانمنې شي چې شرکت به ئې زیان جبرانوي؛ غالباً به دا لګښت د عائد ۵۰٪ هم نه وي؛ دا شرکت نه خدایي خدمتګار دئ او نه حاتم طائي؛ دا کسب ئې د زیاتې ګټې لپاره غوره کړی؛ پانګه ئې هم د کشتیو د خاوندانو له لوري تأمینېږي؛ د نورو له حماقت او احیاناً مجبوریت ناوړه استفاده کوي!!

که د همدغو کشتیو مالکان د بیمې پر ځای داسي اتحادیه رامنځته

کړي چې د ناڅاپي پېښو او ناخوالو په وخت کې به د اتحاديې له هر زيانمن شوي غړي سره همدومره مرسته کوي چې د بېمې شرکت ئې کوي؛ په دې سره به څو ګټې کوي:

- د دوی پيسې به د مفت خور شرکت په جيب کې نه لوېږي.
- يوازي هغه مهال به څه لګښت پرې راځي چې د اتحاديې يو غړی زيانمن شي؛ نه دا چې پنځه ملیونه ډالر به د احتمالي او ظني پېښو له وېرې د بيمې شرکت ته د معاهدې په سر کې سپاري.
- که د کشتۍ خاوند مسلمان وي نو له زيانمن سره مرسته به ئې لږ تر لږه قرض حسنه وي؛ هغه مهال به ئې بېرته تر لاسه کوي چې دی په خپله په کومې پېښې کې زيانمن شي؛ خو د بيمې شرکت ته ئې ورکول قمار ډئ چې اسلام تحريم کړی. يو ئې هم د ثواب کار ډئ او هم ئې ګټه زياته او بل ئې د ګناه کار ډئ او تاوان ئې زيات او د قرآن په وينا: وَإِثْمُهُمَآ أَكْبَرُ مِن نَّفْعِهِمَا: او ګناه ئې تر ګټې ډېره ستره.

ګمرکي تعرفې

ملا ماتونکي ګمرکي تعرفې چې هم ظالمانه او غير عادلانه دي او هم هيڅ ديني، عقلي او انساني توجيه ورته نه شو موندلی؛ د قيمتونو د لوړېدو لوی عامل، د آزاد بازار د اصولو او مقتضياتو خلاف، له عام ولس اخيستل کېږي؛ پرته له دې چې فقير ترې مستثنی شي؛ هر هغه څه چې حکومتونه ئې له غريب او فقير په هر نامه اخلي څرګند ظلم ډئ؛ آيا د دې لپاره انساني او عقلي توجيه موندلی شو چې پر دواء، خوراکي توکيو، د سوند مواد، جامه، قلم، کاغذ، زراعتي وسائلو، بايسکلونو، بسونو، ګاډو، او .... ګمرکي محصول وضع شي؟! د دې محصول اصلي تأديه کوونکي او قربانيان زمونږ د ټولنې نژدې اتيا سلنه هغه وګړي دي چې د فقر له کرښې لاندې دي؛ هغه چې الله تعالی د زکات له ورکولو هم معاف کړي. د مثال په توګه: دولت پر ګاډو تر ۱۰۰٪ زياته ګمرکي تعرفه وضع کړې؛ دا ګاډي د هېواد په مارکيټ کې د اصلي قيمت په پرتله تر

دوه ځله زیاتي بیې پلورل کېږي؛ (اصلي قیمت + ګمرکي محصول + د اول لاس، دوهم او درېیم لاس تاجر او پلورونکي ګټه)؛ که دا ګاډی بس او ټکسي شي نو مسافر به د اصلي کرایې څو برابره زیاته کرایه ورکوي، په دې کرایه کې به هم د ګاډي ګمرکي محصول، هم د ټېل او مبلایل محصول، هم د لاري په اوږدو کې د حق العبور متعددو ټمځایونو محصول؛ هم د پلورونکو ګټې، د مالك ګټه او د ډرېور معاش شامل وي؛ دا هر څه د غریب او مجبور مسافر له تش جیب په زور او تزویر اخیستل کېږي او د داسي واکمنو او حکومت په جیب کې لوېږي چې د وزیر، والي، جنرال، قومندان، شیخ، مفتي... معاش او امتیازات ئې د عادي مأمور او عسکر په پرتله تر پنځوس ځله زیات دئ!! په کوم دین او د کوم عقل او انساني ضمیر په تله کې به داسي ظالمانه اخاذي او شکوني مشروع او جائز ګڼل کېږي؟! هغه نه دین لري او نه انساني شعور او عاطفه چې داسي ظالمانه سیستم ورته جائز برېښي او د مخالفت پر ځای دفاع ترې کوي.

د امریکا نوي جمهور رئیس ټرامپ؛ په سپیني ماڼۍ کې د جمهوري ریاست پر کرسۍ تر ناستي وړاندي په پرېکنده الفاظو اعلان وکړ چې پر هغو هېوادونو به ۱۰۰٪ ګمرکي تعرفې وضع کړي چې د بریکس له اتحادیې سره د ډالر په ضد د نوې سیالي کرنسۍ رامنځته کولو هڅو کې یو ځای شي؛ په ځانګړي توګه ئې د چین، برازیل او کانادا نومونه واخیستل؛ بیا ئې د کانادا له لومړي وزیر سره د ملاقات په دوران کې او د هغه د دې وینا په ځواب کې چې دا تعرفه د کاناډا اقتصاد تباه کوي؛ په خندا خندا کې وویل: نو کانادا دي د متحده ایالاتو یو پنځوسم ایالت شي!! هو؛ د امریکایي واکمنو چلن؛ د نورو هېوادو له مشرانو سره همداسي دئ؛ سپکاوی، تحقیر، د تسلیمېدو بلنه او په امریکا کې مدغم کېدا!! او دا هم هغه کانادا ده چې سرتېري ئې د امریکایي افسرانو تر قومندې لاندي او د امریکا د ګټو لپاره شل کاله په افغانستان کې وجنګېدل؛ هم دوی وژل شوي او هم ئې د خپلو مړو تر شمېر په لسګونو ځله زیات افغانان وژلي.

انحصار

- انحصار دې ته وايي چې د اړتيا وړ يو جنس او توکی د يوه دکان او مغازې په واك او انحصار کې وي او بل څوك ئې په بازار کې پلورلی نه شي؛ دې ته انحصار وايي؛ دا په لږ توپير سره احتکار ته ورته دئ؛ د شتمن پلورونکي په ګټه او د پېرونکي په زيان؛ د جنس توليدوونکې فابريکه يا پلورونکی شرکت؛ حکومت ته کميشن يا رشوت ورکوي او حکومت دا شرائط ورته برابروي چې خپل جنس د خپلې خوښې په بيه وپلوري او په مارکيټ کې بل څوك له ده سره رقابت او سيالي ونه شي کړی؛ حکومت بل چا ته اجازه نه ورکوي چې همدا جنس په آزاده توګه او تر يوه زيات پلورونکو له لوري مارکيټ ته وړاندي شي او بها ئې د پلورونکو تر منځ د آزادي سيالۍ له مخي وټاکل شي؛ او پېرونکي دې ته اړ نه وي چې د خاص او واحد پلورونکي له آدرس به ئې د هغه د خوښې په بيه اخلي؛ په دې توګه د جنس بيه د پلورونکي له لوري ټاکل کېږي؛ او د پېرونکو او مشتريانو د اړتيا او حاجت په تناسب ئې بيه لوړېږي؛ خو که همدا جنس د مختلفو فابريکو له لوري توليد او د ډېرو پلورونکو له لوري بازار ته وړاندي شي؛ د دوی تر منځ آزاده سيالي او رقابت په دې منتج کېږي چې د جنس بيه تر ټولو ټيټې کچې ته راپرېوځي؛ يعني انحصار د شتمنو او پلورونکو په ګټه دئ؛ او مقابل کې ئې آزاد بازار او په مارکيټ کې د پلورونکو تر منځ رقابت؛ د پېرونکو او مشتريانو په ګټه دئ. د مثال په توګه: که حکومت د خاصې دواء د توليد مجوز يوې فابريکې ته ورکړي؛ يا ئې عرضه او پلورل د يوه شرکت په واك کې ورکړي؛ نو دا دواء به په بازار کې تر خپل اصلي قيمت څو څله زياته پېرل کېږي؛ د دواء تاجر او پلورونکی د دې پروا نه لري چې د ده همنوع انسان له بيماری ځکه مري چې د دغې خاصې دواء هغه بيه نه شي ورکولی چې تاجر ئې تر اصلي بيې څو برابره زياته ټاکلې!! يو مثال ئې د ابډز دواء ده، يوې امريکايي کمپنۍ هغه انحصار کړې، نورو کمپنيو ته

د هغې د تولید اجازه نه ورکوي، د برازیل حکومت غواړي دا دواء په ارزانه بیه تولید او بازار ته عرضه کړي خو د امریکا حکومت ئې نه پرېږدي، که د دې دواء اصلي بیه یو ډالر وي نو امریکایي کمپنۍ ئې په سل ډالره بازار ته وړاندي کوي. د کمپیوټر هغه یوه سې ډي چې په پاکستان کې تولیدېږي په بازار کې په دومره بیه تر لاسه کېدی شي چې همدا سي ډي د مایکروسافټ امریکایي کمپنۍ په پنځوس برابره زیاته بیې پلوري.

- غولوونکو تجارتي اعلاناتو ته اجازه ورکول؛ هغه هم د سیګریټ او شرابو په څېر مضر او تاواني شیانو په اړه؛ د پانګوال غربي نظام یوه بله معضله او ستونزه ده چې قربانیان ئې عام او ساده پېرونکي دي؛ په همدې لړ کې د ښځو له ښایست، جالب غږ او هڅوونکو حرکاتو د خلکو د راماتولو او د مشتریانو د جلبولو لپاره استفاده کول؛ د ستونزې ابعاد لا زیات پراخوي؛ خدای خبر چې د نړۍ څومره تنکي ځوانان او نجونې به د همدې غولوونکو او هڅوونکو اعلاناتو تر اغیز لاندي؛ له خپل صحت او ژوند سره لوبې کړې وي او د سږو په ښمارېو او سرطان به اخته شوي وي.
- د وسلو د خرڅلاو بازارونه لټول او رامنځته کول، په نورو ملکونو کې د دې لپاره د جګړو اورونه بلول؛ د پانګوال نظام حتمي برخه او پایله ده؛ د نړۍ د وروستیو څو پېړیو؛ په ځانګړې توګه د وسلو د تولید سترو سترو فابریکو له رامنځته کېدو وروسته؛ د نژدې ټولو جګړو تر شا همدا پانګوال نظام، د وسلو جوړولو فابریکې او شتمن خاوندان ئې وو.
- د خپلو تولیداتو لپاره مارکیټونه لټول او د دې لپاره هم سوړ او هم تود جنګ ضروري ګڼل.
- د پیسو د لاس ته راوړو لپاره هر کار جائز ګڼل، حتی د خپل عفت عرضه کول او د فحاشي داسي رسمي او بربنډ ځایونه جوړول چې دولت ته ټکس ورکوي او دغو ګنده مرکزونو ته د دې اجازه ورکول چې د مشتریانو د پیدا کولو او راماتولو لپاره داسي ټلویزیوني خپروني وکړي چې

د فحش کار په پوره وقاحت سره بربنډ ښيي.

د غربي ټولنې د سياسي او اجتماعي نظام بنسټونه دا دي:

- د بډايانو واکمني.
- سپين پوستې لوړ نژاد ګڼل.
- طبقاتي نظام.
- قمار ته ورته انتخابات.
- د قدرت تر لاسه کولو سوړ جنګ او د خپل حريف د ماتولو د هري هڅې جواز، د وسلې له کارولو پرته.
- د هغې ډلې بريا چې مالي امکانات او تبليغاتي وسائل ئې تر نورو زيات وي.

د غربي ټولنې فرهنګي بنسټونه دا دي:

- آزاد جنسي روابط او ټول هغه اخلاقي، مذهبي او انساني حدود او ضوابط ماتول او تر پښو لاندې کول چې جنسي روابط تنظيم او د قانون په حدودو کې محدودوي.
- شراب، قمار، موسيقي او نڅا.
- لوبې، نه د روغتيا لپاره او نه د ټولو لپاره، دا هم د بډايانو په لاس کې په تجارتي وسيلې بدل شوی، لوبغاړي اخيستل کېږي او د لوبو پر تماشا پيسې تر لاسه کوي. لوبو، نڅا او سندرو هومره عموميت موندلی چې دا د قرآن له وينا سره سم د دوی په دين او مذهب بدل شوی:

... ٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ دِينَهُمۡ لَهۡوٗا وَلَعِبٗا ... ﴿٥١﴾ الأعراف

.... هغه چې له بېهوده مشغولتياوو او لوبو ئې ځان ته دين جوړ کړی...

د غربي ټولنې ديني او مذهبي جوړښت:

- په خرافاتو باور.
- عيسی خدای او د خدای زوی ګڼل.
- د عيسی ويني د ده د منونکو د معافي ذريعه بلل.

- د عبادت څو مسخره او خندوونکي شکلیات.
- خدای له انسان سره تشبیه کول، دا اعتقاد چې خدای انسان خپل صورت ته ورته پیدا کړی، له خټې ئې د ده مجسمه جوړه کړې، بیا ئې په اور ایښې چې پخه شي، بیا ئې د خپلې روح یوه برخه په کې پو کړې.
- مذهبي موسیقي.
- د مذهب په نامه څو مسخره باورونه او حرکات.
- د خدای پر ځای د شخصیتونو لمانځنه.
- د خدای او بنده تر منځ په واسطې او وسیلې باور.
- په هغو مسخره وړاندوینو باور چې د بایبل، تورات او انجیل په نامه کتابونو کې راغلې.
- کشیش د خدای استازی ګڼل، د خدای برخه ده ته سپارل، د جنت اسناد له ده په پیسو پېرل او د کلیسا په لکونو مفت خورو کشیشانو او راهبانو ته د مرفه او آرام بې زحمته ژوند اسباب برابرول.
- د عیسی علیه السلام بیا راتلو او پر ټولې نړۍ د مسیحیانو واکمنۍ ته انتظار درلودل.
- که د غربي نظام هره برخه د قرآن په رڼا کې وڅېړئ او د شیطان او شیطاني کړنو په اړه چې قرآن څه ویلي، د هغوی په خوا کې ئې کښېږدئ وبه ګورئ چې په غربي نظامونو کې ټول هغه څه راغونډ شوي چې هر الهي دین شیطان ته منسوب کړي.

راشئ د مسیحیانو د سپېڅلي کتاب (بایبل) یوه برخه له نظره تېره کړو او وګورو څومره له خرافاتو ډک، د عقل او علم خلاف دئ او د خدای، انسان، شیطان، جنت او له جنت د انسان د ایستلو په اړه ئې څومره مسخره خبري کړې؟ د بایبل په درېیم فصل کې، د انسان سقوط تر عنوان لاندې په لومړیو ۱۹ جملو کې دا مطالب لولو:

- مار تر ټولو هغو حیواناتو ډېر زیرک وو چې خدای پیدا کړي وو، یوه ورځ مار د ښځې خوا ته راغی او هغې ته ئې وویل: آیا رښتیا ده چې خدای تاسو د باغ د ټولو ونو د مېوو له خوړلو منع کړي یئ؟ ښځې په

ځواب کې ورته وویل: مور ته اجازه راکړی شوې چې د ټولو ونو مېوه وخورو پرته د یوې وني چې د باغ په منځ کې ده، خدای امر کړی چې د دې وني مېوه ونه خورو او حتی لاس ورنه وړو که نه نو مرو. مار ورته وویل: "مطمئن اوسه چې نه مرئ، بلکې خدای ښه پوهېږي چې کله تاسو دا مېوه وخورئ سترګې مو پرانیستل کېږي، د خدای په څېر کېږئ او ښه له بده ښلولی شئ"، هغه ونه ښځې ته ښایسته وبرېښېده او له ځان سره ئې فکر وکړ چې "کېدی شي د دې ښایسته وني مېوه خوندوره وي او پوهه مي په برخه کړي، نو د دې وني مېوې ئې وشکولې، وئې خوړلې او خپل خاوند ته ئې هم ورکړې او هغه هم وخوړلې" په همدې سره د دوی دواړو سترګې پرانیستل شوې، په خپلې بربنډتیا پوه شول، نو د انځر له پاڼو ئې د ځان پټولو جامه جوړه کړه، د همدې ورځې په مازدیګر کې، آدم علیه السلام او ښځې ئې د خدای غږ واورېدو چې په باغ کې ګرځېدو، نو په ونو کې پټ شول، خدای آدم ته غږ کړ: اې آدمه! چېرې یې، ولې پټېږې؟ آدم ځواب ورکړ: ستا غږ مي په باغ کې واورېدو، ووېرېدم، دا ځکه چې لوڅ وم، نو ځکه پټ شوم، خدای وفرمایل: چا درته وویل چې لوڅ یې؟ آیا د هغې وني مېوه دي خوړلې ده چې تړې منع کړی مي وې؟ آدم ځواب ورکړ: دغې ښځې چې زما ملګرې دي ګرځولې، ما ته ئې دا مېوه راکړه او ما هم وخوړله، دلته نو خدای له ښځې وپوښتل: دا څه کار وو چې تا وکړ؟ ښځې وویل: مار وغولولم!! نو خدای مار ته وویل: د دغه کار د کولو په سبب به د زمکې تر ټولو وحشي او اهلي حیواناتو زیات ملعون وې، تر هغه چې ژوندی وې په خپلې سینې به خوځې، خاوري به خورې، ستا او د ښځې او ستا د نسل او د ښځې د نسل تر منځ به تلپاته دښمني اچوم، د ښځې نسل به ستا سر ځپي او ته به د ده پنډۍ چیچې، دغه وخت خدای ښځې ته وفرمایل: ستا د زېږولو د وخت درد به درته زیات کړم، ته به په درد او کړاو سره خپل اولاد زېږوې، د خپل مېړه مشتاقه به وې او هغه به پرتا برلاسی وي، بیا خدای آدم ته وفرمایل: له دې کبله چې د خپلې ښځې خبره دي

ومنله او د هغي وني مېوه دي وخوړله چې درته ويلي مي وو مېوه ئې مه خوره، زمکه به تر لعنت لاندي راشي او ته به په خپل ټول عمر کې په زحمت او کړاو سره خپل معاش ترې تر لاسه کوې، له زمکې به اغزي او خاشاك درته راټوکېږي او د ښديا بوټي به خوړې، د عمر تر پايه به د تندي په خولو سره ډوډۍ خوړې او په پای کې به همغي خاوري ته ښېرته ورګرځې چې ترې واخيستی شوې، دا ځکه چې ته له خاورو جوړ شوی يې او خاورو ته به ښېرته ورګرځې، آدم خپله ښځه حوی (يعني ژوندون) ونومولە، ځکه چې دا بايد د ټولو ژوندیو مور شي!!

په دې برخي کې دومره ښهوده او د خندا وړ خبري دي چې انسان ورته حيران شي، نه پوهېږو مسيحيان څه بلا وهلي دي دا مسخره خبري د الله تعالی له لوري او د يوه مقدس آسماني کتاب خبري ګڼي!! لاندي څو خبرو ته ئې ځير شئ:

- وايي مار تر ټولو حيواناتو زيات زيرك دئ، حال دا چې د مار زيرکتيا تر ډېرو ډېرو حيواناتو لږ ده.
- وايي مار د ښځي د غولولو لپاره باغ ته ورغی!! نه پوهېږو د مار ئې د ښځي له غولولو سره څه؟ کوم عاقل انسان به دا خبره ومني چې مار کولی شي ښځه وغولوي!!
- وايي: مار ښځي ته وويل: خدای تاسو ته حقيقت نه دئ ويلی، دا سمه نه ده چې د دې مېوې په خوړلو سره تاسو مرئ، حقيقت دا دئ چې د دې مېوې په خوړلو سره تاسو په ښه او بد پوهېږئ، خدای د دې لپاره نه غواړي چې تاسو دا مېوه وخورئ ځکه چې په دې سره تاسو د خدای په څېر معرفت تر لاسه کوئ او په ښه او بد پوهېږئ او د ده رقيبان درنه جوړېږي، هغه نه غواړي چې رقيب ولري!! د همدې لپاره ئې تاسو د دغي مېوې له خوړلو منع کړي يئ!! بايبل وايي چې د مار خبره سمه وخته او د خدای خبره ناسمه او د حقيقت خلاف، دوی دواړو دا مېوه وخوړله، مړه نه شول، بلکې په ښه او بد پوه شول!!
- بايبل په دې بحث سره ښځه د ګناه اصلي عامل او باعث معرفي کوي،

د ګناه پیل د دې له خوا شوی، د زمکې پر سر لومړۍ ګناه د دې له لورې وه، نارینه هم د دې په لاس ګناه ته هڅول شوی! او دا د حقیقت او واقع کاملاً خلاف خبره ده، د ګناه په کولو کې د ښځې جسارت تر نارینه ډېر لږ دئ، په نارینه وو کې د مجرمانو شمېر تل تر ښځو زیات وي، ښځه غالباً د نارینه تقلید کوي، په هغه پسې اقتداء کوي، د ښځو جوړښت داسې دئ چې تر نارینه ئې ښېګړو ته تمایل زیات وي، قوي عاطفه ئې د بدو په ځای ښو ته هڅوي، تل ګورو چې نارینه د ګناه لپاره په ښځو پسې ورځي.

- په جنت کې د ممنوعه مېوې په اړه به د اصلي تورات او انجیل وینا حتماً هغسې وي چې په قرآن کې راغلې، قرآن دا موضوع د یوې ډېرې ژورې علمي موضوع په توګه څېړلې او یوه ستر علمي حقیقت ته ئې اشاره کړې او هغه دا چې د عالم په ټولو ژوو کې یوازې انسان داسې پیدا شوی چې مجبور دئ د مفید او مضر خوراك په اړه له بله معلومات تر لاسه کړي، نور ژوي داسې پیدا شوي چې د پیدایښت له لومړیو شېبو په دې پوهېږي چې کوم څه وخوري او کوم څه نه، په فطرت او دماغ کې ئې د مضر او ګټور بوټي او دانې د تشخیص استعداد ایښودل شوی، د دغه استعداد په مرسته د پیدایښت له لومړۍ ورځې سم او ناسم خوراك معلومولی شي، د غرڅه بچی، وری، سېرلی، وزګوړی، سخوندر، جونګی او ټول نور ژوي او بچیان ئې هغه بوټي نه په خوله کوي چې ورته مضر وي، خو د انسان بچی ډېره، خاوره، سکروټه او هر څه په خوله کوي، تر اوږدې مودې ئې باید مور سمبال کړي او د تاوانې شیانو له خوړلو ئې وساتي، قرآن په جنت کې د آدم علیه السلام د ځای په ځای کېدو او د ممنوعه شجرې په یادولو سره دغې اساسي او مهمې خبرې ته اشاره کړې، خو د بایبل لیکوال له دې یوه خندوونکې بې بنسټه قصه جوړه کړې!!
- دا ډېره ډېره مسخره خبره ده چې د دغې مېوې له خوړلو مخکې دوی خپل بربنډتوب نه احساساوو او له خوړلو وروسته پوه شول چې

بربنډ دي!! او دا ځکه چې مخکې بې معرفته ول او د معرفت د مېوې له خوړلو وروسته ئې سترګې پرانیستل شوې او خپل لوڅوالی ئې احساس کړ!! حقیقت د دې خبرې کاملاً عکس او دا دئ چې الله تعالی د زمکې په سر هر ژوي ته داسې لباس ورکړی چې هم ښایسته دئ، هم ئې په ځان برابر دئ، نه ګنډل غواړي او نه اوبدل، نه زړېږي او نه شړېږي، هم ئې په ژمي کې له یخنۍ ساتي او هم په دوبي کې له تودوخې. د ځینو لباس خو دومره ښایسته دئ چې که د نړۍ ټول انسانان راغونډ شي نو نه په دې ظرافت، لطافت، ښایست او رنګ کې داسې لباس اوبدلی شي او نه ئې ګنډلی. په ټولو ژوو کې یوازې انسان هغه مخلوق دئ چې بربنډ دئ، د نورو په څېر جامه نه لري، دې ته اړ دئ چې ځان ته به جامه جوړوي، د ژمي لپاره ښه او د دوبي لپاره ښه، د قرآن له وینا معلومېږي چې انسان په سر کې داسې نه وو، وروسته بربنډ شوی، له لوڅېدو مخکې ئې داسې جامه وه چې هیڅکله به نه بربنډ کېدو، تل ئې دی پټ ساتو، نه د جامو اوبدلو ته اړ وو او نه ګنډلو ته، له دې جامو د یوې اشتباه په نتیجه کې محروم شو، د ممنوعه شجرې مېوه ئې وخوړله او په دې سره هغه جامه ترې وایستی شوه او بربنډ شو، لومړی ئې د ونو له پاڼو ځان ته جامه جوړه کړه او وروسته ئې نوري جامې، ځینې ئې یوازې د ځان پټولو لپاره، ځینې ئې د ښایست او سینګار لپاره او ځینې ئې د تقوی لباس، سنګین، باوقاره له ګناه مانع لباس. د بایبل لیکونکي د آدم علیه السلام بربنډېدا هغسې توجیه کړې، له سره لوڅ ول، خو نه پرې پوهېدل، د معرفت د مېوې په خوړلو سره پرې پوه شول!! په مسلمانانو کې د بایبل تر اغېز لاندې راغلې خلك د آدم علیه السلام له لومړني لباس داسې تعبیر لري چې ګواکې دا به له وړیو، وربښمو، سنډو او یا مالوچو اوبدل شوې کومه جامه وه، چې د ده په قد قامت برابره ګنډل شوې وه، حال دا چې اوبدلې او ګنډل شوې جامه بني آدم جوړه کړې، الله چې کومه جامه ورکوي هغه اوبدل او ګنډل نه غواړي. دوی نه د قرآن الفاظو ته پام کړی او نه هغه څه ته چې هره شېبه ئې په خپلو سترګو

ګوري، يوې خوا ته په مليونونو هغه ژوي ګوري چې په ښايسته الهي جامو پټ دي او بلې خوا ته يوازي بني آدم چې له دې جامې محروم او دې ته اړ شوی چې له وړيو، ورښمو، سنډو، نيلون او يا مالوچو ځان ته جامه جوړه کړي، قرآن په دې سره يو ستر علمي حقيقت بيان کړی خو د اسرائيلي رواياتو په دام کې پرېوتو کسانو له دې افسانه جوړه کړې.

- له کومې ورځې چې انسان له لومړنۍ الهي جامې محروم شوی او په خپل لاس د جامو جوړولو ته اړ شوی، نو همدا جامه د انسانانو ترمنځ د تفريق، تبعيض او يو پر بل د لويي او تېري وسيله ګرځېدلې، نه ګورئ چې په دغه جامه کې څومره ظلمونه کېږي، په عسکري او پوليسي جامو کې هره ورځ څومره بې ګناه انسانان ځورول کېږي، څومره شريف انسانان د خړو جامو په سبب تحقير کېږي، څومره ذليل انسانان په فاخره جامو کې تر نورو ځان لوړ ګڼي، نه ګورئ چې يوه له خپلې جامې د ګيدړي پوستکی جوړ کړی خلك پرې غولوي، بل له جامو د پسه په څېر بې آزاره برېښي خو په سينه کې ئې د لېوه زړه او هغه بل به په خپلو جامو سره ځان داسې ښيي چې زمری دئ خو تر ګيدړ به زيات بې زړه او جبون وي. الله تعالی انسان ته د جامو جوړول ورښودلي، د دې لپاره چې ځان له تودوخي او يخنۍ پرې وژغوري او د هغه لباس ئې په درېو ډولونو وېشلی: د ځان پټولو لباس، د ښايست لباس او د تقوی لباس، خو انسان له خپلې جامې يا د غولولو وسيله جوړه کړې، يا د ظلم او تېري وسيله، يا يو په بل د لويي او تکبر ذريعه!!

- قرآن د آدم عليه السلام د غولولو او له جنت د ده د ايستلو کار شيطان ته منسوبوي، شيطان همغه څوك دئ چې د آدم عليه السلام اولاد (انسان) ګناه ته هڅوي، دا نن چې مورِ احساسوو کوم څه او څوك مو پر زړه چونډۍ لګوي، ګناه ته مو هڅوي، ګناه او حرام راته ښايسته کوي، زمورِ د (ارتقاء) او (دوام) باعث ئې ګڼي، همغه چې مورِ ئې په سترګو نه ګورو خو هره شېبه ئې اغېز احساسوو، زمورِ جد ته همدا دوکه مار مخلوق او همدا وسوسه اچوونکی په همدې توګه ورغلی، همداسي

ئې ورته ويلي: که دا مېوه وخورئ (په جنت کې تل پاته کېدا) او (معنوي ارتقاء) به دي په برخه شي، قرآن په دې اړه همغه خبره کړې چې هر انسان ئې هره شېبه په خپل ژوند کې احساسوي، خو بايبل خوشې او بېهوده خبره کوي او دا وسوسه د مار له لوري ګڼي!!

- د بايبل دا خبره تر ټولو حيرانوونکې ده چې وايي: د همدې ورځې په مازديګر کې؛ آدم او ښځې ئې د خدای غږ واورېدو چې په باغ کې ګرځېدو، نو په ونو کې پټ شول، خدای آدم ته غږ کړ: اې آدمه! چېرې يې، ولې پټېږې؟ آدم ځواب ورکړ: ستا غږ مي په باغ کې واورېدو، ووېرېدم، دا ځکه چې لوڅ وم، نو ځکه پټ شوم، خدای وفرمايل: چا درته وويل چې لوڅ يې؟ آيا د هغې وني مېوه دي خوړلې ده چې ترې منع کړی مي وې؟ آدم ځواب ورکړ: دغې ښځې چې زما ملګرې دي ګرځولې، ما ته ئې دا مېوه راکړه او ما هم وخوړله، دلته نو خدای له ښځې وپوښتل: دا څه کار وو چې تا وکړ؟ ښځې وويل: مار وغولولم!!

دلته څو خبرې د پام وړ دي:

- بايبل الله تعالی داسې معرفي کوي: په يوه وړوکي باغ کې ګرځي، د ګامونو غږ ئې آدم عليه السلام واورېدو، ترې پټ شو، خدای نه پوهېدو چې آدم چېرې دئ، غږ ئې ورته وکړ: اې آدمه چېرې يې؟ له دې هم خبر نه وو چې دوی دواړو هغه ممنوعه مېوه خوړلې ده!! له آدم پوښتنه کوي: څنګه پوه شوې چې لوڅ يې؟ آيا هغه مېوه مو خوړلې چې ترې منع کړي مي وئ؟! له دې هم نه وو خبر چې ښځې دا کار کړی!! او له دې هم چې مار غولولې وه!!
- په دې سزا هم لږ غور وکړئ چې مار ته د دغه غولولو په وجه ورکړی شوه: تل دې په سينه خوځېږې، خاوری دي خوراك شه!! پوښتنه کوو: آيا مار له دې د مخه په سينه نه په پښو خوځېدو؟ دا نور ډېر حيوانات او خزندې چې په سينه خوځېږي هغوی ته د کومې ګناه سزا ورکړی شوې؟! دا څومره نامعقوله او غلطه خبره ده چې د مار خوراك خاوره ده!! هيڅ مار خاوره نه خوري، د مار خوراك خاوره نه بلکې د

مرغانو، موږکانو او چنګښو په څېر حیوانات دي!!

ښځې ته چې کومه سزا ورکړی شوې په دې هم لږ غور وکړئ: د زېږولو د وخت درد دي زیات شه!! د خاوند د اشتیاق په اور وسوزې، هغه دي پر تا برلاسی وي!! پوښتنه کوو: دغو بې شمېره حیواناتو ته چې د اولاد زېږولو په وخت کې همداسي د درد احساس کوي؛ د کومې ګناه سزا ورکول کېږي؟! د مېړه اشتیاق خپلې مېرمنې ته زیات دئ که د مېرمنې خپل مېړه ته؟ مګر دا اشتیاق سزا ده؟ په ټولو ژوو کې دا اشتیاق شته، دوی ته د کومې ګناه په وجه دا د اشتیاق سزا ورکړی شوې؟ دا اشتیاق خو سزا نه بلکې د الله تعالی یوه لویه پېرزوینه ده، د انسان او حیوان د نسل د دوام یوه ستره وسیله ده، تاسو ولې دې اشتیاق ته د سزا په سترګه ګورئ؟ قرآن خو د ښځې او مېړه ترمنځ دا الفت، مینه او اشتیاق د الهي رحمت او پېرزویني یوه ستره بېلګه ګڼي!! آیا دا سمه ده چې د نارینه سلطه او برلاسی پر خپلې مېرمنې ښځې ته سزا وګڼو؟! دا برلاسی یوه طبیعي مسئله ده، په اکثرو حیواناتو کې هم د دې شاهد یو، داسي چې نارینه د ښځې ساتنه او ځارنه کوي، ترې دفاع کوي، بل ئې خوا ته نه پرېږدي، اداره کوي ئې، ... دا برلاسي نه یوازي ښځې ته سزا نه شو ګڼلی بلکې د ښځې لپاره یوه ستره الهي پېرزوینه ده، چرګ له خپلو چرګو دومره دفاع کوي چې پرې زخمي زخمي شي، همداسي بې شمېره نور مرغان او حیوانات، هیڅ عاقل انسان به د بایبل دا وینا د منلو وړ ونه ګڼي.

د بې ساري او بې سیالي امریکا رؤیا!

ټرامپ په دوهم ځل سپین ماڼي ته د ننوتلو وروسته او د لوړې په مراسمو کې خپله وینا داسي پیل کړه: له همدې شېبې د (طلائي امریکا) جوړولو لړۍ پیل کېږي؛ د وینا مهمه او ډېره برخه ئې پر مخکینیو حکومتونو او د دوی پر کورنیو او بهرنیو سیاستونو سختي او توندي نیوکې وې؛ دومره چې امریکا ئې بربنډه کړه؛ کمیس او پرتوګ ئې ترې

وایستلو؛ همغه خبري ئې تکرار کړې چې د انتخاباتي کمپاین په دوران کې ئې په وار وار کړې وې؛ اوس چې ځینو انتنظار درلود هغه به خپله لهجه بدله کړي او د کمپاین د ورځو تورونه او خپل حریف او سیال غندل او ملامتول به شا ته پرېږدي او د راتلونکي په اړه به رغنده تګلاره، سالم سیاستونه، د کورنیو او بهرنیو ګواښونو د مهارولو لپاره د ګډ کار وړاندیزونه، د یووالي او ملي وحدت د استحکام طرحي، اقتصادي، اجتماعي او امنیتي ستونزو حل لاري وړاندي کړي؛ خو دا انتظار نه یوازي تر سره نه شو بلکې د مخکینیو حکومتونو ټول کورني او بهرني سیاستونه ئې وغندل او د دوی تګلاري او د هغوی پایلې ئې ډېري بدي او شرمناکې وښودلې؛ په داخل کې نا امني، د مهاجرینو د راتګ په مخنیوي کې ناکامي، له پېښو سره مقابله کې عجز او ناتواني؛ د لاسنجلس اور قابو کولو کې شرمناکه ماته، د پولو په ځانګړې توګه د جنوبي او له مکسیکو سره پولې عدم حفاظت، ناموفق او ناکاره تعلیمي نظام او نصاب ئې، او ... هیڅ برخه د ده له توندو نیوکو خوندي پاته نه شوه؛ داسي چې ګواکې هر څه دومره خراب او په فساد کې غرق دي چې د فاجعې او تراژیدي نوم ورکولی شو!! د قضائیه سیستم په اړه ئې لهجه دومره سخته وه چې د (شرارت) اصطلاح ئې ورته وکاروله؛ او دا ځکه چې د کانګرس پر ماښې د ده د پلویانو د برید په ارتباط؛ د قضایه ارګان پرېکړه د ده د مزاج او خوښې خلاف وه.

ښاغلي ټرامپ د امریکا د راتلونکي په اړه له مبالغو ډکې وړاندوینې درلودې، داسي چې ګواکې زمکه خو پرېږده بلکې پر مریخ به هم خپل بیرغ رپوي!! ستا ځواب ستر اقبال د سعدي په حواله ویلی:

«تو کار زمین را نکو ساختی ـ که با آسمان نیز پرداختی»

تا مګر زمکه سمباله کړه ـ چې اوس دي آسمان ته هم مخه کړه؟

د نفت او ګاز پراخو زېرمو یادونه ئې داسي وه چې ګواکې امریکا د مائع طلا پر دومره ستري ذخیرې پرته ده چې د بر لاسي او بې سیال هېواد د جوړولو لپاره ورته کفایت کوي!! په داسي حال کې چې د امریکا

دا د مائع طلا تر زمکي لاندي زېرمه؛ که همدا نن استخراج شي او په ننې نرخ وپلورل شي؛ (هر بيلر ۷۵ ډالر) نو د امريکا د پورونو نيمايي هم نه شي پوره کولی؛ معلومه نه ده چې امريکا به کله له دې زېرمو استفاده کوي؛ دا فرصت به تر لاسه کړي که نه؟ او که چانس ورسره ياري وکړه؛ هغه مهال به ئې د هر بيلر ارزښت څومره وي؟ دې ته په پام سره چې نړۍ لګيا ده د نفت، ګاز او سکرو پر ځای د انرژي نور بديلونه لټوي، پټرولي او ډيزلي ګاډي خپل ځای سولري ګاډو ته پرېږدي؛ د سکرو اورګاډي نور په ختمېدو دي؛ دا هم بايد په پام کې ولرو چې د تېل او ګاز دا زېرمې په مختلفو ايالتونو کې دي؛ که د امريکا فيدرالي حکومت ئې په داسي حال کې د استخراج هڅه وکړي چې دا ايالتونه د مرکزي حکومت له تصرفاتو همدومره شکايات ولري چې ښاغلي ټرامپ په خپلې وينا کې څرګند کړل؛ نو څه فکر کوئ استخراج به ئې له ستونزو او د دې ايالتونو له مخالفت او بغاوت پرته وي؟! دا نن د نړۍ په ډېرو هېوادونو کې د همداسي ذخائرو پر سر خونړۍ لانجې او جګړې رواني دي؟ يوازي په اسلامي نړۍ کې ئې د سودان جنوب او د پاکستان بلوچستان دوه بېلګې دي. ښايي يو له هغو دلائلو چې امريکا تر ننه له دغو زېرمو استفاده نه ده کړې او په بدل کې ئې د پور او اضافي بانکنوټونو او مالي اوراقو په مټ؛ د خپلو مالي ستونزو او د بودجې کسر جبرانولو لار غوره کړې؛ همدا د ايالتونو د غبرګون او بغاوت وېره وي!

د يو ويشتمي پېړۍ ټولې جګړې امريکا پيل کړې؛ له اوکراين پرته ئې ټولې جګړې په اسلامي هېوادو کې وې؛ په ټولو کې له ماتې سره مخ شوې؛ دا جګړې د ټرامپ په مخکيني دور کې هم رواني وې او په اوسني کې هم؛ په دې جګړو کې په مليونونو بې ګناه او بې دفاع انسانان وژل شوي؛ د ټولو وژنو، ورانيو، ويجاړيو او مهاجرتونو مسئوليت د سپيني مانۍ پر غاړه دئ؛ دا مظلوم انسانان داسي خدای لري چې عَزِيز او ذو انْتِقام دئ؛ هيڅ ظالم او مغرور واکمن ئې له سختي نيونې او مؤاخذې نه دئ ژغورل شوی؛ هغه ستره او مغروره بريتانيا چې امريکا ئې

مستعمره وه او د امريکا لومړی بيرغ د بريتانيا د يوې کمپنۍ بيرغ وو؛ د نړۍ په شرق کې آسټرالیا او په غرب کې امريکا باندې د دې ستر او مغرور ځواک بيرغونه رپيدل؛ نن د امريکا د يوې وړې مستعمرې حيثيت لري!! د امريکا واکمن دي د دې پر ځای چې پر ټولې نړۍ د امريکا د بر لاسي او واکمنۍ خوبونه ګوري؛ د بريتانيا او شوروي په برخليک له اخته کېدو دي وېره ولري؛ زمور خاورينه زمکه؛ د امپراطوريو هدېره او مدفن ده؛ تاريخ ئې د زبرځواکونو د نسکورېدو داستان دئ؛ مور افغانانو په يوې پېړۍ کې د دريو داسي زبر ځواکونو ماته او زوال په خپلو سترګو وليدو چې هر يو ئې د خپلې بدمستۍ په اوج کې زمور پر هېواد تېری وکړ. ښاغليو! خپل کور ورغوئ؛ همدا درته کفايت کوي؛ مريخ ته ولاړ شئ خو هغه معامله مه ورسره کوئ چې له زمکې سره ئې کوئ؛ تاسو د زمکې د ويجاړولو، په هغې کې د ژوند د ټولو لازمي امکاناتو او ضروري شرائطو په ختمولو بوخت يئ؛ که څوک له فقر او لوږې مري عامل ئې ستاسو ظالمانه سياستونه، تحميلي جنګونه او د نورو د شتمنيو غارت دئ، که د زمکې اقليم ګواښل کېږي او تودوخه ئې هغه حد ته لوړه ځي چې ژوند په کې ګران او ناشونی شي؛ باعث ئې تاسو يئ؛ هغه چې د زمکې رغولو توان او ظرفيت نه لري؛ له مريخ به څنګه د انسان لپاره جنت جوړ کړي؟! هو؛ هغه چې له دې پروژې به ئې هم د ملياردونو شتمني څو سلنه نور زياتېږي!! خود به پر مريخ د بيرغ رپولو شعارونه ورکوي او د دې شعار په اورېدو سره به د خوشحالۍ چيغې او ترپکي وهي!! د مريخ په اړه له هغو وپوښتئ چې تاسو دا زمکه ورته دوزخ ګرځولې؛ وګورئ چې ځواب به ئې څه وي؟

نن امريکا د شنو ډالرو په زور هم پر ۵۰ ايالتونو حکومت کوي او هم پر ټولې نړۍ؛ د نړۍ بانکونه شنو ډالرو اشغال کړي؛ که پر بانکونو د همدې بې تضمين او بې متکاء ډالرو پاچايي پای ته ورسېده؛ د امريکا پاچايي به پای ته رسي. د ډالرو زور دومره دئ چې څوک ئې په خلاف د فتوی ورکولو جرأت هم نه شي کولی؛ حتی هغه ښاغلي هم چې په

جيب او مبايل کې د عکس ګرځول حرام ګڼي؛ خو د ډالر په احترام په هغه کې د چاپ شوو عکسونو په اړه له څه ويلو او فتوى ورکولو ډډه کوي!! امريکا کولی شي د نړۍ پر بانکي سيستم د ډالرو د بشپړ تسلط په مټ؛ خپل هر حريف مات کړي او د اسعارو بيه ئې دومره راټيټه کړي لکه د ايران؛ چې له امريکا سره د مخالفت په لومړي کال هر ډالر ۷ تومانه وو خو نن څلور لسيزي وروسته ئې ارزښت هر ډالر تر ۹۰۰۰۰ تومان اوښتی او لا ئې ارزښت د مزيد راپرېوتو حالت کې دئ!! زما يادېږي چې يو وخت يو روسي روبل ۷ ډالره وو خو نن يو ډالر ۱۰٤ روبل دئ. په داسي حال کې چې امريکا د نړۍ تر ټولو زيات پورونه هېواد دئ؛ سږ ميلادي کال (۲۰۲۵) کې د امريکا پورونه ۳٤،۹۵ ټريليون ډالرو ته رسېدلي!! که احياناً امريکا د شوروي په برخليك اخته او په ۵۰ مستقلو ايالتونو ووېشل شي؛ چې احتمال ئې قوي او وخت ئې ډېر نژدې برېښي؛ معلومه نه ده چې د پورونو خاوندان به د دې مقدار يوه وړه برخه هم تر لاسه کړي که نه. دا پورونه اساساً د مرکزي فيدرالي حکومت د هغو اضافي مصارفو د تأمين لپاره رامنځته شوي چې پر کلنۍ رسمي او منظور شوې بودجې علاوه او د سپيني ماڼي په ټينګار او اصرار د مرکزي بانك له لوري د بها لرونکو اوراقو په توګه اجراء شوي؛ شتمن او پر خپلو شتمنيو بسيا ايالتونه هم د مرکزي حکومت پر پراخو امتيازاتو او لګښتونو اعتراض لري او هم پر دغو پورونو؛ او دا له شك پرته د متحده ايالاتو د بقاء او دوام لپاره ستر ګواښ دئ.

د ډالر د سلطې ختمولو لپاره تر نن وړاندي هم هڅي شوې او اوس هم؛ د بريکس په نامه د (۹) هېوادو يوه مجموعه چې د مؤسسو هېوادو د مشرانو لومړۍ ناسته ئې په ۲۰۰۹ ميلادي کې وه، مؤسسين ئې برازيل، روسيه، هند، چين، جنوبي افريقا، ايران، مصر ايتوپيا او متحده امارات وو؛ ډېرو هېوادو په دې مجموعه کې د شاملېدو رسمي غوښتنه کړې، هغه چې شامل شوي، يا ئې شاملېدو ته ټمايل ښودلی او يا ئې ويلي چې پر شاملېدو غور کوي؛ د ټولو شمېر ۱۲٤ ته رسېدلی، سږ کال ئې د ګډې

کرنسي یوه بېلګه طرح هم نشر کړه چې لا تصویب شوې نه ده؛ او دا یقیناً چې امریکا او ډالر ته ئې یو جدي او ستر ګواښ دئ؛ د ټرامپ له اظهاراتو معلومېږي چې دا به ئې د جمهوري ریاست په دې دور کې لوی سر خوږی وي؛ چین، برازیل او کانادا ئې ګواښلي چې که د بریکس مجموعه کې د ډالر په وړاندي د نوې کرنسي رامنځته کېدو حمایت وکړي نو امریکا به د دوی پر صادراتو ۱۰۰٪ ګمرکي تعرفه وضع کړي. ځینې محققین د دې تعرفې وضع کولو یوه بله وجه دا ښیي چې د ده ستر مالي حامي او مرستندوی؛ ایلان ماسك د ټکسیلا کمپنۍ مالك؛ د چین له لوري د برقي ګاډو په ارتباط له جدي رقابت سره مخامخ دئ؛ د چین پر برقي ګاډو ۱۰۰٪ ګمرکي تعرفه به د ده کمپنۍ له خطر ناك ګواښ وژغوري.

د دې احتمال ډېر زیات دئ چې د بریکس مجموعه د امریکا خلاف مضبوط محاذ پرانیزي؛ په شامل شوو غړو کې د امریکا اقمار او مستعمرې هم لیدل کېږي چې ښیي دوی هم د امریکا له زورواکیو او بد معاشیو تنګ شوي.

ماتریالیزم او کمونستي اقتصاد

د نړۍ بل مطرح او ستر اقتصادي سیستم؛ د شوروي له لوري رامنځته شوی سوسیالیستي مارکسیستي سیستم دئ چې بنسټ ئې د هر ډول فردي ملکیت پر بشپړي الغاء او نفي ولاړ دئ او پر ټولو شتمنیو، د تولید وسائلو، اوبو، انرژي، زمکو، معادن، شرکتونو، فابریکو او هر څه د دولت بشپړه سلطه غواړي؛ سابقه ئې تر ۱۰۰ کلونو کمه ده؛ روسیې او چین تجربه کړ؛ نتائج ئې منفي وو او دواړه هېوادونه ئې بدو پایلو ته ډېر ژر متوجه شول او په هغه کې ئې د ژور او پراخ بدلون او تجدید نظر پرېکړه وکړه چې لړۍ ئې له کافي مودې وړاندي پیل شوې او په شدت سره ادامه لري؛ سږ کال (۲۰۲٤ میلادي) چین ۸۱٤ او امریکا

۸۰۰ ملیاردران لري؛ یعني له یو ملیون اوه سوه زرو چینایانو یو ئې ملیاردر دئ؛ د نوي چین د مؤسس «مائو» په ایډیولوژي کې نه یوازي هر شتمن د انقلاب دښمن او د بزګرانو د خوځښت ضد ګڼل کېدو بلکې په انقلابي چین او تړې وړاندي په روسیه کې په ملیونونو انسانان د شتمنو او د دوی د پلویانو په نامه وژل شوي؛ د همدې انقلابي چین د مؤسس مائو له مړیني ٤٨ کلونه تېرېږي؛ خو د ده په لاس جوړ شوي اوسني چین کې دومره پراخ او ژور تغییرات راغلي!! دا په داسي حال کې چې دا چین د ملیونونو چینایانو د وینو په بیه او د اوږدې مودې جګړو په پایله کې رامنځته شوی!! همدا راز هغه روسیه چې د «لینین» او «ستالین» په وخت کې هر څه د دولت په واك کې وو، هیڅا نه خپل شخصي کور درلود او نه یوه بسوه زمکه؛ نن ئې جمهور رئیس د ټولې روسیې ستر ملیاردر دئ او شتمني ئې ۳۸ ملیارد ډالر؛ د ۲۵ ملیاردرانو مجموعي شتمني ۳۲۸،۵ میلیارد ډالر ده؛ د دغو ۲۵ او نورو ټولو میلیاردرانو اکثریت د کمونست ګوند غړي دي؛ د شوروي له انحلال سره سم او له خپل قدرت په استفادې سره ئې شرکتونه، فابریکې، معدنونه، بانکونه، زمکې، مارکیټونه او ... تصاحب کړل او ملیاردران ترې جوړ شول؛ نن روسیه د ملیاردرانو د شمېر له پلوه د نړۍ شپږم هېواد دئ؛ او پلازمېنه مسکو ۱۰۱ ملیاردران لري؛ او په نړۍ واله کچه ئې شپږم مقام خپل کړی؛ دا د روسیې د اسپوتنیک آژانس ادعاء ده؛ د روسې سکه مخکینۍ خور؛ چین په پلازمېنه پکن کې ٦٨ ملیاردران لري. د ملیاردرانو د مالي وضعیت له پلوه مسکو له نیویارك وروسته دوهم مقام او ٦١٧ ملیارده ډالر او پاریس درېیم مقام کې ٤٠٩ ملیارده ډالر لري. په چین کې هم د روسیې دا له کمونیزم او مارکسیستي اقتصاد د سریع ارتداد او انحراف تجربه تکرار شوه او د کمونست ګوند غړي ملیاردران شول.

د هر هغه مسلك او منهج چې نه پر خدای او آخرت ایمان لري او نه پر الهي نظارت او محاسبې؛ پایله به ئې حتماً همداسي وي لکه د غرب پانګوال نظام او د روسیې او چین مارکسیستي نظامونه. په هر

هغه انسان او ټولني کې ئې عاطفه، ترحم، زړه سوی او عدالت غوښتنه حتماً مري او داسي قانون ته تمکين او التزام په لته وهي چې د انسانانو تر منځ د عدالت غوښتنه کوي. له خدای او دين باغي او له معنوياتو او انساني اخلاقو عاري انسان به حتماً د شيطان او هوس بنده وي؛ ولې به له خدای غافل او منکر واکمن؛ د ځان او خپلې کورنۍ د عيش او عشرت لپاره نور نه قرباني کوي او د دوی حق به نه غصبوي؟ ولې به تر ټولو مجلل او اشرافي کور، آخرين ماډل موټر، په کور کې تر ټولو ښايسته مېرمن او په دفتر کې ښايسته سکرتره نه لري؟ ولې به د يوې قانوني مېرمني تر څنګ ډېرې غير قانوني ګرل فرينډ (ملګرې) نه ساتي؟ ولې به له هغه څه ډډه کوي چې ده ته وړيا ثروت او قدرت ورکوي؟ پر الله تعالی او اخروي محاسبې له ايمان پرته هيڅ څه انسان او د هغه هوس نه شي مهارولی؛ نه پوليسي او جاسوسي نظام کولی شي جانيان او مجرمان مهار کړي او نه قانون، قضاء او محکمه؛ پوليس او جواسيس هم د واکمنو په خدمت کې وي، د قانون تطبيق هم د دوی په لاس کې او قضاء او محکمه هم د دوی تر فرمان لاندې؛ دا ادارې او قوانين ئې د ځواکمنو د حفاظت او لا زيات ځواکمنولو لپاره وي نه د مهارولو لپاره؛ دنده ئې د مظلومانو او مستضعفينو مهارول او د دوی د بغاوت او سرکشيو ځپل وي؛ نه د قدرتمنو او مستکبرينو د ظلم او تېري په وړاندې د دوی ساتنه او حفاظت او له حقوقو ئې دفاع.

د کمونيزم ستر فکري او عملي عيبونه

د ماتريالیزم ستر ستر عيبونه دا دي:

- له خدای انکار، له خدايپالني او دين لرلو سره دښمني او نه پخلا کېدونکی عداوت او هغه ته د ملتونو د تخدير وسيلې او د بورژوازي د مدافع په سترګه کتل او تصفيه او ځپل ئې د کمونست انقلابيونو حزبي دنده ګڼل.
- دا په داسي حال کې چې د انسان له پيدايښت بيا تر نن پورې؛ د نړۍ

غوخ اکثريت؛ تر پنځه نوي سلنه (٩٥٪) زيات؛ خدايپال وو او دي؛ هو؛ ځيني د حقيقي خدای په پېژندو کې اشتباه کوي؛ اما عقل او فطرت ئې داسي دئ چې پر خدای باور او ايمان ته ئې اړ کوي؛ د ماتريالستانو دا ادعاء په بشپړه توګه غلطه او د حقيقت خلاف ده چې وايي: تل دين او خدايپالنه د شتمنو په خدمت کې وه او ده؛ حقيقت دا دئ چې تل شتمنو او د قرآن په اصطلاح مترفينو او مستکبرينو د خدايپالو او پيغمبرانو مقابله کړې؛ او د ټولني بې وزلو او محرومانو د دوی دعوت منلی او ملګرتيا ئې کړې؛ قرآن فرمايي:

وَمَآ أَرۡسَلۡنَا فِي قَرۡيَةٖ مِّن نَّذِيرٍ إِلَّا قَالَ مُتۡرَفُوهَآ إِنَّا بِمَآ أُرۡسِلۡتُم بِهِۦ كَٰفِرُونَ ٣٤ سبإ

او هيڅ کلي ته مو کوم خبرداری ورکوونکی (پيغمبر) نه دئ لېږلی مګر دا چې مترفينو ئې (هغو چې سوکالي ورپه برخه شوې) وويل: مونږ په قطعي توګه له هغه څه منکر يو چې تاسو ورسره لېږل شوي يئ؛ او وئې ويل: مونږ (تر نورو) زيات مال او اولاد لرو او هيڅکله تعذيبېدونکي نه يو!

په دې مبارك آيت کې د انبياءو په وړاندي د هغو وګړو وينا او دريځ انځور شوی چې د ټولني حاکم اجتماعي، سياسي، اقتصادي او مذهبي جوړښت دوی ته رفاه، سوکالي او تر نورو زيات امتيازات ورپه برخه کړي، يو ئې واکمن دئ، بل ئې شتمن دئ، بل ئې قومي سالار، بل ئې مذهبي مشر، هر يو ئې له خپل خپل موقعيت ګټه اوچتوي او امتيازات تر لاسه کوي، چا له سياست دام جوړ کړی، چا له مذهب دکان، چا له خپل اجتماعي وجاهت د خلکو پر اوږو د سپرېدو وسيله، چا ته د عوامو جهل ګټور دئ او چا ته په شرك او خرافاتو کې د ولس پرېوتل، دوی نه غواړي دا حالت بدل شي، نو ځکه د هر هغه چا مخالفت ته ملا تړي چې په ټولني کې له فکري، ديني، مذهبي، سياسي، اقتصادي او اجتماعي پلوه تبديلي غواړي، قرآن دا حالت په خپلو ښکلو او موجزو الفاظو سره

داسي انځور کړی: هيڅ کلي ته مو کوم خبرداری ورکوونکی نه دئ لېږلی مگر دا چي مترفينو ئې (هغو چي سوکالي ورپه برخه شوې) وويل: مونږ په قطعي توګه له هغه څه منکر يو چي ستاسو په لاس لېږل شوي، (يعني ستاسو له رسالت او دعوت منکر يو)؛ او وئې ويل: مونږ تر نورو زيات مال او اولاد لرو او هيڅکله تعذيبېدونکي نه يو! گورئ چي د (مال) او (اولاد) ډېرښت د پيغمبرانو عليهم السلام له رسالت سره تضاد او مخالفت ته هڅولي او همدا د (مال) او (اولاد) ډېرښت د فلاح او نجات معيار او ملاك ګڼي، وايي: که مونږ د الهي عذاب وړ وی نو الله به تر نورو زيات مال او پلويان نه راکول!!

همدا راز صالح عليه السلام ته د ده د قوم د مستکبرينو (مخالف ځوابونه) او د مستضعفينو (موافق) ځوابونه داسي انځوروي:

قَالَ ٱلْمَلَأُ ٱلَّذِينَ ٱسْتَكْبَرُواْ مِن قَوْمِهِۦ لِلَّذِينَ ٱسْتُضْعِفُواْ لِمَنْ ءَامَنَ مِنْهُمْ أَتَعْلَمُونَ أَنَّ صَٰلِحًا مُّرْسَلٌ مِّن رَّبِّهِۦۚ قَالُوٓاْ إِنَّا بِمَآ أُرْسِلَ بِهِۦ مُؤْمِنُونَ ٧٥ قَالَ ٱلَّذِينَ ٱسْتَكْبَرُوٓاْ إِنَّا بِٱلَّذِىٓ ءَامَنتُم بِهِۦ كَٰفِرُونَ ٧٦ الأعراف

٧٥- د ده د قوم لويي غوښتونکو مشرانو هغو مستضعفينو ته چي ايمان ئې راوړی وو، وويل: آيا په دې پوهېږئ چي صالح د خپل رب له لوري لېږل شوی؟ دوی (ورته) وويل: مونږ په هغه څه ايمان راوړی چي د ده په لاس لېږل شوی. ٧٦- لويي غوښتونکو وويل: مونږ له هغه څه منکر يو چي تاسو پرې ايمان راوړی.

گورئ چي دلته هم دوه ډلي تمثيل شوې: مستکبرين او مستضعفين، لويي غوښتونکي او هغه چي په بې وزلۍ کې د دوی د ساتلو هڅه شوې، مستکبرين د پيغمبر په ضد د دښمنۍ په سنګر کې او مستضعفين د پيغمبر ملګري، مستکبرين مستضعفينو ته وايي: له کومه پوه شوئ چي صالح د خدای پيغمبر دئ؟ مستضعفين ځواب ورکوي: د ده له پيغام، د ده په پيغام کې د ده د رسالت او حقانيت څرګندي نښي ګورو، مونږ په هغه څه ايمان راوړی چي دی ئې خلکو ته وړاندي کوي؛ او مستکبرين

د دې مضبوط دليل په خلاف په لجاجت سره وايي: موږ په هغه څه چې ستاسو په څېر خلك پرې ايمان راوړي، کافر او منکر يو. دوی نه د پيغام محتوی ته اعتناء لري او نه معجزې ته اهميت ورکوي، استکبار ئې هم د رسالت انکار ته هڅوي او هم د معجزو تردید ته.

• ماترياليزم له انساني فطرت سره د جنګ لار غوره کړې؛ له انسان سره داسي معامله کوي لکه د ماشين له يوې بې اختياره او بې ارادې پرزې سره؛ چې وظيفه او دنده ئې کار کول دي او بدله ئې تېل او ګريس؛ نه دا حق لري چې د خپلې خوښې کار غوره کړي او نه د خپل زيار بدله او معاوضه تر لاسه کولی شي؛ په داسي حال کې چې همدا دواړه (د خپلې خوښې کار) او (د خپل کسب او کار عادلانه بدله)؛ د انسان د تحرك، خوځښت، ابتکار او نوښت لومړني او اساسي محرکين، مشوقين او هڅوونکي دي؛ له دې پرته ئې د کار کولو او زيار ايستلو شور او شوق حتماً مري او ځپل کېږي؛ له کار به په يوه او بله پلمه لاس اخلي، دمه او کار نه کولو ته به ترجيح ورکوي، پښتانه د دې لپاره ښکلی متل لري؛ (لور په لوټه تېزوي) يعني لټ لَوګری چې زړه ئې نه غواړي په لو ځان ستړی کړي؛ په يوه او بله پلمه له کار لاس اخلي، کله د لور تېره کولو په پلمه کار پرېږدي؛ خو که ډېره په لاس ورنه شي نو لوټي ته لاس کړي او د لور په تېره کولو ځان مصروفوي!! هو؛ ولې به د ژمي سخته يخني او د دوبي سخته ګرمي ګالي او خولې به تويوي او لاس پښې به ئې تنګ کېږي؟! کله چې په يوې ټولنې کې د کار او زيار محرك او مشوق له منځه ولاړ شي؛ نو نه استعدادونه په کار لوېږي، نه وده کوي او نه به په نوښت، ابتکار او اختراع منتج کېږي.

• د روسيې او چين تجربو وښوده چې کمونيزم لومړی په حزبي ديکتاتوري منتج کېږي او بيا فردي ديکتاتوري رامنځته کوي؛ ټول اقتدار په يوه فرد (د کمونست ګوند زعيم) کې خلاصه کېږي؛ د ده فکر، نظريه، ايديولوژي، پرېکړه او فرمان نهائي ګڼل کېږي، هيڅوك ورسره مخالفت نه شي کولی؛ د هر مخالفت پايله يا اعدام وي، يا ترور يا زندان؛ اختناق

او سانسور حاکم شي، د بیان آزادي، له خپلو حقوقو د دفاع لپاره صنفي اتحادیې، سیاسي احزاب، اجتماعي ټولنې او هر هغه څه چې خلکو ته د واکمنو پر تصرفاتو او فرمانونو د اعتراض مجال او فرصت برابروي؛ ممنوع او غیر مجاز شي او د انقلاب ضد عمل او د سختي سزا وړ جرم ګڼل کېږي. پایله به ئې همغسي وي لکه د روسیې او چین کمونستي انقلاب چې د بورژوازي او فیودالیزم په خلاف زېرېدلی او پاڅېدلی وو خو لا زوړ شوی نه وو چې بېرته پانګوال ظالمانه نظام ته واوښت.

په روسیه کې د کمونیزم برخلیك

په روسیه کې مو ولیدل چې د کمونیستی حکومت له سقوط سره سم او له ځنډ پرته د دې ایدیولوژي او حکومت د بنسټګر لینین مجسمه د انقلابیونو له لوري نسکوره شوه.

«کارل مارکس» او ملګري ئې «فیدریش انګلز» په نولسمي پېړۍ کې همدا وړاندوینه کړې وه؛ مارکس د خپل کتاب کیپتال (پانګه) بنسټ پر همدې نظریه ایښی وو؛ معتقد او مدعي وو چې د غرب بورژوازي به حتماً په کمونیزم منتهي کېږي؛ ده انساني تاریخ په پنځو مرحلو وېشلی وو: لومړنی کمون، د مرییتوب مرحله، فیودالیزم (د زمکه والو د برلاسي نظام)، بورژوازي (د شتمنو واکمني او پانګوال نظام) او کمونیزم (اشتراکي ټولنه). له یوې مرحلې بلې ته اوښتل ئې حتمي او د تاریخ جبر ګڼلو، داسي چې هیڅوك ئې مخنیوی نه شي کولی؛ خو په عمل کې د ده د کچه نظریې، خام خیال او واهي زعم خلاف؛ د ده د وخت هیڅ بورژوازي نظام؛ د (تاریخ جبر) په حکم؛ په خپلې غېږ کې کمونیزم ونه زېرولو؛ بلکې د ده مطمح نظر انقلاب د روسیې په نیمه فیودالي ټولني کې رامنځته شو؛ هغه هم نه د تاریخي جبر په حکم؛ بلکې د جرمني د پراخو او مستقیمو مرستو له امله او د هغه لینین په مشرۍ چې د جرمني له پراخو مرستو او حمایت برخمن وو؛ جرمني ئې هم پناځی وو، هم هر اړخیز مرستندوی او هم د مبارزې د پیل او مدیریت مرکز؛ کمونیزم ئې

د پراخو، وحشيانه او بې رحمانه وژنو او تصفيو په زور پر روسيې او بيا د مرکزي آسيا پر اسلامي هېوادو تپلی. کمونيزم د تزار ديکتاتوري نظام نسکور کړ خو تر هغه لا زياته وحشيانه او خونړی ديکتاتوري ئې رامنځته کړه؛ که هغه د يوه شخص او کورنۍ ديکتاتوري وه دا د حزبي سلطې تر پوښښ لاندي مطلقه فردي ديکتاتوري وه؛ هر مشر ئې چې په خپل مرګ يا داخلي کودتاګانو او تصفيو په ترڅ کې له منځه تللی او ځای ئې بل نيولی؛ د مخکيني ټول نژدې ملګري ئې يا ترور کړي، يا د مخوفو زندانونو تورو خونو کې ساتلي او يا ئې داسي له صحنې ايستلي او رټلي چې د نوم ورکو په فهرست کې راغلي. ستالين د اکتوبر په انقلاب کې د خپل زعيم او مشر؛ لينين ټول انقلابي او پخواني نژدې ياران يا اعدام کړل يا ترور؛ په دوی کې معروفه او په کمونست ګوند کې تر ټولو زياته محبوبه څېره؛ نيکولای بوخارين هم شامل وو؛ له زندان ئې ستالين ته وليکل: د مخکينۍ دوستي او ملګرتيا په پار مي د مرميو پر ځای په زهرو ووژنه؛ خو دا غوښتنه ئې هم ونه منل شوه.

په چين کې د کمونيزم برخليك

دوهم ستر هېواد چې له روسيې سره يو ځای او د کمونيزم په لار روان شو؛ چين وو؛ خو انقلاب ئې نه يوازي د مارکس د نظريې مطابق کارګري انقلاب نه وو؛ بلکې د کارګرانو ونډه په دې انقلاب کې له هيڅ سره برابره وه؛ د انقلاب مشر ئې؛ مائوتسه تونګ د يوه کروندګر زوی وو؛ نه د کوم کارګر زوی؛ د تحصيلاتو له بشپړولو وروسته ئې په يوه کليوالي سيمي کې ښوونځی جوړ کړ او څه موده په همدې ښوونځي کې معلم وو؛ ليکوال وو او شعرونه ئې هم درلودل؛ په داسي حال کې چې ستالين د لينين ځای ناستی وايي: شاعر د مديريت لپاره مناسب نه وي؛ ښايي د دې لپاره چې شاعران د مشاعرو او عواطفو له پلوه ډېر حساس او زړه سواند وي؛ له شاعر يو سخت زړی او قسي القلب انقلابي نه شي جوړېدی!! مائو د لينين او مارکس نظريه نقد کړه او د انقلاب په راوستو

او محرکه ځواك کې ئې د بزګرانو پر فعالي او اغېزمني ونډې تأکید او ترکیز کولو؛ دلیل ئې هم څرګند دئ او هغه دا چې د ده د دور چین په فیودالي مرحله کې وو نه د بورژوازي مرحله کې؛ د هغه مهال چین نه ستري ستري فابریکې درلودې او نه محروم کارګران او د دوی ستري او ګڼې ټولني؛ که د روسیې بې درېغه مالي او نظامي مرستي نه وی؛ نه د مائو انقلاب پیلېدی شو او نه بریالی کېدی؛ له دغو دوو هېوادو پرته؛ په بل هیڅ هېواد کې د روسي وزمه کارګري انقلاب؛ او د مارکس او انګلز د رأی مطابق له بورژوازي د کمونیزم پراو ته د اوښتو او ټوپ وهلو ېلګه نه ده لیدل شوې!! که چېرې کوم هېواد کې د مسکو په پلوي کوم تغییر او تحول راغلی نو یا خو د مرکزي آسیا او شرق اروپا په څېر د نظامي اشغال له لارې؛ مزعوم او تش په نامه کمونیزم پرې مسلط شوی او یا د نظامي کودتاګانو له لارې د شوروي په مستعمرو او اقمارو کې شامل کړی شوي؛ لکه عراق، سوریه، یمن او نور. له ٤٠ تر ۸۰ ملیونه انسانان په چین کې د مائو انقلاب خوراك شول؛ او تر دې زیات د روسیې د کارګري انقلاب.

که څوك د دفن شوي شوروي د اقتصادي سیستم په اړه په مجمله او مختصره توګه ووایي: د فردي او شخصی مالکیت ضد او کلك مخالف او د ټولني پر ټولو شتمنیو د حکومت د بشپړ تسلط پلوي وو؛ نو همدا تعریف هر هغه اورېدونکي ته کافي او شافي دئ چې د عقل او درایت خاوند وي؛ له همدې پوهېدی شي چې کمونیزم او سوسیالیزم د هغه اجتماعي او اقتصادي سیستم نوم دئ چې په هغه کې هر څه؛ ټولې شتمنۍ، زمکې، معادن، اوبه، انرژي، د تولید وسائل، شرکتونه او حتی کورونه د ... د دولت په واك کې وي؛ د ملت آحاد او وګړي؛ له لوړې طبقې تر لاندې؛ نه شخصي ملکیت لري او نه شتمني او ثروت؛ پیسې، سره او سپین زر، د شوروي اتحاد ټول وګړي یا په دولتي زمکو کې کروندګر وو، یا د دولتي فابریکو کارګر او یا د حکومت مأمور، عسکر او افسر؛ د کار په بدل کې ئې معاوضه او معاش کوپون وو نه نقدي پیسې؛ خوراکي

توکي او جامه ئې د همدې کوپون (کاغذي سند) له مخي تر لاسه کول؛ تعلیم، تداوي او معالجه ئې مجاني وه.

په مارکسیستي سیستم کې دولت د ټولني پر هر څه ولسي سلطه او واك تمثیلوي؛ د وګړو او افرادو ملکیت او واك پر شتمنیو صفر ته رسوي؛ او په مقابل کې ئې پانګوال نظام؛ د مارکسیستي سیستم خلاف؛ پر شتمنیو د دولت سلطه او واك او په اقتصادي چارو کې د دولت ښکېلتیا له منځه وړي او دا وګړو ته پرېږدي چې په خپلو منځونو کې د آزادو سیالیو او رقابتونو له لارې څه تر لاسه کړي، عائد او حاصل ئې د ده شخصي ملکیت وي او په خپله خوښه په کې تصرف کوي. یو وایي: هر څوك به کار کوي او د کار په مقابل کې به ئې حاجت او نیاز ته ځواب ویل کېږي؛ بل وایي: هر څوك دي خپلې مخي ته پرېښودل شي؛ چې څه کوي او څومره تر لاسه کوي؛ دولت دي نه د هغه په کسب او کار کې مداخله کوي او نه ئې په عوائدو او شتمني کې؛ د کسب او کار ځرنګوالی او انتخاب هم خلکو ته پرېښودل شوی؛ نه مذهب ته د مداخلې حق ورکوي او نه قانون جوړوونکو بنسټونو او دولت ته؛ هر څوك هر کار کولی شي مشروط په دې چې حکومت ته به کمیشن ورکوي؛ په یوه سیستم کې په شتمنیو کې د وګړو برخه او ونډه صفر شي او سهم ئې کوپون وي او په بل کې د دولت ونډه صفر خو خپله برخه د کمیشن په نامه تر لاسه کوي. یعني پانګوال اقتصاد فرد محور دئ او د دې باعث چې شتمني د معدودو شتمنو په لاس کې متمرکز شي، کمونستي اقتصاد دولت محور دئ؛ او اسلامي اقتصاد د دواړو خلاف عدالت محور دئ او په هغه کې دولت د فقیر او مسکین متکفل دئ او بنسټ ئې پر دې ولاړ چې د اغنیاءو په شتمنیو کې د محرومانو او اړمنو مسلم او معلوم حق دئ. لکه چې قرآن فرمایي:

وَٱلَّذِينَ فِيٓ أَمۡوَٰلِهِمۡ حَقّٞ مَّعۡلُومٞ ٢٤ لِّلسَّآئِلِ وَٱلۡمَحۡرُومِ ٢٥ المعارج

او هغه چې په مالونو کې ئې ځانګړی معلوم حق وي. د سؤالګرو او بې وزلو لپاره.

رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایي: له چا چي میراث پاته شي د هغه د ورثه وو دئ او څوك چي ومري؛ پورونړی وي او څه ترې پاته نه وي نو پور ئې پر ما دئ؛ یعني پور به ئې دولت پرې کوي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «.... فَأَيُّمَا مُؤْمِنٍ مَاتَ وَتَرَكَ مَالاً فَلْيَرِثْهُ عَصَبَتُهُ، مَنْ كَانُوا وَمَنْ تَرَكَ دَيْنًا أَوْ ضَيَاعًا فَلْيَأْتِنِي فَأَنَا مَوْلاهُ». مسند احمد، بخاری، السنن الکبری للبیهقی

له ابو هریره رضي الله عنه روایت دئ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: ((....نو هر مؤمن چي ومري او څه مال ترې پاته شي؛ نو د ده عصبه (خپلوان)؛ هر څوك چي وي؛ هغه دې په میراث یوسي؛ او چا چي کوم قرض او محتاج اهل او عیال تر شا پرېښودل؛ نو هغوی دي ما ته راشي؛ زه ئې مولا او کفیل یم)).

عصبه هغه خپلوان دي چي که یوازي وي او د تاکل شوي میراث وارثان ورسره نه وي؛ نو ټول میراث ئې په برخه کېږي او د داسي وارثانو په شتون کې پاته برخه د هغوی وي.

د رسول الله صلی الله علیه و سلم دا لارښوونه د التوبه سورې له دې آیت له مخي شوې ده:

إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاءِ وَالْمَسَاكِينِ وَالْعَامِلِينَ عَلَيْهَا وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ وَفِي الرِّقَابِ وَالْغَارِمِينَ وَفِي سَبِيلِ اللَّهِ وَابْنِ السَّبِيلِ فَرِيضَةً مِنَ اللَّهِ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿٦٠﴾ التوبة

صدقات (زکات) خو یوازي د فقیرانو، مسکینانو، پرې (ګمارل شوو اړوند مأمورینو)، هغه چي زړونه ئې (پرې) رانژدې کېږي، غلامانو، پورونړو، د الله په لار کې او د مسافرانو لپاره دي؛ د الله له لوري یوه فریضه؛ او الله باحکمت پوه دئ.

په دې آیت کې د بیت المال د مصارفو او لګښتونو موارد ذکر شوي؛ چي یو ئې له پورونړو (غارمین) سره مرسته ده؛ یعني د اسلامي دولت

یوه دنده او مکلفیت دا دئ چې له دوی سره به مرسته کوي؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم همدې ته په پام سره ویلي: که څوك وفات شو؛ په داسي حال کې چې پورورې وو؛ زه ئې مولا او کفیل یم؛ د پور اداء کول ئې زما پر ذمه دي.

د اسلام اقتصادي سیستم

د اسلام اقتصادي سیستم له دې دواړو سیستمونو سره عمیق او پراخ توپیرونه لري؛ نه له دې سره موافق دئ چې دولت محور اقتصاد رامنځته شي؛ او د دولت په وړاندي فردي آزادي په بشپړه توګه منتفي شي؛ د اقتصادي تشبثاتو په اړه د انسان آزادي او د خپلې خوښې کار غوره کولو اختیار هم له منځه ولاړ شي او د اجتماعي چارو په ارتباط د ده آزادي هم؛ او نه له دې سره موافق دئ چې د اقتصادي چارو مهار د څو شتمنو او ځواکمنو په واك کې وي. د ټولنو او نظامونو د ماهیت او ښه والي او بد والي په اړه هغه مهال سم او دقیق قضاوت کولی شو چې وګورو په دې ټولنې او حاکم نظام کې ئې؛ د ملي شتمنیو وېش څنګه دئ او پر کومو بنسټونو ولاړ دئ؛ فقط د همدې له مخې ویلی شو چې یو نظام او اقتصادي سیستم ئې عادلانه دئ که ظالمانه، موفق دئ که ناکام؛ وړاندي ځي او وده کوي او که په ټپه ودرېږي، وروسته پاته کېږي او د متلاشي کېدو په لور درومي.

ښایي یو مثال له مورږ سره مرسته وکړي چې هم د دغو دوو سیستمونو عیبونه په ښه توګه درك کړو او هم د دواړو مناسب بدیل وپېژنو: دولت په یوې سیمې کې د یوې لویې ښدیا خړوبولو او آبادولو په موخه د اوبو بند جوړ کړي، تر ښدیا پوري نهر وکیني، زمکې ئې د استفادې وړ شي؛ دا مهال د ښېرازه زمکو په اړه څو بدیلونه په مخکې

لري: ١- ټوله ښېديا او ښېرازه زمکې ئې دولتي کوي، بزګران د معاش يا په حاصلاتو کې د يوې برخې په بدل کې استخداموي؛ ٢- د زمکو د پلورلو پرېکړه کوي؛ ٣- پر هغو اړمنو او مستحقينو ئې وړيا وېشي چې په خپله به ئې کري، نه به ئې پر بل پلوري او نه به ئې بل ته د کرلو لپاره په اجاره ورکوي. لومړی صورت ئې کمونستي تګلاره ده، دوهم صورت ئې د غربي پانګوال سيستم تګلاره ده او درېيم صورت ئې د اسلامي اقتصاد تګلاره.

د لومړي صورت عيب دا دئ چې بزګر نه زمکه خپله ګڼي او نه ئې حاصل؛ نه زمکې ته داسې اعتناء کوي لکه خپله زمکه او نه د حاصل کموالی او ډېروالی ده ته خاص اهميت او ارزښت لري؛ په هر حالت کې خپله معينه اجوره او معاش تر لاسه کوي؛ که د زمکې حاصلات لږ وې يا ډېر؛ د ده په اجورې څه اغېز نه کوي. البته که د اجورې پر ځای د زمکې په حاصل کې شريک وي؛ نو اعتناء او اهتمام به ئې نسبتاً زيات وي؛ خو دا به هيڅکله هومره نه وي چې هم زمکه د ده وي او هم ئې ټول حاصل د ده.

د دوهم صورت عيب دا دئ چې زمکه د شتمنو لاس ته ورشي او غريبان ترې محروم شي؛ شتمن ئې يا په ارزانه بيه اخلي او په ګرانه بيه ئې پلوري؛ او يا ئې بل ته په اجاره ورکوي او مفته ګټه تر لاسه کوي. په امريکا او ټولو غربي پانګوالو هېوادو کې همدا کار شوی او په نتيجه کې ئې ستر ستر فيودالان او زمکه وال رامنځته شوي؛ تاسو چې د امريکا د زمکه والو حالت وڅېړئ نو درته جوته به شي چې جمهور رئيسان، د کانګرس او پارلمان غړي، جنرالان او ګورنران ئې ستر ستر زمکه وال دي. متأسفانه په افغانستان کې نن هم او تر نن وړاندي هم دې ته ورته کار شوی؛ د زړو او له بهره تپل شوو شاهي نظامونو په دوران کې زمکې د ځواکمنو او شتمنو لاس ته ورغلې، کمونستانو وغوښتل چې هغه د خپل مسلك مطابق مصادره کړي او د شوروي په څېر ئې دولتي کړي.

زمکه زمور او د بل هر هېواد تر ټولو ستره او مهمه ملي شتمني ده،

سمه پالنه، عادلانه وېش ئې او په هغې کې سالم او رغنده تصرف؛ تر بل هر اقتصادي تشبث زيات اهميت او ارزښت لري. د هري ټولنې او نظام د فساد او کمال څرنګوالی د همدې له مخې پېژندلی شو. متأسفانه موږ تر ننه نه يو توانېدلي چې د خپلې خوښې نظام ولرو او د خپلو ديني او مذهبي باورونو او مقتضياتو مطابق اقتصادي او اجتماعي سيستم او جوړښت؛ پر مظلومو افغانانو هر څه له بهره تحميل شوي؛ د بهرنيانو مقابله ئې کړې او تل د هغوی په شړلو بريالي شوي؛ خو د بهرنيو ځواکونو په لاس د ټپل شوو نظامونو او حکومتونو په وړاندې له څه کولو دومره عاجز او ناکام وو چې ويلی شو د نړۍ تر ټولو ملتونو وروسته پاته شوي؛ له کومې ورځې چې موږ د کابل په نامه د پلازمېنې څښتن شوي يو بيا تر ننه زموږ هيڅ حکومت او نظام په کابل کې او د ولس په خوښه نه دئ جوړ شوی؛ ټول د پردیو د متو، وسلو او پيسو په زور پر افغانانو تپل شوي؛ حکام مو په بهر کې غوره شوي او د پردیو په ټانکونو او جهازونو کې کابل ته راانتقال شوي؛ هر يو چې راغلی ولس ته ئې د غلامانو او اسيرانو په سترګه کتلي او د دوی هېواد ئې مفتوحه سيمه او د دوی ملي شتمنۍ ئې غنيمت او په هغه کې ئې هر تصرف خپل مسلم حق ګڼلی.

کمونست واکمنان مو شوروي اتحاد وروزل او د کودتاګانو له لارې ئې قدرت ته ورسول؛ او سيکولر واکمنان مو امريکا وروزل او قدرت ته ئې ورسول؛ او تر دوی دواړو وړاندې پاچايان مو بريتانيا؛ د زاړه انګرېز د تحميلي پاچايانو وروستۍ کورنۍ؛ زموږ مظلوم هېواد د ۱۹ مي پېړۍ د دوو سيالو استعماري ځواکونو؛ شوروي او امريکا تر منځ ووېشو؛ د شمال او شرق ټولې پروژې ئې کمونست مسکو ته وسپارلې؛ که دا د سړکونو او لارو اړوند وې او که د بندونو، نهرونو، معادنو او د نفت او ګاز تفحصاتو اړوند؛ د نغلو او درونټې بندونه، د ننګرهار کانال روسانو جوړ کړل؛ زمکې او د مالتو او زيتون باغونه ئې ځکه د دولت په واک کې شول او پر اړمنو ئې له وېش ډډه وشوه چې دا کانال کمونست روسانو

جوړ کړی وو او هغوی په شخصي ملکیت باور نه درلود.

مسکو او په شمال کې زمونږ نفت او گاز

د مفسد شاهي رژیم یوه بله ستره اشتباه دا وه چې د نفت او گاز اړوند د تفحصاتو او څېړنو پروژه ئې مسکو ته سپارلې وه؛ روسانو هېڅکله نه خوښول چې د نفت او گاز دا پریمانه زېرمې کشف او استخراج ته چمتو شي؛ ځکه په گاونډ کې مو د شوروي له لوري اشغال شوي؛ د ترکمنستان، اوزبکستان او تاجکستان هېوادونه پراته وو، د زمکې لاندې ذخائر او پرېمانه زېرمې مو په ډېرو سیمو کې له هغوی سره وصل او سر چینې ئې زمونږ د شمال غرونه او لمنې ئې وې؛ د افغانستان په شمال کې د نفت او گاز استخراج؛ د دغو شوروي اقمارو پر زېرمو او استخراج ئې منفي اغېز کولو؛ له همدې کبله په شمال کې د تفحصاتو ټولې پروژې بې ثمره او بې نتیجې وې؛ هغه څاگان هم بېرته بند کړی شوي چې د کیندنو په دوران کې ئې د گاز او نفت د شتون علائم او نښې تر لاسه شوې وې؛ ویل کېږي چې روسانو نه یوازې د تحقیقاتو او څېړنو حقیقي اسناد او معلومات؛ کابل ته نه دي سپارلي بلکې غلط او غولوونکي راپورونه ئې افغاني ادارو ته سپارلي؛

مسکو او د افغانستان د شمال نهرونه

مسکو د افغانستان په شمال کې د اوبو د زېرمو په اړه هم دې ته ورته تگلاره غوره کړې وه؛ دا ئې نه خوښول چې مورږ د آمو او یا هغو سیندونو له ابو گټه واخلو چې اوبه ئې په پای کې له آمو سره یو ځای کېدې؛ لکه د کوکچې ستر سیند؛ روسانو د افغانستان په ختیځ کې د نغلو او درونټې بندونه جوړول خو په شمال کې ئې د اوبو مهارول، بندونه جوړول او ستري ستري بېدیاوي خړوبول؛ ځکه نه خوښول چې دې اوبو ته ئې په خپلو مستعمراتو کې ضرورت درلود. روسانو د کابل لاسپوڅو

حکومتونو ته حتی دا اجازه هم نه ورکوله چې په شمال کې د بندونو، نهرونو، معادنو او د نفت او ګاز په ارتباط له نورو هېوادونو سره ټرون ولري. نن ډېر هېوادونه؛ د چین په شمول؛ دې ته لېوال دي چې په شمال کې په همدې ارتباط پانګوني وکړي.

نن چې مسکو نه غواړي د ټاپي پروژه پلې شي او د ترکمنستان ګاز او نفت د افغانستان له لارې پاکستان او هند ته انتقال شي او د همدې لپاره ئې په افغانستان کې هغه نیابتي جګړو لپاره کرایي ډلې او جنګیالي روزلي او پاللي چې زمونږ په هېواد کې د شوروي ځواکونو نیمګړي جنګ ته دوام ورکړي، وسلې ئې ورکولې او پیسې ئې ورته چاپولې؛ تهران همدا کار کولو؛ د شمالي ائتلاف په رامنځته کولو او اکمال کې دواړو په ګډه برخه درلوده؛ روسي وسلې د مشهد له لارې شمال ته انتقالېدې؛ مسکو غوښتل مرکزي آسیا د مخکې په څېر پر روسیې متکي وي او له بلې لارې له نړۍ سره وصل نه شي او تهران غوښتل مرکزي آسیا د ایران له لارې له نړۍ سره وصل شي؛ د ایران چاه بهار بندر په همدې موخه او په همدې موده کې؛ د هند په مرسته جوړ شو؛ او امریکا ځکه همدا نن هم پر ایران بندیزونه لګوي خو د چاه بهار بندر تړې مستثنی کوي چې په دې سره مرکزي آسیا د مسکو له اتکاء او انحصار وځي؛ تهران غواړي د پاکستان او هند لوی او مهم مارکیټونه د ایراني ګاز او نفت پر ځای د ترکمنستان لاس ته ورنه شي؛ دواړو (مسکو او تهران) ته د ټاپي پروژه هم له سیاسي پلوه تاوانې بربنښي او هم له اقتصادي پلوه؛ د مخنیوي لپاره ئې دا لار غوره کړې چې په افغانستان کې د ناامنیو او جنګ پر دوام پانګوني وکړي؛ حقیقت دا دئ چې پر افغانانو د تپل شوي اوږده جنګ یو ستر او اساسي عامل زمونږ د هېواد مهم ستراتیژیك موقعیت او پراخې زېرمې دي.

همدا راز د کابل شاهي حکومت د تعلیم او تربیې په ارتباط د پلتخنیك پوهنځی شوروي ته او د انجنیري پوهنځی امریکا ته وسپارل؛ داسي چې اداره، استادان او نصاب ئې د دوی په واك کې وو. تر ټولو

خطرناك ئې دا چې د فوځ روزنه او تجهيز ئې هم شوروي ته وسپارلو؛ چې په کودتاګانو او په پای کې په روسي اشغال منتج شو او همدا د شاهي نظام او د بريتانيا د لاسپوڅو حکومتونو د سلسلې ختمېدو باعث شو.

د جنوب او غرب پروژې ئې امريکا ته وسپارلې؛ د امريکا ملګري جرمني ته ئې د ماهيپر او سروبي بندونو جوړولو امتياز ورکړ.

د کجکي، داهله او ګريشك بندونه امريکا جوړ کړي، که څه هم د دې بندونو له امله ډېرې شاړې زمکې آبادي او تر پنځه زره زياتو بې زمکو کورنيو ته زمکي ورکړی شوې؛ او له دې پلوه دا پروژه د ننګرهار تر روسي پروژې ډېره ګټوره وه، هم ئې د ډېرو افغانانو مالي مشکلات حل کړل او هم تر ننه او د حکومتونو له تلو راتلو او بدلېدو سره سره له زمکو په سمه توګه استفاده شوې؛ د زمکو خاوندانو ئې په هر حالت کې ساتنه او پالنه کړې؛ خو د ننګرهار له دولتي فارمونو نه لازمه استفاده شوې او نه ئې په سمه توګه پالنه او ساتنه شوې؛ د حکومتونو په تغيير سره ډېره موده بې صاحبه پاته شوي او وني ئې وچې شوې. حقيقت دا دئ چې هيڅ دولتي فارم او بڼ به هيڅکله داسي زړه سواند ساتونکی او پالونکي بڼ وال او مدير پيدا نه کړي چې د خپل بڼ او زمکې په څېر ئې پالنه او ساتنه وکړي.

د هلمند او کندهار د اوبو زېرمې او د کښت وړ بېدياوي دومره پراخي دي چې که دغه پروژې په سمه توګه مديريت شوې وی نو د ټول هېواد ډېرې اړتياوي ئې رفع کولی شوی؛ د يوه ناکاره، منحط او مفسد نظام او حکومت له کبله پر دغو مهمو پروژو هغه نتائج مرتب نه شول چې بايد تر لاسه شوي وی؛ افغانستان د اوبو د زېرمو له پلوه د سيمي غني هېواد دئ؛ که موږ وتوانېدو خپلې اوبه مهار او خپلې پراخي دشتي او بېدياوي خړوبه کړو؛ نه يوازي د غلې او مېوې له پلوه د بل له احتياج ژغورل کېږو بلکي زمونږ د صادراتو يوه مهمه برخه به همدا د زمکو حاصلات وي؛ خو د همدې مفسدو حکومتونو له کبله

زمور هېواد د نړۍ تر ټولو زيات فقير او نېستمن هېواد پاته شوی. که مور يوازي د شمال اوبه مهار کړو او د اودان او ميرعلم په څېر ستري ستري بېدياوي خړوبه کړو؛ نه يوازي لکونو کورنيو ته د کر زمکي ورکولی شو؛ بلکي شمال به د هېواد د غلې په ګودام بدل شي. د امريکا د شل کلن اشغال په دوران کي امريکا له دې کبله نه غوښتل چي ايران ته څېرمه ولاياتو کي د اوبو د مهارولو په ارتباط د پام وړ کار وشي چي ايران د افغانستان په اشغال کي د امريکا تر ټولو نژدې او کلك ملګری وو؛ غوښتل ئې ايران راضي وساتي، په ټولو برخو کي ئې امتيازات ورکړي، ايران پلوه ډلې ئې په اقتدار کي شريکي کړې، د جمهوري رياست د معاونيت په شمول ئې ګڼ شمېر وزارتونه، ولايتونه، په پارلمان کي د دغو ډلو د غړو پراخ او امتيازي حضور ومنلو؛ د اشغال په دوران کي د افغانستان بازار د ايران په واك کي وو؛ د ايران صادرات افغانستان ته تر ټولو نورو هېوادونو زيات وو؛ هم د رسمي بندرونو له لاري او هم له قاچاقي او غير قانوني لارو؛ د صادراتو کلنی ارزښت ئې تر لس مليارده ډالرو اوښتی وو. د هېواد په شمال کي ئې هم نه غوښتل داسي کار وکړي چي مسکو ناراض شي؛ مسکو ته ئې د ايران په څېر پراخ امتيازات ورکړل، مسکو پلو کمونستانو ته ئې په دولت کي؛ مخصوصاً په اردو او امنيتي ځواکونو کي؛ کليدي پستونه وسپارل؛ دا لړۍ تر هغه په شدت سره روانه وه چي د واشنګټن اړيکي له مسکو او تهران سره ترينګلي شوې؛ دا تر ۲۰۱٤ وروسته وو؛ که د اشغال په پاته ۷ کلونو کي د هېواد په شمال او غرب کي؛ د مسکو او تهران د خوښي خلاف کوم کارونه شوي؛ وجه ئې له دوی سره د واشنګټن د روابطو ترينګلتيا وه؛ له ايران سره په پوله پراته ولايتونو کي د اوبو پر مهارولو او بندونو کار او پانګونه او د قوش تپه پروژه په همدې مودې کي تر لاس لاندي ونيول شوه؛ خو د امريکايانو له وتلو وروسته د کاغذ پر مخ طالبانو ته په ميراث پاته شوه.

اوس په دې اړه له ډېرو افغانانو سره دوه ملاحظې دي: ۱- ښايي دا کار د امريکا په وينا پيل شوی وي او مصارف ئې د سي آی اې له

اوپراتيفي بودجې او يا د امريکا په وينا د کوم عربي هېواد له لوري ورکړی شوي وي. ۲- له ولس سره دا اندېښنې دي چې ښايي زمکې ئې د دې پر ځای چې پر بې زمکو او هغو افغانانو مجاني ووېشل شي چې لږ زمکې لري؛ وپلورل شي او په نتيجه کې ئې واکمنو، د دوی خپلوانو او شتمنو ته په لاس ورشي، د شوری او پارلمان په نه شتون او د حکومت او واکمنو پر کړنو او تصرفاتو د نظارت د با صلاحيت او مقتدرو ارګانونو په غياب کې د دې ټولو انحرافاتو، فسادونو او ناخوالو احتمالات شته. خو روان وضعيت ته په پام سره د دې امکان او احتمال ډېر لږ او ضعيف برېښي چې طالبان به وکولی شي دا پروژه بشپړه او ثمر ته ورسوي؛ د امريکا د مالي او امنيتي مرستو له بندېدو سره سم به د دې پروژې کار هم متوقف کېږي.

که د (قوش تپه) په څېر پروژې په ټولو هغو سيمو کې تر لاس لاندي ونيول شي چې هم رواني اوبه لري او د اوبو د مهارولو امکانات او يا د اوبو د ذخيره کولو ظرفيت او مجال؛ او هم د کر وړ پراخي بېدياوي، او دا زمکې له رغېدو او خړوبېدو وروسته؛ هغو ته ورکړی شي چې يا زمکه نه لري او يا لږ زمکه لري، او په دې شرط ورکړی شي چې په خپله به ئې کري او له پلورلو به ئې ډډه کوي؛ همدا د افغانستان د ودانولو لپاره کفايت کوي. زه اوس د رسول الله صلی الله عليه و سلم د هغې لارښوونې په معنی او اهميت ښه پوه شوی يم چې د زمکو په اړه ئې فرمايلي: څوک چې زمکه لري؛ نو يا دې خپله وکري او يا دې خپل ديني ورور ته د کرلو لپاره ورکړي؛ يعني زمکه بايد د هغه چا په واک کې وي چې کري ئې او د کرلو وړتيا ئې لري؛ د عدل او عقل تقاضی او غوښتنه همدا ده؛ له دې پرته نه د واقعي عدالت د تأمين لپاره تر دې غوره طريقه شته او نه له زمکې د سمي او رغنده استفادې لپاره تر دې غوره بديل؛ نه د پانګوال فيودالي نظام اسلوب معقول او عادلانه دي او نه د کمونزم تګلاره. اسلام دا دواړه الحادي او سيکولري سيستمونه په کلکه ردوي او دغه درېيم صورت ئې څکه غوره کړی چې له هره پلوه تر دغو دوو

صورتونو هم عادلانه دئ او هم د هغوی له بدو پايلو خوندي؛ په اسلامي نظام کې که شاړي زمکې رغول کېږي نو لومړی مستحق ئې بې زمکې فقير او مسکين دئ؛ که دولت له زکات، عشر او معادنو څه تر لاسه کوي تر بل هر چا وړاندي بايد د نېستمنو او خوارانو مالي ستونزي حل کړي. په اسلام کې حکومت د بې وزلو متکفل او د دوی د کور، خوراک، جامې او علاج ذمه وار دئ. ولې به د زمکو د وېش په ارتباط داسي ناسمه او غير عادلانه تګلاره غوره کوو چې د کر زمکه د داسي بزګر په شتون کې چې هم محتاج او مستحق دئ او هم ئې د ساتلو او پاللو اهل؛ د هغه شتمن او ځواکمن لاس ته ورشي چې نه ورته اړ دئ او نه ئې د پاللو او ساتلو وړتيا او اهليت لري؟! اصولاً داسي زمکې بايد هغه چا ته وسپارل شي د پاللو اهليت او وړتيا ئې لري؟! دا يو امانت دئ او الله تعالی مور مکلف کړي يو چې امانتونه به اهل ته سپارو. د دې الهي لارښوونې تقاضی دا ده چې زمکه بزګر ته؛ روغتون ډاکټر ته، وسله عسکر ته، جهاز پيلوټ ته، ښوونځی او پوهنځی استاد ته، محکمه قاضي ته او د جومات امامت اقرأ او اعلم ته وسپارل شي.

ښايي له ځينو سره به دا پوښتنه راولاړه شي چې آيا خپله زمکه بل ته په اجاره ورکول ناجائز دي؟! هغوی ته وايو: لومړی بايد دا پوښتنه ځواب شي چې آيا دا عادلانه او معقول کار دئ چې زمکه هغه چا ته ورکړی شي چې په خپله ئې د کرلو او پاللو وړتيا نه لري او دې ته اړ کېږي چې بل ته ئې په اجاره ورکړي؟! که د دې پوښتني ځواب منفي وي؛ چې بايد منفي وي؛ نو ستاسو اندېښنو او پوښتنو ته هيڅ مجال نه پاته کېږي؛ اما که زمکه د داسي چا په واک کې وي چې له جائز او مشروع لاري ئې تر لاسه کړې وي؛ خو د خاص عذر له کبله نه شي کولی په خپله ئې وکري؛ غواړي بل ئې ورته وکري؛ د معلومي اجورې او يا د حاصل د يوي منصفانه برخي په بدل کې؛ که څه هم ځيني علماء او فقهاء د ابن حزم په شمول له دې سره موافق نه دي او جائز ئې نه ګڼي؛ او وايي: زمکه يا په خپله وکره او يا ئې بل ته مجاني وسپاره؛ ځکه همدا د رسول

الله صلى الله عليه و سلم سپارښتنه ده؛ د خپلې رأی د اثبات لپاره په ځینو روایاتو استناد کوي؛ خو نور ځې مشروعیت په خاصو شرائطو پورې تړي؛ او وایي: که اجاره اخیستونکي بزګر د کوم آفت له کبله تاوان وکړ؛ د اجارې له ورکولو معاف دئ.

اما په دې کې څه حرج او ممانعت نه لیدل کېږي چې څوك خپله زمکه په خپله او تر خپل نظارت لاندې وکړي، ګټه او تاوان ځې خپل وي خو د کار لپاره د عادلانه مزد په بدل کې بزګران استخدام کړي.

زمکه به د هغه چا وي چې په خپله ځې کړي

هغه چې د زمکې له اجاره ورکولو سره موافق نه دي په داسي روایاتو استناد کوي چې وایي رسول الله صلى الله عليه و سلم له دې ممانعت کړی؛ امام مسلم د کتاب البیوع تر عنوان لاندې ګڼ شمېر روایات راوړي چې همدا مطلب په کې راغلی؛ د ځینو شمېرې دا دي: (١٥٣٦)، (١٥٤٦)، (١٥٤٧)، (١٥٤٨)، (١٥٥٠)، په صحابه وو کې د دې روایاتو راویان دا دي: جابر بن عبد الله، أبو سعيد خدري، ظُهَيْرَ بْنَ رَافِعٍ او عبد الله بن عَبَّاس رضي الله عنهم. یعني دا روایات په صحابه وو کې څلور راویان لري؛ داسي روایات د مشهورو روایاتو په نامه نومول شوي؛ او اعتبار ځې له متواتر وروسته تر ټولو نورو روایاتو زیات دئ؛ په بخاري کې د مشهور او متواترو روایاتو شمېر ډېر لږ دئ؛ مسلم د جابر بن عبد الله روایت (۹) ځلي له بېلو بېلو بعدي راویانو او په بېلو بېلو مجمل او مفصل صیغو راوړی؛ دوه ځې دا دي:

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، قَالَ: «نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُؤْخَذَ لِلْأَرْضِ أَجْرٌ، أَوْ حَظٌّ» مسلم

له جابر بن عبد الله روایت دئ چې وئې ویل: رسول الله صلى الله عليه و سلم له دې منع کړې چې د زمکې په بدل کې دي کومه بدله یا برخه واخیستل شي.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، قَالَ: كَانَ لِرِجَالٍ فُضُولُ أَرَضِينَ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ كَانَتْ لَهُ فَضْلُ أَرْضٍ فَلْيَزْرَعْهَا، أَوْ لِيَمْنَحْهَا أَخَاهُ، فَإِنْ أَبَى فَلْيُمْسِكْ أَرْضَهُ» مسلم

له جابر بن عبد الله روايت دئ چي وئې ويل: د رسول الله صلى الله عليه و سلم په صحابه وو کې ځينې سړي داسي وو چې اضافي زمکې به ئې درلودې؛ نو رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: څوك چې اضافي زمكه لري نو په خپله دې وكري؛ او يا دې خپل ديني ورور ته وبخښي، او كه له دې ئې ډډه وكړه نو زمكه دي له ځان سره وساتي.

محققين د روايت د دې فقرې (فَإِنْ أَبَى فَلْيُمْسِكْ أَرْضَهُ: او كه له دې ئې ډډه وكړه نو زمكه دي له ځان سره وساتي)؛ په اړه وايي: مطلب ئې دا نه دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم په دې راضي دئ چې دوی اضافي زمكه له ځان سره وساتي؛ بلكي هدف ئې دا دئ: كه زما سپارښتنه نه مني او د خپل حرص مني؛ نو له ځان سره دې وساتي.

د صحيح مسلم د باقي نورو ټولو رواياتو اصلي مطلب دې ته ورته دئ.

كه احياناً د اضافي زمكو خاوندان؛ بل مسلمان ته د دې زمكو له وركولو ډډه وكړي؛ او د رسول الله صلى الله عليه و سلم د دې لارښوونې او سپارښتني خلاف دا زمكه له ده سره پاته شي؛ نو له مرګ وروسته به ئې د ده په ورثه وو وېشل كېږي او په دې توګه به د زمكو او شتمنيو د وېش او له ټمركز ئې د مخنيوي سنت په خپله عملي كېږي او د ټمركز له شر به ئې ټولنه خوندي پاته كېږي.

محققين وايي: امام ابو حنيفه، امام شافعي او امام مالك په همدې رأى دي چې زمكه د خپل حاصل په يوې برخې په اجاره وركول جائز نه دي؛ ځكه چې دا په مجهول او غير يقيني عوض او بدلې كې په اجاره وركول دي؛ په المُدَوَّنة (د مالكي مذهب مهم فقهي كتاب) كې راغلي: جائز نه دي چې زمكه د حاصل يوې برخې په بدل كې په اجاره وركړی شي.

(بينما ذهب الشافعي ومالك وأبو حنيفة إلى أنه لا تجوز إجارة الأرض ببعض ما يخرج منها، لأنها أجرة بعوض مجهول، جاء في المدونة: لا يجوز كراء الأرض بشيء مما تنبته.)

که څه هم ځينو د ټاکلي او معلوم مبلغ په بدل کې د زمکې اجاره جائز ګڼلې؛ خو که د زمکې د ټاکلي حاصل په بدل کې اجاره په دې دليل جائز نه وي چې حاصل ئې مجهول او غير ثابت دئ؛ نو په ټاکلي مبلغ او سِکې ئې اجاره جائز ګڼل موجه نه ده؛ ځکه د سکې قيمت هم مجهول دئ؛ د کال د پيل او پای ارزښت ئې ثابت نه وي؛ سمه او د دغو معتبرو رواياتو مطابق رأی دا ده چې په لاندي روايت کې راغلې او د ابن عمر له قول وايي: مورِ به زمکه په اجاره ورکوله؛ خو کله چې ما د رافع بن خديج حديث واورېدو دا کار مې پرېښود.

عَنْ نَافِعٍ، أَنَّهُ سَمِعَ ابْنَ عُمَرَ، يَقُولُ: كُنَّا نُكْرِى أَرْضَنَا، ثُمَّ تَرَكْنَا ذَلِكَ حِينَ سَمِعْنَا حَدِيثَ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ. مسلم

له نافع روايت دئ چې وايي: له ابن عمر مي واورېدل چې ويل ئې: مورِ به خپله زمکه په اجاره ورکوله؛ خو کله چې ما د رافع بن خديج حديث واورېدو دا کار مې پرېښود.

خو که څوک خپله زمکه په خپله او تر خپل نظارت او اشراف لاندي وکړي، ګټه او تاوان ئې خپل وي؛ خو د کار لپاره د عادلانه مزد په بدل کې بزګران استخدام کړي؛ نو په دې کې څه حرج او ممانعت نه ليدل کېږي.

د اسلام اقتصادي سيستم نه يوازي د دغو دوو سيستمونو په پرتله پورتني امتيازات لري بلکې له دې پلوه هم ممتاز دئ چې اقتصاد ئې د يوه داسي نظام برخه ده چې پر اغېزمنو ديني، معنوي او اخلاقي بنسټونو ولاړ دئ؛ د ښه او بد، حلال او حرام، مفيد او مضر، الهي او غير الهي، انساني او غير انساني کړنو په اړه څرګندي کړښې او واضح لارښوونې د مسلمان مخي ته ږدي؛ هغه ته وايي: دا زمکه او آسمان او په عالم کې

هر څه او ټول هغه نعمتونه چې تا ته درکړی شوي؛ دا هغه الله تعالی پیدا کړي چې ستا او د ټول عالم رب او پالونکی دئ؛ د دې نعمت شکر ایجابوي چې نه ئې په لاسته راوړو کې حرامي لاري غوره کړي او نه ئې په لګولو او مصرف کې؛ څوك چې له دې نعمتونو محروم دئ؛ په حقیقت کې له خپل مسلم حق محروم شوی؛ د ټولني ظالمانه او غیر عادلانه نظام او د شتمنیو او الهي نعمتونو غیر منصفانه او ناسم وېش؛ دی محروم کړی؛ هغه ستا ورور دئ او ستا په نعمتونو او مال کې د هغه ثابت حق دئ؛ حکام ئې د خلکو د امانتونو امین او د محرومانو او مسکینانو د متکفل په نامه یاد کړي؛ د دوی د انتخاب حق ئې ولس ته ورکړی، د حکامو پر ټولو کړنو ئې جمعي نظارت تضمین کړی، د امر بالمعروف (په ښېګڼو ګمارنه)، نهي عن المنکر (له بدو کړنو مخنیوی)، دعوت الی الخیر (د خیر لوري ته بلنه)، د مظلوم مرسته، د ظلم او ظالم مخنیوی؛ امیر په دې ګمارل چې هره ورځ به پنځه ځلي په جومات کې د لمونځ کوونکو امامت کوي، د جمعې ورځي د امامت تر څنګ به ولس ته په خپلي خطبې کې ټول مهم ورځني مسائل بیانوي؛ او ډیر نور هغه امور چې د دیکتاتوري، استبداد، انحراف، خپلسریو او ناروا وو مخه نیسي او د حکومت پر تصرفاتو عمومي نظارت تأمینوي.

په مقابل کې ئې کمونستي او پانګوال نظامونه د ایدیولوژي له تشي سره مخامخ دي؛ مسیحیت او مذهبي کتاب ئې بایبل نه د سیاسي او اجتماعي نظام په اړه څه لري او نه د اقتصاد په شمول د انساني ژوند د نورو برخو په اړه؛ د مسیحیانو په ټول ژوند کې یوازي دومره اغېز لري چې د لوړي او قسم لپاره لاس پرې کښېږدي او ځینې ئې په اونۍ کې یو ځل کلیسا ته ولاړ شي؛ څو دقیقې یوه تکراري دعاء له کشیش واوري او په پای کې د سینې پر ښۍ او کینې برخي او پر تندي ګوته کښېږدي او په دې سره د خپل خدای د زوی مسیح د پانسي کېدا او پر سینې او تندي ئې د مېخونو ټکوهل ورپه یاد شي؛ په مسیحي ټولنو کې د دغو شمېر هم ښایي ۰,۰۱ سلنه هم نه وي. خو اسلام او نظام ئې تر ۱۴

پېړيو زياته تاريخي سابقه لري، نن او په دې ۲۱ پېړۍ کې نژدې دوه ملیارد هغه مسلمانان پرې باور لري چې اسلام ئې په خپله خوښه د دين په توګه غوره کړی، که څه هم اسلام د سياسي او اجتماعي حاکم نظام په توګه ډېره موده ګوښه کړی شوی؛ خو مسلمانان په خپل شخصي ژوند کې د دې دين په ډېرو برخو عمل کوي، د زکات، عشر، ميراث او سود په شمول؛ د نړۍ دغه دوه ملیارده انسانان اسلام ته پر ټولو اديانو او ټولو سياسي، اجتماعي او اقتصادي سيستمونو ترجيح ورکوي، د اسلام اقتصادي نظام او لارښوونې ئې د نړۍ تر ټولو اقتصادي نظامونو غوره بولي. اسلام که له يوې خوا پانګوال نظام او ټول فکري، سياسي، اجتماعي او اقتصادي بنسټونه ئې مردود ګڼي؛ له بلې خوا کمونيزم او ټول بنسټونه ئې ردوي؛ کمونيزم چې پر الحاد او له الله تعالی انکار ولاړ دئ؛ په انساني تاريخ کې هيڅ د پام وړ مخينه نه لري؛ د تاريخ په اوږدو کې دا لومړی ځل دئ چې د زور له لارې پر يوې ټولنې حکومت کوي؛ هغه هم داسي چې نيمه پېړۍ وړاندې چا په مسکو کې د خدای نوم نه شو اخيستلی؛ له خدای انکار پرې تحميل شوی وو؛ خو نن د روسيې جمهور رئيس د تلويزيوني کامرو په وړاندې د مسلمانانو سپېڅلي کتاب قرآن ښکلوي او په مسکو کې د اروپا تر ټولو ستر او پراخ داسي جومات جوړ شوی چې د اختر په لمونځونو کې ئې په لکونو روسان په کې شرکت کوي!! الحاد او له الله تعالی انکار تل همداسي په تاريخ کې کله کله او د بوږبوکۍ په څېر راخرګند شوی او ژر له منځه تللی؛ اصلاً د هغو انسانانو شمېر په محاسبه کې هم نه راځي چې له خدای انکار ئې مذهب وي، انسان د پيدايښت له ورځې بيا تر ننه تل پر خدای باور درلود؛ دا باور ئې هم د فطرت برخه ده او هم د عقل غوښتنه؛ که کله خپل هوس له الله تعالی انکار ته هڅولی يا د بل زور انکار ته اړ کړی؛ ژر ئې عقل سر ته راغلی او بېرته خپل فطرت ته ستون شوی، تر کمونيزم وړاندې هم روسانو پر خدای باور درلود او هم چينايانو؛ په دواړو کې د الحاد بوږبوکۍ عمر ډېر لنډ وو؛ همداسي د کمونيزم اجتماعي او اقتصادي سيستم او ټول

مباني او بنسټونه ئې محکوموي؛ اسلام د انسانانو تر منځ په برابري او عدالت باور لري، ټول د يوه نسل او نژاد او د يوه پلار اولاد، نه د فردي ملکيت له نفی سره موافق دئ، نه له حزبي او فردي ديکتاتوري سره، نه له استبداد او اختناق سره، نه په زور د عقيدې له تحميل سره؛ اسلام د تاريخ تر ټولو ستر امت او پراخه امپراطوري رامنځته کړه، ايديوژي، سياسي، اجتماعي او اقتصادي نظام ئې د داسي ستر او پراخ هېواد فکري، اعتقادي او عملي اساس او بنسټ وو چې لمن ئې له مراکش تر هند او له قفقاز تر يمن پوري پراخه شوې وه، په لسګونو اوسني هېوادونه ئې ايالتونه او ولايتونه ول؛ په سلګونو قومونه ئې د واحد امت غړي ول، خدای ئې يو، قبله ئې يوه، دين ئې يو او د حلال او حرام پولې ئې يو ډول. د تېرې پېړۍ تر ۱۹۲٤ ميلادي کال (نژدې ۱۰۰ کاله وړاندي) لا د نړۍ تر ټولو ستر هېواد وو؛ د اروپا ډېرو اوسنيو مهمو هېوادونو جزيې ورکولې، هغه ملتونه چې اسلام ئې په خپله خوښه غوره کړی؛ سره له دې چې په تېرو څورلس نيمو پېړيو کې له ډېرو کورنيو او بهرنيو ستونزو، بريدونو او تحميلي جګړو سره مخامخ شوي، هېوادونه ئې اشغال شوي، شتمنۍ ئې غارت شوې او لاس پوڅي حکومتونه پرې تحميل شوي؛ خو نه ئې دا دين پرېښی او نه ئې بل دين ته مخه کړې؛ تل ئې له اسلام دفاع کړې او د هر فکري او نظامي يرغل په وړاندي مضبوط او ثابت قدم پاته شوي؛ دا دئ په تېرې يوې پېړۍ کې ئې د دريو زبر ځواکونو؛ بريتانيا، شوروي او امريکا په وړاندي په داسي حال کې بريالۍ مقابله وکړه چې هر يو ئې د خپل دور يوازينی ستر ځواك وو او په نړۍ کې ئې رقيب نه درلود؛ شوروي امريکا ته په ويتنام کې ماته ورکړه؛ نيمايي اروپا ئې نيولې وه؛ په اسلامي نړۍ کې ئې د مصر، عراق، سوريه، يمن او سودان په څېر هېوادونه په اقمارو کې شامل شوي وو؛ غرب پر افغانستان د شوروي تېری او اشغال داسي تعبيرولو چې دا د آسيا پر هغي ستراتيژيکي سيمي د شوروي اتحاد د تسلط پيلامه ده چې د ايران، پاکستان، سعودي، کويټ او د خليج نور شتمن هېوادونه او د نفت او ګاز ذخائر

ئې په غېږ کې دي؛ مرکزي آسيا چې د نفت او ګاز بله سترە او پراخه ساحه وه د شوروي په واك کې وه، په چين کې د شوروي په مرسته کمونستي انقلاب راغی، په جنوبي امريکا کې کمونستي خوځښتونه پيل شول، په کيوبا کې د امريکا تر زنې لاندي روسي پلوه انقلابيونو اقتدار تر لاسه کړ؛ غرب او په سر کې ئې امريکا؛ د کمونيزم په وړاندي له هره پلوه د ماتې په حال کې وو، نه د غرب ټيکنالوژي او نظامي تجهيزاتو د شوروي مقابله کولی شوه، نه ئې سيکولريزم، ليبرليزم او منحط مسيحيت او نه اقتصادي سياستونو او تګلارو؛ په هري برخي کې ئې خپل سنګرونه او اقمار د شوروي په ګټه له لاسه ورکول.

اسلام له دې دواړو اقتصادي سيستمونو او له فکري بنسټونو سره ئې ژور توپيرونه لري؛ نه له دې سره موافق دئ چې فردي ملکيت لغوه او د ټولنې ټولې شتمنۍ يا د دولت په واك کې وي او يا د معدودو شتمنو تر منځ لاس په لاس شي، هم د شتمنيو له دولتي کولو سره مخالف دئ او هم د اغنياءو په لاس کې د شتمنيو له تمرکز سره، پر عادلانه توزيع او وېش تأکيد کوي او اقتصادي سيستم پر داسي بنسټونو ودروي او داسي اصول ئې وضع کړي چې دې اهدافو ته رسېدنه ميسر او آسانه کوي. قرآن فرمايي:

...كَيْ لَا يَكُونَ دُولَةَۢ بَيْنَ ٱلْأَغْنِيَآءِ مِنكُمْۚ وَمَآ ءَاتَىٰكُمُ ٱلرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَىٰكُمْ عَنْهُ فَٱنتَهُواْۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۖ إِنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلْعِقَابِ ٧

الحشر

... دا د دې لپاره چې هغه (شتمني) ستاسو د غنيانو تر منځ لاس په لاس نه شي، پيغمبر چې تاسو ته څه درکړي هغه واخلئ او له څه ئې چې منع کړئ له هغه ډډه وکړئ او له الله ووېرېږئ، يقيناً چې الله شديد العقاب دئ.

دلته د اسلام د اقتصادي نظام يو بنسټيز او اساسي اصل زمونږ مخي ته ځلېږي، وايي: فيء ځکه غنيمت نه ګڼل کېږي او بايد په حاجتمنو

ووېشل شي چې شتمني د غنيانو تر منځ لاس په لاس نه شي، يعني مال او دولت د څو شتمنو او غنيانو په لاس کې محصور او محدود نه شي بلکې په پراخه پيمانه ووېشل شي او د څو کسانو په لاس کې د شتمنيو له تمرکز مخنيوی وشي، دا اصل که له يوې خوا مورِ ته لارښوونه کوي چې د غنيمت او فيء د وېش قوانين د دې لپاره وضع شوي چې د مفتوحه سيمو زمکې، مالونه، وسائل او نوري شتمنۍ يوازې د هغو لاس ته ورنه شي چې وسله لري او په فتوحاتو کې ئې برخه اخيستې، بلکې بايد ووېشل شي او د حاجتمنو اړتياوو ته په پام سره په ضروري مواردو کې وکارول شي، له بلې خوا مورِ ته وايي چې د اغنياوو په لاس کې د شتمنيو تمرکز هغه څه دي چې الله تعالی ئې نه خوښوي او دا بايد د اسلامي نظام د مهمو اهدافو په ضمن کې وي چې د شتمنيو وېش عادلانه وي او د اغنياوو په واک کې د هغوی له تمرکز مخنيوی وشي، داسي نه لکه اوسنی غربي پانګوال نظام چې په هغه کې غني ورځ تر بلې لا زيات غني کېږي او فقير لازيات فقير کېږي، دا نن په امريکا کې پانګوال نظام په دې منتج شوی چې د متحده ايالاتو اتيا سلنه شتمني د څو تنو شتمنو په واک کې ده، که پر امريکا باندې داسي قهرجن او ځواکمن پوليسي نظام حاکم نه وی چې هر پاڅون ئې په شدت او قهر سره ځپلی نو ډېر پخوا به دا نظام ړنګ شوی وو، دا څووم کال دئ چې په امريکا کې د دې نظام په ضد تر دې نامه لاندې پاڅون پيل شوی چې (وال سټريټ محاصره کړئ)، وال سټريټ د امريکايي پانګوال نظام د ملا تير دئ، که امريکا د وسلو د خرڅلاو بازارونه له لاسه ورکړي، که ډالر په جهاني تجارتي تبادلاتو کې خپل ځای نورو اسعارو ته پرېږدي او اوسنی اعتبار ئې له منځه ولاړ شي، که امريکا په خپلو مستعمراتو کې خپل ماريکټونه له لاسه ورکړي، نو امريکا به نه يوازې خپل اوسنی حالت د لنډې مودې لپاره ونه شي ساتلی بلکې ډېر ژر به د شوروي اتحاد په برخليك اخته شي. د امريکا نوی جمهور رئيس ټرامپ په انتخاباتو کې له بريا وروسته او سپيني مانۍ ته تر ننوتلو وړاندې؛ درې هېوادونه چين، برازيل او کانادا وګواښل چې که

د بريکس ملګرتيا ته دوام ورکړي او د ډالر پر ځای د نويې کرنسۍ رامنځته کېدو ملاتړ وکړي نو امريکا به سل سلنه ګمرکي تعرفې پرې وضع کړي.

اسلام دې هدف ته د رسېدو لپاره چې شتمني د اغنياوو تر منځ لاس په لاس نه شي؛ ځانګړې جامع او اغېزمنه تګلاره غوره کړې، سود او احتکار ئې حرام کړي چې دا دواړه د پانګوال نظام دوه اساسي بنسټونه دي، د ميراث داسي قانون ئې وضع کړی چې د هر شتمن له وفات وروسته د هغه شتمني د ډېرو تر منځ ووېشل شي، زکات ئې فرض کړی، صدقات او کفارې ئې لازم کړې، اغنياوو ته وايي: ستاسو په مالونو کې د مسکينانو يو ثابت حق دئ چې بايد اداء ئې کړئ، حکومت په دې ګماري چې د نېستمنو متکفل وي او د دولت له بيت المال د دوی حاجتونه رفع کړي.

د الحشر سورې په اُوم آيت کې د اسلام يوه بل اساسي او بنيادي اصل ته هم اشاره شوې او هغه دا چې مؤمنانو ته ويل شوي: پيغمبر چې تاسو ته څه درکړي هغه واخلئ او له څه ئې چې منع کړئ له هغه ډډه وکړئ، په دې وينا سره يوازي د غنائمو د وېش په اړه لارښوونه نه ده شوې بلکې ميدان ئې ډېر پراخ دئ او د ژوند ټول ابعاد احتواء کوي، مطلب ئې دا دئ چې د جائز او ناجائز، حلال او حرام، روا او ناروا په اړه به د رسول الله صلى الله عليه و سلم وينا او پرېکړه معيار او ملاك ګڼئ، د هغه څه تر لاسه کولو حق به ځان ته ورکوئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم درته جائز کړي او له هغه څه به ډډه کوئ چې ده درته ناروا ګڼلي.

د اوم آيت په پای کې ويل شوي: له الله تعالى ووېرېږئ، يقيناً چې الله شديد العقاب دئ. يعني په خپلو ټولو تصرفاتو او کړنو کې محتاط اوسئ او له داسي څه ځان وساتئ چې الله تعالى پرې ناراض کېږي او د شديد العقاب رب له نيوني او مؤاخذې سره مو مخامخ کوي.

په دې مبارك آيت کې د اسلامي اقتصاد يو له اساسي اصولو او د دې

نظام او تګلاري يو ځلانده هدف؛ زمونږ په وړاندي ځليږي؛ لارښوونه ئې دا ده چې: د معدودو اغنياء او شتمنو په لاس کې د ټولني د شتمنيو تمرکز هغه څه دي چې الله تعالی ئې نه خوښوي او د ده د دين لارښوونې، مقتضيات او ضوابط داسې دي چې د دې آفت مخنيوی پرې کوي؛ او همدا بايد د اسلامي نظام د واکمنو او مسئولينو اساسي دنده او يو له مهمو اهدافو وي چې د عامه شتمنيو وېش عادلانه وي او د لږ شمېر شتمنو په لاس کې ئې له تمرکز مخنيوی وکړي.

آيا سفيه غربپال سيکولران په دې پوهېږي چې غربي پانګوال نظام (کاپيتاليزم) پر دې ظالمانه بنسټ ولاړ دئ چې د شتمنو لاس د عام ولس په شکولو او غارت کې آزاد پرېږدي، ټولې شتمنۍ د څو اغنياءو په لاس کې داسې متمرکز کېږي چې د هري ورځې په تېرېدو سره غنی لا زيات غني او فقير لا زيات فقير شي؟! نظام په بشپړه توګه د اغنياءو په چوپړ کې پرېوځي، نن د امريکا؛ تر اتيا سلنې زياته شتمني، د کر زمکې، د توليد وسائل، فابريکې، حتی د درنو وسلو جوړولو فابريکې، د څو سترو سترو شتمنو په واک کې دي؛ ښايي د سترو او متوسطو شتمنو شمېر به د امريکايي ټولني لس سلنه هم نه وي؛ ۵۳ کلن ايلان ماسک کولی شي د داسې فقر له حالت چې امريکا ته د تګ په وخت کې په يوې کرايي خونې کې اوسېدو؛ خو د نژدې دېرشو کلونو په تېرېدو سره نن د نړۍ تر ټولو ستر شتمن دئ؛ شتمني ئې د افغانستان په څېر د پنځوسو هېوادو تر کلنۍ بودجې زياته ده!! او اغېز ئې د امريکايي ټولني پر سياسي او اجتماعي کاواک او له معنويت او عدالت تش جوړښت دومره دئ چې د ټرامپ په انتخاباتي بريا او سپيني ماڼۍ ته په رسولو کې د ده لويه ونډه وه؛ په دې انتخاباتو کې د دوارو ګوندونو د نوماندانو ټرامپ او هريس پر انتخاباتي سيالیو ۳,۵ مليارده ډالر لګښت راغلی؛ بريا د هغه په برخه شوې چې شتمن حاميان ئې زيات او له تبليغاتي پلوه پر بل برلاسی وو؛ لکه څنګه چې دا انتخابات د ډېر لګښت له پلوه د امريکا په تاريخ کې بې مخينې دئ په کابينه کې د شتمنو ملياردرانو د زيات

شمېر له پلوه به هم ساری نه لري؛ دې کابينې ته د ملياردرانو د کابينې نوم ورکړی شوی؛ بلومبرګ ليکلي چې په يوه ورځ (چهارشنبه ۶ نومبر) ۱۰ نړۍ وال شتمنو؛ نژدې ۶۴ ميلياردې ډالر ګټه کړې او په دې کې د ايلان مسک برخه ۲۶.۵ ميلياردې ډالر وه او په دې سره د ده شتمني ۲۹۰ ميلياردې ډالرو ته ورسېده. څوک چې دا هر څه اوري؛ په امريکايي انتخاباتو کې د ملياردرانو کرکجنه سيالي او مستي ګوري، خو کله چې د واشنګټن او نيويارک د واټونو څنګ کې؛ دلته او هلته؛ هغه ګڼ شمېر بې کوره خلك هم ګوري چې په ژمي او دوبي کې؛ د پلاستيك په کڅوړې کې شپه تېروي؛ او هغه کارګر او مأمور هم ويني چې دی او مېرمن ئې بايد هره شپه او ورځ تر ۱۰ ساعته کار وکړي چې د واړه کور کرايه او د کورنۍ مصارف پوره کړي؛ د اولاد له زېږولو ځکه ډډه کوي چې د مصارفو له عهدې ئې نه شي وتلی او پر ځای ئې پشې او سپی ساتی!! خدای خبر چې که ننۍ امريکا وېروونکی، ستر او ځواکمن پوليسي او جاسوسي هغه نظام نه درلودی چې د محرومو او نادارو وګړو هر ولسي پاڅون او د عدالت غوښتني هر خوځښت؛ که دا د تورپوستو له لوري وي او که د نورو غېر سپين پوستو اقليتونو له لوري؛ په اوسپنيز سوك ځپي؛ نو لا کله به کلونه کلونه وړاندې؛ د دې پانګوال نظام خلاف د قيامونو او انقلابونو شاهد وو!! «مارکس» او «انګلز»؛ نژدې سل کاله وړاندې؛ د همدې غربي نظام (چې هغوی ورته د بورژوازي نوم ورکړی وو)؛ خلاف د کارګرانو پاڅون ته منتظر ول چې د خاصو عواملو له امله د دوی انتظار ترسره نه شو!! د امريکا او بريتانيا پر ځای؛ په تزاري روسيې او فيودالي چين کې دا انقلابونه رامنځته شول.

خو دا دې اوژده موده کېږي چې د امريکا د پانګوال اقتصادي سيستم خلاف؛ داسې پراخ او مؤثر خوځښت له دې شعار سره پيل شوی چې «وال سټريټ محاصره کړئ»؛ وال سټريټ د شتمنو پر واکمنۍ ولاړ؛ د هغه اقتصادي سيستم د ملا تير دئ چې سود، احتکار، انحصار، استثمار، استعمار او استحمار ئې اصلي بنسټونه دي. د تور پوستو

وروستی پاڅون؛ چې د يوه سپين پوستي پوليس په لاس د يوه تور پوستي د وژني له کبله پيل شو؛ نه لومړی پاڅون دئ او نه وروستی؛ دا ځل ئې ډېر دوام وکړ او د ټولې نړۍ په کچه ئې د تور پوستو په شمول د نورو عدالت غوښتونکو ملا تړ تر لاسه کړ؛ دا لړۍ به روانه وي او ښايي هغه ورځ به ډېره لري نه وي چې د شوروي اتحاد په برخه ليك اخته شي.

د اسلامي اقتصاد مباني

څوك چې له اسلام او لارښوونو او تګلارو ئې په لږ څه پوه وي؛ نو پوهېږي چې اسلام خپل مستقل اقتصادی نظام او تګلاره لري؛ هم د غرب له پانګوال نظام سره پراخ مغايرت او توپيرونه لري او هم د مارکسيسزم او سوسياليزم له اقتصادی سيستم سره.

اسلام د انسانانو (نارينه او ښځينه) کسب او کار؛ معيار ګڼي او هغه ته درناوی کوي، د لاسته راوړنو منشأ او بنسټ ئې نيسي؛ خو د کسب او کار او لاسته راوړنو د څرنګوالي په اړه داسي واضح او پر حق او عدالت ولاړ اصول او لارښوونې لري چې په دې سره د نړۍ دواړه مروج ظالمانه او غير انساني سيستمونه ردوي؛ او فرمايي:

وَلَا تَتَمَنَّوۡاْ مَا فَضَّلَ ٱللَّهُ بِهِۦ بَعۡضَكُمۡ عَلَىٰ بَعۡضٖۚ لِّلرِّجَالِ نَصِيبٞ مِّمَّا ٱكۡتَسَبُواْۖ وَلِلنِّسَآءِ نَصِيبٞ مِّمَّا ٱكۡتَسَبۡنَۚ وَسۡـَٔلُواْ ٱللَّهَ مِن فَضۡلِهِۦٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٗا ٣٢ النساء

او د هغه څه هيله او تلوسه مه کوئ چې الله ستاسو يوه ته پر بل فضيلت پرې ورکړی، نارينه وو ته د خپلو لاسته راوړنو ځانګړې برخه ده او ښځو ته د خپلو لاسته راوړنو ځانګړې برخه او له الله د ده فضل وغواړئ؛ يقيناً چې الله په هر څه ښه پوه دئ.

دا آيت په داسي ځای کې راغلی چې تر دې مخکې او وروسته د مال

او ميراث په اړه بحث کېږي؛ دلته هم د دغي موضوع په اړه ځانګړې توصيې شوې او ويل شوي چې د بل شته بايد په تا کې حرص او حسد راولاړ نه کړي، هر څوك به خپلې لاسته راوړني مومي، که نارينه وي او که ښځينه؛ د مال او دولت د تمنی او له بل سره د حسادت او رڅې پر ځای؛ رغنده، سم او صالح کړنو او عملونو ته ملا وتړئ؛ هغو نېکو عملونو ته اهتمام وکړئ چې د الله په خوا کې به ئې حتماً بيا مومئ او که مال او دولت غواړئ نو له الله ئې وغواړئ، له روا او جائزو لارو ئې د لاس ته راوړو هڅه وکړئ.

يعني د شتمنيو د وېش معيار او ملاك دا دئ: (هر چا ته د خپل جائز کار په اندازه)؛ (هر څوك خپله خصوصي شتمني درلودی شي مشروط په دې چې له مشروع او قانوني لارو تر لاسه شوې وي)؛ (نه له ناجائزو لارو او نه د منفي سيالیو او رقابتونو له لاري) او (نه د الهي لارښوونو او قوانينو خلاف). همدا د اسلامي اقتصاد د فلسفې او ليد لوري اجمال او خلاصه ده.

اسلام د اقتصاد او اړوند مسائلو په ارتباط؛ نه يوازې اساسي اصول او مباني او مهم او محوري قضايا څېړلې؛ رغنده او جامع لارښوونې لري؛ بلکې تر څنګ ئې ډېرو عادي، بسيط او ساده ورځنيو چارو ته هم کتلې او لازم هدايات ئې زمونږ مخې ته ايښي؛ د ژوند هيڅ اړخ ئې؛ که وړ دئ او که ستر؛ که د کور، کلي او ملت په کچه وي او که د هېواد او نړۍ په کچه؛ مَهْمَل نه دئ پرېښی؛ د دوو تنو تر منځ پور، پېر پلور، ګرو، اجاره، مضاربت او مشارکت، دا چې د زمکې او کور د پېر پلور په معامله کې؛ لومړی درجه مستحق څوك دئ، څوك ارجحيت لري؛ د شفع، جوار او ګاونډتوب حق څومره دئ؛ او د کور جوړولو په وخت کې د ګاونډيانو په وړاندې کوم وجائب او مسئوليتونه لري او د کومو ملحوظاتو او مطالبو په مراعات مکلف دئ؛ لکه دا چې حق نه لري خپل کور داسې جوړ کړي چې د ګاونډ پر کور مُشْرِف وي او د کور منځ ترې وليدل شي؛ مالي او تجارتي ټرونونه او د پور، وديعه، امانت او پېر پلور اسناد به

څوك ليکي، املاء به ئې د چا له لوري وي او ليکنه ئې د چا په لاس، گواهان او شاهدان به څو تنه وي او مسئوليت به ئې څه وي!!

قرآن که له يوې خوا رباء او سود له الله او رسول الله سره د جنگ مترادف ګڼلی او دا د اسلامي حکومت دنده او مکلفيت بولي چې د سود خورو په خلاف جنگ اعلان کړي؛ له بلي خوا وايي: چا چې لا إله إلا الله وويل سر، مال او عزت ئې خوندي دئ؛

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَقُولُوا لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، فَمَنْ قَالَ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ فَقَدْ عَصَمَ مِنِّي نَفْسَهُ وَمَالَهُ إِلَّا بِحَقِّهِ، وَحِسَابُهُ عَلَى اللهِ " رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

له ابو هريره روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: ما ته امر شوی چې له خلکو سره يوازي تر هغه وجنګېږم چې ووايي: لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ: له الله پرته بل معبود او إله نه شته؛ نو څوك چې لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ ووايي خپل سر او مال ئې له ما خوندي کړی؛ مګر په حق سره ئې، او حساب ئې پر الله دئ.

يعني اسلامي حکومت او واکمن ئې حق نه لري له هغه چا سره وجنګېږي چې پر الله تعالى ايمان لري؛ نه يوازي دا بلکې مکلف دي چې د داسي کس د سر او مال خوندیتوب تضمين او تأمين کړي. خو له دې امان ئې سود خور مستثنی کړی؛ سودخور د جنګ وړ دئ، له هغه سره جنګ کېدی شي؛ ځکه چې هغه د مظلوم او محتاج انسان مال په ناحقه خوري؛ هغه ټولنه د داسي فقر په لوري بيايي چې ناامني او جګړې به رامنځته کوي. د دې مطلب تفصيل تر دې عنوان لاندي (مؤمنانو ته د سود په اړه د قرآن لارښوونه) په ۹۷ صفحه کې وګورئ.

اسلام هر مسلمان ته هم دا حق ورکوي چې له خپل شخصي حريم، کور او شتمني دفاع وکړي، که کوم متجاوز وغواړي د ده په لاس کې کوم عادي شی په زور ترې واخلي؛ نه دې ورکوي او بايد زور او تجاوز ته تسليم نه شي؛ که دا امتناع په جګړې منتج شي او دی په کې ووژل شي؛

شهيد دئ او كه متجاوز ووژل شي مرګ ئې هدر دئ؛ راشئ وګورو چې زمور ګران پيغمبر عليه السلام په دې اړه څه فرمايي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ! أَرَأَيْتَ إِنْ جَاءَ رَجُلٌ يُرِيدُ أَخْذَ مَالِي؟ قَالَ: "فَلَا تُعْطِهِ مَالَكَ" قَالَ: أَرَأَيْتَ إِنْ قَاتَلَنِي؟ قَالَ: "قَاتِلْهُ" قَالَ: أَرَأَيْتَ إِنْ قَتَلَنِي؟ قَالَ: "فَأَنْتَ شَهِيدٌ"، قَالَ: أَرَأَيْتَ إِنْ قَتَلْتُهُ؟ قَالَ: "هُوَ فِي النَّارِ" صحيح مسلم

له ابو هريره روايت دئ چې وايي: يو سړی رسول الله صلی الله عليه و سلم ته راغی او وئې ويل: يا رسول الله! د هغه چا په اړه څه مشوره راکوې چې راشي او زما مال رانه اخلي؟ وئې فرمايل: خپل مال مه ورکوه، وئې ويل: که جګړه ئې راسره کوله؟ وئې فرمايل: ورسره وجنګېږه، وئې ويل: که ئې ووژلم؟ وئې فرمايل: نو ته به شهيد وې، وئې ويل: که مي هغه ووژلو؟ وئې فرمايل: هغه به په اور کې وي.

همدا راز که څوک د ده خصوصي حريم ته سپکاوی وکړي؛ د کور منځ ته ئې د دروازې له چولې يا د دېوال له چاك وګوري، يا په زور د ده کور ته د ننوتلو هڅه وکړي؛ دی ئې مخنيوی وکړي او خبره نښتي ته ورسېږي او په دې نښتي کې د متجاوز سترګه زخمي يا ړنده شي؛ ديت ئې هدر دئ. په اسلام کې تجسس او د خلکو شخصي اسرارو حريم ته ننوتل، د چا جيب، بکس، کمپيوټر، مبايل او ليکلونه او ليکلي اسناد پلټل او له اسرارو ئې ځان خبرول؛ حرام دي؛ او د کور حرمت بيا دومره دئ چې که کوم قاتل د چا کور ته پناه وروړي؛ هيڅوك د پوليس، جمهور رئيس او امير المؤمنين په شمول؛ حق نه لري د کور د خاوند له اجازې او موافقې پرته او د باصلاحيته محکمې له حکم پرته کور ته ننوځي.

لکه څنګه چې اسلام شخصي کور؛ او د کور ضروري او تر استعمال لاندي سامان؛ له هر راز مالیې او زکات معاف کړي؛ هيڅوك په هيڅ نامه حق نه لري د چا د استوګني د کور او په هغه کې استعمالېدونکي اسباب او سامان مالیه ترې وغواړي؛ فقيران خو پرېږدئ؛ غنيان هم

معاف دي؛ همدا راز د اسلام له نظره د يوه انسان کور ځانګړی حرمت لري، هيڅوک حق نه لري د هغه کور ته د ده له اجازې پرته ننوځي، يا له کومي لورې، له کوم چاود، يا د دروازې له چولې د کور منځ ته وګوري، د باصلاحيته محکمې له حکم پرته هيڅوک د چا د کور د پلټنې حق نه لري که څه هم يوه قاتل هلته پناه وړې وي، په دې اړه د اسلام په لارښوونو د سړه پوهېدو لپاره د قرآن دې لارښوونې ته ځير شئ:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَدۡخُلُواْ بُيُوتًا غَيۡرَ بُيُوتِكُمۡ حَتَّىٰ تَسۡتَأۡنِسُواْ وَتُسَلِّمُواْ عَلَىٰٓ أَهۡلِهَاۚ ذَٰلِكُمۡ خَيۡرٞ لَّكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَذَكَّرُونَ ٢٧ النور

اې مؤمنانو! داسې کورونو ته مه ننوځئ چې ستاسو خپل کورونه نه وي، تر هغه چې موافقه (اجازه) وغواړئ او پر خاوندانو (استوګنو) ئې سلام واچوئ، همدا درته غوره دئ، ښايي پند واخلئ.

په دې مبارک آيت کې لاندې مهمې لارښوونې زمورږ مخې ته ځلېږي:

- مؤمنانو ته ويل شوي: داسې کورونو ته مه ننوځئ چې ستاسو خپل کورونه نه وي؛ تر هغه چې موافقه (اجازه) وغواړئ؛ او پر هستوګنو ئې سلام واچوئ؛ همدا درته غوره دئ؛ يعني د بل کور ته د ننوتلو لپاره به دوه خبرې په پام کې لرئ: لومړی دا چې د کور د خاوند او هستوګن موافقه او اجازه به تر لاسه کوئ؛ دلته د استئذان (اجازه غوښتلو) پر ځای د تستأنسوا صيغه کارول شوې چې رضايت او موافقه افاده کوي او معنی ئې دا ده چې د بل کور ته په هغه صورت کې ننوځئ چې هغه ستاسو له ورتلو سره موافق وي او د اجازې ورکولو ته اړ شوی نه وي؛ داسې نه چې هغه اجازې ورکولو ته اړ شوی وي، په وار وار او تر هغه دي دروازه ورټکولې وي چې ناچار ور درته پرانيزي او د ننوتلو اجازه درکړي او يا د ده له خوښي او موافقې پرته ورننوځي؛ دوهمه دا چې پر اوسېدونکو به سلام اچوئ؛ دا سلام يوازې د معاشرتي آدابو يوه بېلګه نه ده چې له اخلاقي پلوه ئې مراعات ضروري دئ او يوازې يوه دعاء هم نه ده؛ بلکې دا هستوګن ته د ځان له لورې د سلامتيا پيغام او د تاوان

نه رسولو ډاډ ورکول او له هغه سره ژمنه هم ده؛ له همدې پيغام سره به د بل کور ته ننوځئ، همدا ستاسو لپاره غوره دئ، دا د ډېرو ناخوالو مخنيوی کوي، هم له اخلاقي پلوه او هم له معاشرتي پلوه. خو دې ته مو پام وي چې دا نه يوازي د ټولني د افرادو تر منځ معاشرتي دود او ادب دئ بلکې د ټولني په کچه او د دولت او وګړو تر منځ د يوه قانون او الهي لارښوونې حيثيت لري؛ نه يوازي اشخاص حق نه لري د بل کور ته ننوځي، د دروازې له چاك او چاود، يا د بام له سر او له کومې لورې د بل د کور منځ ته وګوري، يا خپل کور داسې جوړ کړي چې د بل پر کور مشرف وي او منځ ئې ترې وليدی شي؛ بلکې د اسلامي حکومت هيڅ چارواکی حق نه لري د چا کور ته د شرعي محکمې له پرېکړې او د کور خاوند له موافقې پرته داخل شي؛ که دا د پلټنې په موخه وي او که د کوم مجرم د نيونې په موخه.

- که په کوم کور کې هيڅوك ونه مومئ نو تر هغه مه ورننوځئ چې اجازه درکړی شي؛ يعني تشو کورونو ته هم مه ننوځئ؛ که ننوتو ته اړ شئ نو له اجازې وروسته ورننوځئ.
- که د کوم کور دروازې ته ودرېدئ، د ننوتلو اجازه مو وغوښته او د کور له منځه مو د ننوتلو اجازه تر غوږ نه شوه او يا درته وويل شول چې ستانه شئ؛ نو ستانه شئ؛ په دروازې کې له مزيد ودرېدا او تر درې واري زيات د دروازې له ټکولو او د اجازې له غوښتلو ډډه وکړئ، په دې مه ناراضه کېږئ چې د ننوتلو اجازه درنه کړی شي، يا درته وويل شي چې اوس ستون شه او بل وخت راشه؛ همدا درته ښه پاکيزه او د پاکوالي ضامنه طريقه ده؛ الله تعالی ستاسو پر ټولو کړنو او ښو او بدو پايلو او اغېزو ئې ډېر ښه پوهېږي؛ د خپل بشپړ علم له مخې تاسو ته لارښوونه کوي چې همداسې وکړئ او په همدې کې ستاسو خير مضمر دئ.

خو که داسې کور ته د ننوتلو ضرورت احساس کړئ چې ناهستوګن وي او په هغه کې ستاسو لپاره کومه متاع او د استفادې وړ شی وي، نو په دې کې څه ګناه دربانديې نه شته چې داسې کورونو ته له اجازې پرته

ننوځئ.

- الله تعالی پوهېږي چې تاسو یوه تش یا ډك کور ته په کوم نیت ننوځئ، د کوم پټ کار اراده لرئ که د کوم څرګند کار، په نېك نیت ننوځئ که په بد نیت، تشو کورونو ته ننوتل ډېر ځلي په دې نیت وي چې څوك غواړي د نورو له نظره پټ کوم کار وکړي، نو ځکه دلته ویل شوي چې الله تعالی په هر هغه څه پوهېږي چې تاسو ئې په څرګنده یا په پټه توګه کوئ.
- که څه هم په دې آیت کې مورِ ته دا لارښوونه شوې چې د چا کور او استوګنځي ته د هغه له موافقې او اجازې پرته داخل نه شو، خو د دې لارښوونې لازمي مقتضی دا ده چې له هر هغه عمل هم ډډه وکړو چې د بل کور ته له اجازې او موافقې پرته د دخول او ننوتلو په معنی تعبیرېږي، لکه تجسس، دا هڅه چې په شو په دې کور کې څه تېرېږي، د دېوال له شا، د دروازې له چاود او د بل بام له سر د کور منځ ته کتل، له لرې په دوربین سره د کور منځ څارل، د ټیلفون غږ ئې ثبتول، استراق السمع او داسي وسائل لګول چې د استوګن غږ واورېدی شي؛ دا ټول د دې لارښوونې خلاف کړنې دي. که کوم کور یا خونه دروازه نه لري، یا داسي پرده پرې ځوړنده وي چې د کور او خونې منځ ترې معلومېږي، نو داسي ودرېدل د دې لارښوونې خلاف عمل دئ چې لومړی ځان کوربه ته وروښيي، یا د کور منځ ته وګوري، یا د استوګن د لیدو هڅه وکړي او بیا د ننوتلو اجازه وغواړي.
- دا پوښتنه هم راولاړېږي چې د بل کور ته تر ننوتلو وړاندي لومړی سلام اچول دي که د ننوتلو اجازه غوښتل؟ ځواب دا دئ چې د آیت له مخې لومړی استئناس دئ او بیا سلام، لومړی دروازه ټکول دي، کله چې ورته معلومه شي چې په کور کې څوك شته او د ده غږ اوري نو بیا سلام اچول او د ننوتلو اجازه غوښتل دي. که د ټیلفون له لاري د اجازې غوښتل ممکن وي نو لومړی ټیلفون کول دي، بیا سلام اچول او بیا د ننوتلو اجازه او موافقه تر لاسه کول دي.

د دې مطلب په سبه پوهېدو کې دا روايات زمونږ مزيد مرسته کوي:

عن ابی هريرة أَنَّ رَسُول اللَّه صلى الله عليه و سلم قَالَ: مَنْ اِطَّلَعَ فِی بَيْت قَوْم فَفَقَئُوا عَيْنه، فَلَا دِيَة لَهُ وَلَا قِصَاص " رَوَاهُ النَّسَايِیُّ

عن أَبِی هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِیَّ صلى الله عليه و سلم قَالَ:«مَنِ اطَّلَعَ فِی دَارِ قَوْمٍ بَغَيْرِ إِذْنِهِمْ فَفَقَئُوا عَيْنَهُ هُدِرَتْ عَيْنُهُ » رواه ابو داؤد

امام شافعي د دغو رواياتو ظاهري الفاظو ته په پام سره وايي چې که څوك د بل چا د کور منځ ته نظر وکړي او هستوګن ئې د هغه سترګه ړنده کړي ديت او قصاص پرې نه شته. خو احناف په دې عقيده دي چې دا حکم د داسي حالت اړوند حکم دئ چې څوك له اجازې پرته د بل کور ته ننوځي، کوربه ئې مخنيوی وکړي، سره لاس او ګرېوان شي، په دې ترڅ کې د ننوتونکي سترګه ړنده شي، نو د کور پر خاوند ديت او قصاص نه لازمېږي. بايد ووايو چې د چا کور ته د دروازې له چولې کتل دومره ستر جرم نه دئ چې سزا ئې د سترګې ړندول وي. د اړوند روايت غوره توجيه همغه ده چې احناف ئې وړاندي کوي.

عن عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم قَالَ « لاَ تَسْتُرُوا الْجُدُرَ مَنْ نَظَرَ فِی كِتَابِ أَخِيهِ بِغَيْرِ إِذْنِهِ فَإِنَّمَا يَنْظُرُ فِی النَّارِ. سنن ابی داؤد

له عبد الله بن عباس رضی الله عنهما روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: د دېوالونو له پردې مه اوړئ، چا چې د خپل ورور ليك ته د هغه له اجازې پرته وکتل نو اور ته ئې کتلي. يعني دا داسي ګناه ده چې د دوزخ اور ورپه برخه کوي.

عَنْ أَبِی هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:"إِذَا دَخَلَ الْبَصَرُ فَلا إِذْنَ" المعجم الكبير للطبرانی

له ابوهريره رضی الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و

سلم وفرمايل: كله چي سترګه ننوځي بيا اجازه نه شته، يعني كله چي څوك د بل كور او خوني ته نظر وكړي بيا نو د اجازې اخيستو ضرورت او ارزښت منتفي شي، هغه اجازه هيڅ ارزښت نه لري چي له كتلو وروسته وي.

عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ، أَنّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم سَأَلَهُ رَجُلٌ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَسْتَأْذِنُ عَلَى أُمِّي؟ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: نَعَمْ فَقَالَ الرَّجُلُ: إِنِّي مَعَهَا فِي الْبَيْتِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم: اسْتَأْذِنْ عَلَيْهَا، فَقَالَ الرَّجُلُ: إِنِّي خَادِمُهَا، فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم: أَتُحِبُّ أَنْ تَرَاهَا عُرْيَانَةً؟ قَالَ: لا، قَالَ: فَاسْتَأْذِنْ عَلَيْهَا. سنن البيهقى

له عطاء بن يسار رضى الله عنه روايت دئ چي يوه سړي له رسول الله صلى الله عليه و سلم پوښتنه وكړه او وئې ويل: يا رسول الله! آيا د خپلې مور خوني ته د ورتلو په وخت كې به هم تړې اجازه غواړم؟ رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: هو؛ هغه سړي وويل: زه خو له هغې سره په يوه كور كې اوسېږم، نو رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: له هغې اجازه غواړه، هغه سړي وويل: زه ئې خادم يم، رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: آيا دا خوښوې چي بربنډه ئې وگورې؟ وئې ويل: نه، وئې فرمايل: نو اجازه تړې غواړه.

د دې بحث په رڼا كې هر لوستونكي ته جوته كېږي چي اسلام د كور حرمت ته په څومره درنه سترګه گوري؛ يوازې په دې ئې اكتفاء نه ده كړې چي له زكات معاف دئ؛ بلكې د بشپړ درناوي، صيانت او حفاظت لارښوونه ئې كړې.

پرديپال سيكولران او ملحدين بايد د اسلام په اړه تر څه ويلو وړاندې ځان پوه كړي چي اسلام د اقتصادي نظام او مالي چارو په ارتباط څه لارښوونې لري، د (اسلامي اقتصاد) معنى څه ده او د دوى له واهي مدينه فاضله او كړې قبلې سره ئې توپيرونه كوم دي، دا څومره پر حق

او عدالت ولاړ مترقي سيستم دئ او د غرب او کمونيزم اقتصادي سيستمونه څومره شيطاني او ظالمانه؟! هغه چې د اسلامي اقتصاد اصطلاح مبهمه او ناکافي ګڼي څومره ناپوه او له حقائقو بې خبر دئ؟!

د اقصادي چارو په اړه د اساسي قانون احکام

د مالي او اقتصادي چارو په اړه د اسلام لارښوونو او احکامو ته په پام سره؛ د هېواد په اساسي قانون کې بايد دا مادې شاملې وي:

۱. په افغانستان کې د حرامو توکيو او هر هغه څه توليد، تجارت او پيرلور ممنوع دي چې انسان ته تاوان رسوي، هره هغه فردي او اجتماعي معامله، تجارتي راکړه ورکړه او اقتصادي پانګونه د قانون خلاف ده چې بنسټ ئې پر سود، احتکار، انحصار، قمار، دوکې، خدعې او د انسان له مجبوريت په ناروا استفادې ولاړ وي.

د هېواد د اقتصادی استقلال د تضمين، د فقر او مسکنت د ختمولو او د وګړو د اساسي اړتياوو د تأمين لپاره د افغانستان د اسلامي دولت اقتصادي نظام پر لاندي بنسټونو ولاړ دئ:

۲. د ټولو وګړو لپاره د استوګنځي، خوراک، لباس، روغتيا، درملني، ښوونې، روزنې او د کورنۍ د جوړولو لازم شرائط او امکانات برابرول.

۳. ټولو هېوادوالو ته د کار مناسب او ممکن شرائط برابرول.

٤. د کار خرنګوالی، حد او وخت داسي تنظيمول چې له يوې خوا د عادي انسان توان او قدرت په پام کې نيول شوی وي او له بلې خوا د معيشت د تأمين تر څنګ د ژوند نورو برخو ته هم د رسېدو او پاملرنې فرصت ولري.

۵. د شغل د انتخاب آزادي تضمين شي، څوك د خپلې خوښې خلاف کار ته اړ نه شي.

٦. د بل له زيار چا ته د ناروا ګټې تر لاسه کولو مجال ميسر نه شي.

۷. په ټولو اقتصادي معاملاتو کې د سود، قمار، احتکار، انحصار، د بل حق او ګټې ته د زيان رسولو او له اسراف او تبذير مخنيوی وشي.

۸. دولت د اسلامي اقتصادي نظام د تطبيق له لاري د دې مخه نيسي چې ثروت او شتمني د معدودو کسانو تر منځ لاس په لاس شي او شتمنو ته د بې وزلو د ناروا استثمار مجال په لاس ورشي، له شتمنو زکات او عشر تر لاسه کول، له بې وزلو سره مرسته، د ميراث وېش، په حياتي توکيو او عامه ملکيتونو د افرادو د تسلط مخنيوی د دولت له مهمو وظايفو دي.

۹. له ساينسي علومو او پر مختللو وسائلو اعظمي استفاده.

۱۰. د هېواد په اقتصادي زېرمو او نظام د پرديو د سلطې په کلکه مخنيوی.

۱۱. په ټولو برخو کې داخلي توليداتو ته د کميت او کيفيت له پلوه دومره وده ورکول چې د ولس عمومي اړتياوي تأمين کړي، هېواد په خپلو پښو ودروي او په نورو له اتکاء ئې وژغوري.

۱۲. د اسلامي دولت اقتصادي نظام په لاندي توګه دوه دولتي او خصوصي برخي لري:

- دولتي برخه دغه موارد احتوی کوي: ستري صنائع، لوی معادن، بانکي نظام، د بربښنا توليد، ستر بندونه او نهرونه، راډيو او ټلويزيون، مخابرات، ټلګراف او ټيلفون، هوايي شرکتونه، لاري او دې ته ورته موارد چې د عمومي ملکيت په توګه د دولت په واک کې دي.
- خصوصي برخه؛ کرنه، مالداري، واړه صنائع او هغه تجارتي او خدماتي برخي احتوی کوي چې د دولتي اقتصاد ممد او مکمل دي.
- د هري برخي تفصيل د ځانګړي قانون له مخي توضيح کېږي.

۱۳. عمومي شتمنۍ لکه شاړي يا پربښودل شوې زمکې، معادن، سيندونه، نهرونه، ويالې، ډنډونه، د اوبو نوري زېرمې، بېدياوي، غرونه، ځنګلونه، عمومي څرځايونه، بې وارثه ميراث، هغه اموال چې خاوند ئې معلوم نه وي، يا له غاصبينو مسترد کېږي، د حکومت په اختيار کې دي، ساتنه او د ټول ولس په ګټه ترې سمه استفاده د دولت دنده ده.

۱٤. دولت مکلف دئ چې د شتمنيو له کنز، د ضروري او حياتي توکيو

له احتکار او د کرنیزو زمکو له بې کرنې پاته کېدو د مخنیوي لپاره جدي اقدامات وکړي او له متخلفینو سره د شرعي احکامو مطابق چلن وکړي.
۱۵. دولت موظف دئ د سود، غصب، رشوت، اختلاس او نورو ناروا لارو تر لاسه شوې شتمني تر لاسه او اصلي خاوند یا بیت المال ته ئې وسپاري.
۱٦. دولت خصوصي پانګونه او اقتصادي تشبثات د اسلامي اقتصادي نظام په رڼا کې هڅوي، ملي پانګوونکو ته د کار ټول ضروري شرائط او تسهیلات برابروي، د داخلي تولیداتو د ودي او له بهرنیو شرکتونو سره د ملي شرکتونو د سالم رقابت لپاره لازم تدابیر نیسي، نه پرېږدي چې ملي شرکتونه د بهرنیو په وړاندي له ماتې سره مخ شي، هیڅا ته پر بازار د تسلط او د احتکار او انحصار له لارې په خپله ګټه د نرخونو د ټاکلو او د غولوونکو اعلاناتو له لارې خپلو محصولاتو ته د بازار پیدا کولو حق نه ورکوي.
۱۷. بهرنیو پانګه والو ته د تجارت، صنعت، کرنې، کانونو او خدماتو په اړه د شرکتونو او مؤسساتو د جوړولو امتیاز ورکول په قطعي توګه منع دي.
۱۸. هر هغه ټرون چې د هېواد پر طبیعي، اقتصادي، فرهنګي او نورو برخو د پردیو د تسلط لار آواروي ممنوع دئ.
۱۹. دولت یوازې په ضروري مواردو کې کولی شي د ولسي جرګې په موافقه او د اړوند قانون په رڼا کې خارجي مؤسسات استخدام کړي.
۲۰. د کورنۍ او بهرنۍ تجارت چاري باید د ځانګړو قوانینو په رڼا کې داسې تنظیم شي چې ملي ګټې تأمین کړي، د ولس ورځنۍ ضروري اړتیاوي په آسانه او ارزانه بیه وړاندي کړي، په تجملي او غیر ضروري توکیو د لګښتونو مخنیوی وکړي، بازار ته هغه څه وړاندي شي چې د ولس د اکثریت د ژوند له کچې او د هېواد له اقتصادي حالت سره سمون خوري.
۲۱. د ګمرکي محصول اندازه به دې ته په پام سره ټاکل کېږي چې عام ولس ته ئې تاوان ونه رسېږي، له نېستمنو د مالیې اخیستلو رنګ ونه

لري او بهرنيو شرکتونو ته د داخلي بازار د کنټرول مجال په لاس ورنه کړي.
۲۲. دا قانون د شخصي استوګنځي حرمت تضمينوي، هيڅا ته د دولتي ادارو او چارواکو په شمول دا اجازه نه ورکوي چې د استوګن له اجازې او د شرعي محکمې له حکم پرته د چا کور ته ننوځي او يا ئې وپلټي.
۲۳. په اسلامي نظام کې نېستمن وګړي د اغنياوو په شتمنيو کې ثابت او مسلم حق لري، دا حق تر لاسه کول او دوی ته ئې سپارل؛ د دولت دنده ده، دولت د دوی د ستونزو د حلولو متکفل دئ، دولت داسي ماليه او محصول نه شي وضع کولی چې له نېستمنو د څه تر لاسه کولو رنګ ولري.
۲٤. قانوني او مشروع ملکيت له تېري مصون دئ.
۲۵. هيڅوک له مشروع لارو د ملکيت له لاسته راوړو او په هغه کې له جائز تصرف نه شي منع کېدی.
۲٦. د قانون له حکم او د باصلاحيته محکمې له پرېکړې پرته د هيڅا ملکيت نه شي مصادره کېدی.
۲۷. هر زمکه وال او شتمن مکلف دئ د دولت له اړوند ادارو سره خپله شتمني او ملکيت ثبت کړي.
۲۸. دولت يوازې هغه مهال کولی شي په شخصي ملکيتونو کې تصرف وکړي چې دا تصرف د قانون مطابق وي، عامه مصالح ئې غوښتنه کوي او د ملکيت اصلي خاوند ته عادلانه معاوضه ورکړی شي.
۲۹. په افغانستان کې بهرنيان د عقاري اموالو د تملیك حق نه لري،
۳۰. د بهرنيانو له لوري د عقار اجاره د قانون مطابق تر سره کېږي.
۳۱. د بهرنيو هېوادو سياسي دفاترو ته زمکه د زمکې په بدل کې ورکول کېږي.
۳۲. هر شتمن افغان مکلف دئ چې دولت ته د خپلې شتمنۍ زکات او د زمکې د حاصلاتو عشر ورکړي.
۳۳. دولت د زکات او عشر له مانعينو سره په شرعي چلن مکلف دئ.

۳٤. هيڅ راز غير قانوني ماليه او محصول نه شي وضع کېدی.
۳۵. کار، د کار د ډول انتخاب او د کار په بدل کې دومره معاوضه تر لاسه کول چې د کارګر حياتي اړتياوي تأمين کړي؛ د هر افغان تبعه مسلم حق دئ.
۳٦. د کارګر حقوق، د رسمي کار اوقات او موده، با معاشه رخصتي او نور اړوند چاري د کار په ځانګړي قانون کې توضيح کېږي.
۳۷. بېګار او په زور او له معاوضې پرته کار ته اړ کول ممنوع دي. د جګړې او عامه آفتونو په دوران کې نفير عام او اجباري کار له دې مستثنی دي.
۳۸. د دولت د ټيټ پوړي مامور او موظف معاش به دومره وي چې د يوې متوسطي کورنۍ لپاره کافي وګڼل شي او د لوړ پوړي مامور او موظف معاش د دې مقدار له اوه برابره نه شي زياتېدی.
۳۹. هغه ماشومان چې بلوغ ته نه وي رسېدلي د کار لپاره نه شي استخدامېدی.

اسلام او د ميراث جامع قانون ئې

اسلام د ميراث په اړه جامع او دقيق قانون لري؛ د ميت ټول نژدې خپلوان او د هغوی برخي ئې بيان کړي؛ قرآن هلته چې د ميراث په اړه خپل جامع بحث پيلوي؛ نو له دې ئې پيلوي چې مالونه مو کمعقلو ته مه سپارئ؛ فرمايي:

وَلَا تُؤۡتُواْ ٱلسُّفَهَآءَ أَمۡوَٰلَكُمُ ٱلَّتِي جَعَلَ ٱللَّهُ لَكُمۡ قِيَٰمٗا وَٱرۡزُقُوهُمۡ فِيهَا وَٱكۡسُوهُمۡ وَقُولُواْ لَهُمۡ قَوۡلٗا مَّعۡرُوفٗا ۝٥

او کمعقلو ته خپل هغه مالونه مه سپارئ چې الله ستاسو لپاره د قيام ذريعه ګرځولي؛ (بلکې) په هغه کې ئې د رزق، روزي او جامو انتظام وکړئ او غوره وينا ورته وکړئ.

يعني دا مالونه چې په حقيقت کې د ټولو ګډ مال دئ، که څه هم

ځيني په يوه پوري او ځيني په بل پوري مربوط دي؛ ستاسو د ژوندانه د قيام او سمبالولو ذريعه ده، کمعقلو ته ئې مه سپارئ، تر هغه ئې يتيم ته له سپارلو ډډه وکړئ چې هغه بلوغ او د عقل پوخوالي ته ورسېږي، تر هغه د دوی اموال په داسي غوره طريقه په کار واچوئ چې له ګټې ئې د يتيمانو د خرڅ، خوراك او جامو انتظام وکړئ. په دې دوران کې د دوی روزنې ته خاصه توجه وکړئ، نېکي خبري او نېك کارونه ورښيئ، که هغوی د خپل مال تر لاسه کول غوښتل او تاسو ئې تنګولئ؛ نو په ښه توګه ئې پوه کړئ، زور زياتی ورسره مه کوئ؛ د نامناسبو خبرو له کولو ځان وساتئ.

په آيت کې د يتيمانو پر ځای د سفهاءو له راوړو معلومېږي چې نه يوازې ماشوم يتيم ته به د دوی مال نه سپارئ بلکې هغو ته به ئې هم نه سپارئ چې د کمعقلۍ له کبله مال ترې ضائع کېږي، يا مبذر دئ او په غلطو لارو ئې مصرفوي. ورپسې فرمايي:

وَٱبۡتَلُواْ ٱلۡيَتَٰمَىٰ حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغُواْ ٱلنِّكَاحَ فَإِنۡ ءَانَسۡتُم مِّنۡهُمۡ رُشۡدٗا فَٱدۡفَعُوٓاْ إِلَيۡهِمۡ أَمۡوَٰلَهُمۡۖ وَلَا تَأۡكُلُوهَآ إِسۡرَافٗا وَبِدَارًا أَن يَكۡبَرُواْۚ وَمَن كَانَ غَنِيّٗا فَلۡيَسۡتَعۡفِفۡۖ وَمَن كَانَ فَقِيرٗا فَلۡيَأۡكُلۡ بِٱلۡمَعۡرُوفِۚ فَإِذَا دَفَعۡتُمۡ إِلَيۡهِمۡ أَمۡوَٰلَهُمۡ فَأَشۡهِدُواْ عَلَيۡهِمۡۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ حَسِيبٗا ٦

[٦]- او تر هغه يتيمان آزمويئ چې د نکاح (پراو) ته ورسېږي؛ نو که د دوی هوښياري مو احساس کړه نو مالونه ئې وروسپارئ؛ او په دې موخه په اسراف او تلوار سره د دوی مالونه مه مصرفوئ چې ستر به شي؛ او څوك چې غني وي نو پرهېز دي وکړي او څوك چې نېستمن وي په مناسبه توګه دې مصرف کړي او کله چې دوی ته خپل مالونه مسترد کوئ نو شاهدان پرې ونيسئ او الله د حساب کوونکي په توګه کافي دئ.

دلته د يتيم اولياءو ته څو لارښوونې شوې:

- د يتيمانو د روزنې په دوران کې دوی پر له پسې امتحانوئ، کله يو

کار ورته وسپارئ او کله بل، د وړو وړو شیانو په پېرلو او پلورلو ئې وګمارئ، په دې سره به د هغوی ښه روزنه وشي، بلوغ ته له رسېدو وروسته به د خپل مال د ښه پاللو لپاره ذهناً او عملاً تیار وي او کافي تجربه به ئې تر لاسه کړې وي.

- دا کار به تر هغه کوئ چې یتیمان تر بلوغ او نکاح پورې ورسېږي، خو که دې مرحلې ته ورسېدل او تاسو په دوی کې کافي هوښیاري احساس کړه نو مالونه ئې وروسپارئ. د آیت له الفاظو معلومېږي چې د یتیم اولیاء به بلوغ ته د یتیم د رسېدو په وخت کې هم دا خبره په پام کې ساتي چې آیا هغه د دې وړتیا لري چې مال ئې وروسپاري او که نه. یوازې بلوغ معیار ونه ګڼي، بلکې د بلوغ تر څنګ د ده هوښیارتیا (رشد) هم په پام کې ولري.
- مبادا له دې وېرې د دوی مال په اسراف او تلوار سره مصرف کړئ چې ستر به شي او خپل مال به درنه واخلي.
- غنیانو ته په کار ده چې د یتیم د مال له مصرف ډډه وکړي او په خپلو شتو اکتفاء وکړي.
- فقیر ولي ته دا اجازه ورکړی شوې چې له دې مال په مناسبه او غوره توګه څه مصرف کړي، خو دا به هومره وي چې یوه مستخدم ته په ټولنې کې ورکول کېږي.
- یتیمانو ته د دوی د مالونو د سپارلو په وخت کې شاهدان ونیسئ.
- دې ته مو پام وي چې الله حسیب دئ، د هر څه حساب به درسره کوي.

ورپسې فرمایي چې هر چا ته که نارینه دي که ښځینه؛ د مور، پلار او خپلوانو له ترکې او میراث خپله خپله برخه ده:

لِّلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِّمَّا تَرَكَ ٱلْوَٰلِدَانِ وَٱلْأَقْرَبُونَ وَلِلنِّسَآءِ نَصِيبٌ مِّمَّا تَرَكَ ٱلْوَٰلِدَانِ وَٱلْأَقْرَبُونَ مِمَّا قَلَّ مِنْهُ أَوْ كَثُرَ ۚ نَصِيبًا مَّفْرُوضًا ﴿٧﴾

[۷]- نارینه وو ته له هغه څه چې مور پلار او خپلوان ئې شا ته پرېږدي

ځانګړې برخه ده او ښځينه وو ته هم له هغه څه چې مور پلار او خپلوان ئې شا ته پرېږدي ځانګړې برخه ده، که دا لږ وي يا ډېر؛ ټاکل شوې برخه ده.

د جاهليت په دوران کې ښځې، نجونې او واړه هلکان له ميراث محروم وو، يوازې هغو نارينه وو ته به ورکول کېدو چې د جنګ وړتيا ئې درلوده؛ اسلام راغی، د جاهليت دا ظالمانه دود ئې ختم کړ او د هر چا لپاره ئې مناسبه برخه وټاکله، هم د نارينه وو لپاره او هم د ښځينه وو لپاره. اسلام دا نه خوښوي چې دولت او ثروت د معدودو کسانو تر منځ لاس په لاس شي، دې ته ترجيح ورکوي چې د ميراث د وېش له لارې شتمنۍ ووېشل شي، په معدودو لاسونو کې د ثروت او شتمنيو تمرکز په داسې نظام منتج کېږي چې اسلام ئې نه خوښوي، له دې ظالمانه پانګوال نظام رامنځ ته کېږي، پانګوال نظام په دې بنسټ ولاړ وي چې د شتمنيو د وېش مخه ونيسي او په معدودو لاسونو کې متمرکز پاته شي، د ثروت د عدم وېش په نتيجه کې ورو ورو د ټولنې ډېره برخه شتمنۍ د معدودو کسانو په لاس کې پرېوځي، شتمن مزيد شتمن شي او نېستمن مزيد نېستمن، د ميراث په وېشلو سره نه يوازې عدالت تأمينېږي او د کورنۍ هر غړي ته خپله برخه په لاس ورځي بلکې په دې سره د شتمنيو د تمرکز مخنيوی کېږي. د اسلام په اقتصادي نظام کې دې اصل ته خاصه توجه شوې ده، قرآن دا اصل په دې الفاظو بيان کړی: (كَيْ لا يَكُونَ دُولَةَ بَيْنَ الأَغْنِيَاءِ مِنكُمْ): د دې لپاره چې (ثروت) ستاسو د اغنياوو تر منځ لاس په لاس نه شي.

د ميراث د وېش په ارتباط د هغو يادونه هم کوي چې لرې خپلوان دي او په ميراث کې ټاکلی سهم نه لري او د نورو نيازمنو او محتاجانو هم:

وَإِذَا حَضَرَ ٱلْقِسْمَةَ أُوْلُواْ ٱلْقُرْبَىٰ وَٱلْيَتَٰمَىٰ وَٱلْمَسَٰكِينُ فَٱرْزُقُوهُم مِّنْهُ وَقُولُواْ لَهُمْ قَوْلًا مَّعْرُوفًا ﴿٨﴾ وَلْيَخْشَ ٱلَّذِينَ لَوْ تَرَكُواْ مِنْ خَلْفِهِمْ ذُرِّيَّةً

ضِعَٰفًا خَافُواْ عَلَيۡهِمۡ فَلۡيَتَّقُواْ ٱللَّهَ وَلۡيَقُولُواْ قَوۡلٗا سَدِيدًا ٩

[۸]- او کله چې دې وېش ته خپلوان، يتيمان او مسکينان راحاضر شي، نو دوی ته هم له دې څه رزق روزي ورکړئ او کومه غوره وينا ورته وکړئ. [۹]- او هغه دي ووېرېږي چې که تر شا ئې ضعيف او کمزوري اولاد پرېښودی نو پرې وېرېدل به؛ نو له الله دي ووېرېږي او سمه خبره دي وکړي.

که د ميراث د وېش په ورځ نور يتيمان، مسکينان او ستاسو هغه خپلوان راغلل چې په ميراث کې خاصه برخه نه لري؛ نو هغوی تش لاس بېرته مه لېږئ، مناسب څه ورکړئ، په غوره وينا ئې استقبال او رخصت کړئ. دې خبرې ته مو بايد پام وي چې که له تاسو کمزوري بچيان پاته کېدی نو څومره به پرې وېرېدئ؟ په کار ده نن د دغو بې وزلو يتيمانو او مسکينانو په اړه همغسي زړه سوی او وېره ولرئ، له دوی سره مرسته وکړئ، د دوی په اړه سمه او د دغه احساس لاندي پرېکړه وکړئ.

بيا د هغو بده پايله زموږ مخي ته ږدي چې د يتيمانو په اړه ظلم کوي او مال ئې غصبوي:

إِنَّ ٱلَّذِينَ يَأۡكُلُونَ أَمۡوَٰلَ ٱلۡيَتَٰمَىٰ ظُلۡمًا إِنَّمَا يَأۡكُلُونَ فِي بُطُونِهِمۡ نَارٗاۖ وَسَيَصۡلَوۡنَ سَعِيرٗا ١٠

[۱۰]- يقيناً هغه چې د يتيمانو مالونه په ظلم سره خوري؛ دوی په خپلو خپټو کې له اور پرته بل څه نه اچوي او ژر به اور ته ننوځي.

د يتيم مال خوړل لوی ظلم دئ، له اور سره لوبې کول دي، له دې ځان وساتئ، دا د اور سکروټي په خپلو خپټو کې مه اچوئ.

او له دې جامع او اغېزمني مقدمې وروسته د مستحقو ورثه وو برخي داسي ټاکي:

يُوصِيكُمُ ٱللَّهُ فِيٓ أَوۡلَٰدِكُمۡۖ لِلذَّكَرِ مِثۡلُ حَظِّ ٱلۡأُنثَيَيۡنِۚ فَإِن كُنَّ نِسَآءٗ فَوۡقَ ٱثۡنَتَيۡنِ فَلَهُنَّ ثُلُثَا مَا تَرَكَۖ وَإِن كَانَتۡ وَٰحِدَةٗ فَلَهَا ٱلنِّصۡفُۚ وَلِأَبَوَيۡهِ

لِكُلِّ وَٰحِدٍ مِّنۡهُمَا ٱلسُّدُسُ مِمَّا تَرَكَ إِن كَانَ لَهُۥ وَلَدٞۚ فَإِن لَّمۡ يَكُن لَّهُۥ وَلَدٞ وَوَرِثَهُۥٓ أَبَوَاهُ فَلِأُمِّهِ ٱلثُّلُثُۚ فَإِن كَانَ لَهُۥٓ إِخۡوَةٞ فَلِأُمِّهِ ٱلسُّدُسُۚ مِنۢ بَعۡدِ وَصِيَّةٖ يُوصِي بِهَآ أَوۡ دَيۡنٍۗ ءَابَآؤُكُمۡ وَأَبۡنَآؤُكُمۡ لَا تَدۡرُونَ أَيُّهُمۡ أَقۡرَبُ لَكُمۡ نَفۡعٗاۚ فَرِيضَةٗ مِّنَ ٱللَّهِۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمٗا ١١

[۱۱]- الله ستاسو د اولاد په اړه درته توصيه کوي: نارينه ته به د دوو ښځو د برخي په څېر وي، نو که ټول ئې تر دوو زياتې ښځي وي نو دوی ته به د ده د پرېښي (مال) دوه ثلثه وي او که يوه وي نو نيمايي به ئې د دې وي؛ او پلار مور ته ئې هر يوه ته؛ د ده د پرېښي (مال) شپږمه برخه ده، که ئې اولاد وو؛ خو که ئې اولاد نه وو او ميراث ئې مور، پلار ته پاته شوی وو؛ نو مور ته ئې درېيمه برخه ده. خو که ئې وروڼه وو؛ نو مور ته ئې شپږمه برخه ده؛ له هغه وصيت وروسته چې دی ئې کوي او له پور وروسته. نه پوهېږئ چې کوم يو به ئې په نفع کې تاسو ته نژدې وي؛ پلرونه مو که زامن مو؟ دا الهي فريضه ده؛ بې شکه چې الله ډېر باحکمت پوه دئ.

دلته د ميراث د وېش په اړه لاندي لارښوونې شوې:

- د زوی برخه به د دوو لوڼو د برخي په اندازه وي.
- که ئې زوی نه وو او يوازي لوڼي ترې پاته وي؛ دوه وي يا تر دوو زياتې؛ نو د ميراث له دريو دوه برخي به د دوی وي.
- خو که يوه وه نو نيمايي به ئې د دې وي.
- د اولاد په شتون کې مور او پلار ته شپږمه شپږمه برخه رسېږي.
- که ئې اولاد نه وو؛ يوازي مور او پلار ئې وارثان وو؛ نو مور ته ئې درېيمه برخه رسېږي؛ پاته دوه برخي به ئې د پلار وي.
- خو که ئې وروڼه وو؛ نو شپږمه برخه د مور ده او پاته ټول پلار ته سپارل کېږي؛ وروڼو او خوښدو ته د پلار په شتون کې څه نه رسېږي.
- د ميراث له وېش مخکې به د مړي وصيت تر سره کېږي او پورونه به

ئې پرې کېږي.

- په مکرره توګه د وصیت ذکر د دې لپاره راغلی چې په دې سره د هغو خپلوانو ستونزه هم حل کېدی شي چې په میراث کې ثابته او مشخصه برخه نه لري؛ د مال خاوند کولی شي د خپل مال له درېیمي برخي دوی ته څه وټاکي.
- که دا د میراث وېش ستاسو خپلې خوښې ته پرېښودی شي او په خپله د هر یوه برخه وټاکئ؛ نو ووایئ چې د هر یوه برخه به څنګه ټاکئ؟ د برخو په ټاکلو کې به کوم څه د ملاك او معیار په توګه غوره کوئ؟ نژدېوالی که ګټه او منفعت؟ پلار ډېر درنژدې او ګټور دئ که زوی؟ د کوم برخه به زیاته غوره کوئ او د کوم لږ؟ تاسو ته ممکنه نه ده چې په دې اړه حکیمانه او عالمانه پرېکړه وکړی شئ.
- دا برخي د هغه الله له لوري ټاکل شوې چې هم ښه پوه دئ او هم د حکمت خاوند؛ هره پرېکړه ئې حکیمانه او پر علم ولاړه پرېکړه ده.

په دې کې هغو کمعقلو ته هم ځواب ویل شوی چې د میراث د وېش په اړه په اسلام اعتراض کوي، ځان د ښځو د حقوقو مدافع ګڼي؛ دې ته ئې پام نه دئ چې د میراث وېش د یوه کامل اقتصادي نظام یوه وړه برخه ده، په دې اړه هر بحث باید د ټول نظام په ترڅ کې وشي؛ نه یوازې او له نورو برخو بېل!! د اسلام په اقتصادي نظام کې ښځې په داسې حال کې له اقتصادي مکلفیت فارغې دي چې د شتمنیو د لاس ته راوړلو ګڼ شمېر مدارك لري: له خپلوانو او مېړه میراث تر لاسه کوي، مهر اخلي، خپلې شتمنۍ په کار اچولی شي، کسب کار کولی شي او عوائد درلودی شي؛ خو هم د پلار په کور او هم د خاوند په کور کې د دې ټول مصارف د نورو پر غاړه دي!! دا خو باید ښځو ته خاص او فوق العاده امتیاز وګڼو، ډېر کمعقله انسان به دا د ښځو په اړه تبعیض ګڼي! په کار خو دا وه چې دوی ویلي وی: د نارینه برخه لږ او پېټی ئې دروند دئ؛ باید ښځه د دې پېټي په پورته کولو کې د ده مرسته وکړي؛ لږ تر لږه زړه سوی ولري. خو حکیم او علیم خدای همدا غوره کړې؛ د نارینه د پیاوړو

متو تقاضی همدا ده چې پېټی ئې تر ښځو دروند وي.

وَلَكُمْ نِصْفُ مَا تَرَكَ أَزْوَاجُكُمْ إِن لَّمْ يَكُن لَّهُنَّ وَلَدٌ ۚ فَإِن كَانَ لَهُنَّ وَلَدٌ فَلَكُمُ ٱلرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْنَ ۚ مِنۢ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصِينَ بِهَآ أَوْ دَيْنٍ ۚ وَلَهُنَّ ٱلرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْتُمْ إِن لَّمْ يَكُن لَّكُمْ وَلَدٌ ۚ فَإِن كَانَ لَكُمْ وَلَدٌ فَلَهُنَّ ٱلثُّمُنُ مِمَّا تَرَكْتُم ۚ مِّنۢ بَعْدِ وَصِيَّةٍ تُوصُونَ بِهَآ أَوْ دَيْنٍ ۗ وَإِن كَانَ رَجُلٌ يُورَثُ كَلَٰلَةً أَوِ ٱمْرَأَةٌ وَلَهُۥٓ أَخٌ أَوْ أُخْتٌ فَلِكُلِّ وَٰحِدٍ مِّنْهُمَا ٱلسُّدُسُ ۚ فَإِن كَانُوٓا۟ أَكْثَرَ مِن ذَٰلِكَ فَهُمْ شُرَكَآءُ فِى ٱلثُّلُثِ ۚ مِنۢ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصَىٰ بِهَآ أَوْ دَيْنٍ غَيْرَ مُضَآرٍّ ۚ وَصِيَّةً مِّنَ ٱللَّهِ ۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَلِيمٌ ﴿١٢﴾

[۱۲]- او تاسو ته د هغه څه نیمایي دي چې ستاسو مېرمنو شا ته پرېښي؛ که ئې اولاد نه وو؛ خو که ئې اولاد وو نو بیا تاسو ته د هغه څه څلورمه برخه ده چې دوی ئې تر شا پرېږدي؛ له پور او هغه وصیت وروسته چې دوی ئې کوي او دوی ته د هغه څه څلورمه برخه ده چې تاسو ئې تر شا پرېږدئ؛ که اولاد مو نه وو؛ خو که اولاد مو درلود نو بیا دوی ته د هغه څه اتمه ده چې تاسو ئې تر شا پرېږدئ؛ له پور او هغه وصیت وروسته چې تاسو ئې کوئ. او که هغه څوک چې میراث ترې وړل کېږي؛ کلاله وي (بې پلار او بې اولاد) او یا همداسي ښځه وي او کوم ورور یا کومه خور ئې وي؛ نو د دوی هر یوه ته شپږمه ده؛ او که تر دې زیات وي نو دوی ټول په درېیمه کې سره ګډ دي؛ له هغه وصیت چې سپارښتنه ئې کېږي او له پور وروسته؛ ضرر نه رسوونکی؛ د الله له لوري یوه توصیه؛ او الله حلیم پوه دئ.

په دې آیت کې د لاندي صورتونو په اړه لارښوونې شوې:

- که ښځه مري او اولاد ئې نه وي نو مېړه ته ئې د مال نیمایي برخه او که ئې اولاد وي نو ده ته به څلورمه رسېږي.
- او د اولاد د نشتوالي په صورت کې ښځي ته د مېړه د مال څلورمه

رسېږي، خو که مېړه ئې اولاد درلود نو دې ته اټمه رسېږي.

- که د مړي نه پلار وي او نه اولاد؛ يوازي کوم مورنۍ ورور يا کومه مورنۍ خور ولري نو هر يوه ته شپږمه رسېږي؛ که د ورونړو او خوښدو شمېر تر دې زيات وي نو ټولو ته په ګډه د مال درېيمه رسېږي. ورونړه او خوښدي خو يا اعياني وي (له ګډ مور پلار)، يا علاتي (يوازي له ګډ پلار) او يا اخيافي (يوازي له ګډي مور)؛ له رواياتو معلومېږي چې دلته اخيافي ورور او خور مراد ده.
- د مړي له تکفين وروسته به لومړی د ده پورونه اداء کېږي، د مال په درېيمي برخي کې به د ده وصيت تر سره کېږي، بيا به هر چا ته خپله برخه سپارل کېږي.
- نه به په وصيت کې چا ته د ضرر رسولو هڅه کوئ او نه د پور په اړه. داسي نه چې ورثه ئې نېستمن او محتاج وي او دی نورو ته يا کوم غني ته له خپل مال څه ورکړي او يا دا چې د پور په اړه غلطه وينا وکړي.

دلته دا وضاحت هم ضروري دئ چې د ميراث په اړه دومره تفصيلي او مشرح بحث شوی او د ټولو ورثه وو برخي او اسهام ښودل شوي؛ چې د زکات په څېر د ستړي فريضې د نصاب او مقدار په اړه نه دئ شوی؛ نه دا ويل شوي چې هغه غني څوك دئ چې زکات پرې فرض کېږي، په څومره مال کې، زکات به ئې څومره وي او کله به ئې اداء کوي؛ په دې اړه ټول وضاحتونه د رسول الله صلى الله عليه و سلم له لوري شوي خو د قرآن د يوه آيت په استناد. د دې تفصيل د حكمة البارئ په درېيم جلد د زکات کتاب کې وګورئ.

په احاديثو کې د ميراث په اړه مهمي لارښوونې

په احاديثو کې د ميراث په اړه درې نوري اساسي لارښوونې هم شوې:

- د تعيين شوو برخو له ورکړي وروسته چې کوم څه پاته کېږي؛ دا به په هغو خپلوانو کې چې مشخصه برخه ورته نه ده ټاکل شوې او په

شريعت کې د (عصبه) په نامه یاد شوي، هغه نارینه ته سپارل کېږي چې د مال خاوند ته تر نورو خپلوانو ډېر نژدې وي.

- کافر او مسلمان یو له بل میراث نه شي وړی.

عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم قَالَ: «لَا يَرِثُ الْمُسْلِمُ الْكَافِرَ وَلَا يَرِثُ الْكَافِرُ الْمُسْلِمَ» رواه مسلم

له اسامه بن زید روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: نه مسلمان له کافر میراث وړی شي او نه کافر له مسلمان میراث وړی شي.

- قاتل له مقتول میراث نه شي وړي.

عن عمرِو بنِ شُعَيبٍ عن أبيه عن جَده قال: قال رسولُ الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَيْسَ لِقَاتِلٍ شَيْءٌ فَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ وَارِثٌ يَرِثُهُ أَقْرَبُ النَّاسِ إِلَيْهِ، وَلَا يَرِثُ الْقَاتِلُ شَيْئًا» السنن الكبرى للبيهقي

عمرو بن شعب له خپل پلار او (هغه د ده له) نیکه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: قاتل ته هیڅ څه نه شته؛ که کوم وارث ونه لري نو له خلکو به هغه ترې میراث وړي چې مقتول ته تر ټولو نژدې وي او قاتل هیڅ څه په میراث نه شي وړی.

د سورې په پای کې بیا هم د میراث په اړه وروستۍ لارښوونه په دې الفاظو د مخاطب مخي ته ږدي:

يَسْتَفْتُونَكَ قُلِ ٱللَّهُ يُفْتِيكُمْ فِي ٱلْكَلَٰلَةِۚ إِنِ ٱمْرُؤٌاْ هَلَكَ لَيْسَ لَهُۥ وَلَدٌ وَلَهُۥٓ أُخْتٌ فَلَهَا نِصْفُ مَا تَرَكَۚ وَهُوَ يَرِثُهَآ إِن لَّمْ يَكُن لَّهَا وَلَدٌۚ فَإِن كَانَتَا ٱثْنَتَيْنِ فَلَهُمَا ٱلثُّلُثَانِ مِمَّا تَرَكَۚ وَإِن كَانُوٓاْ إِخْوَةً رِّجَالًا وَنِسَآءً فَلِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ ٱلْأُنثَيَيْنِۗ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمْ أَن تَضِلُّواْۗ وَٱللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمُۢ ﴿١٧٦﴾

[۱۷۶]- له تا فتوی غواړي؛ ووایه: الله تاسو ته د کلالې (هغه چې نه ئې پلار وي او نه اولاد) په اړه فتوی درکوي: که څوک ومري، زوی ئې نه

وي او يوه خور ئې وي؛ نو دې ته د هغه څه نيمايي ده چې ده پرېښې؛ او دی به له دې خور هر څه په ميراث وړي که ئې زوی نه وو او که دوی دوه خوښدي وي؛ نو دوی ته له دريو دوه برخي د ميراث دي او که دوی نارينه او ښځي وروڼه او خوښدي وي؛ نو نارينه ته به د دوو ښځو په څېر برخه وي؛ الله تاسو ته وضاحتونه کوي د دې لپاره چې بې لاري نه شئ او الله پر هر څه ښه پوه دئ.

د النساء جامع سوره د ښځو او يتيمانو په بحث پيل او په همدې موضوع پای ته رسېږي، دلته د هغه چا د ميراث د وېش څرنګوالی بيان شوی چې نه ئې پلار وي او نه اولاد؛ يوازي وروڼه او خوښدي ولري؛ که ئې يوه خور وه د ميراث نيمايي به تر لاسه کوي او ورور به د داسي خور د ټول ميراث وارث وي؛ که ميراث دوو خوښدو ته پاته وو، له دريو دوه برخي به د دوی وي او که له يوه زيات وروڼو او خوښدو ته پاته شوی وو نو نارينه ته به د دوو ښځو برابر برخه ورکول کېږي.

او سوره په دې مطلب پای ته رسي: دا د هغه الله له لوري لارښوونه ده چې ستاسو په خير او مصلحت تر تاسو ښه پوه دئ.

سهامي شرکتونه او مضاربت

اوس په نړۍ کې ستر ستر سهامي شرکتونه رامنځته شوي، څو د شتمنيو خاوندان سره يو ځای کېږي او ګډ شرکت جوړوي، د هر چا د مشارکت اندازه او په تناسب ئې د هغه د ګټې سهم معلوم وي؛ نور رابلي چې په همدې شرکت کې سهيم شي؛ د سهامي شرکتونو شمېر هم زيات شوی، تر منځ ئې رقابتونه هم، د سهمونو پېر پلور ئې هم او د پانګوالو د جلب او جذب هڅي هم. هر څوک کولی شي په ستر سهامي شرکت کې په کمه پانګه شريک شي، خلك هم دې ته ترجيح ورکوي چې کوم بانك ته د خپلو پيسو سپارلو پر ځای په همدې پيسو د داسي شرکت سهمونه وپېري چې په کار کې موفق وي او ګټه ئې د بانك تر ثابتې ګټې زياته وي، د بانك ګټه سود دئ؛ ځکه هر هغه پور او قرض؛ که سکه وي

او که جنس؛ چې تر اصل مبلغ او جنس زیاته ګټه پرې مرتب شي؛ د اسلام له نظره ربا او سود دئ او د تحریم په اړه ئې ګڼ شمېر آیتونه او احادیث مومو؛ په دې کتاب کې د سود مربوط آیتونه هم څېړل شوي او احادیث ئې هم؛ خو د سهامي شرکت تعامل مضاربت ته ورته دئ؛ دا نوې قضیه ده او له مسلمانانو هم نوې فتوی ایجابوي او هم د دې فتوی مضبوط او مقنع دلائل.

که دا سهامي شرکتونه په داسي مواردو کې پانګونه کوي چې د اسلام له نظره حرام دي؛ لکه د شراب، سګریټ او نورو مضرو شیانو تولید، یا په سودي معاملاتو کې ښکېل وي، یا د محارب دښمن په واك کې او د دښمنانو د ګټو په خدمت کې؛ نو واضح ده چې په دې کې شراکت او د اسهامو پېرل ئې ناجائز دي. خو که داسي نه وي نو بیا دې ته کتل په کار دي چې داسي پانګوني ته ولې او څه اړ کړي یو؛ آیا دا شونې نه ده چې په خپل هېواد کې په ګټورو برخو کې پانګونه وکړو، همداسي سهامي شرکتونه رامنځته کړو؛ شتمن افغانان تشویق کړو چې خپلې شتمني نه بهر ته انتقال کړي او نه ئې په غیر مثمرو مواردو کې په کار واچوي؛ دلته په خپل وطن کې مو ډېر داسي فرصتونه او مجالونه شته چې هم تر بهر زیاته ګټه تر لاسه کولی شي او هم خپل ولس او هېواد ته ګټه رسولی شي او رغنده کارونه کولی شي؛ څو مهمي او مؤثري برخي د هغوی په وړاندي ږدم:

د اوبو مهارول

د اوبو مهارولو او د شاړو زمکو د خړوبولو لپاره د اوبو واړه بندونه جوړول. زمور ډېری ولایتونه؛ په ځانګړې توګه هغه چې هم غرونه لري؛ هم اوبه لري او هم شاړې دښتې او بېدیاوي؛ د دې اوبو مهارول لږ لګښت ایجابوي، یو یو شتمن ئې هم له عهدې وتلی شي، څو تنه خو ئې کولی شي متوسط بندونه جوړ کړي؛ که په همدې موخه یو مشخص سهامي شرکت جوړ شي؛ خلك ئې کار او مثبت نتائج په خپلو سترګو

وګوري، نو يقيناً چې بهر ته د خپلو شتمنيو تر انتقال به حتماً دې ته ترجيح ورکوي.

د معادنو په برخه کې پانګونه

افغانستان د معادنو له پلوه ستر غني هېواد دئ؛ تر اوسه همداسي تر زمکې لاندي پاته دي؛ ډېر لږ استفاده ترې شوې؛ هغه هم له ډېرو ناخوالو او ناسمو تصرفاتو سره؛ که زمونږ هېواد په يوې پېړۍ کې د دريو زبرځواکونو له تاراك او تهاجم سره مخ شوی؛ او اوږدې جګړې پر افغانانو تپل شوې؛ يوه وجه ئې زمونږ معادن، د استعماري ځواکونو حرص او پر دغو قيمتي او نادرو زېرمو د دوی د تسلط بد عزائم وو؛ که مونږ صالح او هېواد ته ژمن حکومتونه درلودی نو اوبه او معادن مو کافي وو چې سر لوړی، پر خپلو پښو ولاړ، سوکاله او مخکې تللی هېواد جوړ کړو. يقيناً چې زمونږ پراخ او ارزښتمن معادن يو له هغو اسبابو دئ چې په يوې پېړۍ کې درې زبرځواکونو ئې د نيولو او دائمي اشغال هڅه وکړه او اوږدې خونړۍ جګړې ئې پر افغانانو تحميل کړې. زمونږ معادن او تر زمکې لاندي زېرمې؛ دا دواړه برخې لږ توجه او زيار ايجابوي او په لږ پانګوني ډېر نتائج تر لاسه کولی شو؛ متأسفانه اوس مو واکمن له بهرنيو په الحاح او زاريو زاريو سره غواړي چې راشي په دغو حياتي برخو کې پانګوني وکړي!! دا غوښتنې له هغو کوي چې د افغانستان په اشغال، ورانولو او د خونړيو اوږدو جګړو په تپلو کې ښکېل وو او له هر دښمن سره ئې لاس يو کړی؛ نن هغه څه وړيا تر لاسه کوي چې په جګړو ئې تر لاسه نه کړل!!

روغتيا او صحت

روغتيا او صحت يو بل مهم مجال دئ چې تېرو ناکامو او پردېپالو حکومتونو هيڅ توجه نه ده ورته کړې؛ په لږ اهتمام او لږ مقدار پانګوني؛

هم د افغانانو ستونزي حل کېدی شي او هم د پردیو له احتیاج او د عادي بېماریو د علاج لپاره هند، ایران، پاکستان او اروپایي هېوادو ته له تګ ژغورل کېږي؛ حیف دئ چې نن شتمن افغانان یا خپلې شتمنۍ په بهرنیو بانکونو کې ساتي او یا د هوټلونو جوړولو په څېر مواردو کې پانګوني کوي؛ په مرکز او لویو ښارونو کې روغتونونه او د دوا تولید فابریکې جوړول؛ هم له تجارتي پلوه ګټور سیکتور دئ او هم له ایماني پلوه ارزښتمن او د ثواب کار. تجربو ښودلې چې حکومتونه تل د خدماتي چارو په وړاندي کولو او سمبالولو کې ناکام وي؛ نه ئې د سم مدیریت له عهدې وتلی شي او نه کافي بودجه ورته مهیا کولی شي؛ هغوی چې له ولس څه په زور او رضاء اخلي نو لویه برخه ئې په فوځ، امنیتي او استخباراتي ځواکونو او اداري پرسونل او اداراتو لګوي؛ هغه هم ډېر ځله د واکمنو د اقتدار د دوام او د دوی د سلطې د استحکام لپاره؛ نه د ولس د سر، مال او عزت خوندي ساتلو لپاره؛ د نړۍ ډېرې هېوادونه؛ مخصوصاً هغه چې مخکې تللي؛ د صحت، تعلیم، معادن، تولیدي فابریکې او تعمیراتي چاري؛ خصوصي سیکتور ته انتقال کړي او دولت په داسي مواردو کې له پانګونو ډډه کوي؛ دا ځکه چې معمولاً حکومتونه د داسي مواردو په سم مدیریت کې ناکام شوي؛ مدیرانو ته ئې دا کار پردی پرېښي؛ نه ئې ګټه دوی ته او نه ئې تاوان؛ دوی په هر صورت کې خپل معاش تر لاسه کوي.

د تعلیم او تربیې په برخه کې پانګونه

د تعلیم او تربیې او معیاري تعلیمي مؤسساتو جوړولو په برخه کې پانګونه؛ ډېر ارزښتناك او مهم ډګر دئ؛ په لږ لګښت سره کولی شو ډېري لاسته راوړني ولرو؛ خو په دې شرط چې په اوسنیو غلطو تګلارو او سیاستونو کې پراخه او ژوره تبدیلي راشي؛ واکمن د نوي او ځوان نسل؛ نجونو او هلکانو روزنې او تعلیم ته د یوې ستري فریضې په سترګه وګوري؛ که څوك د مالي ګټې لپاره په دې برخې کې پانګونه وکړي تر ډېرو

نورو برخو به ئې هم ګټه زياته وي، هم به ئې خپل ايماني مسئوليت اداء کړی وي، ضمير او وجدان به ئې خوښ او ډاډه وي، د خپل هغه رب رضاء به ئې په برخه شوې وي چې د ژوند او صحت په څېر نعمتونه ئې ورکړي او د قرآن په هغې لارښوونې به ئې عمل کړی چې فرمايي:

وَٱبۡتَغِ فِيمَآ ءَاتَىٰكَ ٱللَّهُ ٱلدَّارَ ٱلۡأٓخِرَةَۖ وَلَا تَنسَ نَصِيبَكَ مِنَ ٱلدُّنۡيَاۖ وَأَحۡسِن كَمَآ أَحۡسَنَ ٱللَّهُ إِلَيۡكَۖ وَلَا تَبۡغِ ٱلۡفَسَادَ فِي ٱلۡأَرۡضِۖ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ ٱلۡمُفۡسِدِينَ٧٧ القصص

او په هغه څه کې چې الله درکړي د آخرت کور ولټوه او خپله دنيوي برخه دي هم مه هېروه او همغسې (له نورو سره) ښېګڼه کوه چې الله له تا سره ښېګڼه کړې او په زمکې کې فساد مه لټوه، يقيناً چې الله مفسدين نه خوښوي.

قارون ته د قوم صالح شخصيتونو نصيحت وکړ چې له خپلې شتمنې داسې کار واخله چې هم دي آخرت ښه شي او هم خپله دنيوي برخه تر لاسه کړې، له محتاجو خلکو سره داسې احسان وکړه لکه چې الله تعالى له تا سره احسان کړی. خو ده نصيحت کوونکو ته همغه ځواب ورکړی چې هر مفسد او له الله تعالى غافل بډای او شتمن ئې ورکوي: قرآن د ده ځواب په دې توګه راښيي:

قَالَ إِنَّمَآ أُوتِيتُهُۥ عَلَىٰ عِلۡمٍ عِندِيٓۚ أَوَ لَمۡ يَعۡلَمۡ أَنَّ ٱللَّهَ قَدۡ أَهۡلَكَ مِن قَبۡلِهِۦ مِنَ ٱلۡقُرُونِ مَنۡ هُوَ أَشَدُّ مِنۡهُ قُوَّةٗ وَأَكۡثَرُ جَمۡعٗاۚ وَلَا يُسۡـَٔلُ عَن ذُنُوبِهِمُ ٱلۡمُجۡرِمُونَ٧٨ القصص

وئې ويل: له دې پرته بل څه نه دي چې ما ته راکړل شوی (مال او دولت) زما د هغې پوهې او هنر نتيجه ده چې زه ئې لرم، آيا په دې نه پوهېدو چې الله تر ده د مخه ډېر داسې خلك هلاك کړل چې زور ئې تر ده زيات او راټول کړی (مال او دولت) ئې تر ده ډېر وو؟ او له

مجرمانو د دوی د ګناهونو (د څرنګوالي او املونو) پوښتنه نه کېږي.

د قارون ځواب دا وو: څه چې لرم زما د هنر او کمال؛ او زیار او زحمت نتیجه ده، په لاس ته راوړو کې ئې نه د چا د احسان او پېرزویني مرهون او پوروړی یم او نه ئې چا ته په څه ورکولو مکلف!! الله تعالی ده او ده ته ورته مغرورو او بخیلو شتمنو ته په ځواب کې فرمایي: آیا نه پوهېږي چې تر ده د مخه مو داسي شتمن خلك هلاك کړل چې هم ئې ځواك او قوت تر ده زیات وو او هم ئې شتمنۍ، خپل قوت او شتمنیو مغرور کړي ول او غرور او بخل باعث شو چې د الله تعالی په سخت عذاب اخته شي، هغه مهال چې د الله تعالی عذاب پرې نازلېدو نو د ګناهونو (د څرنګوالي او املونو) پوښتنه نه ترې کېده، دا ورته نه ویل کېدل چې شتمني دي څنګه او له کوم هنر او کمال په استفادې سره او د کومي ګناه د ارتکاب له لاري تر لاسه کړه؟! له هر مجرم بډای سره به همدا معامله کېږي.

که کوم مؤمن او هدفمن شتمن غواړي په داسي برخي کې پانګونه وکړي چې هم الله تعالی ترې راضي شي، خپل ایماني مسئولیتونه أداء کړي او هم مناسبه او تر نورو برخو زیاته ګټه تر لاسه کړي؛ نو د معیاري تعلیمي مؤسساتو د جوړولو په برخه کې دي پانګونه وکړي؛ له لومړي ټولګي تر پوهنتون؛ له باکالوریا تر دکتورا پوري؛ داسي چې افغان محصلین د لوړو تحصیلاتو لپاره بهر ته په تګ مجبور نه شي. زوړ ناکام سیستم په بشپړه توګه په نوي رغنده إسلامي سیستم تعویض کړو؛ هم د مدرسو او هم د ښوونځیو؛ هم خصوصي او هم دولتي. په دې نوي تعلیمي نظام کې باید مکتب او مدرسه توحید شي، بېلوالی ئې بدي پایلي لري او تفرقه رامنځته کوي؛ دا بېلوالی په حقیقت کې د استعمارګرانو او د اسلام د کورنیو او بهرنیو دښمنانو له لوري پر افغان ملت او ټول اسلامي امت تپل شوی؛ د مدرسې فکري او اجتماعي جوړښت او درسي نصاب ئې داسي جوړ کړی چې طالب له لومړۍ ورځې د وظیفو په راټولولو او د بل دړي ته په ودرېدو عادت کړي او د ژوند تر پایه بل ته

محتاج وي؛ روزي ئې په جومات، امامت او أذان پوري تړلې وي؛ دين په جومات کې محصور وي او له حکومتولۍ او ټولنيزو چارو سره ئې اړيکي شلېدلې وي. د مدرسې په نصاب کې نه رياضي وي، نه تاريخ، جغرافيه او نور اجتماعي علوم، نه پښتو او فارسي، نه ليك او لوست ئې، د طالب ټول عمر په صرف، نحو، منطق، فلسفه، د فقهي څو ابتدائي کتابونه؛ هغه هم داسي چې طالب هغه برخي څه ناڅه په دقت او اهتمام سره لولي چې د امامت په وخت کې ورته ضرورت لري؛ لکه اودس، تيمم، غسل، حيض او نفاس؛ د درسونو په پاى کې چې د لويي دورې نوم ورکړى شوى؛ قرآن او حديث لولي خو هغه هم د تبرك لپاره؛ نه د زده کړې او تحقيق او په تفسير ئې د پوهېدو په موخه؛ له دې ناسم تفکير سره چې فقهاءو مور ته دين آسان کړى، فقهي احکام ئې له قرآن او حديث راايستلي؛ بايد په همدې اکتفاء وکړو؛ په قرآن او حديث پوهېدا نه زمور په وس پوره ده او نه د فقهي کتابونو په شتون کې ورته ضرورت لرو؛ د مدرسې په مقابل کې ئې داسي بېل تعليمي نظام او نصاب رامنځته کړ چې هم ئې نظم او ترتيب له مدرسې سره توپير لري، هم ئې نصاب او هم د فارغ شوو زده کوونکو د کار څرنګوالى او ساحه؛ له دې به والي، وزير، مدير، انجنير، ډاکټر او داسي څوك فارغېږي چې د هنر او کسب خاوند وي؛ او دا هغه څه دي چې د مدرسو په زاړه نصاب کې نه شته؛ دا په داسي حال کې چې امام احمد رحمه الله وايي: خلکو ته يوازي دين مه ښيئ؛ د دين تر څنګ يو کسب هم وروښيئ؛ چې کسب ئې د روزي د تأمين وسيله وي؛ که نه نو هغه به دين د روزي لپاره پلوري. يقيناً څوك چې د روزي لپاره حلال کسب ونه لري هم به دين د روزي لپاره پلوري او هم خپل عزت.

هغه مدرس چې د يوه مؤمن او اسلامپال انسان ماشوم زوى؛ مدرسې ته د راتګ له لومړۍ ورځې؛ په سؤال، د بل دړې ته په ودرېدو او د وظيفې په راټولولو ګماري او عادت کوي؛ هم د ده له ايمان او شخصيت سره ستر او د نه بخښلو ظلم کوي او هم ئې له پلار او کورنۍ

سره؛ آيا دا مدرس په دې نه پوهېږي چې په اسلام کې سؤال کول حرام دي، سؤالګر به د قيامت په ورځ د الله تعالی په وړاندې داسې ودرېږي چې پر مخ به ئې غوښه او پوستکی نه وي؛ يعنې په ګدائي او سؤال سره به ئې وقار او عزت رژېدلی وي. مسلمانان عزتمن، پر الله تعالی متوکل، له بنده مستغني او پتمن امام، داعي او خطيب ته ضرورت لري؛ او فقط همداسې امام او داعي کولی شي له مداهنت، وېرې او طمعې پرته د الله دين خلکو ته ورسوي او په جرأت سره له حق دفاع وکړي. نو زمونږ امام هم بايد د پتمن کسب خاوند وي او زمونږ طالب هم د علم تر څنګ يو کسب زده کړي.

د ښوونځيو د درسي نصاب لوی عيب دا دئ چې ديني برخه ئې ډېره محدوده او ابتدائي ده او دا هم تر نهم ټولګي پوري. او د مدرسو د نظام او نصاب ستر عيبونه دا دي: ۱- ماشوم له لومړی ورځي چې مدرسې ته ننوځي بايد هر ماښام د خلکو په کورونو وګرځي، دروازې وټکوي او د طالبانو او مدرسينو لپاره د وظيفې په نامه ډوډۍ راغونډه کړي؛ په داسې حال کې چې اسلام ګدايي تحريم کړې او رسول الله صلی الله عليه و سلم د سؤالګر په اړه فرمايي چې د قيامت په ورځ به د الله تعالی په وړاندې داسې حشر شي چې پر مخ به ئې غوښه او پوستکی نه وي؛ د رسول الله صلی الله عليه و سلم په وخت او خير القرون کې هيڅا دا کار نه دئ کړی، نه چا له خلکو وظيفې راټولې کړې او نه چا په أذان او امامت اجوره تر لاسه کړې. د مدرسو دا زور نظام د استعمارګرانو له لوري پر إسلامي هېوادو تحميل شوی؛ د دين، جومات، مدرس او امام د تحقير او سپکاوي په موخه. ۲- په نصاب کې ئې ترکيز پر صرف، نحو، منطق، فلسفه او څو ابتدايي فقهي کتابونو وو؛ پر فقه اکتفاء د دې نصاب أساس او بنسټ وو؛ قرآن او حديث له پامه غورځول شوی وو له دې غلط او ناسم تفکير سره چې فقهاءو مونږ ته دين آسان کړی، هغوی د قرآن او حديث په رڼا کې فقه تدوين کړې، مونږ په قرآن او حديث د پوهېدا جوګه نه يو، چا چې په قرآن او حديث د پوهېدو هڅه او

جسارت کړی؛ نو د ملا او مولوي له لوري رټل شوی او د وهابي او سلفي په نامه یاد شوی. عجیبه ده؛ د دې پر ځای چې ووایي: ما خپل مذهب ځکه غوره کړی او پر نورو مذاهبو مي ترجیح ورکړې چې هغه مي د قرآن او سنت مطابق موندلی او د خپل امام فقهي آراء مي داسي موندلي چې د نورو ائمه وو په پرتله د قرآن په آیتونو او د رسول الله صلی الله علیه و سلم په صحیح احادیثو ئې تر نورو زیات او په دقیقه توګه استناد کړی؛ بر عکس وایي: د وهابي او سلفي لومړۍ نښه دا ده چې د قرآن په آیتونو استناد کوي او دوهمه ئې دا ده چې پر احادیثو تمسك کوي!! رښتیا ئې ویلي چې جاهل دوست تر هوښیار دښمن زیات مضر وي.

- د تعلیم او تربیې برخي ته جدي پاملرنه، د تعلیمي مراکزو د پالني او ودي لپاره ضروري شرائط برابرول، داسي تعلیمي نصاب پلي کول چې زمور په ديني ارزښتونو ولاړ او د ولس ټولو علمي اړتیاوو ته ځواب ووایي؛ د هر اسلامي خوځښت او د هر اسلامي دولت له لومړنیو مهمو دندو دي. ټول باید دا ومنو چې افغانستان به یو تعلیمي نظام او واحد تعلیمي نصاب لري. داسي چې د ثانوي دورې تر پای پورې به عام تعلیمي نصاب پلي کېږي چې په دې کې به د ديني او ورځني اجتماعي علومو دومره برخه شامله وي چې هر مسلمان ورته ضرورت لري.
- د واحد تعلیمي نصاب موخه دا ده چې له یوې خوا د فکري تشتت او مذهبي اختلافاتو مخنیوی وشي، له بلې خوا ځوان نسل په ديني علومو سمبال او د اوسني عصر له علمي زېرمو د اعظمي استفادې جوګه شي.
- د تخصص دوره به د ثانوي دورې په پای کې پیل کېږي.
- د تعلیمي مراکزو تأسیس او اداره د دولت دنده ده.
- دولت کولی شي د هېواد اتباعو ته د خصوصي تعلیمي مؤسساتو د جوړولو اجازه ورکړي، مشروط په دې چې د هېواد رسمي تعلیمي نصاب پلي کړي.
- هیڅ بهرنی هېواد په افغانستان کې د افغانانو لپاره تعلیمي مؤسسات نه شي جوړولی.

• د لوړو زده کړو په دولتي مؤسساتو کې د شاملېدو مقررات بايد په ځانګړي قانون کې توضيح شي، مقررات بايد داسي وي چې له مخې ئې يوازي هغه څوک بريالی وګڼل شي چې د آزموينې نمرې ئې له ٤٠٪ زياتې وي، د بريا د نمرې په سلو کې دېرش ۳۰٪ د کانکور د آزموينې نتائج او په سلو کې اويا ۷۰٪ ئې د ثانوي دورې د ټولو آزموينو د نتائجو اوسط وي؛ يوازي د کانکور پر نتائجو اکتفاء او له مخې ئې بريالی او ناکام ټاکل؛ هغو ته مجال په لاس ورکوي چې د کال په اوږدو کې ئې نه درسونو ته اعتناء کړې او نه ئې په آزموينو کې ښې نمرې په برخه شوې؛ د کانکور ورځې چانس ته منتظر دئ؛ نو يا په واسطه، سپارښتني او رشوت بريالی وګڼل شي او يا له همداسي لارو د کانکور سوالونه تر لاسه کړي، ځوابونه له بل زده کړې او په زړه پوري نمرې ئې په برخه شي. اسلام هغه معامله تحريموي چې بنسټ ئې پر چانس، تصادف، بخت آزموينه او قمار ولاړ وي. اسلام وايي: هر چا ته به د خپل کسب او کار مطابق برخه وي؛ که دا ښځه وي او که نارينه:

... لِلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِمَّا اكْتَسَبُوا وَلِلنِّسَاءِ نَصِيبٌ مِمَّا اكْتَسَبْنَ... ﴿٣٢﴾ النساء

... نارينه وو ته د خپلو لاسته راوړنو ځانګړې برخه ده او ښځو ته د خپلو لاسته راوړنو ځانګړې برخه ...

د اسلامي حکومت اساسي دندي

او د ولس په وړاندي ئې مسئوليتونه

قرآن له يوې خوا مؤمنانو ته لارښوونه کوي چې له حق دفاع وکړي، د مظلوم په څنګ کې ودرېږي او د خپل حق په تر لاسه کولو کې د هغه مرسته وکړي؛ له بلې خوا حکومت، حکامو او د ټولنې د چارو متوليانو

ته امر کوي چې د خلکو تر منځ په ټولو منازعاتو کې عادلانه پرېکړې وکړي او له ظالمانو د مظلومانو ټول حقوق واخلي او دوی ته ئې وسپاري؛ کوم واکمن چې د الله د دین مطابق حکم ونه کړي؛ ظالم، فاسق او کافر دئ؛ مظلومانو ته ئې دا حق ورکړی چې د ظالمانو او تیري کوونکو په وړاندي له ځان او خپل حق دفاع وکړي؛ او که دوی دې دفاع ته ملا وتړي نو الله تعالی به ئې حتماً مرسته کوي؛ او که دا کار ونه کړي؛ نو ټول معابد او مساجد به ئې وران شي.

أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَٰتَلُونَ بِأَنَّهُمۡ ظُلِمُواْۚ وَإِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ نَصۡرِهِمۡ لَقَدِيرٌ ٣٩ ٱلَّذِينَ أُخۡرِجُواْ مِن دِيَٰرِهِم بِغَيۡرِ حَقٍّ إِلَّآ أَن يَقُولُواْ رَبُّنَا ٱللَّهُۗ وَلَوۡلَا دَفۡعُ ٱللَّهِ ٱلنَّاسَ بَعۡضَهُم بِبَعۡضٖ لَّهُدِّمَتۡ صَوَٰمِعُ وَبِيَعٞ وَصَلَوَٰتٞ وَمَسَٰجِدُ يُذۡكَرُ فِيهَا ٱسۡمُ ٱللَّهِ كَثِيرٗاۗ وَلَيَنصُرَنَّ ٱللَّهُ مَن يَنصُرُهُۥٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ ٤٠ ٱلَّذِينَ إِن مَّكَّنَّٰهُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ أَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُاْ ٱلزَّكَوٰةَ وَأَمَرُواْ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَنَهَوۡاْ عَنِ ٱلۡمُنكَرِۗ وَلِلَّهِ عَٰقِبَةُ ٱلۡأُمُورِ ٤١ الحج

هغو ته اجازه ورکړی شوې چې په خلاف ئې جنګ کېږي، د دې لپاره چې پر هغوی ظلم شوی او یقیناً چې الله د دوی پر نصرت او بریا ښه توانا دئ. هغه چې له کوم حق پرته له خپلو کورونو ایستل شوي، (له دې پرته ئې کوم جرم نه وو چې) ویل ئې: زموږ رب الله دئ!! او که د خلکو ځینې په ځینو نورو سره د دفع کولو الهي سنت نه وی نو حتماً به صوامع (د رهبانانو عبادت ځایونه)، بیع (د نصرانیانو معبدونه)، صلوات (د یهودو معبدونه) او مساجد (د مسلمانانو جوماتونه) چې د الله نوم په کې زیات زیات یادېږي ټول وران شوي وو؛ او الله به هرو مرو هغو ته نصرت ورکوي چې د ده ملتیا کوي، یقیناً چې الله عزټمن ځواکمن دئ. هغه چې که په زمکې کې تمکین ورکړو، لمونځ قائموي، زکات ورکوي، په معروف ګمارل او له منکراتو مخنیوی کوي او د چارو پایله د

الله په واك كې ده.

الله تعالى د مظلومو باايمانه مجاهدينو جهاد داسي ګڼي لكه څوك چې د ده ملتيا كوي، يعني د ظالمانو په ضد جنګ د الله تعالى له لوري جنګ دئ او په دې جنګ كې مجاهد د الله تعالى داسي سپاهي دئ چې غواړي د خپل رب ملتيا وكړي او د هغه چا په ضد وجنګېږي چې الله تعالى د هغه د ځپلو او ماتولو اراده كړې.

د الهي نصرت او تأييد دا وعده له هغو مجاهدينو سره شوې چې كه الله تعالى هغوى ته په زمكې كې تمكين وركړي، نو لمونځ قائموي، زكات وركوي، په معروف ګمارل او له منكراتو مخنيوى كوي، يعني د دوى لومړنى كار د لمانځه قائمول دي، له دې وينا په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې په اسلامي نظام كې د واكدارانو لومړنۍ او تر ټولو ستره وظيفه د لمونځ قائمول دي. د يوې غوره اسلامي ټولنې په جوړولو كې تر ټولو زيات اغېزمن كار، د لمانځه قائمول دي. كه اسلامي حكومت په دې وتوانېدو چې جوماتونه له معنوي لحاظه آباد كړي، د جومات امامت صالح، متقي او په دين پوه داعي ته وسپاري، خلك له جومات سره عادت كړي او جومات چې د خلكو په فكري، معنوي، اخلاقي، اجتماعي او سياسي روزنې كې كوم اغېزمن كاركولى شي هغه تر سره شي، كولى شي د ټولنې ټولې ناخوالې سمې او ټول مشكلات حل كړي. دا په دې شرط چې د لمانځه تر څنګ له شتمنو زكات تر لاسه كړي او په خپلو شرعي مواردو كې ئې ولګوي، سېګنې ته وده وركړي او د منكراتو مخنيوى وكړي.

د دې لارښوونو په پاى كې ويل شوي چې د چارو پايله الله تعالى ټاكي، دا پرېكړه د ده له لوري كېږي چې څوك له كوم برخليك سره مخامخ كړي او د چا پر كارونو كوم نتائج مرتب كړي، د الله د لاري مجاهدين بايد ډاډه او مطمئن وي چې هلې ځلې او قربانۍ ئې هدر نه ځي او بې نتيجې نه پاته كېږي.

اسلامي حکومت د مظلومانو مدافع او د فقيرانو متکفل وي

د اسلام له نظره دا د حکومت او واکمنو دنده او شرعي مکلفيت دئ چې د مظلومانو مدافع او د فقيرانو متکفل وي. دا د واکمنو درېيمه مهمه دنده ګڼي چې هم ئې له ظلم وژغوري او هم له فقر او مسکنت؛ عدالت او برابري تأمين کړي؛ د ټولني له شتمنو د زکات په نامه لازم او ټاکلی مقدار واخلي او د غريبانو ستونزي پرې حل کړي؛ ولس بايد پوه کړي چې الله تعالی د دوی په شتمنيو او مالونو کې داسي (زکات) پرې فرض کړی چې له شتمنو به ئې اخيستل کېږي او فقيرانو ته به ئې ورکول کېږي؛ يعني د زکات راغونډول او پر فقيرانو وېشل ئې د اسلامي حکومت درېيمه اساسي دنده ده؛ همدا د اسلامي اقتصادي نظام اساسي بنسټ دئ؛ هر هغه اقتصادي سيستم چې پر دې بنسټ نه وي ولاړ؛ غير اسلامي نظام دئ.

دې روايت ته لږ ځير شئ:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّه عَنْهُمَا: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم بَعَثَ مُعَاذًا رضی الله عنه إِلَى الْيَمَنِ، فَقَالَ: «ادْعُهُمْ إِلَى شَهَادَةِ أَنْ لا إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَأَنِّي رَسُولُ اللَّهِ، فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لِذَلِكَ، فَأَعْلِمْهُمْ أَنَّ اللَّهَ قَدِ افْتَرَضَ عَلَيْهِمْ خَمْسَ صَلَوَاتٍ فِي كُلِّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ، فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لِذَلِكَ، فَأَعْلِمْهُمْ أَنَّ اللَّهَ افْتَرَضَ عَلَيْهِمْ صَدَقَةً فِي أَمْوَالِهِمْ، تُؤْخَذُ مِنْ أَغْنِيَائِهِمْ وَتُرَدُّ عَلَى فُقَرَائِهِمْ». (بخاری: ۱۳۹۵)

له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چې نبي صلی الله عليه و سلم معاذ رضي الله عنه يمن ته ولېږو او وئې فرمايل: (هغوی (يمنيان) دې ګواهي ورکولو ته راوبله چې له الله پرته بل معبود نه شته؛ او دا چې زه د الله رسول يم، که هغوی دا ومنله نو خبر ئې کړه چې الله تعالی پر دوی په هري شپې او ورځې کې پنځه لمونځونه فرض کړي، که دا ئې

ومنله نو خبر ئې کړه چې الله تعالی په خپلو مالونو کې داسې صدقه (زکات) پرې فرض کړی چې د دوی له شتمنو اخیستل کېږي او فقیرانو ته ئې ورکول کېږي.

دا حدیث مورږ ته ښیي چې په اسلامي نظام کې؛ د ولس په وړاندې؛ د حکومت او چارواکو مهم مسئولیتونه او دندې کومې دي او د اهمیت ترتیب او تسلسل ئې څنګه دئ؛ د دې حدیث د لارښونو په رڼا کې په څرګنده توګه ګورو چې د حکومت او چارواکو مسئولیتونه په دې توګه دي:

۱. توحید ته د خلکو بلل؛ په دې ئې پوهول چې له الله پرته بل معبود نه شته؛ او دا چې محمد د الله رسول دئ.

۲. له دې وروسته لومړی ستر او مهم کار چې حکومت باید تر ټولو زیات او په لومړي سر کې ورته اهتمام ولري؛ د لمونځ اقامه او خلك په دې پوهول چې الله تعالی پر دوی په هري شپې او ورځې کې پنځه لمونځونه فرض کړي، د دغې فریضې اداء کولو ته خلك چمتو کول.

۳. درېیمه مهمه دنده ئې دا ده چې له فقر او مسکنت سره مقابله وکړي؛ فقیران له لوږې او فقر وژغوري؛ هغه هم په دې توګه چې خلکو ته دا لارښوونه وکړي: الله تعالی د دوی په شتمنیو او مالونو کې داسې (زکات) پرې فرض کړی چې له شتمنو به ئې اخیستل کېږي او فقیرانو ته به ئې ورکول کېږي؛ یعني د زکات راغونډول او پر فقیرانو وېشل ئې د اسلامي حکومت درېیمه اساسي دنده ده.

٤. د اسلامي نظام چارواکي مکلف شوي چې له خلکو به یوازې هغه څه تر لاسه کوي چې الله تعالی پرې فرض کړي؛ نه دا چې د خپلې خوښې مالیات پرې وضع کړي؛ او څه او څومره چې زړه ئې غواړي او خوښ ئې شي؛ ترې وائې خلي؛ همغسې لکه چې غیر اسلامي حکومتونه او حکام ئې کوي؛ له خلکو په مختلفو نومونو او څومره چې ئې خوښه وي مالیات، محصولات او ګمرکات اخلي؛ هغه هم نه یوازې له شتمنو بلکې تر دوی وړاندې او زیات له عام ولس او له غیر شتمنو وګړو؛ خو د

فقیرانو په وړاندي او له فقر او احتیاج د دوی د ژغورلو په اړه نه د مسئولیت احساس کوي او نه دا خپله دنده او وظیفه ګڼي؛ نن چې له خلکو د ګمرك، کستم، مالیه او په نورو نومونو څه اخیستل کېږي؛ په حقیقت کې له نادارو او اړمنو اخیستل کېږي؛ په اسلام کې داسي مالیات نه شته؛ دا حدیث مور ته همدا لارښوونه کوي.

۵. له ظلم او تېري ډډه کول، د مظلوم له ښېراوو ځان ساتل؛ او په خپلو تصرفاتو او اجراءاتو کې تل او په دقت سره دا په پام کې لرل چې د مظلوم او الله تعالی تر منځ هیڅ حجاب نه شته.

مور داسي حکومتونه او حکام هم ولیدل چې وایي: زمور دنده د امنیت تأمینول دي د ولس د رزق او روزي ضامن نه یو؛ روزي ئې د خدای په لاس کې ده!! دا غلطه خبره یوازي د هغه چا له خولې وتلی شي چې نه له ديني لارښوونو او ارزښتونو خبر وي او نه د اسلام له نظره د واکمنو او امراءو له مسئولیتونو؛ قرآن دا د کافرانو وینا ګڼي او فرمایي:

وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ أَنْفِقُوا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللَّهُ قَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِلَّذِينَ آمَنُوا أَنُطْعِمُ مَنْ لَوْ يَشَاءُ اللَّهُ أَطْعَمَهُ إِنْ أَنْتُمْ إِلا فِي ضَلالٍ مُبِينٍ﴿۴۷﴾ يس

او کله چې ورته وویل شي: له هغه څه ئې انفاق کړئ چې الله درروزي کړي؛ هغه چې کفر ئې کړی هغو ته چې ایمان ئې راوړی وایي: آیا هغه چا ته خواړه ورکړو چې که الله غوښتی په خپله به ئې خواړه ورکړي وو؟! تاسو نه یئ مګر په څرګندي تېروتني کې.

نن چې تاسو واکمنو او شتمنو ته ووایئ: د فقیرانو او نېستمنو مشکل حل کړئ؛ نو همدا ځواب درکوي؛ د فقر مسئولیت الله تعالی ته راجع کوي او ځان برئ او غیر مسئول ګڼي!! دا آیتونه مور ته وایي: پر قیامت د عدم باور لومړۍ نتیجه دا ده چې منکرین ئې د سپېڅلو اهدافو لپاره مالي قربانۍ او له مظلومانو او حاجتمنو سره مرستي ته نه چمتو کېږي او د داسي انفاق لپاره کومه توجیه نه مومي، نه یوازي د قربانۍ جذبه او له همنوع سره زړه سوی ئې ځپي بلکې دا کار ورته ناسم

او د عقل خلاف برېښي، دا آيت په دې اړه وايي: کله چې مؤمنان دوی ته ووايي: له هغه څه ئې انفاق کړئ چې الله درروزي کړي؛ ورته وايي: آيا هغه چا ته خواړه ورکړو چې که الله غوښتی په خپله به ئې خواړه ورکړي وو؟! دا ستاسو تېروتنه ده چې له موږ داسي مطالبه لرئ، چا ته چې خدای څه نه دي ورکړي موږ ئې ولې ورکړو؟! قيامت او له بندګانو سره الهي محاسبه نه شته.

نن چې د ګمرك په نامه يا په بل هر نامه؛ کسټم، کميشن، ماليه او محصول؛ هر څه اخيستل کېږي؛ په حقيقت کې له نادارو او اړمنو اخيستل کېږي؛ په اسلام کې داسي ماليات نه شته؛ دا حديث موږ ته همدا لارښوونه کوي.

له دې حديث دا هم په څرګنده توګه معلومېږي چې د مسلمان په مال کې له زکات پرته بل داسي حق نه شته چې حکومت ئې د اخيستلو واك او حق ولري؛ په مال کې د انسان ټولې شتمنۍ شاملي دي؛ د کر زمکه، باغ، څاروي، دوکان، فابريکه، نقده شتمني (درهم او دينار...) او د عوائدو نور مدارك؛ په دې ټولو کې زکات (لسمه، شلمه او څلوېښتمه ده، په غنيمت او هغه خزانه او معدن کې چې د چا په زمکې کې پيدا کېږي پنځمه ده).

غني او شتمن هم تعريف شوی؛ هغه څوك پر زکات مکلف دئ چې تر خپل ضرورت زيات د ۸۵ ګرامه سرو زرو په اندازه شتمني ولري؛ د څارويو، د زمکو او باغونو د حاصلاتو هغه مقدار هم ټاکل شوی چې زکات پرې فرض کېږي.

له کار ځيو ماليه، د برېښنا لوړ بل او جريمه

له کور، دکان، غرفې، لاسي کراچۍ، کتنځي، د ترکاڼ، پښ، درزي او د نورو کسبه کارانو له کار ځيو ماليه اخيستل او له ګاډو د لويو لارو په اوږدو کې ځای ځای کميشن اخيستل؛ هيڅ شرعي مبناء او مجوز نه لري. دا له هغو پاټکونو هيڅ توپير نه لري چې ځينو وسله والو به د لويو

لارو په اوږدو کې پوستې جوړولې او له ګاډو به ئې پیسې اخیستلې.

د برق غیر عادلانه نرخ؛ ځینو ته په یوه بیع او ځینو ته په بله بیع پلورل؛ هیڅ شرعي او عقلي توجیه نه لري؛ اصولاً باید د نورو توکیو په څیر ثابت ارزښت او قیمت ولري؛ نه دا چې زیات مصرفوونکي ته ئې قیمت لوړ کړی شي؛ باید د هغو لپاره د برق قیمت ټیټ کړی شي چې په تولیدي چارو بوخت دي؛ دا هم د صنعت په ودي کې مرسته کوي او هم ولس ته صنعتي توکي په ارزانه بیع په لاس ورځي؛ همدا راز دا هم قطعاً ناجائز او سود ته ورته عمل دئ چې که څوك په خپل ثابت وخت د برق بل تحویل نه کړي نو جریمه شي!! دا کار هغه حکومتونه او واکمن کوي چې نه دین لري، نه حلال او حرام پېژني، نه پر ولس ترحم او زړه سوی لري او نه د فقیرانو په وړاندي د مسئولیت احساس کوي؛ برق، اوبه، زمکه.... ملي شتمنۍ دي، ټول ولس او د هېواد ټول اتباع په کې شریك دي؛ فقیر او نېستمن ئې لومړي مستحقین دي؛ هغوی ته باید وړیا ورکړی شي؛ نه دا چې د بل په اداء کولو کې د ځنډ او تأخیر له کبله جریمه شي!! په خپل ثابت وخت کې د بل اداء کولو لپاره باید نوري مناسبي لاري ولټول شي؛ نه زور، زیاتی او حرامي لاري! په اسلامي شریعت کې دا حرام دي چې د ګټې په شرط چا ته قرض ورکړی شي یا د قرض په اداء کولو کې د ځنډ له کبله ګټه اضافه کړی شي؛ د برق بِل په اصل کې د پور سند دئ؛ هر هغه قرض او پور چې د وخت په تېرېدو سره څه پرې علاوه شي؛ همدا سود دئ او قرآن داسې سود د (أَضْعَٰفًا مُّضَٰعَفَةً) په نامه یاد کړی او په اړه ئې فرمایي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَأۡكُلُواْ ٱلرِّبَوٰٓاْ أَضۡعَٰفٗا مُّضَٰعَفَةٗۖ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ١٣٠ وَٱتَّقُواْ ٱلنَّارَ ٱلَّتِيٓ أُعِدَّتۡ لِلۡكَٰفِرِينَ ١٣١ آل عمران

اې مؤمنانو! سود په څو څو ځله زیاتوالي سره مه خورئ او له الله ووېرېږئ چې بریالي شئ. او له هغه اور ځان وساتئ چې د کافرانو لپاره تیار کړی شوی.

د دې آيتونو په ارتباط دوه خبرې په پام کې ولرئ: ۱- د سود تر ټولو بد ډول ئې هغه دئ چې دلته د مضاعف سود په نامه یاد شوی؛ او هغه دا چې سود خور له خپل پوروړي د هر کال په تېرېدو سره بیا بیا سود اخلي؛ ۲- دلته د سود پایله داسي اور ګڼل شوی چې په اصل کې د کافرانو لپاره تیار کړی شوی. له دې معلومېږي چې داسي سود یوازي یو کافر او له الله تعالی منکر بې رحم انسان اخیستلی شي؛ نه یو مؤمن بنده؛ او د الله په دین کې ئې سزا هم دومره سترە ده لکه د کافر سزا!!

که د شوروي ملحد او غیر دیني حکومت کولی شو د لوی شوروي ټولو اتباعو ته وړیا کور، کالي، ډوډۍ، برق، اوبه، دواء، ... ورکړي؛ د اسلام په نامه جوړ شوی حکومت ولي دا کار نه شي کولی؛ په داسي حال کې چې د اسلامي نظام اقتصادي بنسټ دا دئ چې د اغنیاءو په شتمنیو کې د محرومانو ثابت او مسلم حق دئ او حکومت ګمارل شوی چې دا حق به تر لاسه کوي او د نېستمنو او محرومانو مالي ستونزي به حل کوي.

ځینې چې یا له اسلامي لارښوونو نه دي خبر او یا سرکاري مفتیان دي او غواړي د واکمنو غیر اسلامي تصرفات توجیه او جائز ثابت کړي او له زکات پرته په بل نامه هم له خلکو د مالیې او محصول اخیستل جائز وګڼي نو د خراج او جزیې یادونه کوي؛ په داسي حال کې چې خراج او جزیه د زکات او عشر ځای ناستي دي چې د اسلامي هېواد له غیر مُسْلِمو هستوګنو اخیستل کېږي؛ خراج له هغو زمکو اخیستل کېږي چې مسلمانانو فتح کړې او هغه ئې پرې ګمارلې چې د زمکو مخکیني خاوندان وو او له ایمان راوړلو ئې ډډه کړې؛ دوی به ئې کري او د حاصلاتو یوه برخه به ورکول کېږي؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم د خیبر زمکو په اړه همداسي وکړل. جزیه چې د زکات ځای ناستې ګڼل کېږي له ذمیانو اخیستل کېږي؛ عمر رضي الله عنه یو یهودي ذمي له دې کبله چې مسکین او عمر خوږلی وو نه یوازي ترې معاف کړ بلکې له بیت المال ئې هغه ته میاشتنۍ مرسته وټاکله.

د حدیث بله مهمه برخه د زکات په ارتباط دا لارښوونه زمونږ مخي

ته ږدي چې د اسلامي حکومت چارواکي به له ظلم او تېري ډډه کوي، د مظلوم له ښېراوو به ځان ساتي؛ او په خپلو تصرفاتو او اجراءاتو کې به تل او په دقت سره دا په پام کې لري چې د مظلوم او الله تعالی تر منځ هیڅ حجاب نه شته.

په دې روایاتو کې دا وضاحت نه دئ شوی چې د زکات اموال به په اړوند سیمې کې پر فقراءو وېشل کېږي که بلې سیمې ته ئې انتقال او پر نورو فقیرانو ئې وېشل هم جائز دي. د روایت له فحوی او د رسول الله صلی الله علیه و سلم له سنت او د صحابه وو له منهج معلومېږي چې د زکات لومړني مستحقین د اړوند سیمې فقیران دي، د روایت الفاظ هم وایي: د دوی له شتمنو اخیستل کېږي او د دوی فقیرانو ته ورکول کېږي، خو په دې اړه او د نورو تصرفاتو په اړه د مسلمانانو امیر د څو ملحوظاتو په مراعات سره کولی شي او دا صلاحیت لري چې د ضرورت په صورت کې د زکات اموال بلې سیمې ته انتقال او پر نورو فقیرانو او نورو مواردو کې مصرف شي: ۱- له ملت سره مشوره او د دوی موافقه او رضایت، ۲- د عدالت مراعات، ۳- او د مصارفو موارد د قرآن له لارښوونو سره سم ترتیب او تنظیم شي. دې ته مو هم باید پام وي چې د زکات مستحقین یوازې فقیران نه دي، قرآن د زکات د مصرف موارد موږ ته جوت کړي، د التوبه سورې په ٦۰ آیت کې د زکات د مصرف موارد او هغه وګړي معرفي شوي چې د زکات مستحقین دي:

۱. فقیران: هغه چې هیڅ نه لري،
۲. مسکینان: هغه چې څه لري خو ورته کفایت نه کوي،
۳. عاملین: د زکات اړوند مأمورین،
٤. مؤلفة القلوب: هغه چې په څه مرستو سره ئې د اسلام لوري او د مسلمانانو ملګرتیا ته د دوی راغب کول مفید او ګټور وي،
۵. د غلامانو آزادول؛ او له هغه غلام سره مرسته کول چې غواړي له مالك سره د مکاتبې له لارې خپله آزادي وپېري،
٦. د پورونو ژغورل،

۷. د الله په لار کې: په جهادي امورو او په عام المنفعه چارو کې،
۸. او له هغو مسافرانو سره مرسته چې محتاج شوي وي که څه هم غني وي.

دې ته په پام سره چې اسلام یوازې په توحید، لمونځ او زکات کې نه خلاصه کېږي؛ نور عقائد، فرائض او احکام هم شته، لکه په آخرت ایمان، په کتابونو ایمان، په قضاء او قدر ایمان، روژه، حج، د حق لوري ته بلنه، امر بالمعروف، نهي عن المنکر، جهاد، د مظلوم مرسته او د ظالم مقابله... نو په یقین سره ویلی شو چې په دې روایت کې د هغو لارښوونو یوازې یوه وړه برخه ذکر شوې چې رسول الله صلی الله علیه و سلم به معاذ رضي الله عنه ته کړې وي، د نورو لارښوونو تر څنګ به ئې هغه ته دغه لارښوونې هم کړې وي چې په دې روایت کې ورته اشاره شوې.

عمر بن عبد العزیز ولي د عمر ثاني په نامه یاد شو؟

د عمر بن عبد العزیز له نامه سره ډېر آشنا دي؛ ډېر ئې د عمر ثاني په نامه ستایي؛ خو لږ پوهېږي چې دی ولي د عادل خلیفه او حتی پنځم خلیفه په نامه یاد شوی؛ څه ئې کړي چې دا نېك نوم ترې پاته شوی او تر ننه ئې مسلمانان ستایي؟ هغه د اموي قبیلې په واکمنۍ کې اتم خلیفه وو؛ مخکینیو ئې خلافت په ملوکیت بدل او موروثي او قبیلوي کړ؛ د امیر انتخاب ئې له مسجد قصرونو ته انتقال کړ، د دولت مهم ارکان او والیان ئې د همدې یوې قبیلې ول، هغه شورایي او پر عدالت او برابرۍ ولاړ نظام ئې له منځه یووړ چې د اسلامي خلافت اساسي بنسټونه دي، دربار له خپلوانو، غوړه مالانو، مداحانو او شاعرانو ډك او په عیاشي او فساد کې غرق شو، صالح، اسلام ته ژمن او د امت په درد دردمن شخصیتونه یا له دې کبله طرد او منزوي کړی شول چې د واکمنو د عیاشیو او ناروا تصرفاتو په وړاندي خنډ کېدل او یا د دې لپاره چې د واکمن د کورنۍ او قبیلې له ډلې نه وو، د درباریانو د معاشاتو او امتیازاتو لګښتونه دومره لوړ وو چې پوره کول ئې له دې پرته بل بدیل نه درلود چې پر

خلکو ظالمانه او د اسلام خلاف مالیات او ټکسونه وضع شي؛ د زکات هغه نظام چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم په وخت کې پلي او د څلورو خلفاءو په خلافت کې په کلکه مراعات شو؛ له منځه ولاړ؛ د جاهلیت د دور ظالمانه مالیات او ټکسونه بیا رائج شول، له هر تاجر، بزګر، کسبګر، هټۍ وال، پلورونکي، پېرونکي، کور، زمکه، بڼ او .. د حکامو د خوښي مالیات او ټکسونه اخیستل کېدل؛ په همدغسي حالت کې عمر بن عبد العزیز راڅرګند شو، لومړی د مدینې والي او بیا په شام کې خلیفه شو؛ په مدینه کې ئې ډېر څه زده او ښه تجربه کسب کړه، امویان او مشران ئې په شام کې وو، په مدینه کې د دوی داسي څوک نه وو چې د ده مخي ته خنډ شي، په مدینه کې ئې د خلافت د دور حالت اعاده کولو هڅه وکړه، د مدینې له اغېزمنو شخصیتونو ئې ځان ته شوری جوړه کړه، په هر څه کې ئې د قرآن او سنت مطابق عمل کول پیل کړل، ظالمانه مالیات ئې له منځه یووړل، د رسول الله صلی الله علیه و سلم له قبیلې بني هاشم او د مدینې له انصارو سره ئې د بشپړ درناوي او احترام لار غوره کړه، دومره چې خپلو محافظینو ته ئې امر وکړ؛ دوی به ما ته د راتګ په وخت کې په دروازه کې هیڅ نه ځنډول کېږي؛ دا هغه څه وو چې له ده سره ئې د مفسدو امويانو واکمنو کینه او دښمني راپاروله؛ په شام کې دار الخلافه ته ئې د ده په اړه غلط او پاروونکي لیکونه او پیغامونه لېږل؛ تر هغه چې له ولایت عزل او شام ته وغوښتل شو؛ لا ډېره موده نه وه تېره شوې چې د خلیفه په توګه غوره شو؛ په داسي حال کې چې نه ئې د دې مقام تر لاسه کول غوښتل او نه ئې په دې اړه کومه هڅه او سعي کړې؛ بس الله تعالی داسي شرائط برابر کړل چې د مخکیني خلیفه مقام د هغه د وفات له کبله داسي تش پاته شي چې له عمر بن عبد العزیز پرته په بل چا نه شو ډکېدلی. د مخالفینو هغه مکر او توطئه چې دی ئې د مدیني له ولایت عزل کړ؛ معکوسه نتیجه ورکړه او د ده په خلافت منتج شوه. ده ته په فساد او ظلم لړلی حکومت په میراث ورسېدو؛ او له سخت او ستر آزمېښت سره مخامخ

شو؛ خو د الله تعالى په مرسته بريالى او سرلوړى ترې ووت؛ دومره چې ټول امت ئې د څلورو راشدو خلفاءو په څنګ کې د عمر ثاني په نامه يادوي.

د دربار تصفيه، د صالح او اهل شخصيتونو شورى رامنځته کول، د درباريانو او نازولو مهارول، د دوى فوق العاده معاشات او امتيازات حذفول، له غاصبينو سره محاسبه، د مظلومانو حق ترې اخيستل، ظالمانه ماليات او ټکسونه له منځه وړل، د خپلوې او قبيلوي اړيکو له مخې ټاکنې، ناکاره او نااهلو ته پر صالح او اهل شخصيتونو ترجيح پاى ته رسول؛ او دا په هر څه کې کوږ شوى نظام سمول او د خلفاء راشدينو منهج ته ئې ستنول؛ ډېر دروند کار وو؛ چې تر سره کول ئې د عمر بن عبد العزيز په څېر متقي، مصمم او باهمت شخصيت ته ضرورت درلود؛ الله تعالى په ټولو دغو سترو سترو کارونو کې بريالى او موفق کړ؛ او دا ځکه چې دا د الله تعالى وعده ده: څوك چې له الله وېرېږي؛ له کړاوونو د نجات او وتلو لار به ورته پرانيزي، او له داسي لاري به رزق او روزي ورکړي چې ګمان ئې هم نه کوي؛ او څوك چې پر الله توکل وکړي نو هغه ورته کافي دئ... څوك چې د تقوى لار غوره کړي؛ الله تعالى به سخت کارونه ورته آسان او سهل کړي:

.... وَمَن يَتَّقِ ٱللَّهَ يَجۡعَل لَّهُۥ مَخۡرَجٗا ۝٢ وَيَرۡزُقۡهُ مِنۡ حَيۡثُ لَا يَحۡتَسِبُۚ وَمَن يَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱللَّهِ فَهُوَ حَسۡبُهُۥٓۚ.... ...وَمَن يَتَّقِ ٱللَّهَ يَجۡعَل لَّهُۥ مِنۡ أَمۡرِهِۦ يُسۡرٗا ۝٤ الطلاق

دا ستر او عظيم شخصيت په نژدې دوه کلونو او پنځه مياشتو کې دومره ستر ستر کارونه وکړل چې تر قيامت پورې به ئې خلك يادوي او دى به پرې ستايي. د اسلام کورنۍ دښمنان او د لسټوني ماران وتوانېدل چې د يوه ذليل انسان په استخدام سره هغه مسموم کړي او امت له داسي ستر محسن محروم کړي. إنا لله و إنا إليه راجعون.

کله چې ځواکمنو اموي امراءو د ده له خلافت سره توافق وکړ؛ او

خبره د ولس په وړاندي د دې پرېکړې اعلان ته ورسېده؛ هغه منبر ته پاڅېدو او په خپلې لومړۍ خطبې کې ئې مسلمانانو ته وويل:

«أيها الناس، إنى قد ابتُليت بهذا الأمر عن غير رأى كان منى فيه، ولا طلبة له، ولا مشورة من المسلمين، وإنى قد خلعت ما فى أعناقكم من بيعتى، فاختاروا لأنفسكم.»

اې خلکو! زه په دې کار وآزمويل شوم؛ پرته له دې چې زما رأى په کې شامله وي، او يا ئې زما غوښتنه، او يا د مسلمانانو مشوره، او زه هغه بيعت فسخ کوم چې زما په اړه پر تاسو لازم دئ، نو ځان ته په خپله خوښ غوره کړئ.

خلکو په يوه غږ نعرې کړې: اې امير المؤمنين! ته مو غوره کړى يې او دربانديې راضي يو. نو زمور چاري له نېك مرغۍ او برکت سره سمبال کړه.

له دې روايتونو د ده عظمت او د غير اسلامي مالياې او ټکس په اړه د ده تګلاره درك کولى شئ:

عَنْ كَرِيزِ بْنِ سُلَيْمَانَ أَنَّ عُمَرَ بْنَ عَبْدِ الْعَزِيزِ كَتَبَ إِلَى عَامِلِهِ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَوْنٍ عَلَى فِلَسْطِينَ «أَنِ ارْكَبْ إِلَى الْبَيْتِ الَّذِى يُقَالُ لَهُ الْمَكْسُ فَاهْدِمْهُ، ثُمَّ احْمِلْهُ إِلَى الْبَحْرِ فَانْسِفْهُ فِى الْيَمِّ نَسْفًا» حلية الاولياء

له کريز بن سليمان روايت دئ چې عمر بن عبد العزيز په فلسطين کې خپل عامل (مدير) عبد الله بن عون ته وليکل: د هغه کور لوري ته سور ولاړ شه چې مکس ورته ويل کېږي؛ نو وران ئې کړه بيا ئې سمندر ته يوسه او د سمندر اوبو کې ئې خوره وره وشينده.

گورئ چې عمر بن عبد العزيز؛ هغه ستر شخصيت چې د خپل عدل له امله د ثاني عمر په نامه پېژندل شوى؛ د مکس (ماليه او ټکس) په اړه څومره جدي وو؛ د ټکس او مالياې دفتر په ورانولو اکتفاء نه کوي بلکې امر کوي چې خاوري ئې په سمندر کې وشيندي؛ او په دې سره ئې

دا ورانول او خاوري ئې په سمندر کې شيندل؛ د موسى عليه السلام له هغه کار سره تشبيه کړي چې د سامري طلايي سخوندر ئې وسوزولو او ايرې ئې په سمندر کې وشيندلې!!

عَنْ ابْنِ جُرَيْجٍ يَقُولُ: كَتَبَ عُمَرُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ وَهُوَ خَلِيفَةٌ، إِلَى عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، "أَنِ ارْفَعِ الْمَكْسَ عَنْ مَكَّةَ، فَلَمَّا رَفَعَ جَاءَهُ النَّاسُ مِنْ قِبَلِهِمْ بِزَكَاةِ أَمْوَالِهِمْ، سَبْعَةَ آلَافِ دِينَارٍ، فَصَرَّهَا فَبَعَثَ بِهَا إِلَى عُمَرَ بْنِ عَبْدِ الْعَزِيزِ، فَرَدَّهَا عُمَرُ إِلَيْهِ وَقَالَ: اقْسِمْهَا فِي فُقَرَاءِ أَهْلِ مَكَّةَ " الاموال لابن زنجويه

له ابن جريج روايت دئ چې ويل ئې: عمر بن عبد العزيز په داسې حال کې چې هغه خليفه وو؛ عبد العزيز بن عبد الله ته وليکل: له مکې مکرمې مکس (ماليه او ټکس) پای ته ورسوه؛ کله چې ئې پای ته ورسوله؛ خلکو په خپله خوښه د خپلو مالونو اوه زره ديناره زکات ورته راوړ؛ نو هغه ئې راغونډ کړل او عمر بن عبد العزيز ته ئې ولېږلو؛ عمر ده ته بېرته ورولېږو او وئې ويل: د مکې پر فقيرانو ئې ووېشه.

له دې روایاتو څو خبرې په ډېر وضاحت سره معلومېږي:

۱. زکات؛ د جاهليت د دور مکس (ټکس) ځای ناستی دئ؛ په اسلام کې له زکات پرته بل ټکس او ماليه نه شته.

۲. د هرې سيمې زکات به تر هر څه وړاندې د همغې سيمې پر فقيرانو وېشل کېږي.

۳. بيت المکس داسې دئ لکه د يوې سيمې د ګمرکاتو او مالیې دفتر؛ د اسلامي عدالت تقاضې دا ده چې دا لږې بنده شي او دفترونه ئې وتړل شي.

د عمر بن عبد العزيز يوه والي ليك ورلېږلې او ليکلي ئې وو:

عَن جَابِر بنِ حَنْظَلَةَ الضَّبِّيُّ قَالَ: كَتَبَ عَدِيُّ بْنُ أَرْطَأَةَ إِلَى عُمَرَ بْنِ عَبْدِ الْعَزِيزِ: أَمَّا بَعْدُ: فَإِنَّ النَّاسَ قَدْ كَثُرُوا فِي الْإِسْلَامِ، وَخِفْتُ أَنْ يَقِلَّ الْخَرَاجُ،

فَكَتَبَ إِلَيْهِ عُمَرُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ: «فَهِمْتُ كِتَابَكَ، وَوَاللهِ لَوَدِدْتُ أَنَّ النَّاسَ كُلَّهُمْ أَسْلَمُوا حَتَّى نَكُونَ أَنَا وَأَنْتَ حَرَّاثِيْنَ نَأْكُلُ مِنْ كَسْبِ أَيْدِينَا»

له جَابِر بنِ حَنْظَلَة الضَّبّيُّ روايت دئ چي وئې ويل: عَدِي بنِ أرطاة؛ د بصرې والي؛ عمر بن عبد العزيز ته وليكل: اما بعد: يقيناً چي خلك د اسلام په منلو كي زيات شول؛ ووېرېدم چي خراج به كم شي؛ عمر بن عبد العزيز ورته وليكل: په خط دي پوه شوم؛ او په خداى قسم چي دا يقيناً خوښوم چي ټول خلك اسلام قبول كړي؛ تر هغه چي زه او ته كروندگر وو او د خپلو لاسونو له كسب ئې خورو.

يو مؤمن، اسلام ته ژمن او هدفمن زعيم داسي وي، خپل والي ته د ده په درونډ او له عظمت ډك ځواب كي د ده لوړ شخصيت له ورايه ځلېږي، د الله په نامه لوړه كوي او وايي: زړه مي دا غواړي چي ټول خلك هدايت شي، د اسلام غېږي ته ستانه شي، نه جزيه وي او نه خراج، زه او ته كروندگر وو او د خپلو لاسونو له كسب مو خوړلې؛ نه د خلافت او ولايت له معاش!! آيا نن په ټول اسلامي امت او ټولې نړۍ كي داسي زعيم مومو؟! هغه چي نن د اقتدار پر كرسيو نصب شوي، كښېنول شوي يا كښېنستي؛ په دوى كي داسي څوك مومئ چي په سينه كي ئې داسي سپېځلي آرمانونه وي، همت ئې دومره لوړ وي، د خلافت او إمارت تر معاش؛ دې ته ترجيح وركوي چي كروندگر وي او روزي ئې د لاس له كسب تأمين شي؟! اسلام په خپلې غېږ كي همداسي مثالي شخصيتونه روزلي؛ څلور لومړني راشد خلفاء همداسي ول؛ او د دوى تر مشرۍ لاندي د ستر اسلامي خلافت ډېر واليان او محلي امراء همداسي ول.

امير او غدر

اسلام هر غدر تحريم كړى او هغه ئې ستره گناه ګڼلې؛ كه دا مالي غدر وي، كه په امانتونو، صلاحيتونو او د بل په اعتماد كي غدر؛ خو د امير او واكمن غدر ئې تر ټولو ستر او قبيح ګڼلى؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي:

عَن ابْنِ عُمَرَ يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِنْدَ حُجْرَةِ عَائِشَةَ يَقُولُ: «يُنْصَبُ لِكُلِّ غَادِرٍ لِوَاءٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، وَلَا غَدْرَةَ أَعْظَمُ مِنْ غَدْرَةِ إِمَامِ عَامَّةٍ» مسند احمد

له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي د عائشې رضي الله عنها د حجرې خوا ته مي له رسول الله صلى الله عليه و سلم واورېدل چي ويل ئې: د هر غدر كوونكي لپاره به د قيامت په ورځ يوه جنډه نصب شي؛ او هيڅ غدر به د عامه امير تر غدر ستر نه وي.

په ځينو رواياتو كي دا هم راغلي چي د هر غدر كوونكي بيرغ به د هغه د غدر په اندازه لوړ وي؛ او تر ټولو لوړ به ئې د غادر امير بيرغ وي؛ چي پر شا به ئې نصب شوى وي.

دا هم غدر دئ چي امير له مسلمانانو سره له مشورې پرته په بيت المال كي په خپل سر او غير عادلانه تصرف وكړي، يا چا ته امان وركړي او بيا د خپلې ژمني او تعهد خلاف له هغه سره خيانت وكړي او تاوان وروركوي؛ وئې وژني يا ئې اسير ونيسي او زنداني ئې كړي او يا د افضل شخص په شتون كي نااهل او مفضول شخص پر مسلمانانو وگماري؛ د خپلوى، قبيلوي تعلق او رفاقت له مخي.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَنِ اسْتَعْمَلَ رَجُلًا مِنْ عِصَابَةٍ وَفِي تِلْكَ الْعِصَابَةِ مَنْ هُوَ أَرْضَى لِلَّهِ مِنْهُ فَقَدْ خَانَ اللَّهَ وخانَ رَسُولَهُ وخانَ الْمُؤْمِنِينَ " المستدرك للحاكم

له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: چا چي پر يوې ډلې داسي څوك مشر وټاكلو چي په دې ډلې كي تر ده؛ الله ته زيات مقبول شخص وي؛ نو يقيناً چي له الله سره ئې خيانت كړى، د ده له رسول سره ئې خيانت كړى او له ټولو مؤمنانو سره ئې خيانت كړى.

عن انس بن مالك أن رسول الله صلى الله عليه و سلم قال: من وَلِي من أمرِ

المسلمين شيئًا فغشَّهم فهو فی النّارِ. الطبرانی

له انس بن مالك روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: څوك چي د مسلمانانو د چارو د كومي برخي متولي شو؛ او دوكه ئې ورسره وكړه؛ نو د دوزخ په اور كې به وي.

عمر رضي الله عنه فرمايلي: چا چي يو څوك د دوستي يا خپلوي له مخي پر كومي دندي وگمارلو؛ نه ئې گماري مگر د همدې (دوستي او خپلوي) له مخي؛ نو يقيناً چي له الله او د هغه له رسول او ټولو مؤمنانو سره ئې خيانت كړى.

عن عبد الملك بن عمير قال: قال عمر بن الخطاب رضي الله عنه: من استعمل رجلا لمودة او لقرابة؛ لا يستعمله إلا لذلك؛ فقد خان الله ورسوله والمؤمنين.

له دغو رواياتو د هغو واكمنو او امراءو په اړه قضاوت كولى شئ چي كله قدرت په وړيا توگه او د پټو سازشونو له لاري لاس ته ورغلى؛ او د مسلمانانو له عام او معلن بيعت او رضايت پرته پر هغوى تحميل شوى، نو خپله كورنى، خپله قبيله، خپل ملگري او دوستان ئې پر ولس او هېواد مسلط كړي؛ حتى هغو ته ئې قدرت سپارلى، وزير، والي او قومندان ئې ټاكلى؛ چي فساد، خيانت او نااهلي ئې ورته جوته وه؛ او په مقابل كې ئې هغه نه يوازي له پامه غورځولي بلكي د اصلي دښمن په څېر معامله ئې ورسره كړې چي د هغوى د قربانيو او جهادونو په نتيجه كې ده ته قدرت په لاس ورغلى، د خپلې قبيلې كمونست، سيكولر او منافق ته به د بلې قبيلې او گوند پر مؤمن او مخلص مجاهد ترجيح وركوي؛ حتى تر هغه مجاهد به ئې هم بر كښېنوي چي د ده په ټول گوند او قبيلې كې د هغه په څېر مؤمن او اسلام ته ژمن شخصيت نه شي موندلى؛ نه په جهاد كې ورسره برابري كولى شي، نه په ديني پوهې او علم كې او نه د اسلام لپاره قربانيو كې؛ دومره به مغرور شوى وي چي ولس ته به د اسيرانو په سترگه گوري، بيت المال به خپل غنيمت گڼي، د ملي شتمنيو، زمكو او كانونو په تالان او غصب به لاس پوري كوي او دا هر څه به

ورته جائز برېښي!!

د طبقاتي نظام په اړه د اسلام وينا او دريځ

قرآن فرعون داسي معرفي کوي:

إِنَّ فِرۡعَوۡنَ عَلَا فِي ٱلۡأَرۡضِ وَجَعَلَ أَهۡلَهَا شِيَعٗا يَسۡتَضۡعِفُ طَآئِفَةٗ مِّنۡهُمۡ يُذَبِّحُ أَبۡنَآءَهُمۡ وَيَسۡتَحۡيِۦ نِسَآءَهُمۡۚ إِنَّهُۥ كَانَ مِنَ ٱلۡمُفۡسِدِينَ ۝٤

يقيناً چې فرعون په زمکي کې کبر او لويي وکړه او د هغې اوسېدونکي ئې په ډلو ډلو ووېشل، غوښتل ئې يوه ډله ئې بې وزلې او کمزورې وي، زامن ئې ورحلالول او لونې ئې ژوندۍ پرېښودې، يقيناً چې دی له مفسدينو وو.

دا مبارک آيت مورږ ته د يوه ظالم او فرعوني نظام اساسي ځانګړتياوي داسي راښيي:

- واکمن ئې فرعون دئ چې د دغو صفاتو څښتن دئ: مغرور او متکبر دئ، د خپلې لويي د ثابتولو او ساتلو په فکر کې دئ، د خپل قدرت د بقاء په لټه کې دئ او د دې هڅه کوي چې خپله لويي پر نورو تحميل کړي.
- خلك ئې په ېلو ېلو ډلو وېشلي دي، پر ټولني ئې طبقاتي نظام مسلط کړی. د ده قوم او قبيله حاکمه طبقه او امتيازات ئې په برخه، شتمن ئې ملګري او ټګمار مذهبي مشران ئې په خدمت کې؛ او نور محکوم او مظلوم ولس او د حکامو د عيش او عشرت قرباني.
- عاصي او مفسد دئ، په ټولني کې د فساد اصلي عامل دئ، که فقر او لوږه ده، که خلك د جهل او شرك په ډنډ کې غرق دي، که ظالمان پرې مسلط دي، که امنيت او عدالت نه شته، د دې ټولو ناخوالو او مفاسدو اصلي عامل فرعون دئ. پر دې ټولني مفسدين حکومت کوي او فرعون د دغو واکمنو مفسدينو له ډلې او د ټولو سالار دئ.

قرآن په نورو آيتونو کې مورږ ته د دې مزيد تفصيلات بيان کړي او فرمايلي ئې دي چې په فرعوني نظام کې خلك په عام طور په دوو ډلو،

حاكم او محكوم، ظالم او مظلوم، مستكبر او مستضعف، مرفه او فقير وبشل كېږي او حاكمه طبقه ئې له دريو ډلو جوړه شوې وي: ١- واكمن او حواريون ئې، ٢- د نظام په خدمت كې ټگمار مذهبي مشران، ٣- بډايه او شتمنه طبقه چې دغه نظام د شتمنيو خاوندان كړي.

د فرعون په اړه وايي چې دى ځان د مصر د ټولو شتمنيو څښتن او د خلكو مالك الرقاب بولي: قرآن فرمايي:

وَنَادَىٰ فِرْعَوْنُ فِي قَوْمِهِۦ قَالَ يَٰقَوْمِ أَلَيْسَ لِي مُلْكُ مِصْرَ وَهَٰذِهِ ٱلْأَنْهَٰرُ تَجْرِى مِن تَحْتِىٓ ۚ أَفَلَا تُبْصِرُونَ ﴿٥١﴾ الزخرف

او فرعون په خپل قوم كې په لوړ غږ وويل: اې زما قومه! آيا د مصر پاچايي زما نه ده؟ او دا نهرونه چې زما تر واك لاندي بهېږي؟ آيا نه ئې گورئ؟

گورئ چې قرآن فرعوني نظام داسي معرفي كوي چې ټولواك ئې ځان د هېواد د گردو شتمنيو، نهرونو او زمكو څښتن گڼي!! په هر نظام كې چې واكمنان ئې ځان د خلكو مالك الرقاب او د ملي شتمنيو بې رقيبه څښتن بولي او په دغو شتمنيو كې د هر راز تصرف حق ځان ته وركوي؛ د قرآن له نظره دا يو مفسد، ظالمانه او فرعوني نظام دئ.

همدا راز قرآن فرمايي:

... وَإِنَّ فِرْعَوْنَ لَعَالٍ فِى ٱلْأَرْضِ وَإِنَّهُۥ لَمِنَ ٱلْمُسْرِفِينَ ﴿٨٣﴾ يونس

... او يقيناً چې فرعون د زمكې پر سر يو متكبر او باغي وو او هغه له مسرفينو وو.

قرآن دا د يوه ظالم او فرعوني نظام ځانگړتيا گڼي چې واكمن ئې ځان ته ټولواك وايي او د ملك او ولس ټولي شتمنۍ د ځان بولي او په دې شتمنيو كې په خلاص لاس او په اسراف سره تصرف كوي؛ شتمن پالي، د عام ولس او مظلومي طبقې د غارت او لوټلو شرائط ورته برابروي، هر مصلح او داعي چې د عدالت او برابري او د مظلومانو د حمايت غږ اوچت كړي؛ باغي ئې گڼي او ځپل كېږي؛ قرآن نوح عليه السلام ته د

زور واکانو ځواب داسي بيانوي:

قَالُوٓاْ أَنُؤۡمِنُ لَكَ وَٱتَّبَعَكَ ٱلۡأَرۡذَلُونَ١١١ الشعراء

وئې ويل: آيا ايمان درته راوړو په داسي حال کې چې پربوتې (ټيټ وزمي) ستا متابعت کوي؟!

دا مبارك آيت ښيي چې نوح عليه السلام په يوې داسي ټولنې کې مبعوث شوی چې ولس ئې په دوو طبقو وېشل شوی: اشراف او ارذال، يوه ډله ځان تر نورو لوړ، شريف او نجيب ګڼي او بلې ډلې ته د حقارت او سپکاوي په سترګه ګوري، د ولس ځينو بې وزلو او مستضعفينو پر نوح عليه السلام ايمان راوړی خو مستکبرينو د هغه مخالفت ته ملا تړلې او هغه ته ئې ويلي: څنګه له موږ دا طمع لري چې پر تا ايمان راوړو په داسي حال کې چې د ولس څو بې وزلي او حقير وګړي ستا خوا ته راغونډ شوي، دوی له خپلې خوا لري کړه، اشرافو ته په خپلې خوا کې د ودرېدو بلنه ورکړه چې ستا ملګرتيا وکړو!! دا هغه څه دي چې ټولو پيغمبرانو ته ويل شوي او د زمانې په هر پړاو کې چې کوم داعي پاڅې او د پيغمبرانو عليهم السلام په لار د تلو اراده وکړي همدا به ورته ويل کېږي، په خوا کې به ئې د ټولنې بې وزلي راغونډېږي، مستکبرين به ئې مخالفت ته ملا تړي، ځيني به ئې وايي: دا لارښود او داعي چې د خپلې بريا او پر ځواکمنو دښمنانو د برلاسي ګمان او طمع لري څنګه به ئې هيله تر سره شي حال دا چې د ټولنې څو بې وزلي ئې په خوا کې راغونډ شوي؟! ځيني به له دې کبله د هغه خوا ته له راتلو ډډه کوي چې له بې وزلو سره په يوه صف کې او له هغوی سره برابر ودرېدا نه شي زغملی او دا د خپل وهمي شأن او لويي خلاف ګڼي!!

د قوم مستکبرين د نوح عليه السلام ملګرو ته د اراذل خطاب کوي او نوح عليه السلام ته وايي: غواړې موږ هم د دوی په څېر شو او د دوی په څنګ کې ستا ملګرتيا وکړو؟! که له دې خبرو لاس وانه خلې نو حتماً به دي رجم (سنګسار) کړو:

قَالُواْ لَئِن لَّمۡ تَنتَهِ يَٰنُوحُ لَتَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡمَرۡجُومِينَ ١١٦

وئې ويل: اې نوح! که ډډه ونه کړې حتماً به له سنګسار شوو شې.

نوح عليه السلام ته د مستکبرينو ځواب دا وو: که له خپل دعوت او مبارزې لاس وانه خلې نو ستا برخليك به هم د نورو رټل شوو او سنګسار شوو په څېر شي، له دې معلومېږي چې تر نوح عليه السلام وړاندې ډېر نور سنګسار شوي وو، ښايي دا به د ده هغه بې وزلي مؤمن پلويان وو چې تر دې وړاندې سنګسار شوي وو، همغسې لکه چې قريشو د رسول الله صلى الله عليه و سلم د قتل له پرېکړې وړاندې د صحابه وو په ځورولو او وژلو لاس پورې کړی وو.

د قرآن دې لارښووني ته هم ځير شئ:

وَمَآ أَرۡسَلۡنَا فِي قَرۡيَةٖ مِّن نَّذِيرٍ إِلَّا قَالَ مُتۡرَفُوهَآ إِنَّا بِمَآ أُرۡسِلۡتُم بِهِۦ كَٰفِرُونَ ٣٤ سبإ

او هيڅ کلي ته مو کوم نذير (پيغمبر) نه دئ لېږلی مګر دا چې مترفينو ئې (هغو چې سوکالي ورپه برخه شوې) وويل: مونږ په قطعي توګه له هغه څه منکر يو چې تاسو ورسره لېږل شوي يئ؛ او وئې ويل: مونږ (تر نورو) زيات مال او اولاد لرو او هيڅکله تعذيبېدونکي نه يو!

په دې مبارك آيت کې د انبياءو په وړاندې د هغو وګړو دريځ انځور شوی چې د ټولني حاکم اجتماعي، سياسي، اقتصادي او مذهبي جوړښت دوی ته سوکالي او تر نورو زيات امتيازات ورپه برخه کړي، يو ئې واکمن دئ، بل ئې شتمن دئ، بل ئې قومي مشر دئ، بل ئې مذهبي مشر دئ، هر يو ئې له خپل خپل موقعيت ګټه اوچتوي او امتيازات تر لاسه کوي، چا له سياست دام جوړ کړی، چا له مذهب دکان، چا له خپل اجتماعي وجاهت د خلکو پر اوږو د سپرېدو وسيله، چا ته د عوامو جهل ګټور دئ او چا ته په شرك او خرافاتو کې د ولس پرېوتل، دوی نه غواړي دا حالت بدل شي، نو ځکه د هر هغه چا مخالفت ته ملا تړي چې په ټولني کې له فکري، ديني، مذهبي، سياسي، اقتصادي او اجتماعي پلوه تبديلي

غواړي، قرآن دا حالت په خپلو سکلو او موجزو الفاظو سره داسي انځور کړی: هیڅ کلي ته مو کوم خبرداری ورکوونکی نه دئ لېږلی مگر دا چې مترفینو ئې (هغو چې سوکالي ورپه برخه شوې) وویل: مونږ په قطعي توگه له هغه څه منکر یو چې تاسو ورسره لېږل شوي یئ، یعني ستاسو له رسالت منکر یو؛ او وئې ویل: مونږ تر نورو زیات مال او اولاد لرو او هیڅکله تعذیبېدونکي نه یو! گورئ چې د (مال) او (اولاد) ډېرښت د پیغمبرانو علیهم السلام له رسالت سره تضاد او مخالفت ته هڅولي او همدا د (مال) او (اولاد) ډېرښت د فلاح او نجات معیار او ملاك گڼي، وایي: که مونږ د الهي عذاب وړ وی نو الله به تر نورو زیات مال او پلویان نه راکول!!

قرآن؛ پیغمبران او د دوی تگلاره د موسی علیه السلام په څېره کې داسي انځوروي چې هم د ظالم فرعون، هم د ټگمار هامان او هم د شتمن قارون مقابله کوي، یو ئې د ظالمانه اقتدار ښلگه، بل ئې د ټگمارو مذهبي مشرانو ښلگه او دریم ئې د حریصو شتمنو او بډایانو ښلگه. قرآن وایي چې د تاریخ په اوږدو کې تل دغو دریو طبقو د پیغمبرانو علیهم السلام مقابله کړې. دې ته مو باید پام وي چې په اسلام کې نه خاصه مذهبي طبقه شته او نه د دوی لپاره ځانگړي امتیازات، اسلام فرعوني نظام له دې کبله محکوموي چې خلك ئې په ډلو ډلو وېشلي وو، طبقاتي نظام ئې رامنځته کړی وو، چارواکو ځان ټولواك گاڼو او د ولس په شتمنیو کې ئې د هر راز تصرف حق ځان ته ورکاوو.

که فرعون له یوې خوا د مصر د ټولو شتمنیو واکمن دئ او له سیاسي او اجتماعي پلوه ټولواك دئ؛ خو له بلي خوا ئې له مذهبي پلوه د (الوهیت) دعوی کوله او خلکو ته ئې ویل: فَقَالَ أَنَا۠ رَبُّكُمُ ٱلۡأَعۡلَىٰ: زه ستاسو اعلی رب یم!! خو باید وگورو چې د دې وینا معنی څه ده؟ آیا هغه واقعاً ځان ته د اله او معبود په سترگه کتلي او له ولس ئې د همدې خبرې غوښتنه کړې؟ او که هغه ځان ته داسي مقام او منزلت ورکړی چې یوازي له اله او معبود سره ښایي؟ په دې کې هیڅ شك نه شته چې

له دې خبرې د فرعون موخه هیڅکله دا نه شي کېدی چې ګواکې ځان ته ئې د اعلی رب په سترګه کتلې او د همدې ادعاء ئې کړې، معنی ئې له دې پرته بل څه نه ده چې هغه ځان ته داسې واکونه، صلاحیتونه او امتیازات ورکړي او له ټولو ئې غوښتي چې هغه ومني چې له الله تعالی پرته له هیڅا سره نه ښایي، هیڅ بنده دا حق نه لري چې په ټولنې کې ځان ته دا مقام او منزلت ورکړي. د ده د وینا معنی دا ده چې ولس ته ئې ویلي: زه د مصر ټولواك یم، دلته به یوازې زما حکم چلېږي، د جائز او ناجائز پرېکړه به زه کوم، د پرېکړو وروستۍ مرجع زه یم، له خلکو ئې غوښتي چې تر هر څه او هر چا زیات باید د ده ستاینه او ملاتڼه وشي، موسی علیه السلام هم په دې ګواښي چې که له ما پرته دې بل څوك د معبود او اله په توګه غوره کړ؛ ځای دي زندان دئ:

قَالَ لَئِنِ ٱتَّخَذْتَ إِلَٰهًا غَيْرِى لَأَجْعَلَنَّكَ مِنَ ٱلْمَسْجُونِينَ ﴿٢٩﴾ الشعراء

وئې ویل: که له ما پرته دې بل اله ونیو نو حتماً به دي له (نورو) زندانیانو سره یوځای کړم.

یعني په دې ملك کې به د ژوند په هري برخې کې محوري او مرکزي حیثیت د فرعون وي، د ټولنې هر وګړی به هم د لارښوونې په برخه کې او هم د پرېکړو لپاره ده ته مراجعه کوي، په دې هېواد کې به له ده پرته بل داسې مقام او مرجع نه غوره کېږي چې ولس د لارښوونو او د منازعاتو د حل و فصل لپاره هغه ته مخ اړوي، دلته به یوازې زما احکام چلېږي او که تا بل مقام او مرجع ته د مخ اړولو جسارت وکړ نو ځای دي زندان دئ، له نورو زندانیانو سره به یو ځای په زندان کې پروت وې. هر هغه څوك چې په خپلې ټولنې کې همغه مقام او منزلت غواړي چې فرعون غوره کړی وو که څه هم ځان ته د اله او معبود خطاب ونه کړي په حقیقت کې ئې ځان معبود او اله ګڼلی، د الوهیت دعوی ئې کړې او بل فرعون ترې جوړ شوي.

دا د فرعون او فرعوني نظام ځانګړتیاوې دي، قرآنکریم د دې لپاره دا یادونه کوي چې موږ د دې په هینداري کې فرعون ته ورته واکمنان

وپېژنو او په دې پوه شو چې الله تعالى کوم نظام يو فرعوني نظام ګڼي او د رانسکورولو لپاره ئې موسى لېږي؟! له دې قصې د قرآن موخه دا نه ده چې مور په تاريخ کې هغه تېر شوى فرعون وپېژنو، بلکې هدف ئې دا دئ چې مور په دې خبرې پوه کړي چې په چا کې دغه صفات وي هغه فرعون دئ او د فرعون له برخليك سره به مخامخ کېږي؛ او ته به د دې فرعون داسي مقابله کوې لکه چې موسى عليه السلام د خپل دور فرعون مقابله کوله. مور په خپل ژوند او نيمه پېړۍ مبارزې کې هم کافر فرعونان وليدل او هم د اسلام په جامه کې فرعونان؛ منئ که نه منئ، پوهېږئ که نه پوهېږئ؛ حقيقت همدا دئ او د قرآن وينا همدا. څوك چې نه پوهېږي هغه ته ورته دئ چې د ليلى او مجنون قصه ئې اورېدلې وه خو په پاى کې ئې وپوښتل: ليلى ښځه وه که سړى؟

اسلامي اقتصاد عدالت محور دئ

اسلام او اقتصادي اصول او مباني ئې داسي دي چې عدالت تأمينوي، د ظالم په وړاندي له مظلوم دفاع کوي او د لوټمارو شتمنو په وړاندي له فقير او مسکين؛ دا ئې د حکومت او حکامو دنده او وجيبه ټاکلې چې د فقير او مسکين د انساني ضرورتو متکفل به وي، له غنيانو به زکات اخلي او په بيت المال کې به لومړي مستحقين؛ فقير او مسکين وي؛ وايي: د مسلمان په مال کې پر زکات علاوه بل حق نه شته؛ د دې معنى دا ده چې حکومت حق نه لري له زکات پرته په بل نامه له خلکو څه واخلي، او زکات يوازې له هغه چا اخيستى شي چې غني وي. له فقير او غريب په هر نامه څه اخيستل حرام او ناروا دي. د مخکيني او اوسني جاهلي نظامونو ګډ ماهيت بيا داسي دئ چې اقتدار د شتمنو او ځواکمنو په واك کې وي؛ حکومت، وسله وال او امنيتي ځواکونه او ادارې او محکمې ئې د شتمنو په خدمت کې وي او د ولس په لوټلو کې د دوى لاس آزاد پرېږدي او مرسته ئې کوي.

تر اسلام وړاندي د جاهليت په دور کې؛ هغه مهال چې پر ټولني

زورواکانو حکومت کولو؛ په قوم کې خان او په قومونو کې تر ټولو ځواکمن قوم؛ حاکم وو؛ هم خان ته اقتدار له پلار نیکه په میراث رسېدلی وو او هم قبیلې ته؛ واکمنو به له هغو چې د دوی تر واک لاندې وو؛ په یوه او بل نامه مالیې او جزیې اخیستلې؛ اسلام هم قومي او قبیلوي زورواکي پای ته ورسوله او پر ځای ئې د ولس د خوښي اصلح او افضل زعامت او د قانون (دین) حکومت رامنځته کړ، او هم ئې د دوی جزیې او مالیې لغو کړې او پر ځای ئې هغه زکات رائج کړ چې یوازې له غني به اخیستل کېږي او فقیر او مسکین به ئې لومړني مستحقین وي. هغه اسلامي حکومت به ئې راغونډوي چې امیر ئې د ولس په خوښه او د عام او معلن بیعت په نتیجه کې رامنځته شوی؛ او د مصرف موارد ئې فقط هغه دي چې قرآن ټاکلي، هیڅوک ئې نه په مقدار کې تغییر راوړلی شي او نه ئې د مصرف په مواردو کې. یعني دا زکات د جاهلیت د دور د ټولو جزیو او مالیو ځای ناستی او بدیل شو؛ هغه د واکمنو او ځواکمنو له لوري له مظلوم او مقهور اخیستل کېدو او دا د قانوني حکومت له لوري له شتمنو او اغنیاءو اخیستل کېږي او د مصرف د مواردو په فهرست کې له ۸ اول او دوهم ئې فقیر او مسکین دي؛ فقیر هغه دئ چې هیڅ نه لري او مسکین هغه دئ چې څه لري خو ورته کفایت نه کوي. رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي چې د مسلمان په مال کې له زکات پرته بل حق نه شته:

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا أَنَّهَا سألت النبی صلی الله علیه و سلم هَلْ فِي اَلْمَالِ حَقٌّ سِوَى اَلزَّكَاةِ؟ فأجاب: « لَيْسَ فِي اَلْمَالِ حَقٌّ سِوَى اَلزَّكَاةِ » ابن ماجه: ۱۷۸۹

له عائشې رضي الله عنها روایت دئ چې له رسول الله صلی الله علیه و سلم ئې پوښتلي: آیا په مال کې له زکات پرته بل حق شته؟ ځواب ئې ورکړ: په مال کې له زکات پرته بل حق نه شته.

همدا مطلب له فاطمه بنت قیس هم روایت شوی:

عَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ أَنَّهَا سَمِعَتْهُ تَعْنِي النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم يَقُولُ: «لَيْسَ فِي الْمَالِ حَقٌّ سِوَى الزَّكَاةِ» سنن ابن ماجه

له فاطمه بنت قيس روايت دئ چي ترې وامي وربدل (راوي وايي چي مقصد ئې نبي صلى الله عليه و سلم وو): (په مال کې له زکات پرته بل حق نه شته).

دا روايت هم د پورتنيو رواياتو تأييد کوي او وايي:

عَنْ طَلْحَةَ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ يَقُولُ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم مِنْ أَهْلِ نَجْدٍ ثَائِرَ الرَّأْسِ، يُسْمَعُ دَوِيُّ صَوْتِهِ وَلاَ يُفْقَهُ مَا يَقُولُ، حَتَّى دَنَا، فَإِذَا هُوَ يَسْأَلُ عَنِ الإِسْلاَمِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «خَمْسُ صَلَوَاتٍ فِي اليَوْمِ وَاللَّيْلَةِ». فَقَالَ: هَلْ عَلَيَّ غَيْرُهَا؟ قَالَ: «لاَ، إِلَّا أَنْ تَطَوَّعَ». قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «وَصِيَامُ رَمَضَانَ». قَالَ: هَلْ عَلَيَّ غَيْرُهُ؟ قَالَ: «لاَ، إِلَّا أَنْ تَطَوَّعَ». قَالَ: وَذَكَرَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم الزَّكَاةَ، قَالَ: هَلْ عَلَيَّ غَيْرُهَا؟ قَالَ: «لاَ، إِلَّا أَنْ تَطَوَّعَ». قَالَ: فَأَدْبَرَ الرَّجُلُ وَهُوَ يَقُولُ: وَاللَّهِ لاَ أَزِيدُ عَلَى هَذَا وَلاَ أَنْقُصُ، قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَفْلَحَ إِنْ صَدَقَ» بخارى، مسلم، سنن ابى داؤد، سنن الصغير للبيهقى، مسند احمد

له طلحه بن عبيد الله روايت دئ چي وايي: د نجد له اوسېدونکو يو سړی رسول الله صلى الله عليه و سلم ته راغی چي د سر وېښتان ئې ببر وو، د غږ ګونګسی ئې اوربدل کېدو خو خبري ئې نه فهمېدلې؛ تر هغه چي نژدې شو؛ متوجه شوو چي هغه د اسلام په اړه پوښتني کوي؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (په ورځ او شپه کې پنځه لمونځونه)؛ وئې ويل: آيا پر دې سربېره څه راباندي شته؟ وئې فرمايل: نه؛ مګر هغه څه چي په خپله خوښه ئې وکړې، رسول الله صلى الله عليه و سلم

وفرمايل: (او د روژې مياشت روژه)، وئې ويل: آيا پر دې سربېره راباندې شته؟ وئې فرمايل: (نه؛ مگر هغه څه چې په خپله خوښه ئې ونيسې) او رسول الله صلى الله عليه و سلم د زکات يادونه ورته وکړه؛ وئې ويل: آيا پر دې سربېره راباندې شته؟ وئې فرمايل: (نه؛ مگر هغه څه چې په خپله خوښه ئې ورکړې)؛ راوي وايي: نو سړی په شا روان شو او ويل ئې: په الله قسم چې نه به څه پرې زيات کړم او نه به څه ترې کم کړم؛ نو رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: يقيناً چې بريالی شو که ئې رښتيا ويلي وي.

له دې روایاتو په څرګنده توګه معلومېږي چې د مسلمان په مال کې له زکات پرته بل داسي څه نه شته چې حکومت ئې له خلکو د اخيستلو حق ولري؛ په مال کې د انسان ټوله شتمني شامله ده؛ زمکه، باغ، دکان، فابريکه، کور، د کور ضروري وسائل، د سورلۍ وسائل لکه آس، اوښ او موټر، څاروي...

دا زکات هم له هغه چا اخيستل کېږي چې د خپلو او تر خپلې پالنې لاندې کورنۍ له ارتياوو علاوه دومره شتمني ولري چې د نصاب حد ته رسېدلې وي او يو کال پرې تېر شوی وي. يقيناً چې د افغانانو نژدې اويا سلنه دومره شتمني نه لري؛ له دوی په هيڅ نامه (زکات، عشر، ماليه، ټکس، محصول او بل هر نامه) څه اخيستل؛ د اسلامي لارښوونو خلاف عمل او صريح ظلم دئ. د ډېرو نورو إسلامي هېوادونو وضعيت هم افغانانو ته ورته او تر دوی لا زيات دردناك دئ.

ځيني د دغو روایاتو په استناد وايي: په مال کې له زکات پرته بل حق نه شته؛ خو په مقابل کې ئې داسي خلك هم شته چې وايي پر زکات سربېره نور مالي وجائب او حقوق هم شته؛ راشئ وګورو چې دا ادعاء څومره ناسمه ده او هغه څوك دئ چې د داسي غلطي فتوی جسارت کوي؟ دوی يا هغه دي چې غلط روايات رسول الله صلى الله عليه و سلم ته منسوبوي او يا هغه سرکاري مفتيان دي چې د حکامو هر ظلم او فساد ته مبررات لټوي. د دوی يو ناسم او کم زوری مستمسك دا

روايت دئ:

«عَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ قَالَتْ سَأَلْتُ أَوْ سُئِلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم عَنِ الزَّكَاةِ فَقَالَ إِنَّ فِي الْمَالِ لَحَقًّا سِوَى الزَّكَاةِ ثُمَّ تَلَا هَذِهِ الْآيَةَ (لَيْسَ الْبِرَّ أَنْ تُوَلُّوا) البقرة: ۱۷۷؛ الترمذی: ٦٥٩

له فاطمه بنت قيس روايت دئ چي له رسول الله صلى الله عليه و سلم مي د زكات په اړه وپوښتل او يا تړې وپوښتل شو (د راوي شك دئ)؛ نو وئې فرمايل: په مال کې پر زكات علاوه نور حقونه هم شته؛ بيا ئې دا آيت تلاوت کړ (لَيْسَ الْبِرَّ أَنْ تُوَلُّوا...).

لكه چې گورئ فاطمه بنت قيس ته دوه روايات منسوب شوي، يو ئې مخكې تېر شو چې وايي په مال کې له زكات پرته بل حق نه شته او دا ئې وايي چې په مال کې له زكات پرته هم حق شته. له دې دواړو يو غوره كولى شو؛ لومړنى روايت ځكه غوره دئ چې په تأييد کې ئې نور روايات هم راغلي؛ او دا روايت يوازې دئ؛ د دې روايت بله ستونزه دا ده چې د شك الفاظ په کې راغلي (سَأَلْتُ أَوْ سُئِلَ: ما وپوښتل يا خو وپوښتل شو)؛ ما ته داسي جوته شوې چې د روايت راوي فاطمه بنت قيس په هغه مجلس کې حاضره وه چې عائشې رضي الله عنها دا پوښتنه له رسول الله صلى الله عليه و سلم كړې؛ او دې اوربدلې؛ او د عائشې رضي الله عنها روايت همغه دئ چې په مال کې له زكات پرته بل حق نه شته؛ له دې معلومېږي چې د فاطمه بنت قيس رضي الله عنها په دواړو رواياتو کې ستونزې دي؛ لويه ستونزه ئې دا ده چې په راويانو کې ئې (شريك) دئ چې محققين ئې په اړه وايي: حافظه ئې ضعيفه وه. راويان ئې دا دي: محمد بن أحمد بن مدويه، الأسود بن عامر، شريك، أبي حمزة، الشعبي او فاطمة بنت قيس.

كه د احتياط په موخه دا روايت هم رد نه كړو نو ويلى شو چې لومړى روايت په مال کې يوازى زكات ته اشاره كړې چې فرض دئ او حكومت ئې د اخيستلو حق او دنده لري او دوهم ئې پر زكات علاوه

هغو حقوقو ته اشاره کړې چې یا مستحب دي او یا د مسلمان خپلې خوښې ته پرېښودل شوي؛ لکه چې د طلحه بن عبید الله په روایت کې راغلي: إِلَّا أَنْ تَطَوَّعَ: مګر هغه څه چې په خپله خوښه ئې وکړې.

په کوم آیت چې د وروستي روایت په پای کې استناد شوی؛ ((لَيْسَ الْبِرَّ أَنْ تُوَلُّوا وجوهكم) په هغه کې د هغو ناپوهانو غلط سلوك رد شوی چې د قبلې بدلولو، له بیت المقدس د کعبې لورې ته مخ اړولو ئې بې ځایه اعتراضات درلودل او پر خپلې زړې قبلې ئې ټینګار؛ د تقوی او صداقت نښه ګڼله؛ هغوی ته ویل شوي: نېکي دا نه ده چې مخونه مو د مشرق او مغرب په لورې واړوئ، نه؛ نېکي دا ده چې چا پر الله، د آخرت پر ورځ، پر ملائکو، پر کتاب او پیغمبرانو ایمان راوړ او په داسې حال کې چې له مال سره ئې مینه هم وه خو هغه ئې خپلوانو، یتیمانو، مسکینانو، مسافرانو او سؤالګرو ته ورکړ او د (محکومانو او غلامانو) د آزادولو لپاره (ئې ولګولو)، لمونځ ئې اداء کړ، زکات ئې ورکړ، په خپلو ژمنو وفا کوونکي؛ هر کله چې ئې ژمنه کړې، په کړاوونو، تاوانونو او د جګړې په دوران کې صبر کوونکي، همدا دوی (په خپل دین او ایمان کې واقعي) رښتیني او صادقان دي او همدا دوی متقیان دي.

یعني د (صدق) او (تقوی) رښتینی معیار دغه صفات دي چې په دې آیت کې تشریح شوي. (صادق) او (متقي) هغه څوك دئ چې دا صفات ولري، مبادا بل چا ته د نورو صفاتو له امله د (صادق او متقي) خطاب وکړئ، دا ګمان وکړئ چې له دې پرته له نورو لارو د صدق او تقوی مقام ته رسېدل ممکن دي، مبادا هغه کسان د دې مقام خاوند وګڼئ چې د قبلې په اړه خو ډېر اهتمام کوي، مشرق او مغرب ته مخ کول ورته مهم برېښي، په فرعي مسائلو ئې تأکید حیرانوونکی وي، خو نه ئې د الله په لار کې د جهاد لپاره ملا تړلې، نه ئې قرباني ورکړې، نه له خپل سر او مال د الله په لار کې تېرېدو ته چمتو شوی، نه ئې د دین په لار کې ستونزې او کړاوونه ګالي، نه ئې په سنګرونو کې د جګړو په دوران کې د صبر او ثبات مظاهره کړې. ناپوه خلك داسې اساسي مسائلو ته د

پام پر ځای او د هغه پر بنیاد د قضاوت کولو پر ځای، فرعي او ثانوي مسائلو ته اهتمام کوي او همدا د خپلو قضاوتونو بنیاد ګرځوي، پام کوئ چې تاسو د دوی په څېر نه شئ.

په دې مبارك آیت کې له زکات علاوه هم خپل مال انفاقول راغلي، له دې معلومېږي چې د مسلمان په مال کې له زکات علاوه هم حقوق شته، له ډېرو احادیثو هم دا خبره معلومېږي، په احادیثو کې خو په دې اړه هومره تأکید ګورو چې انسان مکلف کوي هر هغه څه انفاق کړي او حاجتمن ته ئې ورکړي چې د ده له حاجتونو زیات وي. قرآن په دې ارتباط فرمایي:

وَيَسْأَلُونَكَ مَاذَا يُنْفِقُونَ قُلِ الْعَفْوَ ... ﴿٢١٩﴾ البقرة

- او تا پوښتي چې څه انفاق کړي؟ ورته ووایه: همغه زیات ئې؛

د انفاق په اړه پوښتني ته دلته دا ځواب ورکړی شوی چې له خپلو ضروري اړتیاوو چې څه زیات وي همغه د الله په لار کې انفاق کړئ، له دې لارښوونې په ډاګه معلومېږي چې له ضروري اړتیاوو د اضافي شیانو په اړه د الله حکم دا دئ چې هغه به انفاق کېږي. اما په قرآن کې د همدې ترغیب او تشویق تر څنګ؛ دا لارښوونې هم مومو چې مؤمنانو ته د احتیاط او عدم اسراف سپارښتنه کوي او ورته وایي: داسي مه کوئ چې سبا په خپله د بل مرستي ته اړ شئ:

وَلَا تَجْعَلْ يَدَكَ مَغْلُولَةً إِلَىٰ عُنُقِكَ وَلَا تَبْسُطْهَا كُلَّ ٱلْبَسْطِ فَتَقْعُدَ مَلُومًا مَّحْسُورًا ﴿٢٩﴾ [الإسراء

مه دې لاسونه تر خپلې غاړې تړلې ساته (له ورکړې لاس مه راتموه) او مه ئې په بشپړ پرانیستو سره پرانیزه؛ داسي چې (سبا ته) ملامت وګڼل شې او حسرت دربانديې وشي.

یعني د ورکړې او له بل سره د مرستو په دوران کې اعتدال مراعات کړه، مه بخل کوه دومره چې له مستحقینو سره له لازمي او ضروري مرستو هم لاس راتم کړې او مه اسراف کوه؛ داسي چې له مستحق او

غیر مستحق سره په خلاص لاس دومره مرستي وکړې چې سبا په خپله د بل مرستي ته اړ شې او هر څوك دي ملامتوي او ستا په حال تأسف کوي. بلکې د ورکړي او له بل سره د مرستو په دوران کې اعتدال مراعات کړه.

دلته دوه استعارې کارول شوې:

- خپل لاس تر خپلې غاړې مه تړه.
- لاسونه دي په بشپړ پرانیستو سره مه پرانیزه.

یوه ئې د بخل لپاره کارول شوې او بله ئې د ډېر سخاوت لپاره.

اوس که کوم ساده اهل ظاهر راپاڅي او ووایي: الله تعالی فرمایلي: لاس دي له خپلې غاړې سره مه تړه؛ نو که دي لاس مات شو او ډاکټر غوښتل مات لاس دي له غاړې سره وتړي؛ پام چې دا کار ونه کړې؛ دا د الله تعالی د امر خلاف کار دئ. او یا درته ووایي: هیڅکله به خپل لاسونه په بشپړ پرانیستو سره نه پرانیزې؛ ځکه الله تعالی د دې ممانعت کړی!! آیا د دې اهل ظاهر دا وینا د خندا او تأسف وړه نه ده؟!

انسان ډېرى وخت د خپلو معنوي مفاهیمو د إظهار لپاره مجبوراً له إستعارو کار اخلي؛ مثلاً وایي: «فلانی درونده سړی دئ» که څه هم د درونده معنیٰ ډېر وزن لرونکی دئ؛ خو کله چې موږ د یوه شخص په اړه دا خبره کوو؛ نو هدف مو د هغه معنوي وزن وي؛ یعني متین، معتبر او سنګین سړی دئ؛ نه دا چې هدف مو د هغه مادي او فزیکي وزن وي؛ او یا په بل عبارت: فلان ډېر غټ زړه لري، معنیٰ ئې دا ده چې فلانی ډېر زړور سړی دئ؛ پراخه حوصله لري؛ نه دا چې زړه ئې په فزیکي او مادي لحاظ غټ دئ، خو دلته ناچاره د خپل معنوي مفهوم د إفادې لپاره د مجاز په ډول إستعاره کاروو او خپل أصلي مطلب نورو ته بیانوو.

قرآن د پورتني مطلب په دوام؛ موږ ته وایي: ستاسو رب هم کله خپلو بندګانو ته د پراخو نعمتونو دروازې پرانیزې او کله ئې محدود کړي:

إِنَّ رَبَّكَ يَبْسُطُ ٱلرِّزْقَ لِمَن يَشَآءُ وَيَقْدِرُۚ إِنَّهُۥ كَانَ بِعِبَادِهِۦ خَبِيرَۢا بَصِيرًا ﴿٣٠﴾

یقیناً ستا رب چې چا ته وغواړي رزق پراخوي او (چا ته چې وغواړي) تنګوي ئې؛ یقیناً چې هغه د خپلو بندګانو په حال ښه خبر او ښه لیدونکی دئ.

دا مبارك آیت مورِ ته لارښوونه کوي چې بندګانو ته د رزق پراخولو او تنګولو په اړه الله تعالی د خپل جامع او بشپړ علم له مخې پرېکړه کوي، د بندګانو حالت ته په پام سره کله هغه پراخ کړي او کله ئې محدود او تنګ، هغه د خپلو بندګانو په حال ښه خبر او ښه لیدونکی دئ؛ کله دا مناسب بولي چې د آسمان او زمکې د برکتونو دروازې د خپلو بندګانو په وړاندې پرانیزي او کله دا چې دا دروازې پر دوی نیم بندي کړي، نه آسمان په پراخ زړه خپل نعمتونه پرې ووروي او نه زمکه په ورین تندي او پراخ لاس هر څه ورته راوټوکوي. تاسو هم د ورکړي او له محتاجانو سره د مرستي په دوران کې د پوهې او بصیرت له مخې عمل وکړئ، د لږ او زیات مستحق، د ډېر او کم محتاج تر منځ توپیر وکړئ، مه اسراف او تبذیر کوئ او مه بخل.

حقیقت دا دئ چې د مسلمان هغه مالي وجائب چې حکومت او امراء ئې په اخیستلو مکلف دي؛ او حکومت ته به ورکول کېږي؛ دا په زکات کې محدود او مختص شوي او حکومت نه شي کولی پر زکات علاوه بل څه له خلکو واخلي؛ لکه پر زمکې، کور او دکان مالیه، ګمرکي محصول، په یوه او بل نامه ټکس او کمیشن، او تر بل هر نامه لاندي له خلکو څه په زور اخیستل منع دي او ظلم او تعدي ګڼل کېږي؛ زکات د ټولو هغو اخاذیو ځای ناستی دئ چې تر اسلام وړاندي او وروسته په غیر اسلامي ټولنو کې په مختلفو نومونو له ولس اخیستل کېږي؛ لکه د جاهلیت د دور مکس؛ او اوسنۍ مالیه، ټکس، کمیشن، ګمرکي محصول، .... له دې تفاوت سره چې په غیر اسلامي سیستمونو کې له هر چا؛ د

غريب او نېستمن په شمول؛ اما په اسلامي نظام کې يوازې له هغو شتمنو اخيستل کېږي چې شتمني ئې د نصاب حد ته رسېدلې وي؛ نژدې ۸۵ ګرامه سره زر ولري؛ د کورنۍ له ټولو کلنيو اړتياوو او مصارفو علاوه او اضافې؛ هغه مالي وجائب چې مسلمان ئې د خپلې کورنۍ، مېرمن، اولاد، خپلوان، ګاونډيان، هر فقير، مسکين، محتاج او مضطر انسان په وړاندې لري، يا مکلف دئ د جهاد لپاره وسائل او تجهيزات برابر کړي او دې ته ورته مواردو کې مصارف کول د هر شتمن مسلمان په شخصي او د خپلې خوښې مالي مکلفيتونو او وجائبو کې راځي.

د حلال کسب ارزښت

په اسلام کې د حلال رزق لټولو اهميت او ارزښت له دې فهمولی شئ چې قرآن مؤمنانو ته سپارښتنه کوي چې د جمعې له لمانځه وروسته په زمکې کې خواره شي او د الله فضل يعني حلال رزق ولټوئ.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا نُودِىَ لِلصَّلَوٰةِ مِن يَوۡمِ ٱلۡجُمُعَةِ فَٱسۡعَوۡاْ إِلَىٰ ذِكۡرِ ٱللَّهِ وَذَرُواْ ٱلۡبَيۡعَۚ ذَٰلِكُمۡ خَيۡرٞ لَّكُمۡ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ۝٩ فَإِذَا قُضِيَتِ ٱلصَّلَوٰةُ فَٱنتَشِرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَٱبۡتَغُواْ مِن فَضۡلِ ٱللَّهِ وَٱذۡكُرُواْ ٱللَّهَ كَثِيرٗا لَّعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ۝١٠ الجمعة

اې هغو چې ايمان ئې راوړی! کله چې د جمعې د ورځې د لمانځه أذان وشي نو د الله د ذکر لوري ته تلوار وکړئ او پېر پلور پرېږدئ، همدا ستاسو لپاره غوره دئ که پوهېږئ، او کله چې لمونځ پای ته ورسېږي په زمکې کې خواره شئ او د الله د فضل لټه وکړئ او الله زيات ياد کړئ چې بريالي شئ.

لکه چې ګورئ دلته که له يوې خوا مؤمنانو ته د لمانځه او د الله د زيات يادولو لوري ته د تلوار او اهتمام سپارښتنه شوې او د جمعې د أذان له اورېدو بيا د لمانځه تر پای له تجارت او نورو ورځني کارونو

لاس اخيستلو او جومات ته د تګ امر ورته شوی له بلي خوا ورته امر شوی چې له لمانځه وروسته خواره شئ او د حلال رزق تر لاسه کولو په لټه کې شئ، دا ښيي چې حلال رزق لټول د لمانځه په څېر يوه وجيبه او عبادت دئ او الله تعالی موږ پرې مکلف کړي يو، الله تعالی هغه عابد بنده خوښوي چې د حلال رزق لټه کوي، بل ته ئې د احتياج لاس اوږد نه وي، د نورو د اوږو پېټی نه وي، له حلالو لارو روزي تر لاسه کوي، له هغه څه چې تر لاسه کوي ئې يوه برخه د الله په لار کې لګوي او د مسکينانو لاس نيوی کوي. اسلام ګدايي تحريم کړې؛ رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايي: يوه انسان ته دا ډېره غوره ده چې يوه رسۍ واخلي، صحراء ته ولاړ شي، بوټي او واښه راټول او پر شا ئې بازار ته راوړي او وئې پلوري؛ تر دې چې بل ته لاس اوږد کړي او څه ترې وغواړي، ور ئې کړي او يا ئې ورنه کړي.

د اسلام له نظره تر ټولو غوره رزق هغه دئ چې مسلمان ئې د خپل حلال او جائز عمل او کسب له لاري تر لاسه کوي.

عَنِ المِقْدَامِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «مَا أَكَلَ أَحَدٌ طَعَامًا قَطُّ، خَيْرًا مِنْ أَنْ يَأْكُلَ مِنْ عَمَلِ يَدِهِ، وَإِنَّ نَبِيَّ اللَّهِ دَاوُدَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ، كَانَ يَأْكُلُ مِنْ عَمَلِ يَدِهِ» أَخْرَجَهُ الْبُخَارِی

له مقدام رضي الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايلي: هيڅا هيڅکله تر دې غوره طعام نه دئ خوړلی چې د خپل لاس له کار ئې خوري؛ او د الله نبي داؤد عليه السلام داسي وو چې د خپل لاس له کار ئې خوړل.

د داؤد عليه السلام په اړه د قرآن له وينا معلومېږي چې هغه نه يوازي خپله روزي له حلال کسب تر لاسه کوله بلکې د خپل رسالت په دوران کې ئې ستر ستر علمي کارونه کړي؛ لکه د اوسپني کشف او د جنګي مقاصدو لپاره له هغې استفاده او زغري ترې جوړول د ده په وخت کې پيل شوي، له ده خپل مجاهد زوی سليمان عليه السلام ته

دومره ستر ملك او واکمني په میراث ورسیده چې په تاریخ کې ئې نظیر نه وو لیدل شوی. دا سلیمان علیه السلام وو چې تر ټولو وړاندې ئې داسې ښېرې جوړه کړه چې د باد په وسیله به خوځېده، سرعت ئې دومره وو چې له سحر تر غرمې پورې به ئې د یوې میاشتې مزل وهلو او له غرمې تر ماښام به ئې د یوې میاشتې مزل. د مسو چینه (معدن) ئې کشف او د ویلې کولو او له مسو د ضروري سامان او لوښو جوړول ئې پیل کړل.

قرآن د ګڼ شمېر پیغمبرانو نومونه اخلي چې هر یو ئې د کسب خاوند وو او هر یوه خپل امت ته ویلي: له تاسو په خپل دعوت او رسالت هیڅ مادي او معنوي بدله نه غواړم:

إِذْ قَالَ لَهُمْ أَخُوهُمْ نُوحٌ أَلَا تَتَّقُونَ ﴿١٠٦﴾ إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ ﴿١٠٧﴾ فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٠٨﴾ وَمَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ ۖ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿١٠٩﴾ الشعراء

کله چې د دوی ورور نوح ورته وویل: آیا تقوی (ځان ساتنه) نه کوئ؛ زه د الله تعالی له لوري لېږل شوی امین استازی یم، (په بشپړ امانت سره د خپل رب پیغام تاسو ته رسوم)، نو له الله ووېرېږئ او زما اطاعت وکړئ. د دې دعوت په بدل کې له تاسو هیڅ اجر نه غواړم، زما اجر یوازې پر رب العالمین دئ.

په دې لنډو لنډو آیتونو کې څو مهم مهم حقائق زموږ په وړاندې ځلېږي:

- له نوح علیه السلام سره د خپل قوم مخالفت هغه مهال پیل شوی چې ده د ټولنې پر حاکم وضعیت نیوکې کړې او د هغه پایلې ئې وخیمې ګڼلې، او دا هغه څه دي چې له ټولو زړه سواندو پیغمبرانو او حقپالو دعاتو سره شوي، د دعوت تر پیل وړاندې خلکو د هغوی درناوی کړی، د پوه او لوړ شخصیت په سترګه ئې ورته کتلې، خو د دعوت له پیل وروسته ئې هغوی تکذیب کړي او دښمنۍ ته ئې ملا تړلې.

• د نوح علیه السلام دعوت په دوو خبرو کې راخلاصه شوی: له الله تعالی وېره او د پیغمبر اطاعت، او دا ښیي چې د دین بنسټ پر دغو دوو خبرو ولاړ دئ، د چا په عملي ژوند کې چې د دغو دوو خبرو نښې او آثار په څرګنده توګه او عملاً ونه لیدل شي د هغه د ایمان او دیانت دعوی خوشې، بې بنسټه او بې اعتباره ده، پر الله تعالی او د هغه پر پیغمبرانو ایمان یوازې په هغه صورت کې اعتبار لري چې له الله تعالی وېره او د پیغمبر اطاعت د انسان پر ټول ژوند وزر غوړولی وي.

• دلته د نوح علیه السلام دوه خبري داسي راغلې چې په قرآن کې همدا دواړه د یوه پیغمبر د حقانیت معیار ګڼل شوې: امانت او له الله تعالی پرته له بل چا اجر نه غوښتل، په دې سوره کې او د قرآن په ګڼ شمېر نورو آیتونو کې به وګورئ چې دا دواړه د پیغمبرانو علیهم السلام د شخصیت بارز مواصفات ښودل شوي، هر یوه خپل قوم ته ویلي: زه د الله تعالی له لورې لېږل شوی امین استازی یم، په بشپړ امانت سره د خپل رب پیغام تاسو ته رسوم، د دې دعوت په بدل کې له تاسو هیڅ اجر نه غواړم، زما اجر یوازې پر رب العالمین دئ. دا ښیي چې د صادق او کاذب داعي، زړه سواند او مکار لارښود د پېژندو لپاره باید دغه دوه مواصفات د معیار په توګه په پام کې ولرو.

د پیغمبر صادق وارث او رښتینی امتي هغه دئ چې د الله په لار کې او له حق دفاع کې د ځان، مال او مقام قرباني کولو ته چمتو وي؛ په خپل دعوت، امامت او خطابت له الله تعالی پرته له هیڅا د اجر او بدلې طمع ونه لري؛ خلکو ته باید دا ووایو: څوك چې له دین دام او دکان جوړوي او د دین په نامه له خلکو قلنګ او شکرانې اخلي؛ هغه مکار او ټګمار دین پلوری دئ نه د رسول الله رښتینی وارث.

قرآن د سود په اړه څه ويلي؟

دې آيت ته ځير شئ:

ٱلَّذِينَ يَأۡكُلُونَ ٱلرِّبَوٰاْ لَا يَقُومُونَ إِلَّا كَمَا يَقُومُ ٱلَّذِي يَتَخَبَّطُهُ ٱلشَّيۡطَٰنُ مِنَ ٱلۡمَسِّۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ قَالُوٓاْ إِنَّمَا ٱلۡبَيۡعُ مِثۡلُ ٱلرِّبَوٰاْۗ وَأَحَلَّ ٱللَّهُ ٱلۡبَيۡعَ وَحَرَّمَ ٱلرِّبَوٰاْۚ فَمَن جَآءَهُۥ مَوۡعِظَةٞ مِّن رَّبِّهِۦ فَٱنتَهَىٰ فَلَهُۥ مَا سَلَفَ وَأَمۡرُهُۥٓ إِلَى ٱللَّهِۖ وَمَنۡ عَادَ فَأُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ٢٧٥ البقرة

هغه چې سود خوري؛ نه پاڅي مګر د هغه چا د پاڅېدو په څېر چې شيطان په مس (لاس راښکلو) سره د ده حواس خراب کړي وي، دا له دې کبله چې وايي: بيع خو هم د سود په څېر ده! حال دا چې الله بيع حلاله کړې او سود ئې حرام کړی، نو چا ته چې د خپل رب له لوري موعظه راغله، نو ډډه ئې وکړه، ده ته همغه پخوا تېر شوی دئ او کار ئې الله ته (محول) دئ او څوك چې بيا وروګرځېدو نو دوی دوزخيان دي؛ په هغه کې تلپاته.

يعني سود خور؛ په حقيقت کې يو مخبوط الحواس انسان دئ چې شيطان ئې حواس ګډ وډ او مختل کړي، له مال سره افراطي مينې او د زيات مال د تر لاسه کولو شديد حرص؛ د جنون او لېونتوب حد ته رسولی، د ده له کاره نظره بيع د سود په څېر ده، د ده ذهن د شيطاني القاءاتو تر اغېز لاندې دئ، په ذهن ئې شيطان سپور دئ، له همدې کبله وايي چې په بيع او تجارت کې هم يو له بل ګټه تر لاسه کېږي، نو که په سود کې همدا کار کېږي ولې بايد حرام وګڼل شي؟! شيطاني استدلال همداسي وي، ژور توپيرونه له پامه غورځول او شکلي ورته والي ته ګوته نيول او په هغه استناد کول؛ د شيطان او د هغه تر اغېز لاندې انسانانو خصلت دئ. هر سليم العقله انسان پوهېږي چې په سود کې د يوه بې وزلي انسان له مجبوريت ګټه اخيستل کېږي، يوې خوا ته ئې د پانګې

خاوند دئ چې له کوم کار پرته يقيني او حتمي ګټه تر لاسه کوي او بلي خوا ته ئې يو مجبور بې وسه انسان دئ چې دې معاملې ته د مجبوريتونو په سبب اړ شوی، له تاوان پرته ئې بل څه نه په برخه کېږي، څه چې په سود تر لاسه کوي يا به ئې په خپلو ضروري اړتياوو لګوي او يا به ئې په داسي کار چې خولې د ده په کې توی شي او ګټه ئې د سود خور په جيب کې پرېوځي. سود د هغه پانګوال نظام بنيادي اړخ دئ چې خلك په کې په دوو ډلو وېشل شوي وي؛ يوې خوا ته د ټولنې د ټولو شتمنيو خاوندان او بلي خوا ته هغه نادار او بې وزلې انسانان چې د دغو شتمنو لپاره بايد شپه ورځ کار وکړي او د خپلو تنګو او خولو په بيه تر لاسه کړی عائد د شتمنو مخې ته کښېږدي. په دې نظام کې شتمن حاکم دئ، واکمني د شتمنو په لاس کې او نظام او ټول فردي او اجتماعي قوانين او مناسبات ئې د شتمنو په خدمت کې. پانګوال نظام له سود پرته نه شي چلېدی، د امريکا اوسنی نظام د دې سېه بېلګه ده؛ هلته د سترو سترو شرکتونو او کمپنيو خاوندان او د پراخو زمکو مالکان؛ پر امريکا او پر ټولو زېرمو ئې حکومت کوي، د هېواد په سلو کې نوي شتمنۍ په سلو کې د لسو شتمنو په لاس کې دي، له دغو شتمنو پرته او د دوی له خوښي پرته نه څوك د هېواد جمهور رئيس کېدی شي، نه د کوم ايالت ګورنر، نه د کانګريس او پارلمان غړی. د ملګرو ملتونو د ۱۳۸۳کال راپور وايي چې د امريکا ۳٤ مليونه وګړي په فقر کې ژوند کوي، يعني په هرو اوه امريکايانو کې يو په فقر کې ژوند کوي، کار، روزګار او معاش نه لري، دا په داسي حال کې چې امريکا د نړۍ ډېر هېوادونه له اقتصادي پلوه په خپلې استعماري ولکې کې نيولې او هر کال له دغو مستعمراتو په مليارډونو ډالر تر لاسه کوي؛ کله دلته او کله هلته د جګړو اور بل کړي او په دې سره له يوې خوا د خپلو وسلو لپاره د خرڅلاو بازار پيدا کړي او له بلي خوا په دغو جنګ ځپلو هېوادونو کې د ډار، وېرې او ناامنۍ داسي حالت راپيدا کړي چې شتمن واکمنان، تاجران او بډايان ئې له خپل هېواد د خپلو شتمنيو ايستلو او د امريکا بانکونو ته په انتقال

مجبور شي، د امريکا د ډېرو بانکونو د پانګو يوه لويه برخه په هغو شتمنيو شامله ده چې عربي شيخانو ورانتقال کړې.

دې ته مو بايد پام وي چې د پورتني آيت د دې برخي (يَتَخَبَّطُهُ ٱلشَّيۡطَٰنُ مِنَ ٱلۡمَسِّۚ) معنی دا نه ده چې کوم مجسم يا غير مجسم شيطان پرې لاس راکاږي او يا د عوامو په اصطلاح پيريان ورباندې کښېني او په دې کښېناستو يا لاس راکښو سره ئې پيريانی کوي!! بلکې په دې سره د شيطان تلقين او د انسان په زړه او دماغ د هغه اغېز ته اشاره شوې؛ قرآن په بل ځای کې په همدې ارتباط او د متقي مؤمنانو په اړه فرمايي:

إِنَّ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَواْ إِذَا مَسَّهُمۡ طَٰٓئِفٞ مِّنَ ٱلشَّيۡطَٰنِ تَذَكَّرُواْ فَإِذَا هُم مُّبۡصِرُونَ ﴿٢٠١﴾ الاعراف

يقيناً هغه چې تقوی ئې کړې؛ کله چې ئې د شيطانانو کوم طائف (چورلېدونکی)؛ مس کړي (کوم شيطانی تلقين ورته وکړي)؛ سملاسی متوجه شي، نو هغه وخت ئې بصيرت په برخه (او د سمې لارې د پېژندو وړ) شي.

د اسلام لارښوونه دا ده چې چا د سود په اړه د الله حکم واورېدو او له هغه وروسته ئې لاس ترې واخيست، په مخکيني اخيستي سود به بسنه کوي، له خپلو پورونو به يوازې خپل اصلي پور تر لاسه کوي؛ نه سود ئې؛ او کار ئې الله ته محول شوی، هيله ده الله ورته عفو وکړي، خو څوک چې د سود له تحريم وروسته بيا هم سودي معاملاتو ته پناه وړي، دوی دوزخيان دي، تل به په دوزخ کې پاته وي. د آيت له وروستۍ برخي (وَمَنۡ عَادَ فَأُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ) معلومېږي چې سود څومره ستره ګناه ده؟

قرآن سود د فرد او ټولنې لپاره د تباهي وسيله ګڼي او فرمايي:

يَمۡحَقُ ٱللَّهُ ٱلرِّبَوٰاْ وَيُرۡبِي ٱلصَّدَقَٰتِۗ وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ كَفَّارٍ أَثِيمٍ ﴿٢٧٦﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُاْ ٱلزَّكَوٰةَ لَهُمۡ أَجۡرُهُمۡ

عِندَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٢٧٧﴾

الله سود تباه کوي او صدقاتو ته وده ورکوي او الله هيڅ ګناهګار کافر نه خوښوي. بې شکه هغه چې ايمان ئې راوړی، نېک عملونه ئې کړي، لمونځ ئې اداء کړی او زکات ئې ورکړی؛ دوی ته خپل اجر دئ؛ د خپل رب خوا کې، نه پر دوی څه وېره شته او نه به غمجن شي.

يعني سود د تباهۍ ذريعه ده او صدقه د ودې او پراخوالي باعث، په سود سره هم ګټه تباه کېږي او هم اصلي پانګه؛ او په صدقې سره به هم ستاسو په شتمنيو کې الله برکت اچوي او هم په صدقاتو او په اجر او ثواب کې ئې. سود د سخت زړو کافرانو او سختو ګناهګارانو کار دئ؛ ځان ترې وساتئ چې الله ئې نه خوښوي. د دوی په مقابل کې هغه چې ايمان راوړي، صالح عملونه کوي، لمونځ کوي او د سود خوړلو پر ځای زکات ورکوي؛ الله د دوی اجر تضمين کړی، نه وېره پرې شته او نه به غمجن شي؛ د اجر معنی دنيوي او اخروي- او معنوي او مادي بدله ده. قرآن همدا راز فرمايي:

وَمَآ ءَاتَيْتُم مِّن رِّبًا لِّيَرْبُوَاْ فِيٓ أَمْوَٰلِ ٱلنَّاسِ فَلَا يَرْبُواْ عِندَ ٱللَّهِ ۖ وَمَآ ءَاتَيْتُم مِّن زَكَوٰةٍ تُرِيدُونَ وَجْهَ ٱللَّهِ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُضْعِفُونَ ﴿٣٩﴾

او له سود مو چې څه د دې لپاره ورکړي چې د خلکو په مال کې وده وکړي نو د الله په وړاندي وده نه کوي؛ او له زکات مو چې څه د الله د رضاء په تکل ورکړي نو همدا دوی (څو ځلي) زياتوونکي دي.

دا مبارك آيت د اقتصادي مناسباتو دوه متقابل صورتونه زمونږ په وړاندي ږدي: ربا (سود) او زکات، د سود په اړه وايي: هغه څه (مال) چې خلکو ته ئې د دې لپاره ورکوئ چې د هغوی په مال کې زيات شي، وده وکړي او تر خپل اصلي او لومړني مقدار زيات تاسو ته بېرته راستون شي، دا سود دئ، د الله تعالی په وړاندي وده نه کوي او بې برکته دئ؛ او کوم څه چې د زکات په توګه او د الله تعالی د رضاء په تکل ورکوئ نو په دې سره نه يوازي د خپل رب رضاء تر لاسه کوئ بلکې مضاعف

بدله او اجر درپه برخه کېږي، همدا زکات ورکوونکي د الهي معيارونو له مخي د خپلو نعمتونو څو ځلي زياتوونکي دي. متأسفانه ځيني خوارکيان داسي دي چي کله د (اجر) کلمه اوري نو داسي انګېري چي معنی ئې فقط اخروي ثواب او بدله ده!! په داسي حال کي چي د اجر اصلي او لومړنۍ معنی دنيوي بدله ده او ثانوي او بعدي ئې اخروي ثواب او بدله ده؛ الله تعالی د هر نېك عمل دوه بدلې ورکوئ؛ لومړۍ په دنيا کي او وروستۍ په آخرت کي. ستا جهاد، هجرت، زکات او صدقات هم دغسي دوه لومړۍ او وروستۍ بدله او اجر لري.

د دې مبارك آيت الفاظ ډېر صريح او حکم ئې ډېر پرېکنده دئ او هري هغي معاملې ته د سود (ربا) نوم ورکوي چي بنسټ ئې پر داسي تعامل ولاړ وي چي د يوه مال د بل په مال کي وده وکړي او زيات شي، يو بل ته خپل مال ورکړي او د مال دا لومړنی خاوند، څه موده وروسته، هم خپل مال او هم ئې اضافي ګټه تر لاسه کړي، پرته له دې چي څه کار، زيار او څه تاوان ئې ګاللی وي. د (زکات) په مقابل کي د (ربا) راوړل د سود ماهيت او څرنګوالی لا زيات واضح کوي، زکات دا دئ چي څوك په خپل حلال مال کي يوه برخه د فقير او مسکين مسلم حق وګڼي او هغه د الله تعالی د رضاء تر لاسه کولو په موخه ورکړي او سود دې ته وايي چي څوك د خپل نفس راضي کولو په موخه خپل مال بل ته په دې شرط ورکړي چي مزيد مال او ګټه تر لاسه کړي.

دا پوښتنه راولاړېږي چي آيا دا هم د سود په ضمن کي راځي چي څوك خپله د کر زمکه بل ته ورکړي او هغه ئې وکري او ګټه د دواړو تر منځ په يوه عادلانه او معقول تناسب ووېشل شي؟ يا خپلې پيسې بل ته ورکړي او هغه پرې تجارت وکړي، کور پرې جوړ کړي او په کرايه ئې ورکړي، زمکه پرې واخلي او وئې کري، يا کوم بل ګټور کار پرې وکړي او په ګټې کي ئې دی او د زمکي او مال خاوند شريك وي؟ که دې پوښتني ته د دې مبارك آيت په رڼا کي ځواب ووايو نو يقيناً ځواب به ئې له دې پرته بل څه نه وي چي د مسکين له خولو د ګټې تر لاسه کولو پر ځای

له هغه سره مرسته وکړه، له ګټې پرته حسنه قرض ورکړه، هغه ستا وروړ دئ او ستا په مال کې د حق خاوند، که د الله تعالى رضاء لټوې او دا غواړې چې الله تعالى ستا په مال کې برکت واچوي نو يا بلاعوضه مرسته ورسره وکړه او يا له ګټې پرته حسنه پور ورکړه. خو دا چې آيا داسې معامله جائزه ده که نه؛ بايد ووايو چې ځينو فقهاءو په دې شرط جائز ګڼلې چې په ګټې کې دواړه لوري په يوه عادلانه تناسب شريك وي او د تاوان په صورت کې د مال خاوند د تاوان پېټى قبول کړي.

دې ته مو بايد پام وي چې دا معامله اوس له مخکيني انفرادي حالت وتلې او پراخه نړۍ واله بڼه ئې غوره کړې، ستر ستر بانکونه رامنځته شوي، له يوه د سود په بدل کې پيسې تر لاسه کوي، بل ته ئې د سود په بدل کې ورکوي، هغه پرې يا تجارت کوي، يا کورونه جوړوي او په کرايه ئې ورکوي، يا د حمل و نقل وسائل (لکه کښتۍ، جهازونه او موټرې) پېرې او ګټه تر لاسه کوي؛ او دې ته ورته کوم بل کار پرې روانوي، څه موده وړاندې دې ته د يوه ګټور اقتصادي تعامل په سترګه کتل کېدل، په اسلامي نړۍ کې هم ځينو هڅه وکړه چې دې ته اسلامي رنګ ورکړي، خو په دې وروستيو کې د دې معاملې بدې پايلې راڅرګندې شوې، د امريکا او اروپا ستر ستر بانکونه له افلاس سره مخامخ شول، ستر ستر اقتصادي بحرانونه ئې وزېړول، دولتونه مجبور شول د دې خطرناکو بحرانونو د حل لپاره دغو بانکونو ته په ملياردونو ډالر پور ورکړي، خو سره له دې ونه توانېدل چې دا ستونزه حل کړي، يوه بېلګه ئې په افغانستان کې رامنځته شوه، د صليبي ځواکونو له تسلط وروسته ګڼ شمېر بانکونه جوړ شول، ټول ئې د هغو کړيو له لوري چې دغو ځواکونو واك ته رسولي ول، دغو بانکونو په غولوونکو اعلاناتو سره له خلکو پيسې تر لاسه کړې، د اقتدار خاوندانو له دغو بانکونو د پور په نامه په لوى مقدار کې پيسې واخيستې، بهر ته ئې انتقال کړې او په دوبۍ او نورو هېوادو کې ئې کورونه او هوټلونه جوړ کړل، په پاى کې بانکونو ته نه ګټه مسترد شوه او نه د قرض اصلي مبلغ، دا ځکه چې دا مبالغ هم له خلکو

په دوکه تر لاسه شوې وو او هم له بانکونو، د کابل بانك نژدې يو ملیارد ډالر د څو خائنانو له لوري اختلاس شول، هغه هم د لوړ پوړو چارواکو او د دوی د خپلوانو له لوري!! آیا عجیبه نه ده چې څوك داسي معاملې ته د مضاربت نوم ورکړي او هغه جائز وګڼي؟! له هغو مفتیانو چې دا معامله جائز ګڼي پوښتنه کوم: د مال د خاوند او هغه چا تر منځ چې په دې مال کوم تولیدي کار تر سره کوي او څه ګټه تر لاسه کوي څومره کسان له کوم ګټور او تولیدي کار او زیار پرته مستفید کېږي؟ د بانك له شریکانو نېولې تر مأمورینو پورې او د هغو شرکتونو له مالکانو نېولې چې له دغو بانکونو د سود په بدل کې پیسې تر لاسه کوي د دوی تر اداري پرسونل پورې؟! څنګه داسي معامله جائز ګڼئ چې له سر تر پایه په دوکې، سود، له زیار ګاللو او تاوان منلو پرته ګټې باندي ولاړه ده؟! ولې هغې معاملې ته اسلامي رنګ ورکوئ چې د غرب له ظالمانه پانګوال نظام زېرېدلې او هغوی ته ئې بدې پایلې تحویل کړې؟! نړۍ وال بانکي نظام په بشپړه توګه پر سودي تعامل ولاړ دئ، دا د غربي پانګوال نظام یوه ځانګړتیا ده، غربیانو دا نظام پر نړۍ والو تپلی، ولې دا هڅه کوئ چې له کفري نظام زېرېدلي بانکي سیستم ته شرعي او اسلامي رنګ ورکړئ؟ څه دې ته اړ کړي یئ چې له دې کفري نظام راولاړو شوو ستونزو ته داسي نسخه وړاندي کړئ چې نه یوازي د حل لار او ذریعه نه ده بلکې د اسلام په اړه شکوك او شبهات راولاړوي؟ ولې نه وایئ چې دا ستونزې غیر اسلامي تګلارو زېرولې علاج ئې دا دئ چې دا نظام په بشپړه توګه له منځه ولاړ شي، هم ئې فکري بنسټونه نسکور شي او هم ئې کړنلاري او تګلاري؟! اسلام داسي نظام دئ چې ټولې برخې ئې سره تړلې دي، یوه برخه ئې له نورو ببل هیڅکله هغه نتیجه نه ورکوي چې د نورو په څنګ کې او له نورو سره یو ځای ئې ورکوي، داسي نه شي کېدی چې د یوې ټولنې فکري، سیاسي، اجتماعي او اقتصادي مناسبات به په بشپړه توګه پر غیر اسلامي بنسټونو ولاړ وي او د اسلامي اقتصاد د یوې برخې په پلي کولو سره به د هغې ټولنې ستونزې حل کېږي!! د

پانګوال غربي نظام له بانکي سيستم د راولاړه شوو ستونزو د حل لپاره د مضاربت نسخه ورکول د هغه ډاکټر نسخې ته ورته ده چې يوه بيمار ته د سر خوږي دوا ورکوي خو په دې نه پوهيږي چې دا سر خوږی ئې له څه راولاړ شوی او عامل ئې څه دئ!! يقيناً چې د داسي ډاکټر نسخه به د ګټې پر ځای بيمار ته لا زيات تاوان رسوي.

مؤمنانو ته د سود په اړه د قرآن لارښوونه

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَذَرُواْ مَا بَقِيَ مِنَ ٱلرِّبَوٰٓاْ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ﴿٢٧٨﴾ فَإِن لَّمۡ تَفۡعَلُواْ فَأۡذَنُواْ بِحَرۡبٖ مِّنَ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦۖ وَإِن تُبۡتُمۡ فَلَكُمۡ رُءُوسُ أَمۡوَٰلِكُمۡ لَا تَظۡلِمُونَ وَلَا تُظۡلَمُونَ ﴿٢٧٩﴾ وَإِن كَانَ ذُو عُسۡرَةٖ فَنَظِرَةٌ إِلَىٰ مَيۡسَرَةٖۚ وَأَن تَصَدَّقُواْ خَيۡرٞ لَّكُمۡ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ﴿٢٨٠﴾ وَٱتَّقُواْ يَوۡمٗا تُرۡجَعُونَ فِيهِ إِلَى ٱللَّهِۖ ثُمَّ تُوَفَّىٰ كُلُّ نَفۡسٖ مَّا كَسَبَتۡ وَهُمۡ لَا يُظۡلَمُونَ ﴿٢٨١﴾

[٢٧٨]- اې مؤمنانو! له الله ووبرېږئ او پاته سود پرېږدئ؛ که ايمان لرئ.
[٢٧٩]- او که دا کار ونه کړئ نو د الله او پيغمبر يوې جګړې ته تيار شئ او که مو توبه وکړه؛ نو بيا تاسو ته ستاسو رأس المال (لومړنی له سود پرته مال) دئ، مه تاسو ظلم کوئ او نه دې پر تاسو ظلم کېږي.
[٢٨٠]- او که (پورونی) له تنګسې سره مخ وو نو بيا تر پراخې انتظار کول دي او که ئې وبخښئ ډېر درته غوره دئ؛ که وپوهېږئ. [٢٨١]- او له هغې ورځې ووېرېږئ چې الله ته په کې ورګرځئ؛ چې بيا به هر چا ته خپلې لاسته راوړنې پوره ورکړی شي او ظلم به نه پرې کېږي.

په دې الهي ځلانده لارښوونو کې مؤمنانو ته ويل شوي: که ايمان لرئ نو له سود ډډه وکړئ، يعني سود خوړل د ايمان خلاف کار دئ او له الله او پيغمبر سره د جګړې مترادف دئ، سودخور دي له الله او پيغمبر سره جګړې ته تيار شي، کوم نظام چې په سود ولاړ وي له الله باغي نظام دئ. له دې مبارکو آيتونو دا مطلب په څرګنده معلومېږي چې الله تعالى

به په سود متکي نظامونه هرو مرو له جګړو سره مخامخ کوي. په سود ولاړه ټولنه به ورو ورو هغي مرحلې ته ورسېږي چې ثروت د څو معدودو شتمنو په لاس کې پرېوځي او د ټولنې اکثريت له مسکنت، فقر او لوږې سره مخامخ شي، شتمن ورځ په ورځ مزيد شتمن شي او نادار نور هم نادار، دغه حالت په دې دواړو طبقو کې د کينې، کرکې او نفرت داسې حالت راپيدا کوي چې محرومه طبقه د شتمنو په ضد وسلې ته له لاس کولو پرته بله لار او چاره نه مومي، د جګړو اور بل شي او دا د عليم او حکيم خدای د دغي وينا مصداق دئ چې سود خور دي د الله او پيغمبر له لوري جګړې ته چمتو شي. له دې مبارك آيت دا هم معلومېږي چې که سود خورو له سود خوړلو لاس وانه خيست؛ اسلامي حکومت مکلف دئ د دوی په ضد جګړه اعلان کړي.

سود په اصل کې د يوه مجبور انسان له مجبوريت ناروا ګټه اخيستل دي، په قرض سره د جنس په مقابل کې زيات جنس او د پيسو په مقابل کې زياتې پيسې اخيستل سود دئ. خو که سود خور حيله وکړي، د پيسو پر ځای جنس ورکړي، مديون او پوروړي ته ووايي چې پيسې نه شم درکولی، جنس درکولی شم، د جنس بيع په نقده لس افغانۍ ده خو په قرض ئې تر راتلونکي کال پوري په دولس افغانۍ درکوم، پوروړی پيسو ته ضرورت لري، جنس به له ده اخلي په بل به ئې خرڅوي او له هغه به پيسې جوړوي او قرض ورکوونکی د نقدو پيسو پر ځای جنس ورکوي، په ظاهر کې خو معامله داسې برېښي چې جنس په پور ورکړی شوی؛ خو په حقيقت کې د معاملې يوه لوري پيسې په سود اخيستې او بل په سود ورکړې. ډېر سودخواره همداسې کوي، ګمان کوي چې په دې سره ئې هم سود تر لاسه کړی او هم له ګناه خوندي پاته شوی!! ځينو دا غلطه فتوی ورکړې او په دې سره ئې د سودخورو مشکل حل کړی او د حرام سود پر ځای ئې حلال سود ورته شوډلی!! حاشا و کلا چې په داسې حيله دي حرام سود حلال وګرځي، د حلال او حرام پرېکړه د شکلياتو له مخي نه کېږي، د معاملې د کُنه او حقيقت له مخي او انسان ته د ګټې او

تاوان له مخي کېږي، يوه حرام کار ته د حلال بڼه ورکول او ظاهر ئې د حلال په څېر ګرځول، شيطاني حيله ده؛ هيڅکله هغه نه شي حلالولی.

له مأمورينو سود اخيستل

د دې برخي د ليکلو په دوران کې ځيني حکومتي مأمورين د ملاقات لپاره راغلي وو؛ د نورو مسائلو په ضمن کې ئې وپوښتل: آيا دا جائزه ده چې حکومتي بانك مور ته پور راکوي؛ هره مياشت زمور له معاش يوه برخه ګرځوي او په پای کې به د پور له اصل مقدار اضافه مبلغ له مور ګرځوي؛ مثلاً ما ۲۰۰۰۰۰ افغانۍ په پور واخستلې؛ هره مياشت زما له معاش ۵۰۰۰ افغانۍ ګرځوي؛ د دريو کلونو په پای کې زما له معاش جمعاً ۲۵۵۰۰۰ افغانۍ ګرځوي؛ د معاملې په پيل کې ما ته دا مبلغ په نقده توګه (پيسې) نه راکوي؛ بلکې تر منځ مو ګواکې جنس مبادله شوی وي؛ د بانك مأمور له يوه دکان د يوه جنس اخيستلو بل تر لاسه کړی؛ دا بل ملي بانك ته سپاري؛ له مخي ئې مبلغ تر لاسه کوي؛ مبلغ ما ته سپارل کېږي؛ د جنس او دکان خاوند ته دوه درې زره افغانۍ شکرانه!! او دا د دې لپاره چې معامله سودي بڼه غوره نه کړي!! د دوی پوښتني حيران کړم؛ ګمان مي نه کولو چې د اسلام په نامه جوړ شوي حکومت کې به څوك په داسي څرګند حرام کار لاس پوري کړي او يا به ئې د جواز فتوی ورکړي. هغوی ته مي وويل: ما ته خپله پوښتنه بيا تکرار کړئ؛ غواړم متيقن شم؛ ځکه زه همدا اوس د اسلامي اقتصاد په اړه د يوه کتاب په ليکلو مصروف يم؛ هغه مي بشپړ کړی؛ که ستاسو دا وينا حقيقت ولري او ټول شهادت ورکوئ؛ نو زه به ئې حتماً په کتاب کې يادوم؛ يوه ئې بيا تکرار کړه او نورو د ده وينا تأييد کړه!! ورته ومي ويل: دا معامله حرامه ده، څرګند سود دئ؛ او تر معمولي سود هم دوه برابره زياته ستره ګناه؛ هم په حيلې سره د حرام حلالولو ګناه؛ که چا سود ورکړ يا ئې واخيست کبيره ګناه ئې کړې؛ خو که چا سود حلال وګڼلو؛ په حيله سره يا بې حيلې؛ نو حرام ته د حلال نوم ورکول په کفر منتج کېږي.

د سود او نورو ناجائزو معاملاتو په اړه ځينې روايات

دا مو غوره وګڼله چې په دې کتاب کې ځينې هغه روايات؛ له ژباړې او شرحې سره؛ د لوستونکو مخې ته کښېږدو چې د سود په اړه راغلي:

عَنْ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: يُخْبِرُ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم قَالَ: «الذَّهَبُ بِالذَّهَبِ رِبًا إِلَّا هَاءَ وَهَاءَ، وَالْبُرُّ بِالْبُرِّ رِبًا إِلَّا هَاءَ وَهَاءَ، وَالتَّمْرُ بِالتَّمْرِ رِبًا، إِلَّا هَاءَ وَهَاءَ، وَالشَّعِيرُ بِالشَّعِيرِ رِبًا إِلَّا هَاءَ وَهَاءَ». سنن سنن ابن ماجه و بخاری: ۲۱۳٤

له عمر بن الخَطَّاب رضي الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: ((سره زر په سرو زرو پلورل سود دئ؛ مګر دا چې لاس په لاس او برابر وي، غنم په غنمو، خرما په خرما، وربشی په وربشو سود دئ مګر دا چې برابر او لاس په لاس وي)).

دا روايت په بخاري کې ۲ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۲۱۳٤ - ۲۱۷٤ په متن کې له توپير پرته؛ مطلب ئې دا دئ: جنس بايد لاس په لاس تبادله شي؛ د هاء و هاء معنی دا ده چې يو ووايي دا واخله او بل ووايي دا واخله؛ يعني لاس په لاس معامله.

پوښتنه راولاړېږي چې سره زر په سره زر که سره زر په سپينو زرو بدلول؟! ولې به څوک سره زر په سرو زرو بدلوي؛ مګر دا چې عيار او خالص والی ئې فرق ولري؛ غواړو د ټيټ عيار سره زر په لوړ عيار سرو زرو بدل کړو؛ په ارزښت کې ئې توپير وي؛ څه به کوو؟ سمه طريقه دا ده چې خپل زر په مناسبه بيه وپلورو او بيا نور سره زر وپېرو؛ همدا راز غنم او نور اجناس؛ د جنس په جنس بدلولو پر ځای؛ يو وپلورو او بل پرې وپېرو؛ له دې پرته ئې مخامخ لږ په ډېر تبادله؛ سود ته ورته

ګټل شوې. همدا راز که جنس په پور ورکوو نو همغه مقدار به له پوروړي غوښتل کېږي چې ورکړل شوي؛ هر زیاتوالی سود دئ.

دا هم باید واضح شي چې د سرو زرو تر منځ توپیر په خالص والي کې وي؛ سره زر په اصل کې نرم وي؛ د کلکوالي لپاره ئې له بل فلز سره یو ځای کوي؛ تناسب ئې مثلاً په ۱۰۰۰ ګرام کې ۷۵۰ سره زر وي؛ یا تر دې ډېر یا لږ؛ د قراط په حساب ۱۸ او ۲٤.

په صحیح مسلم کې دا روایت په دې صیغه راغلی:

عَنْ مَالِكِ بْنِ أَوْسِ بْنِ الْحَدَثَانِ، أَنَّهُ قَالَ: أَقْبَلْتُ أَقُولُ مَنْ يَصْطَرِفُ الدَّرَاهِمَ؟ فَقَالَ طَلْحَةُ بْنُ عُبَيْدِ اللهِ، وَهُوَ عِنْدَ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ: أَرِنَا ذَهَبَكَ، ثُمَّ ائْتِنَا، إِذَا جَاءَ خَادِمُنَا، نُعْطِكَ وَرِقَكَ، فَقَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ: كَلاَّ، وَاللَّهِ لَتُعْطِيَنَّهُ وَرِقَهُ، أَوْ لَتَرُدَّنَّ إِلَيْهِ ذَهَبَهُ، فَإِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم قَالَ: الْوَرِقُ بِالذَّهَبِ رِبًا، إِلاَّ هَاءَ وَهَاءَ، وَالْبُرُّ بِالْبُرِّ رِبًا، إِلاَّ هَاءَ وَهَاءَ، وَالشَّعِيرُ بِالشَّعِيرِ رِبًا، إِلاَّ هَاءَ وَهَاءَ، وَالتَّمْرُ بِالتَّمْرِ رِبًا، إِلاَّ هَاءَ وَهَاءَ. مسلم: ٤٠٦٤

له مالك بن أَوس روایت دئ چې وئې ویل: راغلم او ویل مي: څوك دراهم (د سرو زرو سکې) پېري؟ طلحه بن عبید الله چې د عمر رضي الله عنه خوا کې وو وویل: سره زر دي راوښیه؛ بیا هغه مهال راشه چې خادم مو راغلی وي؛ سپین زر به دي درکړو؛ عمر رضي الله عنه وویل: نه؛ قسم په الله چې یا به ئې حتماً سپین زر ورکوې او یا به ئې سره زر بېرته ورکوې؛ ځکه رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: سپین زر په سرو زرو بدلول سود دئ؛ مګر دا چې لاس په لاس وي؛ غنم په غنمو، وربشي په وربشو، خرما په خرما بدلول سود دئ مګر دا چې لاس په لاس وي.

یعني سکې په سکو او جنس په جنس بدلولو کې د صحت شرط دا دئ چې سره برابر او لاس په لاس به وي؛ که نه نو سود ګټل کېږي. دا ځکه چې که جنس او سکه لاس په لاس تبادله نه شي نو کېدی شي سبا

ئې ارزښت يا ټيټ شوی وي يا لوړ شوی؛ حتماً يو لوری تاوان کوي او بل ګټه؛ اسلام دا نه خوښوي؛ مناسبه طريقه دا ده چې که څوك سره زر په سپينو زرو بدلوي يا ۱۸ قيراطه سره زر په ۲٤ قيراطه پلوري؛ نو لومړی دي خپل جنس وپلوري او بيا دي بل جنس لاس په لاس وپېري.

ښايي دا سوال راپيدا شي چې که چا ته په دوبي کې غنم ورکړو او په ژمي کې همدا نوع غنم په همغه مقدار؛ په ژمي کې ترې اخلو؛ ولې به دا سود ګڼل کېږي؟! دليل ئې دا دئ چې په دوبي کې د غنمو د وفرت په سبب ئې ارزښت ټيټ او په ژمي کې ئې د قلت له امله ارزښت زيات وي؛ ځکه ئې د تبادلې لپاره دا شرط وضع شوی چې لاس په لاس به وي.

د سود په اړه دې روايتونو ته هم ځير شئ:

د اسلام له نظره سود په هغو کبيره ګناهونو کې نيول شوی چې رسول الله صلى الله عليه و سلم ئې د موبقات په نامه يادوي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم قَالَ: «اجْتَنِبُوا السَّبْعَ المُوبِقَاتِ»، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ وَمَا هُنَّ؟ قَالَ: «الشِّرْكُ بِاللَّهِ، وَالسِّحْرُ، وَقَتْلُ النَّفْسِ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالحَقِّ، وَأَكْلُ الرِّبَا، وَأَكْلُ مَالِ اليَتِيمِ، وَالتَّوَلِّي يَوْمَ الزَّحْفِ، وَقَذْفُ المُحْصَنَاتِ المُؤْمِنَاتِ الغَافِلاَتِ» البخارى: ۲۷٦٦

له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم وفرمايل: له اوو تباه کوونکو ډډه وکړئ؛ وويل شو: يا رسول الله! دا کوم کوم دي: وئې فرمايل: له الله سره شرك، سِحر، د هغه نفس وژل چې الله ئې وژل حرام کړي مګر په حقه، د يتيم مال خوړل، سود خوړل، د جګړې په ورځ شا اړول او تښته او د مؤمنو، عفيفو او له ګناه د غافلو ښځو تورنول.

چا چې بل ته پور ورکړی وي؛ نو له سود د ځان ساتلو او احتياط کولو لپاره دي؛ له پوروړي هديه او تحفه هم نه اخلي:

عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي بُرْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ قَالَ: أَتَيْتُ الْمَدِينَةَ فَلَقِيتُ عَبْدَ اللهِ بْنَ سَلَامٍ فَقَالَ لِي: " أَلَا تَجِيءُ إِلَى الْبَيْتِ حَتَّى أُطْعِمَكَ سَوِيقًا وَتَمْرًا؟ " فَذَهَبْنَا فَأَطْعَمَنَا سَوِيقًا وَتَمْرًا، ثُمَّ قَالَ: " إِنَّكَ بِأَرْضٍ الرِّبَا بِهَا فَاشٍ، فَإِذَا كَانَ لَكَ عَلَى رَجُلٍ دَيْنٌ فَأَهْدَى إِلَيْكَ حَبَلَةً مِنْ عَلَفٍ أَوْ شَعِيرٍ، أَوْ حَبَلَةٍ مِنْ تِبْنٍ فَلَا تَقْبَلْهُ، فَإِنَّ ذَلِكَ مِنَ الرِّبَا " البخارى: ۳۸۱٤

سَعِيدِ بْنِ أَبِي بُرْدَةَ روايت كوي چې وئې ويل: مدينې ته راغلم او له عبد الله بن سلام سره مي وليدل نو ما ته ئې وويل: ولې كور ته رانه غلې چې دلده او خرما مي دربانديې خوړلې وی؟ نو ولاړو او دلده او خرما ئې راباندي وخوړل؛ بيا ئې وويل: ته په داسي سيمي كې يې چې سود په كې خور شوی؛ نو كه پر كوم سړي دي پور وي او هغه د سابه يا اوربشو كومه پنډه درهديه كول يا د غنمو د پوستكي (سبوسو) كومه پنډه؛ نو مه ئې تري منه؛ ځكه چې همدا سود دئ.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ: "لَعَنَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم آكِلَ الرِّبَا، وَمُؤْكِلَهُ وَشَاهِدَيْهِ وَكَاتِبَهُ، وَقَالَ: هُمْ سَوَاءٌ" شعب الايمان، رَوَاهُ مُسْلِمٌ فِي الصَّحِيحِ

له جابر بن عبد الله روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم پر سود خوړونكي، سود وركوونكي، شاهدانو ئې، او ليكونكي ئې لعنت ويلی؛ او فرمايلي ئې دي چې دوی سره برابر دي.

عن أُسَامَةِ بْنِ زَيْدٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم قَالَ: «إِنَّمَا الرِّبَا فِي النَّسِيئَةِ»

له اسامه بن زيد روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: يقيناً چې سود په پور كې وي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّهُ قَالَ لِمَرْوَانَ: أَحْلَلْتَ بَيْعَ الرِّبَا، فَقَالَ مَرْوَانُ: مَا فَعَلْتُ،

فَقَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ: «أَحْلَلْتَ بَيْعَ الصُّكُوكِ، وَقَدْ نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم عَنْ بَيْعِ الطَّعَامِ حَتَّى يَسْتَوْفِيَ» قَالَ: فَخَطَبَ النَّاسَ مَرْوَانُ، فَنَهَى عَنْ بَيْعِهَا، قَالَ سُلَيْمَانُ: فَنَظَرْتُ إِلَى حَرَسٍ مَرْوَانَ يَأْخُذُونَهَا مِنْ أَيْدِي النَّاسِ.

مسند احمد و مسلم

له أبو هريره روايت دئ چي مروان ته ئې وويل: سودي پېر پلور دي حلال کړئ؟ نو مروان وويل: څه مي کړي؟ نو أبو هريره وويل: د صکوك بيه دي حلاله کړې؛ په داسي حال کې چې رسول الله صلى الله عليه و سلم د خوراکي توکيو پېر پلور تر هغه منع کړي چې تر لاسه ئې کړي؛ راوي وايي: نو مروان خلکو ته وينا وکړه او دا بيع ئې منع کړه؛ سليمان وايي: د مروان ساتونکي مي ليدل چې د خلکو له لاسونو ئې دا صکوك (ليکلي اسناد) اخيستل.

صکوك د صك جمع ده او معنى ئې د پور ليکلى سند دئ، د چارواکو له لوري به خلکو ته ورکول کېدل چې له مخي ئې له بيت المال معين مقدار خوراکي توکي تر لاسه کړي؛ يعني د معين مقدار جنس معتبر سند.

د دې روايت څو مهمي لارښووني او مطالب توجه او بحث ايجابوي:

- داسي پېر پلور جائز نه دئ او اعتبار نه لري چې د جنس په نه شتون کې تر سره کېږي، بايد جنس حاضر وي؛ پلورونکى ئې قيمت تر لاسه کړي او پېرونکى جنس؛ دواړه لاس په لاس وي.
- داسي معامله جائزه نه ده چې د جنس خاوند سند ورکړي او پېرونکى ئې وروسته له گدام يا پټي او باغ تر لاسه کړي.
- دا هم جائزه نه ده چې پېرونکى همدا سند پر بل وپلوري؛ پرته له دې چې جنس ئې تر لاسه کړى او په خپل واك او تصرف کې ئې نيولى وي.
- أبو هريره رضي الله عنه د مروان په دې عمل اعتراض کړى چې د خوراکي توکيو ليکلى سند به ئې ځينو ته ورکولو او هغوى به همدا سند په نورو پلورلو؛ مروان ته ئې ويلي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم

د خوراکي توکیو پېر پلور تر هغه منع کړي چې حاضر وي او پېرونکی ئې تر لاسه کړي.

- مروان د أبو هریره رضي الله عنه اعتراض منلی او خلك ئې له داسي پېر پلور منع کړي.
- د مروان امنیتي ځواکونو له خلکو هغه سندونه راټول کړي چې د ده له لوري ورکړی شوي وو.
- د نن ورځي بانکنوټونه دقیقاً داسي دي لکه د مروان د وخت صکوك.

نه ئې په حرمت کې شك شته او نه ئې په پراخو اضرارو کې؛ ځوك چې غواړي واقعي إسلامي نظام پلي شي؛ نو د بانکونو سودي سیستم کې به هم د تغییر هڅه کوي او د بانکنوټونو د مناسب او جائز بدیل په رامنځته کولو کې هم. ښایي په ټولې نړۍ کې به هیڅ داسي هېواد نه وي چې د بانکنوټونو مقدار ئې واقعي وي او تر حقیقي مقدار څو ځله زیات نه وي. په نړۍ کې د فقر او ګرانۍ یوه لویه وجه دا ده چې مفسد او ظالم حکومتونه د خپلې خوښې مقدار پیسې (بانکنوټونه) چاپوي؛ په دې سره د هېواد د اسعارو ارزښت رالوېږي او د اجناسو معادل ارزښت لوړېږي؛ صدمه ئې کارګر، بزګر، مامور او ټولو هغو وګړو ته رسي چې د خپل کار او زیار په بدل کې ثابت معاش او اجوره تر لاسه کوي.

د اسلام په هري سپارښتني او لارښوونې کې د انسان خیر او مصلحت مراعات شوی، هغه څه تحریم شوي چې انسان ته ضرر رسوي، یو پر بل تېری، د زور واکانو له لوري پر بې وزلو ظلم او په ټولنې کې د بې عدالتي مخنیوی کوي؛ هر هغه تجارت، مالي ټرون، پېر پلور، قرض او راکړه ورکړه تحریموي چې په هغه کې زور کارول شوی، خدعه او دوکه شوې او د طرفینو له بشپړ توافق او رضایت پرته معامله شوې. په پېر پلور کې هغه معامله نامشروع او بې اعتباره ګڼي چې فاسد شرط په کې وضع شوی؛ په دې روایت کې د داسي معاملاتو یوه بېلګه څېړل شوې؛ دا چې پېر پلور باید لاس په لاس وي؛ یو لوری جنس تر لاسه کړي او بل ئې بیه؛ پېرونکی هغه مهال کولی شي په بل ئې وپلوري چې جنس د ده

په واك کې وي او له مخکيني خاوند ئې تر لاسه کړی وي؛ که نه نو معامله سود ته ورته ده؛ منځني پېرونکي د جنس لومړي خاوند ته پيسې ورکړي او له بل ئې پيسې اخيستې؛ او ګټه ئې کړې؛ د دې معاملې دوه ستر عيبونه دي:

- له لومړني مالك په ارزانه بيه اخيستل شوی، په وروستي پېرونکي په ګرانه بيه پلورل شوی او منځني له زيار او زحمت پرته مفته ګټه کړې!
- د جنس په نه شتون کې سودا ډېر ځلي لانجې راولاړوي؛ کله د جنس د کيفيت په اړه لانجه او کله په سپارلو کې د ځنډ لانجه.
- هر څومره چې جنس له لومړي مالك تر وروستي مستهلك؛ زيات لاس په لاس کېږي؛ په همدې تناسب ئې ارزښت لوړ ځي؛ لومړی او وروستی تاوان کوي او ګټه ئې پر هغو وېشل کېږي چې د دوی دواړو تر منځ وي او مال له يوه پېري او پر بل ئې پلوري.

عَن أَبِی سَعِیدٍ یَقُولُ: جَاءَ بِلاَلٌ بِتَمْرٍ بَرْنِیٍّ, فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ صَلی الله عَلیه وسَلم: مِنْ أَیْنَ هَذَا؟ فَقَالَ بِلاَلٌ: تَمْرٌ کَانَ عِنْدَنَا رَدِیءٌ, فَبِعْتُ مِنْهُ صَاعَیْنِ بِصَاعٍ لِمَطْعَمِ النَّبِیِّ صَلی الله عَلیه وسَلم, فَقَالَ رَسُولُ اللهِ عِنْدَ ذَلِكَ: أَوَّهْ عَیْنُ الرِّبَا, لاَ تَفْعَلْ, وَلَکِنْ إِذَا أَرَدْتَ أَنْ تَشْتَرِیَ التَّمْرَ فَبِعْهُ بِبَیْعٍ آخَرَ, ثُمَّ اشْتَرِ بِهِ. مسلم

له أبو سعيد خدري روايت دئ چې بلال يو ډول غوره کجوري راوړې؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: دا دي له کومه کړې؟ بلال وويل: له موږ سره چې کومي کجوري وې هغه د ټيټ کيفيت وې؛ نو له هغوی مي دوه پيمانې په يوه پيمانه اعلى کجورو وپلورلې؛ د رسول الله صلى الله عليه و سلم د خوراك لپاره؛ نو رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: افسوس او حيرت دئ؛ دا خو په خپله څرګند سود دئ؛ داسې مه کوه، بلکې (داسې کوه:) کله چې د کجورو اخيستل غواړې نو (خپلې کجوري) په بېلې بيې وپلوره او بيا (نوري) وپېره.

عن أبی سعید الخدری یقول: الدِّینارُ بالدِّینارِ، والدِّرْهَمُ بالدِّرْهَمِ، مِثْلًا بمِثْلٍ، مَن زادَ، أَوِ ازْدادَ، فقَدْ أَرْبَی، فَقُلتُ له: إنَّ ابْنَ عَبّاسٍ یقولُ غیرَ هذا، فَقالَ: لقَدْ لَقِیتُ ابْنَ عَبّاسٍ، فَقُلتُ: أَرَأَیْتَ هذا الَّذی تَقُولُ؟ أَشَیءٌ سَمِعْتَهُ مِن رَسولِ اللهِ صلی الله علیه و سلم أَوْ وَجَدْتَهُ فی کِتابِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ؟ فَقالَ: لَمْ أَسْمَعْهُ مِن رَسولِ اللهِ صلی الله علیه و سلم وَلَمْ أَجِدْهُ فی کِتابِ اللهِ، وَلَکِنْ حدَّثَنی أُسامَةُ بنُ زَیْدٍ، أَنَّ النَّبیَّ صلی الله علیه و سلم قالَ: الرِّبا فی النَّسِیئَةِ.

له ابو سعید خدري روایت دئ چي ویل ئې: دینار په دینار، درهم په درهم؛ سره ورته او برابر؛ چا چي تر مثل زیات ورکړل او چا چي زیات واخیستل؛ نو یقیناً چي سود ئې اخیستی؛ نو ورته ومی ویل: ابن عباس خو له دې پرته بل څه وایي! وئې ویل: له ابن عباس سره مخ شوم ومي ویل: آیا دغه څه چي ته ئې وایې؛ آیا څه دي له رسول الله صلی الله علیه و سلم اورېدلي یا د الله تعالی په کتاب کې دي موندلي؟ نو وئې ویل: نه مي له رسول الله صلی الله علیه و سلم څه اورېدلي او نه ئې د الله په کتاب کې مومم؛ خو له اسامه بن زید مي اورېدلي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: سود په پور کې وي.

یعني د سکې او جنس پېر پلور مشروعیت په دوو شرطونو پوري تړلی دئ: ۱- مماثلت او ورته والی ۲- لاس په لاس او مخامخ راکړه ورکړه. د دې شرطونو نه مراعات؛ مشروعیت منتفي کوي او سود ګڼل کېږي.

عن أنس بن مالك قال: خطَبنا رسولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فذكر أمرَ الرِّبا وعظَّم شأنَه وقال إنَّ الدِّرهمَ يُصيبُه الرَّجُلُ مِنَ الرِّبَا أعظمُ عِنْدَ اللَّهِ فِي الخَطِيئَةِ مِنْ ستِّ وَثَلَاثِينَ زَنْيَةً يَزْنِيهَا الرَّجُلُ وَإِنَّ أَرْبَى الرِّبَا عِرْضُ الرَّجُلِ الْمُسْلِمِ. شعب الایمان؛ إسناده صحیح أو حسن أو ما قاربهما

له انس بن مالك روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم مورِ ته وينا وکړه او د سود يادونه ئې وکړه او شأن ئې (د ګناه له پلوه) ستر وګڼلو او وئې فرمايل: په يوه درهم سود سره چي د کوم سړی په برخه شي؛ د الله په وړاندي تر هغه هم ستره ګناه ده چي ۳۶ ځله زنا کوي؛ او تر ټولو ستر سود؛ د مؤمن انسان پر عزت تېری دئ.

عَنْ جَابِرٍ قال نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم عَنْ بَيْعِ الصُّبْرَةِ مِنَ التَّمْرِ لاَ يُعْلَمُ مَكِيلَتُهَا بِالْكَيْلِ الْمُسَمَّى مِنَ التَّمْرِ.

له جابر رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم له داسي سودا ممانعت کړی چي د کجورو يوه (صُبْرَه: کوټه) چي وزن ئې معلوم نه وي؛ په داسي کجورو چي وزن ئې معلوم وي سودا وشي.

يعني څوك د کجورو د يوې کوټې سودا په داسي حال کې وکړي چي وزن ئې معلوم نه دئ او په بدل کې ئې داسي کجوري ورکړي چي وزن ئې معلوم وي؛ ووايي: ستا د کجورو دا کوټه په دومره کيلو کجورو اخلم. رسول الله صلى الله عليه و سلم له داسي سودا ممانعت کړی؛ سمه طريقه دا ده چې د دواړو وزن هم معلوم کړی شي او قيمت ئې هم؛ له دې پرته حتماً لانجې رامنځته کېږي او د دوو مسلمانانو تر منځ اختلاف او کرکه راولاړوي.

وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم قال « الْبَيِّعَانِ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا بِالْخِيَارِ عَلَى صَاحِبِهِ مَا لَمْ يَتَفَرَّقَا إِلاَّ بَيْعَ الْخِيَارِ ». مسلم و بخاری

له ابن عمر روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: سودا کوونکي هر يو ئې د بل په وړاندي تر هغه اختيار لري چي سره بېل شوي نه وي. مګر د خيار بيع (داسي بيع چي يوه لوري بل ته د مسترد کولو اختيار ورکړی وي)

يعني مشتري او بائع (پېرونکی او پلورونکی) تر هغه د سودا فسخ کولو حق لري چي د سودا له ځای نه وي بېل شوي. مګر دا چي د سودا فسخ کولو اختيار ورکړی شوی وي.

وَعَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم قال « إِذَا تَبَايَعَ الرَّجُلاَنِ فَكُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا بِالْخِيَارِ مَا لَمْ يَتَفَرَّقَا وَكَانَا جَمِيعاً أَوْ يُخَيِّرُ أَحَدُهُمَا الآخَرَ فَإِنْ خَيَّرَ أَحَدُهُمَا الآخَرَ فَتَبَايَعَا عَلَى ذَلِكَ فَقَدْ وَجَبَ الْبَيْعُ وَإِنْ تَفَرَّقَا بَعْدَ أَنْ تَبَايَعَا وَلَمْ يَتْرُكْ وَاحِدٌ مِنْهُمَا الْبَيْعَ فَقَدْ وَجَبَ الْبَيْعُ ». صحيح ابن ماجه

او له همده (ابن عمر) روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: كله چي دوه تنه په خپلو كي سودا وكړي؛ هر يو ئې تر هغه (د فسخ كولو) اختيار لري چي سره بېل شوي نه وي او يو ځاى وي؛ يا يو ئې بل ته اختيار وركړي؛ كه يوه بل ته اختيار وركړ او په همدې ئې سودا وكړه؛ نو يقيناً چي سودا ئې واجب شوې (هيڅ يو ئې د فسخ كولو حق نه لري). او كه له سودا وروسته سره بېل شول او هيڅ يوه ئې سودا پرېنښوده؛ نو يقيناً چي سودا ئې واجب شوې.

يعني په پېر پلور كي د دواړو (بائع او مشتري) رضايت شرط دئ؛ او تر هغه دواړو ته د عدم رضايت څرګندولو حق وركړى شوى چي د سودا په محل كي وي او سره بېل شوي نه وي.

عن سَعِيدٍ الْخُدْرِيَّ يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّمَا الْبَيْعُ عَنْ تَرَاضٍ»

له سعيد الخدري روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: يقيناً چي پېر پلور يوازي په هغه صورت كي اعتبار لري چي د دواړو (بائع او مشتري) په رضايت سره وي.

د غلې دانې پلورل او احتكار

عَنْ ابن عمر رضى الله عنهما قَالَ: رَأَيْتُ الَّذِينَ يَشْتَرُونَ الطَّعَامَ مُجَازَفَةً، يُضْرَبُونَ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم أَنْ يَبِيعُوهُ حَتَّى يُؤْوُوهُ إِلَى رِحَالِهِمْ. (بخارى: ۲۱۳۱)

له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: هغه مي ليدلي چي خوراکي توکي به ئې د تخمين له مخي پېرل او خپلو مېنو ته تر انتقال وړاندي به ئې پلورل؛ دوی به د رسول الله صلى الله عليه و سلم په زمانه کي له همدې کبله وهل کېدل.

دا روايت په همدې الفاظو؛ په بخاري کي يو ځل راغلی؛ له بخاري پرته د صحاح سته په بل کتاب کي نه دئ راوړل شوی؛ غريب دئ؛ په شپږو طبقو کي يو يو راوي لري چي دا دي: إِسْحَاق بْن إِبْرَاهِيمَ، وَلِيد بْن مُسْلِم، اَوْزَاعِيّ، زُهْرِيّ، سَالِم او پلار ئې ابن عمر رضي الله عنه. آخري راوي؛ إِسْحَاقَ بْن إِبْرَاهِيمَ (إِسْحَاق بن رَاهَوَيْه) د امام بخاري استاد دئ.

دا صحيح ده چي د شتمنو په لاس د ماركيټ له مديريت او کنټرول او له هر ډول غير مشروع پېر پلور مخنيوی وشي؛ د تخمين او چانس ځای دقيق وزن او تلل ونيسي؛ د نرخونو د مصنوعي زياتېدو ټول عوامل له منځه ولاړ شي؛ اما دا چي له متخلفينو سره څه چلن وشي؛ دا د غريبو روایاتو له مخي نه شي ټاکل کېدی؛ د (يُضْرَبُونَ) صيغه غير واضح ده؛ نه په بخاري کي د دې وضاحت شوی او نه ئې په شرحي؛ فتح البارئ او عمدة القاري کي. که د داسي خلکو سزا وهل وي؛ نو د وهلو څرنګوالی، اندازه، هغه چي د وهلو پرېکړه کوي او هغه چي دا پرېکړه عملي کوي؛ ټول بايد په ګوته شي؛ خو که همداسي مبهم پرېښودی شي او داسي روايات؛ د جاهلو واکمنو لاس ته ورشي؛ نو د ډېرو پوستکي به په وهلو وهلو وباسي؛ په کونداغونو، سوټيو او کيبل وهل به هم جائز ګڼي.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، «نَهَى أَنْ يَبِيعَ الرَّجُلُ طَعَامًا حَتَّى يَسْتَوْفِيَهُ» قُلْتُ لِابْنِ عَبَّاسٍ: كَيْفَ ذَاكَ؟ قَالَ: ذَاكَ دَرَاهِمُ بِدَرَاهِمَ وَالطَّعَامُ مُرْجَأٌ قَالَ أَبُو عَبْدِ اللَّهِ "(مُرْجَئُونَ): مُؤَخَّرُونَ". (بخاری: ۲۱۳۴)

له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم له دې ممانعت کړی چي يو سړی د خوراکي توکو له قبضولو او

تر لاسه کولو وړاندي؛ هغه بېرته وپلوري. ابن عباس ته مي وویل: دا څنګه وي؟ وئې ویل: دا درهم په درهم پلورل دي؛ او سودا د خوراکي توکو په نشتون کې. ابو عبد الله د مُرْجَأٌ په ځای مرجئُون صیغه یاده کړه؛ معنی ئې وروسته کړی شوی.

مقصد ئې دا دئ چې پېر پلور به د جنس په شتون کې وي؛ پېرونکی ئې باید عملاً تر لاسه کړي؛ له دې وروسته ئې پر بل د پلورلو حق لري؛ نه د مال په غیاب کې سودا سمه ده او نه له قبضولو وړاندي ئې پر بل پلورل جائز دي.

له هر چا سره دا پوښتنه راولاړېږي چې د داسي کار د ممانعت وجه او سبب څه دئ؟ اسلام یوازي هغه څه تحریم کړي چې زیان ئې تر ګټې زیات وي؛ د دې کار زیان څه دئ؟ ځواب دا دئ: په دې کار سره له یوې خوا د هغو ټګمارانو مخنیوی کېږي چې په خپلو منځونو کې د خلکو د غولولو لپاره دا چل جوړوي چې یو ئې پلورونکی شي او بل ئې پېرونکی؛ تر اصلي قیمت ئې په لوړه بیه واخلي؛ جنس په میدان کې پروت وي؛ همدې جنس ته اړ پېرونکی راشي؛ غواړي له همدي کس ئې وپېري؛ د بیې پوښتنه وکړي؛ دا ځواب واوري چې همدا اوس مي من په دومره واخیست؛ غواړم کور ته ئې انتقال کړم؛ ځاروي یا ګاډي ته منتظر یم؛ هغه ورته ووایي: په ما ئې وپلوره خو ډېره ګټه مه کوه؛ دی په حقیقت کې ګاډي ته نه؛ بلکې همداسي پېرونکي ته منتظر وي؛ له چنو وروسته ئې وپلوري؛ ګټه که لږ وي یا ډېره؛ خو له زیار او زحمت پرته ګټه ده. له بلې خوا داسي معاملې اکثراً لانجې زېږوي؛ یا جنس هغه نه وي چې دی ئې په لټه کې وو، یا په ځنډ سره ئې تر لاسه کړي؛ زه له خپلې تجربې وایم: د تلویزیوني اعلان له مخې مي د یوه برقي سامان سپارښتنه وکړه؛ زما ځای ته ئې راورسولو؛ خو نه یوازي هغه څه نه وو چې ما غوښتلو؛ بلکې په ګندونو کې د اچولو وو!!

د مسلمان په بيع داو لګول جواز نه لري

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم أَنْ يَبِيعَ حَاضِرٌ لِبَادٍ، وَلا تَنَاجَشُوا وَلا يَبِيعُ الرَّجُلُ عَلَى بَيْعِ أَخِيهِ، وَلا يَخْطُبُ عَلَى خِطْبَةِ أَخِيهِ، وَلا تَسْأَلُ الْمَرْأَةُ طَلاقَ أُخْتِهَا لِتَكْفَأَ مَا فِي إِنَائِهَا. (بخارى: ٢١٤٠)

له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي وئې ويل: رسول الله صلى الله عليه و سلم له دې نهي کړې چي يو ښاري سړی د کليوال لپاره پېرل وکړي؛ (داسي چي يو کليوال خپل مال بازار ته يوسي؛ هلته ئې يو ښاري دلال دوکه کړي او ورته ووايي: مال دي له ما سره پرېږده؛ زه به ئې هغه مهال درته وپلورم چي بيه ئې لوړه شوې وي)؛ فرمايلي ئې دي: تناجُش مه کوئ (تناجش په دروغو او د يوه جنس د بيي لوړولو لپاره له اصلي بيي په زياتي د اخيستلو وينا کول) او نه دي څوک د خپل ورور پر بيع (سودا)؛ بيع (او داوطلبي) کوي؛ او نه دي د خپل ورور په خِطبه (کوزدې) داوطلبي کوي او نه دي کومه مېرمن د خپلې خورلېي د طلاق تلوسه په دې موخه کوي چي د هغې د لوښي خواړه د دې په لوښي کې توی شي.

يعني د بل چا د برخي او قسمت تر لاسه کولو هڅه او تلوسه دي نه کوي؛ په خپل نصيب او د بل په نصيب دي قانع وي.

دا روايت په بخاري کې ٥ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ٢١٤٠ - ٢١٥٠ - ٢١٦٠ - ٢٧٢٣ - ٦٠٦٦؛ غريب دئ؛ په صحابه وو کې يو راوي لري چي ابو هريره دئ؛ په تابعينو کې ئې راويان ښل ښل دي؛ امام بخاري له ښلو ښلو راويانو په ښلو ښلو صيغو تر لاسه کړی؛ نو ځکه ئې د الفاظو او محتوی تر منځ توپيرونه گورو. د ٢١٤٠ روايت د لومړۍ او دوهمي فقرې تر منځ د ارتباط له پلوه رکاکت ليدل کېږي؛ په لومړۍ کې نهی او په دوهمي او نورو کې وَلا تَنَاجَشُوا او دې ته ورته صيغې راغلې، په ځينو

کي وَلا تَنَاجَشُوا راغلي او په ځینو کي نه؛ په یوه کي نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم أَنْ يَبِيعَ حَاضِرٌ لِبَادٍ په نورو کي نه دي راغلي؛ په یوه کي وَلاَ تَسْأَلُ المَرْأَةُ طَلاَقَ أُخْتِهَا لِتَكْفَأَ مَا فِي إِنَائِهَا په نورو کي نشته؛ په یوه کي إِيَّاكُمْ وَالظَّنَّ، فَإِنَّ الظَّنَّ أَكْذَبُ الحَدِيثِ راغلي؛ او د قرآن له وینا سره مغایرت لري چې وایي: ... اجْتَنِبُوا كَثِيرًا مِنَ الظَّنِّ إِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ إِثْمٌ ...) الحجرات ۱۲؛ هر ظن ګناه نه ده؛ قرآن له ډېر ظن نهي کړي او ځیني ئې ګناه ګڼلي؛ او هر ظن کذب هم نه دئ؛ قرآن د مؤمنانو په اړه فرمایي: (الَّذِينَ يَظُنُّونَ أَنَّهُمْ مُلاقُو رَبِّهِمْ وَأَنَّهُمْ إِلَيْهِ رَاجِعُونَ) البقرة ٤٦؛ په یوه کي لاَ تَلَقَّوُا الرُّكْبَانَ راغلي په نورو کي نشته؛ په یوه کي وَلاَ يَبِعْ بَعْضُكُمْ عَلَى بَيْعِ بَعْضٍ په بل کي لاَ يَبْتَاعُ المَرْءُ عَلَى بَيْعِ أَخِيهِ په یوه کي وَلاَ يَزِيدَنَّ عَلَى بَيْعِ أَخِيهِ په یوه کي وَلاَ تُصَرُّوا الغَنَمَ وَمَنِ ابْتَاعَهَا فَهُوَ بِخَيْرِ النَّظَرَيْنِ بَعْدَ أَنْ يَحْتَلِبَهَا، إِنْ رَضِيَهَا أَمْسَكَهَا، وَإِنْ سَخِطَهَا رَدَّهَا وَصَاعًا مِنْ تَمْرٍ» په نورو کي نشته؛ او مطلب ئې دا دئ چې مبړه په دې موخه بې لوشلو مه پرېږدئ چې تي ئې ډك شي او بیا ئې په لوړه بیه وپلورئ. او دې ته ورته توپیرونه.

د ټولو اصلي راوي ابو هریره رضي الله عنه دئ؛ خو له ده وروسته دوه راویان لري چې سَعِيدِ بْنِ المُسَيِّب او الأَعْرَج دي؛ د توپیرونو وجه هم وروستي راویان دي؛ په بخاري کي دا نه مومو چې په دغو کي تر نورو ارجح، اصح او جامع ئې کوم یو دئ؛ له قرآن سره د یوه روایت د یوې فقرې څرګند تعارض او عدم توافق خو عادي خبره هم نه ده. ستاسو د اطمئنان لپاره؛ روایات هم ستاسو مخي ته ږدم:

٢١٤٠ - حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، حَدَّثَنَا الزُّهْرِيُّ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ المُسَيِّبِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: «نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم أَنْ يَبِيعَ حَاضِرٌ لِبَادٍ، وَلاَ تَنَاجَشُوا، وَلاَ يَبِيعُ الرَّجُلُ عَلَى بَيْعِ أَخِيهِ، وَلاَ يَخْطُبُ عَلَى خِطْبَةِ أَخِيهِ، وَلاَ تَسْأَلُ المَرْأَةُ طَلاَقَ أُخْتِهَا لِتَكْفَأَ مَا

فِي إِنَائِهَا»

٢١٥٠ - عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «لاَ تَلَقَّوُا الرُّكْبَانَ، وَلاَ يَبِعْ بَعْضُكُمْ عَلَى بَيْعِ بَعْضٍ، وَلاَ تَنَاجَشُوا، وَلاَ يَبِعْ حَاضِرٌ لِبَادٍ، وَلاَ تُصَرُّوا الغَنَمَ، وَمَنِ ابْتَاعَهَا فَهُوَ بِخَيْرِ النَّظَرَيْنِ بَعْدَ أَنْ يَحْتَلِبَهَا، إِنْ رَضِيَهَا أَمْسَكَهَا، وَإِنْ سَخِطَهَا رَدَّهَا وَصَاعًا مِنْ تَمْرٍ»

٢١٦٠ - عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ المُسَيِّبِ، أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، «لاَ يَبْتَاعُ المَرْءُ عَلَى بَيْعِ أَخِيهِ، وَلاَ تَنَاجَشُوا، وَلاَ يَبِعْ حَاضِرٌ لِبَادٍ»

٢٧٢٣ - عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم قَالَ: «لاَ يَبِعْ حَاضِرٌ لِبَادٍ، وَلاَ تَنَاجَشُوا، وَلاَ يَزِيدَنَّ عَلَى بَيْعِ أَخِيهِ، وَلاَ يَخْطُبَنَّ عَلَى خِطْبَتِهِ، وَلاَ تَسْأَلِ المَرْأَةُ طَلاَقَ أُخْتِهَا لِتَسْتَكْفِئَ إِنَاءَهَا»

٦٠٦٦ - عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم قَالَ: «إِيَّاكُمْ وَالظَّنَّ، فَإِنَّ الظَّنَّ أَكْذَبُ الحَدِيثِ، وَلاَ تَحَسَّسُوا، وَلاَ تَجَسَّسُوا، وَلاَ تَنَاجَشُوا، وَلاَ تَحَاسَدُوا، وَلاَ تَبَاغَضُوا، وَلاَ تَدَابَرُوا، وَكُونُوا عِبَادَ اللَّهِ إِخْوَانًا»

په دې روایاتو کې ویل شوي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم له (تَنَاجُش) ممانعت کړی؛ خو دا نن په یوه عام تجارتي دود بدل شوی؛ نه یوازې پېر پلور کې بلکې په ډېرو مالي ټرونونو کې؛ په امارت کې خو لوی لوی کانونه همداسې پلورل کېږي؛ اخیستونکو ته خاصه نېټه ټاکل کېږي؛ راغونډ شي او بیا ورته ویل کېږي: دا معدن څوك تر نورو په لوړه بیه اخلي!! غمي، په لاس جوړ شوي انځورونه، عتیقه او نور قیمتي توکي همداسې پلورل کېږي. د ستونزې په اړه څه ویلی او کولی شو؟! څو

عرائض لرم:

۱. که دا د دوکې او غولولو په موخه وي نو په حرمت کې ئې هیڅ شك نه شته.

۲. که د دوو تر منځ له داسې معاهدې او موافقې وروسته وي چې یوه مال تر لاسه کړی او بل مبلغ؛ او دواړه د معاهدې له ځای تللي وي؛ هیڅ یوه د معاهدې د فسخه کولو لپاره کوم شرط هم نه وي وضع کړی؛ نو نه دواړه لوري د تخلف او معاهدې نقضولو حق لري او نه درپیمګړي ته جائزه ده چې تناجش وکړي.

۳. له دوکې او نقض عهد پرته داو طلبي کې کوم حرج نه شته؛ خو د معادنو په څېر ملي شتمنیو په اړه باید ووایو چې نه ئې افرادو او شخصي شرکتونو ته سپارل صحیح کار دئ او نه د حکومت یوه وزارت ته ئې د پلورلو واك او صلاحیت سپارل؛ په دې مواردو کې باید د ملت ممثله شوری د هري پرېکړې وروستۍ مرجع وي؛ چې اړوند مقررات هم وضع او هر ټرون د دې شوری له تأیید وروسته معتبر وګڼل شي.

د مزایدې بیع

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِاللَّهِ رضی الله عنهما: أَنَّ رَجُلاً أَعْتَقَ غُلاَمًا لَهُ عَنْ دُبُرٍ فَاحْتَاجَ، فَأَخَذَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم فَقَالَ: «مَنْ يَشْتَرِيهِ مِنِّي»؟ فَاشْتَرَاهُ نُعَيْمُ بْنُ عَبْدِاللَّهِ بِكَذَا وَكَذَا فَدَفَعَهُ إِلَيْهِ. (بخاری: ۲۱٤۱)

له جابر بن عبدالله رضي الله عنه روایت دئ: یوه سړي خپل غلام د خپل مرګ په شرط آزاد کړ (چې زه مړ شم نو ته آزاد یې)؛ بیا محتاج شو؛ نو رسول الله صلی الله علیه و سلم هغه غلام ونیو او وئې فرمایل: ((څوك ئې له ما پیرې؟)) نو نُعَیم بن عبدالله په دومره او دومره و پیرو؛ او هغه ته ئې وسپارو.

په دې روایت کې ځینې ابهامات شته چې باید رفع شي؛ د راوي مطلب دا دئ چې یوه سړي خپل غلام ته ویلي وو: زما له مرګ وروسته؛

ته آزاد يې؛ خو دا سړی دې ته اړ شو چې دا غلام تر مرګ وړاندې وپلوري؛ قضيه تر رسول الله صلى الله عليه و سلم رسېدلې؛ هغه دا غلام د پلورلو لپاره اخيستونکو ته وړاندې کړ؛ داسې چې څوک ئې تر نورو په لوړې بيې پېرې؛ دې ته په تجارت او پېر پلور کې (مزايده) ويل کېږي؛ نُعَيم بن عبدالله تر نورو په لوړې بيعې اخيستلو ته چمتو شو او رسول الله صلى الله عليه و سلم هغه ته وسپارو. د روايت له الفاظو دا مطلب په واضح توګه نه شي تر لاسه کېدی.

دا روايت په بخاري کې ٤ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ٢١٤١ - ٢٤٠٣ - ٦٧١٦ - ٦٩٤٧؛ لومړی راوي ئې جابر بن عبد الله دئ؛ خو په دوهمه طبقه کې ئې راويان دا دي: عَطَاءِ بْنِ أَبِي رَبَاحٍ او عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ؛ تر منځ ئې دوه صريح توپيرونه ګورو: په دوو کې ويل شوي چې دا غلام نُعَيْمُ بْنُ عَبْدِ اللَّه وپېرو خو په دوو نورو کې ويل شوي چې نُعَيْمُ بْنُ النَّحَّامِ وپېرو؛ عمدة القاري وايي: دا اشتباه ده؛ سمه وينا دا ده چې نُعَيم بن عبد الله پېرلی؛ النحام د عبد الله صفت دئ نه د ده د پلار؛ دوهمه اشتباه دا بولې چې غلام يو کال وروسته وفات شو؛ حال دا چې د غلام مالك وفات شوی نه غلام.

لومړۍ ملاحظه ئې دقيقه ده؛ ځکه نعيم په دې نامه مشهور شوی؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم د ده په اړه فرمايلي چې جنت ته داخل شوم او د نعيم د ستونې صافولو غږ مې واورېدو؛ ويل کېږي دی لسم صحابي دئ چې ايمان ئې راوړی؛ خو دوهمه ملاحظه ئې نه يوازې سمه نه ده بلکې ستونزه لري؛ که مالك مړ شوی وي نو د ده د ژمنې له مخې غلام آزاد وو او چا ئې د پلورلو او پېرلو حق نه درلود؛ څنګه ومنو چې رسول الله صلى الله عليه و سلم به هغه پېرلی يا پلورلی وي؟!

د روايت مقصد دا دئ چې په پېر پلور کې مزايده جائزه ده؛ خو دا بايد ويل شوي وی؛ په دې شرط چې دوکه په منځ کې نه وي؛ داسې چې پلورونکی خپل خلك وګماري او هغوی د نورو د غولولو لپاره په لوړې بيې د پېرلو دروغجنه وينا کوي؛ په روايت کې دا شرط نه دئ راغلی.

د جنس نه شتون کې او د حيوان نه زېږېدلي بچي بيع (غرر او حَبَلِ الحَبَلَة بيع)

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، «نَهَى عَنْ بَيْعِ حَبَلِ الحَبَلَةِ»، وَكَانَ بَيْعًا يَتَبَايَعُهُ أَهْلُ الجَاهِلِيَّةِ، كَانَ الرَّجُلُ يَبْتَاعُ الجَزُورَ إِلَى أَنْ تُنْتَجَ النَّاقَةُ، ثُمَّ تُنْتَجُ الَّتِي فِي بَطْنِهَا (بخاری: ۲۱۴۳)

له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چې: رسول الله صلى الله عليه و سلم د حَبَلِ الحَبَلَة له بيعي نهي کړې؛ او دا هغه سودا او معامله وه چې د جاهليت زمانې خلکو به تر سره کوله؛ داسي چې يوه سړي به د اوښي (يا بل حيوان) بچی (يا د بچي بچی) تر زېږېدو وړاندي اخيستلو.

په پېر پلور کې د مجهول او غير موجود جنس معامله جائزه نه ده؛ لاس په لاس معامله او د طرفينو رضايت شرط دئ؛ بايد بايع پر مبلغ او پېرونکی پر جنس راضي شي؛ اما د داسي معاملې چې د حيوان مجهول او نه زېږېدلی بچی وپېرل شي؛ او مبلغ په سر کې يا له زېږېدو وروسته ورکړی شي؛ ممانعت شوی.

د جنس او مبيعې عيب بايد ښکاره شي

دا هم د مالي او تجارتي معاملاتو يوه مهمه او لانجمنه قضيه ده؛ که د جنس او جنس تبادله وي او که د جنس او سکې؛ اکثراً خلك د خپل جنس عيبونه پټوي او همدا دوکه لانجې او منازعات زېږوي؛ اسلام په دې اړه هم خپلي واضح او ګټوري لارښوونې لري؛ دې روايت ته ځير شئ:

عَنْ حَكِيمِ بْنِ حِزَامٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الْبَيِّعَانِ بِالْخِيَارِ مَا لَمْ يَتَفَرَّقَا». أَوْ قَالَ: «حَتَّى يَتَفَرَّقَا، فَإِنْ صَدَقَا وَبَيَّنَا بُورِكَ لَهُمَا فِي بَيْعِهِمَا، وَإِنْ كَتَمَا وَكَذَبَا مُحِقَتْ بَرَكَةُ بَيْعِهِمَا». (بخاری:

(۲۰۷۹

له حكيم بن حزام رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: ((پېرونكى او پلورونكى تر هغه اختيار لري چي سره بېل شوي نه وي؛ كه دواړو رښتيا وويل او د مال كيفيت ئې بيان كړ او عيبونه ئې پټ نه كړل؛ نو په سودا كي به ئې بركت واچول شي؛ خو كه دروغ ئې ويلي وو او د مال عيب ئې پټ كړى وو؛ نو د بيعي بركت به ئې له منځه ځي)).

دا روايت په بخاري كي ٦ ځلي په دغو شمېرو راغلى: ۲۰۷۹ - ۲۰۸۲ - ۲۱۰۸ - ۲۱۰۹ - ۲۱۱۰ - ۲۱۱٤ - نژدې ټولو كتابونو كي راوړل شوى. له دې توپيرونو سره: په يوه كي أَوْ يَقُولُ أَحَدُهُمَا لِصَاحِبِهِ اخْتَرْ «أَوْ يَكُونُ بَيْعَ خِيَارٍ» راغلي په نورو كي نه؛ همدا راز په يوه كي دا راغلي وَإِنْ كَذَبَا وَكَتَمَا فَعَسَى أَنْ يَرْبَحَا رِبْحًا، وَيُمْحَقَا بَرَكَةَ بَيْعِهِمَا او په نورو كي نه.

د احتياط غوښتنه دا ده چي پېرونكى دا شرط وضع كړي چي يوه دوه ورځي ئې امتحانوم كه ئې كوم عيب نه درلود زما شو؛ كه نه نو بېرته ئې درسپارم؛ قرآن دا سپارښتنه هم كوي:

... وَلا تَسْأَمُوا أَنْ تَكْتُبُوهُ صَغِيرًا أَوْ كَبِيرًا إِلَى أَجَلِهِ ذَلِكُمْ أَقْسَطُ عِنْدَ اللَّهِ وَأَقْوَمُ لِلشَّهَادَةِ وَأَدْنَى أَلا تَرْتَابُوا إِلا أَنْ تَكُونَ تِجَارَةً حَاضِرَةً تُدِيرُونَهَا بَيْنَكُمْ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَلا تَكْتُبُوهَا وَأَشْهِدُوا إِذَا تَبَايَعْتُمْ ... ﴿٢٨٢﴾ البقرة

... او په دې كي اهمال مه كوئ چي تر خپلي خاصي نېټې يو پور وليكئ، لږ وي كه ډېر؛ دا (ليكل) مو د الله په نزد كي ډېر عادلانه دئ او د شهادت مضبوطوونكى او دې ته ډېر نژدې چي په خپلو كي شك ونه كړئ؛ مگر دا چي هغه حضوري او مخامخ تجارت وي چي په خپلو كي ئې لاس په لاس كوئ؛ نو بيا پر تاسو د دې گناه نشته چي وئې نه ليكئ او كله چي مو په خپلو كي بيع كوله نو شاهدان ونيسئ...

يعني د پور معامله؛ که لږ وي يا ډېره؛ هم ئې وليکئ او هم شاهدان ونيسئ؛ خو لاس په لاس پېر پلور کې ليکل حتمي نه دي (که څه هم مفيد دي)خو شاهدان ونيسئ.

باب: هغه څه چې په پېر پلور کې کرکجن دي

١٠٠٨ ـ عَنْ عَبْدِاللَّهِ بنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا: أَنَّ رَجُلاً ذَكَرَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم أَنَّهُ يُخْدَعُ فِي الْبُيُوعِ، فَقَالَ: «إِذَا بَايَعْتَ فَقُلْ: لا خِلابَةَ». (بخاری: ۲۱۱۷)

له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چې: يوه سړي رسول الله صلى الله عليه و سلم ته وويل: په پېر پلور کې غولول کېږي؛ وئې فرمايل: ((کله چې د پېر پلور معامله کوې نو وايه: دوکه به نه وي)).

ځينو ويلي چې دا سړی په سترګو ړوند وو او ځينو ويلي سمي خبري ئې نه شوی کولې؛ نوم ئې حَبَّان بن مُنقِذ وو. روايت کې دا وضاحت نه مومو چې د دې وينا (لاَ خِلاَبَةَ: دوکه او خدعه به نه وي) ګټه او پر بيعي ئې تأثير څه دئ؛ ځينو ويلي: که غبن او دوکه شوې وي نو مبايعه باطله ده؛ مال مسترد کېدی شي؛ ځيني وايي: ړوندوالی د بطلان وجه نه شي کېدی؛ ځينی نور بيا د بيعي بطلان؛ د غبن حد او مقدار پوري مشروطوي؛ چا ثلث او چا سدس ټاکلی. په بخاري کې د دې ټولو ابهاماتو وضاحت نه مومو.

تکرار: دا روايت په بخاري کې ۵ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۲۱۱۷ - ۲٤۰۷ - ۲٤۱٤ - ٦۹٦٤ -

توپيرونه: په يوه کې أَنَّهُ يُخْدَعُ فِي البُيُوعِ په بل کې إِنِّي أُخْدَعُ فِي البُيُوعِ؛ د يوه پای کې دا هم ويل شوي فَكَانَ يَقُولُهُ په نورو کې نه دي ويل شوي.

د جنس پلورونکی مکلف دئ چې د جنس عيبونه پېرېدونکي ته جوت کړي؛ له دې پرته ئې بيع اعتبار نه لري او پېرېدونکي ئې د مسترد کولو حق لري؛ که مبيعه څاروی وي يا بل ژوی، که غله او مېوه وي؛ يا برقي

سامان.

يعني په تجارت او بيعي کي د جانبينو رضايت شرط دئ. د معاملې د دواړو لوريو له توافق او رضايت پرته معامله باطله ده؛ که پلورونکی د خپل مال عيب پټ کړی وي؛ که پېرونکی ړوند وي؛ ده يو شيء غوښتی او پلورونکي بل شيء ورکړی؛ ده جاپاني مال غوښتي خو هغه چينايي ورکړی؛ نو دا مبايعه باطله ده او پېرونکی حق لري هغه مسترد کړي؛ همدا راز که پېرونکي په ماته ګوډه ژبه يو څه ويلي وي؛ يوه خپله خبره سمه نه شوی کولی يا ئې د دواړو د ژبو تر منځ تفاوت وو؛ او پلورونکي د هغه د قصد او مطلب خلاف کار کړی؛ دا معامله باطله ده. دا ځکه چي د رضايت شرط فوت شوی. نو په حديث کي د (لا خِلابَةَ: دوکه به نه وي)؛ معنی همدا ده چي د دې کلام ويونکي ته د معاملې د فسخي اختيار ورکوي.

منډيي ته د جنس تر رسېدو وړاندي په نيمه لار کي پېر پلور

اسلام دا هم منع کړي چي څوک منډيي ته د جنس تر رسېدو وړاندي؛ په نيمه لار کي څه وپېري او بيا ئې منډيي ته انتقال او په ګټه وپلوري؛ دې روايت مطلب واضح کړی:

عَنْ ابنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا: أَنَّهُمْ كَانُوا يَشْتَرُونَ الطَّعَامَ مِنَ الرُّكْبَانِ عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم فَيَبْعَثُ عَلَيْهِمْ مَنْ يَمْنَعُهُمْ أَنْ يَبِيعُوهُ حَيْثُ اشْتَرَوْهُ، حَتَّى يَنْقُلُوهُ حَيْثُ يُبَاعُ الطَّعَامُ. وقَالَ ابْنُ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما: نَهَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم أَنْ يُبَاعَ الطَّعَامُ إِذَا اشْتَرَاهُ حَتَّى يَسْتَوْفِيَهُ. (بخاری: ۲۱۲٤)

له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي: دوی به د رسول الله صلى الله عليه و سلم په زمانه کي د لاري پر سر له کاروانيانو خوراکي توکي اخيستل؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم به څوک لېږلو چي هغوی له دې منع کړي چي د پېرلو ځای کي ئې وپلوري؛ تر هغه چي د خوراکي

شيانو د خرڅولو ځای (منډيي) ته ئې ورسوي؛ او ابن عمر رضي الله عنهما وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم له دې منع کړې چې خوراکي شيان له اخيستلو سره متصل وپلورل شي؛ تر دې وړاندي چې تر لاسه ئې کړي.

د بخاري په دې روايت کې دوه بېلي بېلي قضيې سره خلط شوې؛ ۱- منډيي ته تر رسېدو وړاندي له کاروانيانو څه پېرل. ۲- په کوم ځای کې چې جنس اخيستل شوی هملته ئې له انتقال او تصرف پرته پلورل. دا دواړه ځکه منع دي چې د اجناسو د اصلي بيعې په لوړېدو منتج کېږي او اړمن مستهلکين زيانمنوي.

مسلم تر دې باب لاندي راوړی: بَابُ بُطْلَانِ بَيْعِ الْمَبِيعِ قَبْلَ الْقَبْضِ: (۱۵۲۵) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم قَالَ: «مَنِ ابْتَاعَ طَعَامًا فَلَا يَبِعْهُ حَتَّى يَسْتَوْفِيَهُ»، قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: وَأَحْسِبُ كُلَّ شَيْءٍ مِثْلَهُ.

له ابن عباس روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: څوك چې خوراکي شيان واخلي تر هغه دې نه پلوري چې تر لاسه ئې کړي. او ابن عباس وويل: ګمان کوم چې هر څه همداسي دي.

يعني دا نهي يوازي په خوراکي توکيو پوري مختص نه ده؛ هر څه پرې قياس کېدی شي.

لکه چې ګورئ: د مسلم باب له روايت سره مناسبت لري؛ مسلم دا روايت له ابن عباس راوړی او بخاري له ابن عمر؛ د مسلم په روايت کې دا وضاحت هم شته چې نور شيان هم بايد د طعام په څېر وګڼل شي او پېر پلور ئې له هغه وروسته وشي چې مخکينيې سودا عملي شوې او مال تر لاسه شوی وي.

دا موضوع هم وضاحت ايجابوي چې ولې به څوك حق نه لري چې جنس ماركيت او بازار ته تر رارسېدو وړاندي؛ په نيمه لار کې وپېري او هملته ئې وپلوري؟ په دې کې کوم مصلحت مضمر دئ؟ په بخاري کې دا وضاحت نه مومو؛ شارحينو ئې خپل خپل دلائل او توجيهات وړاندي

کړي؛ غوره توجيه دا ده: اسلام احتکار او انحصار او هر هغه کار چې د غريبانو په زيان او د شتمنو په ګټه وي او د نرخونو د غير عادلانه لوړېدو باعث شي؛ تحريم کړي؛ بايد پر مارکيټ د شتمنو د تسلط مخنيوی وشي او دا موقع او فرصت په لاس ورنه شي چې مارکيټ ته د اجناسو آزادانه راتګ کنټرول کړي؛ دا د اجناسو غير واقعي او تحميلي نرخ رامنځته کوي؛ صدمه ئې عام ولس او محتاجو پېرونکو ته رسي؛ همدا راز هر څومره چې اجناس له خپل لومړي محل تر مارکيټ پورې زيات لاس په لاس شي؛ او د شتمنو تر سلطې لاندې مارکيټ ته ورسېږي يا له مارکيټ بهر په نيمي لاري کې وپېرل شي او هملته وپلورل شي؛ قيمت ئې لوړېږي. د دې حديث له مخې دا د اسلامي حکومت دنده ده چې د قيمتونو د لوړېدو مخنيوی وکړي؛ داسې تدابير ونيسي چې اجناس د توليد له لومړي محل مخامخ مارکيټ ته ورسېږي او ډېر لاس په لاس نه شي.

د اجناسو تبادله

اسلام دا شرط وضع کړی چې د اجناسو تبادله او پېر پلور؛ که په پور وي يا لاس په لاس؛ بايد سره برابر او له زيادت پرته وي؛ که (ډېر شه) جنس په (لږ شه) جنس بدلوي؛ نو يو دي وپلوري او بل دي وپېري؛ نه دا چې د يوه جنس په بدل کې د همدې جنس زيات مقدار ورکړي. په دې روايت کې ئې وضاحت مومو:

عَنْ مَعْمَرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، أَنَّهُ أَرْسَلَ غُلَامَهُ بِصَاعِ قَمْحٍ، فَقَالَ: بِعْهُ، ثُمَّ اشْتَرِ بِهِ شَعِيرًا، فَذَهَبَ الْغُلَامُ، فَأَخَذَ صَاعًا وَزِيَادَةَ بَعْضِ صَاعٍ، فَلَمَّا جَاءَ مَعْمَرًا أَخْبَرَهُ بِذَلِكَ، فَقَالَ لَهُ مَعْمَرٌ: لِمَ فَعَلْتَ ذَلِكَ؟ انْطَلِقْ فَرُدَّهُ، وَلَا تَأْخُذَنَّ إِلَّا مِثْلًا بِمِثْلٍ، فَإِنِّي كُنْتُ أَسْمَعُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: «الطَّعَامُ بِالطَّعَامِ مِثْلًا بِمِثْلٍ»، قَالَ: «وَكَانَ طَعَامُنَا يَوْمَئِذٍ الشَّعِيرَ» مسلم:

۱۵۹۱

له مَعْمَر بن عبد الله روايت دئ چي خپل غلام ئې له يوې پيمانې غنمو سره ولېږو او وئې ويل: وئې پلوره بيا وربشي پرې واخله؛ غلام ولاړ او يوه پيمانه او د پيمانې يوه برخه پرې اضافه ئې تر لاسه کړه؛ کله چې معمر ته ورغی پرې خبر ئې کړ؛ معمر ورته وويل: ولې دي دا کار وکړ؟ ولاړ شه او ورمسترد ئې کړه؛ له دې پرته ئې په بله توګه مه اخله چې سره ورته وي؛ ما له رسول الله صلى الله عليه و سلم اورېدلي چې فرمايل ئې: خوراکي توکي به په برابره توګه سره بدلېږي. راوي وايي: هغه مهال زمونږ خوراك وربشي وې.

که څه هم ځيني د وربشو او غنمو تبادله له زيادت سره جائز ګڼي خو د احتياط تقاضی دا ده چې د معمر رضي الله عنه له سپارښتنې سره سم عمل وشي. غنم وپلورل شي او وربشې وپېرل شي.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: كُنَّا نُرْزَقُ تَمْرَ الْجَمْعِ، وَهُوَ الْخِلْطُ مِنَ التَّمْرِ، وَكُنَّا نَبِيعُ صَاعَيْنِ بِصَاعٍ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لا صَاعَيْنِ بِصَاعٍ وَلا دِرْهَمَيْنِ بِدِرْهَمٍ». (بخاری: ۲۰۸۰)

له ابو سعيد رضي الله عنه روايت دئ چې وايي: مونږ ته به ګډې شوې کجوري (د نښه کيفيت او نوعي او د ټيټ کيفيت او نوعي) راکول کېدې؛ او مونږ به بيا دوه صاع په يوه صاع پلورلې؛ نو رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: ((دوه صاع په يوه صاع مه پلورئ او مه دوه درهمه په يوه درهم)).

دا نن يوه ستونزه ده؛ که کله مو د مېوو کارتن اخيستی وي؛ نو په سر کې به ئې يو ډول او په ښخ کې ئې بل ډول ومومئ، ښې او غوره ئې په سر کې او ښکاره؛ او ناغوره ئې ترې لاندې او پټې؛ دا دوکه ده او اسلام تحريم کړې؛ پلورونکی مکلف دئ چې مرغوب او غير مرغوب جنس سره ښل کړي؛ او هر يو په ښله بيه وپلوري؛ پېرونکی حق لري چې هغه مخلوط جنس ښرته مسترد کړي چې څرګنده برخه ئې مرغوب او پټه

برخه ئې غير مرغوب وي.

په پېر پلور کې دوکه

د خرڅلاو لپاره د څاروي په غولانځه کې شيدې جمع کول

په پېر پلور کې هره هغه معامله باطله او غير معتبره ده چې دوکه په کې شوې او پلورونکي خراب جنس د بل جنس په نامه پلورلی وي او له مشتري سره ئې دوکه کړې وي؛ لکه دا چې غوا او بل څاروی ئې د دې لپاره يوه دوه ورځې نه وي لوشلی چې غولانځه ئې له شيدو ډک معلومه شي؛ دې ته ورته بله هره معامله باطله ده:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لا تُصَرُّوا الإِبِلَ وَالْغَنَمَ، فَمَنِ ابْتَاعَهَا بَعْدُ، فَإِنَّهُ بِخَيْرِ النَّظَرَيْنِ بَعْدَ أَنْ يَحْتَلِبَهَا، إِنْ شَاءَ أَمْسَكَ، وَإِنْ شَاءَ رَدَّهَا وَصَاعَ تَمْرٍ». (بخاری: ۲۱۴۸)

له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: ((اوښه او مېږه له لوشلو مه تم کوئ؛ او چا چې وپېرلې؛ له لوشلو وروسته له دوو رأيو سره ئې غوره کولی شي: که ئې غوښتل وئې ساتي او که ئې غوښتل مسترد ئې کړي؛ له يوې پيمانې خرما سره.

د خرڅلاو په موخه د اوښي او مېږي په غولانځه کې شيدې مه ټولوئ، که څوک وغولول شو او داسې مېږه يا اوښه ئې واخيسته چې شيدې ئې په غولانځه کې غونډې شوې وې (څه موده نه وه لوشل شوې)؛ هغه له لوشلو وروسته اختيار لري؛ که ئې خوښه وه ساتلی ئې شي او که ئې خوښه وه (د لوشل شويو شيدو په بدل کې) له يوه صاع خرما سره دې بېرته مسترده کړي.

عن أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنِ اشْتَرَى غَنَمًا مُصَرَّاةً، فَاحْتَلَبَهَا، فَإِنْ رَضِيَهَا أَمْسَكَهَا، وَإِنْ سَخِطَهَا فَفِي

حَلْبَتِهَا صَاعٌ مِنْ تَمْرٍ» بخاری ۲۱۵۱

له ابو هريرة رضي الله عنه روايت دئ چې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: چا چې هغه مېړه وپېرله چې په غولانځه کې ئې شيدې ټولې شوې وي؛ له لوشلو وروسته اختيار لري چې ساتي ئې او که ئې مستردوي؛ خو د مستردولو په صورت کې به د شيدو په بدله کې يوه پيمانه خرما ورکوي.

بايد متوجه وو چې دا نبوي لارښوونې؛ د ورته مواردو لپاره د ملاك او معيار حيثيت لري؛ کوم شو مشابه موارد پرې قياس کړو؛ د مثال په توګه يوه برقي وسيله مو په دې شرط وپېرله چې دا دا کارونه کولى شي؛ خو کور ته له وړلو وروسته مو وآزمويله چې دا کارونه نه شي کولى؛ نو د دې روايت له مخې حق لرو بېرته ئې پلورنکي ته مسترد کړو.

ناکاره حکومت او بيمار اقتصاد

دا دواړه يو له بل سره تړلې مولفي دي؛ يو د بل باعث؛ ناکامه او ناکاره حکومتولي په فاسد او بيمار اقتصاد منتج کېږي؛ د ملي شتمنيو ظالمانه وېش رامنځته کوي، ټولنه په ډېر غني او ډېر فقير وېشي، د دوی تر منځ کينه، کرکه او دښمني راولاړوي، غريب يا د فقر له کبله د غلا او شوکو لار غوره کوي او له شوکمارو ډلو سره يو ځای کېږي، يا د روزي په لټه کې له هېواد تښتي او غني د خپلو شتمنيو د خوندي کولو لپاره اروپا او امريکا ته دروميږ؛ هم بزګر کرونده پرېږدي او کارګر کارخونه او هم شتمن او تاجر له خپلو شتمنيو سره له هېواد ووځي؛ غربي هېوادونو خپله غېږ ورته پرانيستې او دې ته ئې هڅوي چې خپلې شتمني د دوی بانکونو ته انتقال کړي، د بريتانيا صدراعظم توني بلير؛ پارلمان ته په خپل خطاب کې بريتانيا مېشتو مهاجرينو ته وايي: له هري لاري چې مو څه تر لاسه کړي؛ بريتانيا ته ئې راانتقال کړئ؛ دلته هم تاسو خوندي يئ او هم ستاسو شتمني!! د شل کلن اشغال په دوران کې

د امریکا لاسپوڅي حکومت د مالیې درې وزیران؛ هر یو له سلګونو ملیونه ډالر سره غرب ته وتښتېدل. همدغې بریتانیا هغه مهال چې د نړۍ لومړی ستر استعماري ځواك وو؛ درې ځلې ئې د افغانستان د دائمي اشغال هڅه وکړه؛ کله چې امان الله خپل پلار حبیب الله په لغمان کې ترور کړ او تخت او تاج ئې غصب کړ؛ لږ د مسکو لوري ته کوږ شو؛ لندن پربکړه وکړه چې غوږ ئې تاو کړي؛ نو نادر خان ئې د پېښور له لارې له ډېرو کلدارو سره ځاځیو ته انتقال کړ؛ د پکتیا قومي مشرانو ئې ملګرتیا وکړه؛ کابل ئې ورته فتح کړ؛ خو دوی ته ئې یوازې دا بدله ورکړه چې له عسکري خدمت به معاف وي او وسله به نه ترې اخیستل کېږي؛ اما په اقتدار کې ئې له مشارکت محروم کړل؛ اقتدار ئې یوازې خپلې کورنۍ، ټبر او قبیلې ته وسپارو؛ هر محمد زایي سردار شو، وزیران، والیان او سفیران د دوی وو؛ د هېواد ټولې ښېرازي زمکې د شاهي کورنۍ او محمد زیو وې. سره له دې چې دغو نازولو د شل کلن اشغال په دوران کې خپلې مخکینۍ زمکې هم وپلورلې او پیسې ئې غرب ته انتقال کړې؛ ډېرې دولتي زمکې ئې هم د جعلي اسنادو په مټ تر لاسه او وپلورلې؛ خو اوس هم چې تاسو کوم ولایت ته ولاړ شئ، لوی ښکلی باغ، سمسوره او ښېرزاه زمکه، د مېلو او چړچو لپاره قصرونه او د تفریح ځایونه په نظر درشي؛ او پوښتنه وکړئ: دا د چا دي؟ دا ځواب به واورئ: د اعلی حضرت ظاهر خان، سردار داؤد، سردار ولي، پلار ئې مارشال سردار شاه ولي، سردار نعیم خان، او سردار او سردار!! او کله کله دا ځواب: د فلان پیر او فلان حضرت او فلان پاچا صاحب!! د یوه پیر کورنۍ یوازې په جلال آباد کې د ۲٤۰۰۰ جریبه زمکې شرعي سند درلودو ادعاء کړې!!

افغانستان د همدې پاچایانو د مطلقه واکمنۍ په دوران کې د نړۍ تر ټولو وروسته پاته، فقیر او بې سواده هېواد وو؛ پر ولس ئې داسې حالت هم راغلی چې خلکو د قحطي او فقر له کبله خپل تې خور ماشومان د جومات په دروازو کې په دې طمع پرېښودل چې کوم زړه سواند او مهربان انسان به ئې خپل کور ته یوسي او له مرګ به وژغورل

شي!!

غرب پر خپلو ټولو اقمارو او مستعمراتو عمداً او قصداً؛ ذلیل، مفسد او ناکاره مزدور حکومتونه ټپلي؛ دا ځکه چې ناکام او بد نام حکومتونه د دوی سیاسي او اقتصادي ګټې تضمینوي؛ په لوټمار کې ئې ښه خادم وي او په غلاوو کې د جوال خوله ورسره نیسي؛ د افغانستان شل کلن اشغال مور ته عملاً همدا حقیقت راوښود؛ اشغالګرانو به په پرېږ غږ او پرسېدلي ستوني؛ د خپل لاسپوڅي حکومت په اړه ویل: د کابل حکومت د نړۍ تر ټولو حکومتونو زیات مفسد او ناکاره دئ!! یعني غوښتل ئې په دې وینا سره؛ په وینو او فساد لړلي خپل لاسونه پر دغو ذلیلو واکمنو پاک کړي.

هو؛ مفسد حکام او په فساد کې غرق حکومتونه؛ تل او په هر هېواد کې د (ناامني او فقر)، (جګړې او اقتصادي بحران)؛ اصلي عامل او سبب وي؛ دا دواړه هغه دوه آفتونه او بلاوي دي چې یو د بل په څنګ کې په ګډه او د مفسد حکومت تر سیوري لاندې؛ یوې سیمې او هېواد ته ننوځي او تړې وځي؛ کله ئې یو مخکې راشي او لاره بل ته پرانیزي او کله ئې بل، کله یو وځي او بل له ځان سره بیایي او کله ئې بل، کله ګورو چې وېره او نا امني پر ټولني خپل تور وزر وغوړوي او له دې سره سم اقتصادي فعالیتونه متوقف شي، اقتصادي تأسیسات له منځه ولاړ شي، د تجارت بازار سوړ شي، تاجر او بډای له هېواد وتښتي، خپلې شتمنۍ نورو ملکونو ته انتقال کړي، بندونه وران شي، نهرونه وچ شي، زراعتي زمکې بایر پاته شي، فابریکې تخریب شي، بزګر خپل بېل لري وغورځوي او کارګر خپل څټک؛ ټوپک ته لاس کړي، جګړه ئې کسب او پېشه شي، په دې توګه فقر او لوږه ټولني ته مخه کړي او خپل سیوری پرې وغوړوي؛ او کله بیا ګورو چې لومړی فقر او لوږه ټولني ته مخه کړي، غیر عادلانه او ظالمانه اقتصادي نظام پر ټولني مسلط شي، د ټولني ثروت او شتمني د معدود شمېر بډایانو په لاس کې پرېوځي، د ټولني اکثریت له فقر او محرومیت سره مخامخ شي، کله چې د ټولني اکثریت دا ګوري چې پر

ټولنې د مسلط ظالمانه نظام تر سیوري لاندې هیڅکله آرام او سوکاله ژوند نه شي تر لاسه کولی، له اقتصادي ستونزو نه شي وتلی او که دا نظام وي نو دوی به تل په محرومیت کې ژوند کوي، ناچار د نورو لارو په لټه کې شي، د ژوندي پاته کېدو او د خپلې بقاء لار، د دې نظام د ړنګولو لار، د هغو زندانونو د ړنګولو او د هغو زنځیرونو د شلولو لار چې د دې نظام بقاء تضمینوي، د جنګ او مسلحانه قیام لار. همدا راز په ټولنې کې فقر هغو داخلي او خارجي ځواکونو ته په ارزانه بیع د جنګیالیو د استخدام موقع په لاس ورکوي چې غواړي د جګړو له لارې خپل اهداف تر لاسه کړي او خپله لویي او برلاسي پر نورو ومني. قرآن د قریش په سوره کې لومړی له لوږې ژغورنه یادوي او ورپسې له وېرې او خوف نجات؛ خو د النحل د سورې په ۱۱۲ آیت کې امن او اطمئنان د رزق او روزي تر وفرت او کثرت مخکې؛ لکه چې فرمایي:

وَضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلًا قَرْيَةً كَانَتْ ءَامِنَةً مُّطْمَئِنَّةً يَأْتِيهَا رِزْقُهَا رَغَدًا مِّن كُلِّ مَكَانٍ فَكَفَرَتْ بِأَنْعُمِ ٱللَّهِ فَأَذَٰقَهَا ٱللَّهُ لِبَاسَ ٱلْجُوعِ وَٱلْخَوْفِ بِمَا كَانُوا۟ يَصْنَعُونَ ﴿١١٢﴾ النحل

او الله د هغه کلي مثال بیان کړی چې خوندي او ډاډه وو او رزق ئې له هر ځایه تازه او پربېمانه ورته راتلو، خو دوی د الله د نعمتونو ناشکري وکړه، نو الله د لوږې او وېرې په جامو د پټېدو خوند وروځاکو، د هغه څه په سبب چې دوی کول.

ګورئ چې په دې کلي او سیمې کې امنیت او اطمئنان وو او رزق ئې له هر لوري ورته راروان، خو دوی کفران او ناسپاسي وکړه؛ چې د دې له کبله لومړی (فقر) پرې مسلط شو او بیا (خوف او وېرې) خپل تور وزر پرې وغوړاوو.

قرآن مورږ ته لارښوونه کوي چې دین ته التزام، شعائر الله ته احترام او د الله تعالی بندګي د ټولنې د امنیت ضامن دئ او د لوږې او فقر له آفت د نجات وسیله؛ او مورږ ته ښیي چې په ټولنې کې د فقر او لوږې

وجه هیڅکله دا نه ده چې د رزق او روزي وسائل لږ او د انسانانو د شمېر په پرتله کم دي!! بلکې عامل ئې د هغه انسان ظالمانه تصرفات دي چې بې دینه او ظالم دئ او د الله تعالی له بندګۍ سر غړوي. فقر هغه آفت دئ چې انسان ئې په خپله عوامل او اسباب برابروي، په خپلو ناجائزو او ظالمانه تصرفاتو سره ورته لار آواروي، دا انسان دئ چې د تجاوز او تېري لار غوره کړي، د نورو د سر، مال او عزت امنیت په مخاطره کې واچوي، د وېرې او خوف فضاء جوړه کړي او په همدې سره د لوړې دېو ته د راتلو بلنه ورکړي. قرآن څومره ښه فرمایي:

وَلَوْ أَنَّ أَهْلَ ٱلْقُرَىٰٓ ءَامَنُواْ وَٱتَّقَوْاْ لَفَتَحْنَا عَلَيْهِم بَرَكَٰتٍ مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ وَلَٰكِن كَذَّبُواْ فَأَخَذْنَٰهُم بِمَا كَانُواْ يَكْسِبُونَ ﴿٩٦﴾ الاعراف

او که کلیوالو ایمان راوړی وی او تقوی ئې کړې وی نو خامخا به مو د آسمانونو او د زمکې د برکتونو دروازې پرې پرانیستې وې، خو دوی (دا حقیقت) تکذیب کړ نو موږ هم د خپلو کړنو په سبب ونیول.

د قریش په جامع او مختصري سورې کې په دې اړه ډېري مهمې لارښوونې زموږ مخې ته ځلېږي:

لِإِيلَٰفِ قُرَيْشٍ ﴿١﴾ إِۦلَٰفِهِمْ رِحْلَةَ ٱلشِّتَآءِ وَٱلصَّيْفِ ﴿٢﴾ فَلْيَعْبُدُواْ رَبَّ هَٰذَا ٱلْبَيْتِ ﴿٣﴾ ٱلَّذِىٓ أَطْعَمَهُم مِّن جُوعٍ وَءَامَنَهُم مِّنْ خَوْفٍۢ ﴿٤﴾

۱- د قریشو د الفت په پاس. ۲- الفت ئې د ژمي او د دوبي له سفر سره. ۳- نو د دې کور د پالونکي عبادت دي وکړي. ٤- آ چې له لوړې ئې ماړه کړل او له وېرې ئې خوندي.

د قریشو تاجران به په ژمي کې جنوبي سیمو ته چې نسبتاً به تودې وې تلل او په دوبي کې به د شام او فلسطین یخو سیمو ته تلل، تجارت به ئې کاوو او په زړه پوري ګټې به ئې تر لاسه کولې. د کعبې شریفي په طفیل به نه یوازي دا د ژمي او دوبي سفرونه په کامل امنیت کې تر سره کېدل او هیڅوک به ئې نه مزاحم کېدو بلکې د لارې په اوږدو کې

ټولو پرتو قبائلو به د دوی ډېر درناوی کاوو. په داسي حال کي چي تر دې وړاندي دا قبیله په حجاز کي خوره وره وه، د کوچیانو په څېر دلته هلته خواره واره اوسېدل، هیڅا ورته په درنه سترګه نه کتل. قُصَی بن کِلاب، د پیغمبر اکرم علیه السلام جد دوی راغونډ او په مکه کي ئې مېشت کړل او په خاص تدبیر او درایت سره ئې د کعبې خوا ته ښار جوړ کړ، د کعبې د حجاجو او زوارو د استقبال لپاره ئې خاص ترتیبات ونیول، چي په دې سره په ټولو عرب قبائلو کي د قریشو اعتبار لوړ شو. له قصی وروسته د مکې د اداري د ښلو ښلو چارو مسئولیت د ده په زامنو عبد مناف او عبدالدار کي ووېشل شو. عبد مناف د خپل پلار په ژوند کي له ډېر نېك شهرت برخمن وو، ټولو به په درنه سترګه ورته کتل، څلور زامن ئې ول: هاشم، عبدشمس، مطلب او نوفل. هاشم د عبد المطلب پلار او د پیغمبر صلی الله علیه و سلم جد وغوښتل چي د قریشو قبیله په هغه بین المللي تجارت کي برخه واخلي چي قافلې ئې له شام او فلسطین د شرق او جنوب په لوري د حجاز له لاري تلې راتلې. چي په دې سره هم د هغو قبائلو اړتیاوي تأمین شي چي د مکې شاوخوا اوسېدل، هم مکه په یوه مهم بازار بدله شي او هم مکې ته د نورو قبائلو تګ راتګ زیات شي او د لاري په اوږدو کي مېشت قبائلو سره تجارتي روابط ټینګ کړي. دغو تجارتي لارو له هغه وروسته خاص اهمیت تر لاسه کړ چي د ایران ساساني حکومت هغه لاري په خپلې ولکه کي ونیولې چي روم ئې له شمال او شرق سره وصلولو. هغه ملکونه چي له ایران سره په نښتو کي ښکېل وو له دې پرته ئې بله چاره نه درلوده چي له دغو لارو استفاده وکړي، قریشو له دې تجارت یوه بله ګټه هم تر لاسه کوله، د لاري په اوږدو کي مېشت قبائلو قریش د بیت الله خادمان ګڼل، د دوی احترام به ئې کاوو او نه یوازي دا چي حق العبور به ئې نه ترې غوښت بلکي په خپلو سیمو کي به ئې د دوی د تجارتي قافلو مصونیت هم تأمینولو، نه به چا د دوی پر قافلو بریدونه کول او نه به ئې څوك مزاحم کېدو. هاشم او وروڼو ئې د شام، یمن،

عراق او فارس له حکومتونو سره تجارتي روابط ټینګ کړل او تجارت ئې ډېر ژر رونق وموند، هغو بریاوو ته په پام سره چې دوی له ګاونډیو هېوادو سره د تجارتي روابطو په قائمولو کې تر لاسه کړل، خلکو به ورته اصحاب الایلاف (د جوړ جاړي او رانژدې کولو خاوندان) ویل.

په دغه وخت کې او هغه اهمیت ته په پام سره چې مکې تر لاسه کړی وو او د عربو په ستر تجارتي مرکز او تر ټولو متمدن ښار بدل شوی وو؛ ابرهه قصد وکړ چې پر مکې برید وکړي، کعبه ورانه کړي، هم ئې مذهبي اعتبار له منځه یوسي او هم ئې تجارتي او اقتصادي اعتبار او هم په ټولې سیمې کې د امنیت په تأمینولو کې د کعبې ونډه او اغېز ختم کړي او ټول دغه مذهبي، سیاسي، اجتماعي او اقتصادي اعتبارات خپلې پلازمېنې صنعا ته انتقال کړي او هغو قبائلو ته چې د کعبې په تقدس باور لري او د خدای کور ئې ګڼي وښیي چې دا د خدای کور نه دئ، که داسې وی نو د ده په لاس به ئې ورانېدو ته نه پرېښود!! الله تعالی په خپل حکمت سره د ابرهه توطئه شنډه کړه، د مکې اعتبار ئې مزید اوچت کړ او د قریشو سیاسي، اجتماعي او اقتصادي ګټې ئې له خطره وژغورلې او د دوی تجارت ته ئې لا زیاته وده او رونق ورکړ.

الله تعالی د قریشو پام دغو نعمتونو ته وراړوي او د دې آیت په ترڅ کې ورته فرمایي چې د دغو نعمتونو په پاس باید د دې کور د رب عبادت وکړئ چې له لوږې ئې ماړه کړئ او له وېرې ئې امان درکړ. کلونه کلونه مو په فقر او لوږې کې تېر کړل، خوف او وېرې خپل تور وزر درباندې غوړولی وو، یوه نېستمنه، وېرې، متشتته قبیله وئ، د عربو په ټولې سیمې خوف او وېرې حکومت کاوو، خو وروسته له هغه چې د دغه مقدس کور په خوا کې مېشت شوئ، امن او امان مو په برخه شو، هوسا، آرامه او ماړه شوئ، نه مو له لوږې اندېښنه شته او نه د خپلو شتمنیو، رمو، تجارتي قافلو له غارت او تالان وېره، له دې کور لږ آخوا او په هغو سیمو کې چې د دې کور تر اغېز لاندې نه دي؛ خوف او وېره خوره ده، خلك اختطاف کېږي، قافلې غارت کېږي، په کاروانونو بریدونه

کېږي، قبائل یو پر بل بریدونه کوي، خونړۍ جګړې ئې تر منځ روانې دي، د شر او فساد ځواکونه هره خوا مسلط دي، په بر و بحر کې فساد خور دئ، خو قریش په امن او امان کې ژوند کوي، د تجارت بازار ئې ګرم او دسترخان ئې ډک، نو باید د هغه رب عبادت وکړي چې د ده د مقدس کور په طفیل دا ټول نعمتونه د دوی په برخه شول، باید په دین منګولې ولګوي، د الله تعالی د پیغمبر متابعت وکړي، له بغاوت لاس واخلي او د پیغمبر علیه السلام له مخالفت ډډه وکړي که نه نو له دغو ټولو نعمتونو به محروم شي.

قرآن همدا راز فرمایي:

قَالَتۡ إِنَّ ٱلۡمُلُوكَ إِذَا دَخَلُواْ قَرۡيَةً أَفۡسَدُوهَا وَجَعَلُوٓاْ أَعِزَّةَ أَهۡلِهَآ أَذِلَّةٗۖ وَكَذَٰلِكَ يَفۡعَلُونَ٣٤ النمل

وئې ویل: یقیناً چې کله دا پاچایان کوم کلي ته ننوځي نو تباه ئې کړي او عزتمن ئې ذلیل کړي، او همداسي کوي.

دلته د سبإ د ملکې هغه وینا راوړل شوې چې خپلو درباریانو ته ئې وویل: د پاچایانو دود او خصلت دا دئ چې کله کوم ملك ته ننوځي او پرې مسلط شي نو تباه ئې کړي او د هغه عزتمن خلك سپك او ذلیل کړي. د ملکې له دې وینا وروسته ویل شوي چې (او همداسي کوي)، ځینو درنو مفسرینو دا هم د ملکې وینا ګڼلې او ځینې وایي چې دا د الله تعالی له لوري ویل شوي او د پاچایانو په اړه د ملکې د دغې وینا تأیید ئې کړی. الفاظو ته په پام سره همدا رأیه غوره برېښي. د دې مبارك آیت الفاظ او انداز دومره جامع دئ چې د پاچایانو او شاهي نظامونو د معرفي لپاره همدا کفایت کوي، دوی ئې داسي معرفي کړي:

- کله چې کومې سیمې ته ننوځي او پرې مسلط شي هلته تباهي خوروي، امنیت له منځه وړي، د ټولنې مخکینی اجتماعي، سیاسي، مذهبي، اقتصادي او اخلاقي نظام نسکوروي، د ولس شتمني غارتوي او داسي حالت راپیدا کوي چې نه د چا سر خوندي وي، نه مال او نه عزت.

• د ټولنې عزتمن وګړي سپکوي، هغه چې د مفسدو ملوکو او پاچایانو تر تسلط وړاندې ئې سر لوړی ژوند او په ولس کې وقار او اعتبار درلود؛ د ټولنې مخور شخصیتونه ول، او ولس د خپلو مشرانو په سترګه ورته کتل، هغه چې د ظلم او فساد مخالفت کوي، عزت النفس لري، زور او زیاتی نه مني، د ولس پر مال، سر او عزت ټېری نه زغمي، دوی د دغو ملوکو له لوري رټل کېږي، ځینې ووژني، ځینې زندان ته ولېږي او ځینې له خپل هېواده وشړي، او د ټولنې، سپك، رذیل او ذلیل کسان راوړاندې کړي، هغه څوك پر ولس مسلط کړي او اقتدار وروسپاري چې نه عزت النفس لري، نه کوم دین او مذهب او نه په کوم سپېڅلي شي باور، د ذلیلو کرسیو او منحطو اغراضو لپاره هري ذلیلې معاملې او سودا ته چمتو وي!! او دا همغه څه دي چې هر پاچا ئې له خپل ولس سره کوي او دا همغه څه دي چې ټولو استعماري ځواکونو په خپلو مستعمراتو کې کړي، پرون انګرېزانو او روسانو په افغانستان کې وکړل او ورپسې ئې امریکایان کوي!! په راتلو کې هم دا کار کوي او د وتلو په وخت کې هم؛ هغه غوره کوي چې په غلامۍ کې تر نورو مخکښ او زیات ذلیل وي؛ دوی ته وفادار او د خپل ولس په ضد جنګ کې پیاوړی او جسور.

ظالمانه اقتصادي سیستم او د بې وزلو تدریجي مرګ

ښایي ډېرو ته به دا وینا عجیبه او حیرانوونکې برېښي چې قرآن؛ ظالمانه اقتصادي سیستم؛ د بې وزلو د عاجل یا تدریجي مرګ عامل ګڼي؛ او وایي: پر باطل او غیر عادلانه بنسټ ولاړ مالي او اقتصادي سیستم؛ د ډېرو ځپل شوو او محرومو انسانانو د مرګ عامل او باعث شي!! راشئ وګورو چې قرآن په دې اړه څه ویلي.

په هغه ځای کې چې قرآن د مشروع تجارت یادونه کوي، شرائط ئې بیانوي؛ او وایي په باطله او ناروا توګه یو د بل مال مه خورئ؛ په ضمن کې ئې وایي: ځان وژنه مه کوئ؛ او دا ښیي چې په ناحقه د بل مال خوړل او قتل نفس یو له بل سره تړاو لري؛ اړوند آیتونه دا دي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَأۡكُلُوٓاْ أَمۡوَٰلَكُم بَيۡنَكُم بِٱلۡبَٰطِلِ إِلَّآ أَن تَكُونَ تِجَٰرَةً عَن تَرَاضٖ مِّنكُمۡۚ وَلَا تَقۡتُلُوٓاْ أَنفُسَكُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِكُمۡ رَحِيمٗا ٢٩ وَمَن يَفۡعَلۡ ذَٰلِكَ عُدۡوَٰنٗا وَظُلۡمٗا فَسَوۡفَ نُصۡلِيهِ نَارٗاۚ وَكَانَ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرًا ٣٠ النساء

[۲۹]- اې مؤمنانو! مالونه مو په خپل منځ کې په ناروا توګه مه خورئ، مګر دا چې ستاسو د رضامندۍ تجارت وي او ځان وژنه مه کوئ؛ یقیناً چې الله دربانديي مهربان دئ. [۳۰]- او چا چې په تېري او ظلم سره دا کار وکړ، حتماً به ئې اور ته ننباسو او دا خو الله ته آسان دئ.

په دې مبارکو آیتونو کې د مسلمانانو تر منځ د اقتصادي اړیکو په ارتباط څو اساسي لارښوونې مومو:

۲۹ آیت دوه برخې لري: لومړۍ ئې ښيي چې هره هغه مالي معامله باطل او لغوه ده چې دواړه لوري؛ پلورونکی او پېرونکی، بائع او مشتري پرې راضي او قانع نه وي. دا هم د عامو مؤمنانو په وړاندي داسي مهم او ارزښناك لارښود ږدي چې که مراعات شي نو له ډېرو مالي او تجارتي منازعاتو او مشاجراتو به وژغورل شي او هم قاضي او حَکَم ته لارښوونه کوي چې داسي لانجې او منازعات به څنګه رفع کوي؛ پرېکړه ئې باید د دې له مخې وي چې د دواړو لوريو رضایت او قناعت مراعات شوی که نه؛ د عدم مراعات په صورت کې به معامله لغو او باطل ګڼي. په دې لارښوونې کې ټول هغه مالي او تجارتي پېر پلور، رهن او پور، راکړه ورکړه او ټرون شامل دي چې د معاملې د دوو لوريو، بائع او مشتري، پوروړي او پور ورکوونکي، ګمارونکي او استخدامونکي؛ له توافق او رضایت پرته وي، یو د بل له مجبوریت استفاده کوي، یو له بل سره غدر او دوکه کوي، پلورونکی د خپل جنس عیب پټوي، د یوه شي په نامه بل څه پلوري؛ په داسي حال کې ئې پلوري چې پېرونکی یا بې سده او مست دئ او یا له عقلي پلوه خام ... او ټول هغه څه چې اسلام تحریم کړي لکه:

ربا، قمار، احتکار، انحصار، رشوت، دوکه، د حرامو شیانو تجارت او نور.

د آیت دوهمه برخه وایي: ځان وژنه مه کوئ؛ پوښتنه راولاړي چې د دې دواړو برخو تر منځ څه مناسبت او ربط شته که نه؛ مستقلي فقرې دي که یوه له بلې سره تړلې؟ څوک چې د قرآن له لوړ ادبي اسلوب سره آشنا وي پوهېږي چې هم د هري سورې آیتونه په خپلو منځونو کې ژوري اړیکي او مناسبتونه لري او هم د هر آیت بېلې بېلې فقرې؛ که دلته دا بېلې بېلې فقرې ونیسو نو معنی به ئې دا وي: ۱- تجارت درته جائز دئ، په دې سره کولی شئ یو له بل جائزه ګټه تر لاسه کړئ، خو په تجارت کې به د طرفینو رضایت په پام کې نیسئ، یو به د بل له مجبوریتونو ناروا ګټه نه اوچتوي. ۲- له ځان وژلو ډډه وکړئ؛ مبادا د فقر له وجهې او یا د فقر له وېرې ځان یا خپل اولاد ووژنئ؛ د الله له رحمت مه مأیوس کېږئ. خو که دا د یوه مضمون دوه مربوطي فقرې ونیسو نو معنی ئې دا ده: که د خلکو تر منځ مالي مناسبات او راکړه ورکړه تحمیلي وي، د طرفینو له رضایت او قناعت پرته، او پر ټولني داسي اقتصادي سیستم وټپل شي چې ظالم او مظلوم، شتمن او محروم زېږوي او د فقیرانو او غریبانو په تدریجي مرګ منتج کېږي؛ یو د ګرانۍ، فقر او لوږې له کبله یا ځان یا خپل اولاد وژني او بل د خسیسي مالي ګټې لپاره د خپل دیني او انساني ورور په وژني کې برخه اخلي؛ نو دا ظالمان او تېری کوونکي دي د الله عذاب ته انتظار وکړي.

د آیت دقیق او غوره تفسیر دا دئ چې په دې سره مؤمنانو ته ویل شوي: ستاسو مالي معاملې او اقتصادي نظام باید د طرفینو پر رضایت او قناعت ولاړ وي؛ نه پر زور، جبر، فریب او تزویر؛ پام کوئ داسي اقتصادي نظام رائج نه کړئ چې د نېستمنو د مزید نېستمن کېدو باعث او د دوی په تدریجي مرګ منتج شي. که دا غلطي مو وکړه نو د الله تعالی شدید عذاب ته انتظار وکړئ. موږ همدا اوس په دې ۲۱ پېړۍ کې د همدې لارښود آیت مصداق په خپلو سترګو ګورو؛ دا اوس چې غربي استعمار پر نړۍ کوم اقتصادي نظام مسلط کړی، نړۍ ئې په بډایو او

فقيرو هېوادو وېشلې، يو له ډېرو خوړو چوي او بل د يوې ګولې وچې ډوډۍ له نه موندلو مري، يو د پرسوب او پرېږتوب بيماريو لپاره دواګاني او علاجونه لټوي او بل سِل او ملاريا وهلی، د هډوکو له پاسه ئې له پوستکي پرته بل څه نه شته، يو په سترو سترو مجللو بنګلو کې هم قانع نه وي او بل يا له له شلېدلي زړوکي جوړي شوې خېمې کې يا له زوړ ټيم جوړي شوې ګوډلي کې د ژمي سړې شپې او د دوبي تودې ورځې تېروي، د غرب ظالمانه پانګوال نظام د ژوري په څېر د وروسته پاتې هېوادونو د مظلومو ولسونو ويني زېښي، ظالم او بې رحم حکومتونه، جنرالان او پاچايان ئې پرې مسلط کړي، د دوی شتمنۍ ئې غارت کړې، يوه ټوټه اوسپنه او پلاستيک د سرو زرو په بيع پرې پلوري، جنرالان ئې مالي شتمنۍ په وسلو مصرفوي خو دا وسلې د دې پر ځای چې د دښمن په ضد استعمال شي؛ په خپله د ولس د ځپلو لپاره کاروي، په تېري پېړۍ کې به استعماري ځواکونو د خپل فوځ په زور ملکونه نيول او خپلو کمپنيو ته به ئې سپارل، خو اوس د دغو هېوادونو هغه فوځونه دا کار ورته کوي چې دوی روزلي او قدرت ته ئې رسولي؛ څو جنرالان په ارزانه بيع واخلي، هم فوځ د دوی په ولکه کې راشي او د قيامونو د ځپلو لپاره ترې کار اخلي او هم د کودتاګانو له لاري نظامونه او چارواکي ئې يو په بل بدلوي. د قرآن په دغه وينا کې دا ټول حقائق توضيح شوي، واقعاً چې په ناروا سره د خلکو مال خوړل، د انسانانو د مرګ او هلاکت لوی عامل دئ

دا بايد په پام کې ولرو چې تجارت د تاريخ په اوږدو کې تل او په ځانګړې توګه نن؛ او د ټرانسپورتي وسائلو له پراخ او سريع انکشاف وروسته؛ هم په بې ساري توګه پراخ شوی او هم ئې اقتصادي اهميت او ارزښت زيات شوی؛ اسلام د تجارت په اړه خپل اصول، جامع او ارزښناکې لارښوونې لري او د هر تجارت او مالي راکړې ورکړې مشروعيت ئې په خاصو شرائطو پوري تړلی دئ؛ د دوو لوريو تر منځ يوازې هغه معامله جائزه ګڼي چې د دواړو په خوښه او رضايت سره وي؛ نه پر يوه

تحميل شوې او د هغه له مجبوريت په استفادې سره.

غير اسلامي حکومت او فرعوني نظام

قرآن د غير اسلامي نظام د معرفي لپاره؛ د دې نظام تاريخي مثال او بېلګه د مخاطب مخي ته ږدي؛ د دې نظام واکمن د فرعون په نامه يادوي، سياسي، فکري، مذهبي، اقتصادي او اجتماعي بنسټونه ئې راښيي، د حکومت ارکان، له ولس سره د واکمنو چلن او د ملي شتمنيو په اړه د دوی تګلاره معرفي کوي؛ قرآن د فرعوني نظام واکمنان په دريو ډلو وېشي، د هري ډلې د مشر يادونه کوي، د (فرعون)، (هامان) او (قارون) نومونه اخلي، دا هر يو د يوې حاکمي طبقې ممثل دئ، دغه درې طبقې او په سر کې ئې دا درې مشران يو بل ته لاس ورکوي او پر يوه ملت او هېواد حکومت کوي. په هر جاهلي نظام کې به وګورئ چې دغه درې طبقې په ګډه طبقاتي نظام چلوي، هر نظام درې اړخه لري: ۱- اعتقادي (فکري)، ۲- سياسي او ۳- اقتصادي اړخونه. فرعون د مصر د هغه وخت د حاکم سياسي نظام اړخ تمثيلوي، هامان ئې د ايديالوژيکي او فکري اړخ استازی او د دغه نظام مفکر او تيوريسن دئ، د ده ډله او طبقه ده چې فرعون ته مشورې ورکوي، مسلط فرعوني نظام توجيه کوي، د فرعون له تصرفاتو او اقداماتو دفاع کوي او د ولس د اقناع لپاره فتوی ګاني ورکوي او قارون د پانګې او شتمنۍ څښتن او د شتمني طبقې ممثل دئ. له فرعون، هامان او قارون هدف يوازې درې کسان نه بلکې د فرعوني نظام درې واکمني طبقې معرفي کول دي. په دې نظام کې فرعون محور دئ او هامان او قارون ئې سِی او کېڼ لاسونه.

قرآن عظيم الشأن فرمايي چې الله تعالی موسی عليه السلام د دې لپاره مصر ته ولېږو چې لومړی د فرعون، بيا د هامان او په پای کې د قارون مقابله وکړي:

وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا مُوسَىٰ بِـَٔايَٰتِنَا وَسُلۡطَٰنٖ مُّبِينٍ ٤٣ إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ وَهَٰمَٰنَ وَقَٰرُونَ

فَقَالُواْ سَٰحِرٌ كَذَّابٌ ﴿٢٤﴾ غافر

یقیناً چې مورِ موسی له خپلو آیتونو او څرګندو دلائلو سره فرعون، هامان او قارون ته ولېږو، او هغوی وویل: دروغجن کوډګر دئ.

یعني ده ته ئې اصلي دښمنان ورښودلي، دا وضاحت ئې ورته کړی چې په مصر کې به ستا مقابله له چا چا سره وي، خو دا ئې هم ورته ویلي چې څنګه به ئې مقابله کوې، لومړی د چا او ورپسې د چا؟ د ټولو خو په تدریج سره، داسي چې یوه ته به په پر بل اولویت ورکوې، اصلي او لومړی دښمن فرعون دئ، لومړۍ مقابله باید له ده سره وي، داسي نه چې په نورو جبهاتو کې تر دې د مخه مصروف شې او تر ټولو خطرناک او اصلي دښمن درنه پاته شي!! په لومړي سر کې به د فرعون مقابله کوې، بیا د هامان او ورپسې د قارون، موسی علیه السلام د همدغو دریو طبقو په ضد د مبارزې لپاره لېږل شوی وو، څوک چې د موسی علیه السلام او پیغمبرانو په لار د تلو اراده لري نو د دغو دریو خطرناکو دښمنانو مقابلې ته به ملا تړي.

ځینې داسي وي چې د مړه فرعون، هامان، قارون، نمرود او ابوجهل یادونه او غندنه خو کولی شي؛ دا ځکه چې هغوی مړه او تر خاورو لاندې دي؛ هغوی ئې نه روزي قطع کولی شي او نه ئې زندان ته لېږلی شي؛ خو د ژوندیو فرعونانو، نمرودانو او ابو جهلانو په خلاف؛ په پټه او له خپلې مېرمني سره هم له څه ویلو ډډه کوي؛ پر منبر خو څه ویل لري پرېږدئ؛ د قرآن په وینا؛ له خلکو دومره وېرېږي لکه له الله او تر دې هم زیات: ... يَخۡشَوۡنَ ٱلنَّاسَ كَخَشۡيَةِ ٱللَّهِ أَوۡ أَشَدَّ خَشۡيَةٗۚ ....

د هر فرعوني نظام نسکورېدا؛ د الله تعالی نه بدلېدونکی سنت دئ؛

قرآن عظیم الشأن د فرعون او فرعوني نظام له معرفي وروسته او د قصې متن ته تر ننوتلو وړاندي، د الله تعالی هغه دائمي او نه بدلېدونکی

سنت بيانوي چې د داسي ظالمانو او ظالمانه نظامونو د نسکورولو او د مظلومانو د ژغورنې لپاره ئې وضع کړی؛ فرمايي:

وَنُرِيدُ أَن نَّمُنَّ عَلَى ٱلَّذِينَ ٱسْتُضْعِفُواْ فِى ٱلْأَرْضِ وَنَجْعَلَهُمْ أَئِمَّةً وَنَجْعَلَهُمُ ٱلْوَٰرِثِينَ ۝٥ وَنُمَكِّنَ لَهُمْ فِى ٱلْأَرْضِ وَنُرِىَ فِرْعَوْنَ وَهَٰمَٰنَ وَجُنُودَهُمَا مِنْهُم مَّا كَانُواْ يَحْذَرُونَ ۝٦

او غواړو پر هغو پېرزوينه وکړو چې په زمکې کې ئې د بې وزلې لټه کېږي او پېشوايان ئې کړو او (د ټولو شتمنيو) وارثان ئې کړو او پر زمکې کې تمکين ورپه برخه کړو او له دوی فرعون، هامان او لښکرو ته ئې هغه څه وښيو چې ترې وېرېدل.

يعني دا د الله تعالی نه بدلېدونکی سنت دئ چې بې وزلي ولسونه به له اسارت او محکوميت ژغوري، له دوی به د لويو لويو مستکبرو طاقتونو د پرځولو او نسکورولو لپاره کار اخلي، تر ټولو د ستر مغرور ځواك د نسکورولو لپاره به د نړۍ تر ټولو ضعيف او مستضعف قوم انتخابوي، فرعون به د خپلو غلامانو (بني اسرائيلو) په لاس له منځه وړي. الله تعالی به پر هغو احسان کوي چې په زمکې کې ضعيف شمېرل کېږي، د ضعف او ناتوانۍ لپاره ئې هڅه کېږي، استکباري نظامونو ځپلي، الله تعالی غواړي د داسي مظلومانو په لاس دا مغرور او مستبد ځواکونه نسکور کړي، دوی ته د نورو قومونو د قيادت او مشرۍ افتخار ورپه برخه کړي، نور ولسونه هم په دوی پسي اقتداء وکړي، د زمکو او شتمنيو وارثان ئې کړي، هغه درې طبقې چې په سياسي، مذهبي او اقتصادي لحاظ پرخلکو حکومت کوي، د دوی هر څه دغو مظلومانو ته په ميراث ورکړي، په زمکه کې اقتدار او تمکين دوی ته وسپاري، واك او صلاحيت دوی ته انتقال کړي، هغه ضعيف او بې وزلی ولس د دوی ځای ناستي کړي چې په وېرې او خوف کې ئې ژوند کاوو، حکومتونو د دوی د وېرولو او ضعيفولو هڅې کولې، د الله تعالی سنت داسي دئ چې لومړی له دغو بې وزلو او مستضعفينو په فکري او اخلاقي لحاظ امامان جوړ کړي،

هاماني ډله د خلکو د فکري او مذهبي قیادت له مقامه خلع کړي او دا قیادت مستضعفینو ته وسپاري، فرعونیان د ولس له سیاسي او اجتماعي قیادت عزل کړي او دا قیادت بې وزلو ته وسپاري او په پای کې د قارون د ډلې شتمنۍ دوی ته په میراث ورکړي. فرعون، هامان او لښکري ئې چې له څه وېرېدل او تل ئې حذر ترې کاوو، رنګ رنګ تدابیر ئې نیول چې دا بې وزلې راویښ نه شي، یو بل ته لاس ورنه کړي او د نظام په ضد پاڅون ونه کړي؛ الله تعالی غواړي چې دوی ته همدا وروښیي، دوی له دې وېرېدل چې بې وزلې او مظلومان قوي او ځواکمن نه شي، قیام ونه کړي او د خپل حق د لاس ته راوړلو لپاره د واکمنانو په خلاف راولاړ نه شي او د همدې لپاره ئې په استضعاف او ناتوانۍ کې ساتل؛ خو د الله تعالی سنت دا دئ چې پر مظلومانو او مستضعفانو به پېرزوینه او احسان کوي او فرعونیانو ته به هرو مرو هغه څه ښیي چې ترې وېرېدل. هر قرآنپال باید ډاډه وي چې الله تعالی به هغه نظام حتماً د مظلومانو په لاس ړنګوي چې واکمن ئې متکبر، لویي غوښتونکی، مفسد، مسرف، مستبد، ظالم او مطلق العنان؛ یعني (فرعون) وي، خلك په ډلو ډلو وېشي، خپلې ډلې او قبیلې ته اقتدار سپاري او امتیازات ورکوي، نور ځپي او په ضعف کې ئې ساتي، د هېواد ملي شتمني او په ټولو هېوادوالو پورې مربوط زمکې، اوبه، معادن، بیت المال داسي ګڼي او داسي تصرف په کې کوي لکه چې ټول د ده شخصي مال او غنیمت وي، په هغه کې د هر ډول خپل سري تصرف حق لري، نه په مشوره مکلف دئ او نه د ولس رأی ته په احترام او درناوي، غیر مسئول او واجب الاحترم دئ؛ یعني د فرعون په څېر د خدایي دعوی کوي؛ د داسي نظام او واکمن نسکورېدا حتمي ده او دوام ئې ځکه ممکن نه دئ چې د الله تعالی د دائمي او نه بدلېدونکي سنت خلاف دئ.

د کوم واکمن چلن له مظلومانو سره فرعوني دئ؟

قرآن د موسی علیه السلام او فرعون قصه په ډېر تفصیل سره زموږ مخي ته ایښې؛ هم ئې فرعوني نظام موږ ته معرفي کړی او هم د موسی

علیه السلام د دعوت او مبارزې تفصیلات او لوړې ژورې، دا نه نکل او قصه ده او نه محض د یوه تاریخي جریان او پراو یادونه؛ بلکې د قرآني مفاهیمو تاریخي انځورونه او د لارښوونو لپاره ئې تاریخي عملي مثالونه دي؛ په دې سره مور ته هم د تاریخ د تېرې زمانې فرعونان معرفي شوي او هم د نن او سبا فرعونان؛ په دې کې مور ته هم د تېرې زمانې موسی علیه السلام او د هغه د دعوت او مبارزې څرنګوالی معرفي شوی؛ هم د نن او سبا موسی علیه السلام ته ورته مجاهد شخصیتونه. که ته د خپلې زمانې فرعون او موسی نه پېژنې نو معنی ئې دا ده چې تا قرآن نه دئ لوستلی، په مطلب ئې نه ئې پوه شوی او هغه دي خپل لارښود نه دئ نیولی؛ د قرآن شخصیتونه په حقیقت کې معیاري شخصیتونه او د شخصیتونو د پېژندو لپاره معیارونه دي؛ د قرآن په رڼا کې مور فرعوني حکومتونه پېژندی شو؛ قرآن مور ته وایي: فرعون او نظام ئې ولس په ډلو ډلو وېشلی وو، ځان، خپلوان او پلویان ئې پالل او پر نورو ئې خپله او د خپلې قبیلې لویي او برلاسي تحمیلوله او له بلې ډلې سره ئې داسي وحشیانه چلن کولو چې زامن ئې وژل او لونې ئې د دې لپاره ژوندۍ پرېښودې چې د دوی وینځي وي؛ فرمایي:

إِنَّ فِرۡعَوۡنَ عَلَا فِي ٱلۡأَرۡضِ وَجَعَلَ أَهۡلَهَا شِيَعٗا يَسۡتَضۡعِفُ طَآئِفَةٗ مِّنۡهُمۡ يُذَبِّحُ أَبۡنَآءَهُمۡ وَيَسۡتَحۡيِۦ نِسَآءَهُمۡۚ إِنَّهُۥ كَانَ مِنَ ٱلۡمُفۡسِدِينَ ۝٤ القصص

یقیناً چې فرعون په زمکې کې کبر او لویي وکړه او د هغې اوسېدونکي ئې په ډلو ډلو ووېشل، غوښتل ئې یوه ډله ئې بې وزلې او کمزورې وي، زامن ئې ورحلالول او لونې ئې ژوندۍ پرېښودې، یقیناً چې دی له مفسدینو وو.

د دې آیت په وړاندې لږ مزید مکث او تمېدا ضروري برېښي؛ که څه هم زمور درانه مفسرین په دې اړه ېبل ېبل تعبیرونه او تفسیرونه لري چې فرعون ولې د بني اسرائیلو زامن وژل او لونې ئې ژوندۍ پرېښودې، ځینې ئې وایي: فرعون په خوب کې لیدلي وو چې په بني

اسرائیلو کې به داسې څوک راپیدا شی چې د ده واکمني به ګواښي او د ده تخت او تاج ته به تاوان رسوي، د دې احتمالی خطر د مخنیوي لپاره ئې د بني اسرائیلو د ماشومانو په وژلو لاس پورې کړ، ځینې نور وایي چې کاهنانو د دې احتمالی خطر اطلاع ورکړې وه؛ نو ځکه ئې د بني اسرائیلو زامن وژل!! خو که د دغو آراءو جړوو ته متوجه شو راته جوته کېږي چې دغو درنو مفسرینو په دې اړه د بایبل وینا ته اعتبار ورکړی او د بایبل تر اغېز لاندې تللي او همغه څه ئې ویلي چې محرف بایبل ویلي!! خو پورتنی آیت په ډېره واضحه توګه مورِ ته لارښوونه کوي چې د ماشومانو له وژلو د فرعون هدف دا وو چې د بني اسرائیلو قوم ضعیف او کمزورې کړي، غوښتل ئې د دې قوم شمېر دومره زیات نه شی چې دی او اقتدار ئې وګواښي، د دې خطر د مخنیوي لپاره ئې د هغوی زامن وژل. دې درنو مفسرینو د قرآن دې لارښوونې ته هم پام نه دئ کړی چې کاهنان، رمالان، نجومیان او له الله تعالی پرته هیڅوک په غیب نه پوهېږي!! دا د قرآن داسې قاطع، پرېکنده او مکرره وینا ده چې د قرآن یو سطحي لوستونکی هم پرې پوهېدی شي. قرآن دا هم وایي چې هیڅوک نه پوهېږي د مور په رحم کې ماشوم څوک او د څنګه شخصیت او استعدادونو خاوند دئ؛ شقي دئ که سعید، ځېرک دئ که غبي، جنتي دئ که دوزخي، مؤمن شخصیت به ترې جوړ شي که کافر، ملحد او مشرک. او رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایي: څوک چې نجومي، رمال او فال لیدونکي ته ورغی او د هغه په وینا او وړاندوینې ئې باور وکړ؛ نو په هغه قرآن کافر شوی چې پر محمد نازل شوی.

نو د بني اسرائیلو د زامنو د وژلو موخه د دوی تضعیف او د شمېر نه زیاتېدل وو؛ نه بل څه؛ قرآن همدا راز فرمایي چې فرعون نه یوازې دا چې خپل مخالفین د زندان تورو خونو کې اچول بلکې په لاس او پښو ئې ورته مېخونه ټک وهل، حتی پر خپلې مېرمنې ئې رحم ونه کړ، د هغې په لاسونو او پښو کې ئې هم مېخونه ټک وهل او دومره ئې وځوروله چې له الله تعالی ئې د مرګ هیله وکړه!!

د نن زمانې فرعونان هم د انسانانو د شمېر راکمولو لپاره همغه څه کوي چې پروني فرعون کول؛ دوی د مسلمانانو د شمېر له زیاتېدو وېرېږي او هغه د بني اسرائیلو د شمېر له زیاتېدو وېرېدو. وجه ئې سیاسي او اقتصادي ده نه انساني.

له جهاد پرته؛ له آساني لنډې لاري اقتدار ته د رسېدو بدي پایلې؛

په دې سره قسي القلب دیکتاتور ترې جوړېږي

یو داسي صالح، اهل او موفق حکومت جوړول چې سوله او عدالت تأمین کړي او ټولنه د ترقي او سوکالي په لوري بوځي؛ یوه صالح، منظم، آزمویل شوي؛ او د مبارزې په لوړو ژورو کې روزل شوي؛ متحد او له همفکرو غړو جوړ شوي حزب ته ضرورت لري؛ داسي چې ګډو رغنده او سپېڅلو آرمانونو، واحد لید لوري او متفقه تګلاري په یوه متحد صف کې راغونډ کړي وي، قیادت ئې تر ټولو د غوره او آزمویل شوي زعامت لاس کې وي، د یوه هېواد د چارو سمبالولو او اداره کولو لازمه وړتیا او کافي ښایسته کوادر ولري؛ یو فرد که نابغه هم وي؛ له صالح او متعهد حزب پرته موفق حکومت نه شي جوړولی. قرآن مور ته د ابراهیم، موسی او یوسف علیهم السلام قصې په ډېر تفصیل سره بیان کړې او په ترڅ کې ئې مور ته ښیي چې الله تعالی خپل رښتیني پیغمبران تر رسالت وړاندې هم له سختو آزموینو سره مخامخ کړي او تر رسالت وروسته هم؛ د همدې آزموینو په ترڅ کې ئې هغوی روزلي، ابراهیم علیه السلام د خپل پلار آذر له سخت مخالفت سره مخامخ شو، په رجم او له کور شړلو ئې وګواښو، د نمرود له لوري د اور په کندي کې وغورځول شو، د عراق پرېښودو ته اړ شو، له مېرمن سارا او وراره لوط علیه السلام پرته بل چا ئې ملګرتیا ونه کړه، د خپل زوی اسمعیل په ذبح کولو وآزمویل شو، د مکې په سپېره تش ډاګ کې د خپلې مېرمني هاجر او تې خور زوی اسمعیل په یوازي پرېښودو وآزمویل شو، موسی علیه السلام د فرعون له لوري په اعدام محکوم شوی، د مصر پرېښودو ته اړ شو، نژدې لس

کاله ئې په مدين کې شپې وکړه، يوسف عليه السلام په نه ګناه او د پاک لمنې په جرم زندان ته تللی، نژدې لس کلونه ئې په زندان کې تېر کړي؛ درېواړه په دغو آزمويښو کې له بريا وروسته په پيغمبرۍ مبعوث شوي، قرآن د ابراهيم عليه السلام په ارتباط فرمايي:

وَإِذِ ٱبۡتَلَىٰٓ إِبۡرَٰهِـۧمَ رَبُّهُۥ بِكَلِمَٰتٖ فَأَتَمَّهُنَّۖ قَالَ إِنِّي جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ إِمَامٗاۖ قَالَ وَمِن ذُرِّيَّتِيۖ قَالَ لَا يَنَالُ عَهۡدِي ٱلظَّٰلِمِينَ ١٢٤ البقرة

او کله چې خپل رب ئې ابراهيم په څو خبرو وآزمويلو، چې ده تر سره کړې، وئې فرمايل: زه خو دې د خلکو لپاره د يوه امام او پيشوا جوړونکی يم، وئې ويل: او زما له اولاد هم، وئې فرمايل: زما ژمنه ظالمانو ته نه رسېږي.

ابراهيم عليه السلام له ګڼ شمېر الهي آزمويښو سره مخامخ شو، په ټولو دغو الهي آزمويښو کې بريالی شو، د دې بريا بدله او جزاء دا وه چې د خلکو د امامت او مشرۍ مقام ئې په برخه شي، الله تعالی ورته وفرمايل چې اوس نو ته د خلکو د امامت وړ يې، دا مقام تا ته سپارم. تمنی ئې وکړه چې کاش د خلکو د لارښوونې دا مقام د ده د اولاد هم په برخه شي! الله تعالی وفرمايل: زما په دې فرمان کې ظالمان نه دي شامل، ظالمان که څه هم ستا زامن وي د دې جليل مقام وړ نه دي.

ډېره عجيبه او د حيرانتيا وړ ده چې دلته هم ځينو خلکو د دې پر ځای چې دا ابتلاءات همغه وګڼي چې په قرآن کې راغلي؛ په خلاف ئې د نوکانو د قطع کولو او د اضافي ويښتانو د خرڅيلو په څېر څو آسان کارونه ئې ګڼي!!

بني اسرائيل په دې غره وو چې د ابراهيم عليه السلام اولاد دي، ګڼ شمېر پيغمبران په دوی کې مبعوث شوي، دوی د دغو پيغمبرانو ورثه دي، د خلکو امامت او زعامت د دوی حق دئ، دوی د جنت لپاره او جنت د دوی لپاره پيدا شوی،... دلته د دوی د دې غلطو او بې بنسټه تصوراتو د نفي لپاره ويل شوي چې له ابراهيم عليه السلام سره د الله

تعالی په هغي وعدې کي چې د خلکو امامت به د ده اولاد ته سپاري، ظالمان نه دي شامل، تاسو د ابراهيم عليه السلام له طريقې عدول کړی، ستاسو ظلم او شرک تاسو د هغه له وراثت او امامت ايستلي يئ، د الله په وړاندي د خپلوې اړيکي، قومي او نسلي تعلقات هيڅ ارزښت نه لري، په دې اساس د خلکو په اړه فيصله نه کوي، ټول ئې له يوې خاورې او له يوې انساني جوړې پيدا کړي، له بندګانو سره د الله معامله د دوی د ايمان او عمل له مخې وي؛ نه د جاه او نسب له مخې.

يعني د مسلمانانو د زعامت او مشرۍ لپاره يوازي هغه وړ او اهل دي چې د اوږدې مبارزې او دعوت په لوړو ژورو کي روزل شوي وي؛ او هغه ئې خوا ته راټول شوي وي چې آرمانونه ئې سپېڅلي، همت ئې لوړ، اراده ئې مضبوطه، له حق د دفاع په لار کي او د خپل رب د رضاء حاصلولو لپاره قربانيو ته چمتو وي؛ يوازي داسي مجموعه کولی شي واقعي اسلامي نظام رامنځته کړي، عدالت تأمين کړي او مظلومان له ظلم وژغوري. څوک چې له لنډو او آسانه لارو، په غولوونکو شعارونو سره او د سازشونو، معامله ګريو او سپکو ذليلو تنازلاتو له لاري اقتدار تر لاسه کوي؛ نه يوازي ناکام، ناکاره او منفور زعيم به وي؛ بلکي مفسد او قسي القلب ديکتاتور او مطلق العنان واکمن به ترې جوړېږي. همغسي لکه چې قرآن فرمايي:

فَهَلۡ عَسَيۡتُمۡ إِن تَوَلَّيۡتُمۡ أَن تُفۡسِدُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَتُقَطِّعُوٓاْ أَرۡحَامَكُمۡ ٢٢

محمد

نو آيا دې ته نژدې يئ چې که (د چارو) متولي شئ په زمکي کي به فسادونه کوئ او د خپلوې اړيکي به شلوئ؟!

د دې مبارک آيت په اړه څو خبري په پام کي ولرئ:

- د (تولی) صيغه کله د شا اړولو او اعراض په معنی راځي او کله د ولايت او د چارو د متولي کېدو په معنی، مضمون ته په پام سره د دې صيغې معنی جوته کېږي، دلته په مخکينيو آيتونو کي د هغو منافقينو

په اړه بحث شوی چې د جهاد تر فرض کېدو وړاندې ئې ویل: ولې دا اجازه نه راکول کېږي چې د دښمن په خلاف وسلې ته لاس کړو! خو کله چې جهاد فرض کړی شو د دوی د دروغجنو ادعاءګانو حقیقت جوت شو، سنګر ته تګ ئې داسې ګڼلو لکه د مرګ کومې ته تګ!! په همدې ارتباط دلته ویل شوي چې که تاسو له جهاد پرته له کومې بلې لنډې لارې قدرت تر لاسه کړئ او د خلکو د چارو متولي شئ نو له دې پرته بله هیله نه شي کېدی چې په زمکې کې به فسادونه کوئ او د خپلوې اړیکې به شلوئ؟! یعنې چا چې د سنګر سختي ورځې نه وي لیدلې، د مبارزې په لوړو ژورو او کږلېچونو کې نه وي روزل شوی، د بریا ډالۍ ئې د ستونزو او کړاوونو له ګاللو وروسته نه وي تر لاسه کړې، بلکې وړیا ئې تر لاسه کړې وي، له لنډې لارې او په آسانۍ سره قدرت ته رسېدلی او د خلکو د چارو متولي شوی وي، تاریخي تجربو ښودلې چې داسې خلك له یوې خوا مفسد واکمنان جوړ شوي او له بلې خوا قسي القلب او بې رحم چارواکي، نه ئې د مبارزې لاسته راوړنو ته څه ارزښت او اهمیت ورکړی او د هغوی ساتنې ته ئې اعتناء کړې، نه ئې له اقتدار او صلاحیتونو د استفادې په څرنګوالي کې احتیاط او دقت کړی او نه ئې خلکو ته اهمیت ورکړی او د زړه سوي او ترحم له مخې ئې له هغوی سره چلن کړی؛ عام ولس خو پرېږدئ حتی هغو ته ئې هم اعتناء نه ده کړې چې د دوی د جهادونو او قربانیو له کبله ده ته مفت او وړیا اقتدار په لاس ورغلی؛ دوی ته د رقیب او حریف په سترګه ګوري او د حذفولو هڅه ئې کوي.

- الله تعالی د دې مبارك آیت په ترڅ کې لارښوونه کوي چې له هغه چا د یوه صالح چارواکي او د خلکو د چارو د زړه سواند متولي طمع نه شي کېدی چې د جهاد په لوړو ژورو کې نه وي روزل شوی، هغه طبیعي پراوونه ئې نه وي پلي کړي چې یو نهضت ئې باید بري ته د رسېدو په لار کې پلي کړي، د مبارزې ستونزې ئې نه وي ګاللې، د پېښو په ترڅ کې نه وي تربیه شوی او ضروري تجارب ئې نه وي په برخه شوي؛ نه شي

کولی د یوه صالح او زړه سواند واکمن په توګه عمل وکړي، دا آسان دئ چې سیاسي قدرت له یوه لاس بل ته انتقال شي خو د یوه نهضت د مبارزې سخت او ستونزمن پراو هغه مهال پیل کېږي چې قدرت تر لاسه کړي؛ خو د خپلو اهدافو د پلي کولو لپاره مستعد، معتمد او روزل شوي غړي ونه لري، د مستعدو او صالح افرادو د روزلو اصلي او اساسي مرحله تر انقلاب او بري وړاندي مرحله ده، له بري وروسته که څه هم وسائل او ذرائع تر وړاندي زیات او امکانات پراخ شي خو د ټولني د اصلاح او رغوني کار د هغو بنسټونو او شخصیتونو له لاري تر سره کېږي چې تر انقلاب وړاندي تربیه او روزل شوي، له دې پرته که د ټولني اصلاح او رغونه محال نه وي نو یقیناً چې ګران کار دئ.

- قرآن موږ ته د یوسف علیه السلام په قصې کې دا هم راښیي چې که غواړئ له قحطي او لوږي وژغورل شئ نو د یوسف علیه السلام په څېر پوه او متقي لارښود غوره کړئ. هغه له زندان قصر ته رسېدلی او ستر مصر ئې له سختي قحطي ژغورلی.

قرآن د نا اهل زعیم په اړه فرمایي:

وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يُعۡجِبُكَ قَوۡلُهُۥ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَيُشۡهِدُ ٱللَّهَ عَلَىٰ مَا فِي قَلۡبِهِۦ وَهُوَ أَلَدُّ ٱلۡخِصَامِ ٢٠٤ وَإِذَا تَوَلَّىٰ سَعَىٰ فِي ٱلۡأَرۡضِ لِيُفۡسِدَ فِيهَا وَيُهۡلِكَ ٱلۡحَرۡثَ وَٱلنَّسۡلَۗ وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ ٱلۡفَسَادَ ٢٠٥ وَإِذَا قِيلَ لَهُ ٱتَّقِ ٱللَّهَ أَخَذَتۡهُ ٱلۡعِزَّةُ بِٱلۡإِثۡمِۚ فَحَسۡبُهُۥ جَهَنَّمُۚ وَلَبِئۡسَ ٱلۡمِهَادُ ٢٠٦ البقرة

او له خلکو ځینې داسي دي چې د دنیا په اړه د ده وینا دي حیرانوي او په هغه څه الله شاهد نیسي چې په زړه کې ئې دي، په داسي حال کې چې دی تر ټولو کلك دښمن دئ. خو کله چې متولي شي نو په زمکه کې د دې هڅه کوي چې فساد په کې خور کړي او فصل او نسل تباه کړي او الله خو فساد نه خوښوي. او چې ورته وویل شي: له خدای ووېرېږه! عزت النفس ئې ګناه ته وپاروي، نو جهنم ورته کافي دئ او څومره بد

ټاټوبی!

دلته د منافقینو هغه ډله معرفي شوې چې ظاهر ئې د دوست، وینا ئې حیرانوونکې، د دنیوي چارو په اړه وینا ئې ډېره جالبه او جاذبه، خو په حقیقت کې تر بل هر دښمن خطرناك او کینه کښ، له مسلمانانو سره د مخامخ کېدو په وخت کې ځان د دوی له ډلې ښیي، قسمونه خوري چې په زړه کې ئې پوخ ایمان دئ او له مسلمانانو سره کلکه مینه، خو کله چې قدرت په لاس ورشي او د خلکو د چارو متولي شي، نو بیا ئې ټوله هڅه دا وي چې فساد خور کړي، د جګړو اور ته ولګوي، کافران پر مسلمانانو برید ته وهڅوي او د وینو تویولو او د فصلونو د تباهۍ باعث شي، دوی الله د خپل زړه په حال شاهد نیسي حال دا چې د دوی زړونه له فساد ډك دي او الله فساد نه خوښوي. کله چې د دوی پر کړنو انتقاد وشي او دا ورته وویل شي چې له الله ووېرېږه او له ګناه لاس واخله؛ نو دا انتقاد پر خپل عزت ټېرى ګڼي، له خپلې ګناه دفاع کوي او مزید ګناهونو ته هڅول کېږي. هغه چا ته د دښمن په سترګه ګوري چې د ده غلطه خبره او ناسم عمل وریادوي او نصیحت ورته کوي؛ له دې مبارك آیت معلومېږي چې د نصیحت په مقابل کې حساسیت ښودل او سالم انتقاد په خپل عزت ټېرى ګڼل د نفاق نښه ده.

دوی ځان ته مصلح وایي خو په حقیقت کې مفسدین دي، لکه چې قرآن فرمایي:

وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ لَا تُفْسِدُواْ فِي ٱلْأَرْضِ قَالُوٓاْ إِنَّمَا نَحْنُ مُصْلِحُونَ ﴿١١﴾ أَلَآ إِنَّهُمْ هُمُ ٱلْمُفْسِدُونَ وَلَٰكِن لَّا يَشْعُرُونَ ﴿١٢﴾ البقرة

او کله چې ورته وویل شي: په زمکې کې فساد او تباهي مه کوئ، وایي: موږ خو په یقین سره مصلحین یو. پام چې همدا دوی مفسدین دي خو نه پوهېږي.

الله تعالى د دوی برخلیك داسي ښیي:

ٱلَّذِينَ يَنقُضُونَ عَهْدَ ٱللَّهِ مِنۢ بَعْدِ مِيثَٰقِهِۦ وَيَقْطَعُونَ مَآ أَمَرَ ٱللَّهُ بِهِۦٓ

أَن يُوصَلَ وَيُفْسِدُونَ فِي ٱلْأَرْضِ ۚ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْخَٰسِرُونَ ﴿٢٧﴾ البقرة

هغه (فاسقان) چې الهي ژمنې له ټینګولو وروسته ماتوي او هغه څه غوښتي چې الله ئې د وصلولو امر کړی او په زمکه کې فساد کوي، همدا دوی خاسر او تباه شوي دي.

د ۲۲ آیت د (تولې) لفظ نورو معانیو ته په پام سره دا آیت دوه نور تعبیرونه هم لري، په دې توګه:

الف: که د الله په لار کې له قتال ډډه وکړئ ستاسو دا اعراض به په دې حالت منتج شي چې مفسد، قسي القلب او بې رحم وګړي لا زیات جري او جسور شي، د فساد لمن خوره شي؛ او په ټولنې کې د صلح، امنیت، رأفت او رحمت ټغر ټول شي.

ب: که د ایمان له لارې په شا شئ نو بېرته به د کفر هغه مخکینې سپېره حالت ته ستانه شئ چې فساد او قساوت ئې ځانګړتیاوي وې، د هغه حالت په اړه قرآن فرمایي:

ظَهَرَ ٱلْفَسَادُ فِي ٱلْبَرِّ وَٱلْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِي ٱلنَّاسِ لِيُذِيقَهُم بَعْضَ ٱلَّذِي عَمِلُوا۟ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴿٤١﴾ الروم

د هغه څه له کبله چې خلکو په خپلو لاسونو کړي؛ په وچه او سمندر کې فساد راڅرګند شو، د دې لپاره چې دوی ته د ځینو هغو عملونو خوند وروڅکو چې دوی کړي؛ په دې هیله چې راوګرځي.

الله تعالی هغه واکمن چې اقتدار ته تر رسېدو وروسته؛ قسي القلب، بې رحم او مفسد دیکتاتور ترې جوړ شي؛ د لعنت وړ ګڼلي:

أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ لَعَنَهُمُ ٱللَّهُ فَأَصَمَّهُمْ وَأَعْمَىٰٓ أَبْصَٰرَهُمْ ﴿٢٣﴾

دوی همغه دي چې الله لعنت کړي او له کبله ئې کانه کړي او سترګې ئې ورړندې کړې.

دا مبارك آیت وایي: هغه چې له ایمان وروسته د نفاق لوري ته ښویېږي؛ په ځانګړې توګه څوك چې اقتدار ته له رسېدو وروسته د ایمان

له تګلاري منحرف کېږي؛ الله تعالى دا خلك د لعنت وړ ګڼي، په الهي لعنت له اخته کېدو وروسته د حقائقو له درك داسي عاجز او محروم شي چې نه د نورو پند او نصیحت پرې څه اغېز کوي او نه داسي بصیرت ورته پاته کېږي چې په خپله سمه لار تشخیص او د حق لوري ته راوګرځي، داسي لکه چې پر سترګو او غوږونو ئې پرده غوړېدلې وي، ورو ورو له سمي لاري دومره کاږه ولاړ شي چې د بېرته ستنېدو امکان ئې له منځه ولاړ شي، لکه چې قرآن فرمایي:

أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ لَعَنَهُمُ ٱللَّهُۖ وَمَن يَلْعَنِ ٱللَّهُ فَلَن تَجِدَ لَهُۥ نَصِيرًا ﴿٥٢﴾ النساء

دوی همغه دي چې الله رټلي دي او الله چې څوك ورټي نو هیڅ ملاتړی به ورته ونه مومې.

وَٱلَّذِينَ يَنقُضُونَ عَهْدَ ٱللَّهِ مِنۢ بَعْدِ مِيثَٰقِهِۦ وَيَقْطَعُونَ مَآ أَمَرَ ٱللَّهُ بِهِۦٓ أَن يُوصَلَ وَيُفْسِدُونَ فِي ٱلْأَرْضِ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمُ ٱللَّعْنَةُ وَلَهُمْ سُوٓءُ ٱلدَّارِ ﴿٢٥﴾

الرعد

او هغه چې د الله عهد له هغه وروسته ماتوي چې ژمنه ئې پرې کړې او هغه څه قطع کوي چې الله ئې د وصلولو امر کړی او په زمکې کې فساد کوي، دوی ته لعنت دئ او دوی ته بد ټاټوبی دئ.

تجربو ښودلې چې له جهاد او مبارزې پرته اقتدار ته رسېدلي مشران؛ هغه چې په تصادف او د پچې اچولو له لاري ئې د بخت باز پر سر کښېنستی او پاچا شوی؛ نو نمرود ترې جوړ شوی؛ او داسي مفسدین ئې خوا ته راغونډ شوي چې له ولس سره ئې معامله د غلو هغي غدې ته ورته وي چې پر یوه تش لاسي کلي مسلطه شوې او هر څه ئې ترې لوټ او غارت کړي، حتی تر پښو لاندي زوړ ګېلم او د بودې مېرمني د لاس نِکلي ګوتې. مورِ هغه ولیدل چې له شوروي او امریکا سره د ننګینو سازشونو له لاري قدرت ته رسېدلي نو د خپلو مفسدو سلف او مخکینیو تور مخونه ئې سپین کړي؛ غصب، رشوت، مجلل قصرونه، په زور د خلکو

د لوړو حتی مېروښو نکاح کول، د شخصي او دولتي شتمنیو، زمکو او مانیو لوټ او تالان، استبداد، خپلسري، زور واکي، خپل ټبر او قبیله مسلطول، کله هېواد پر یوه پلورل او کله پر بل، ملا ماتوونکي مالیات، د معادنو تالان او د رشوت په بدل کې په کورنیو مافیاوو او بهرنیو شرکتونو پلورل، ملت ته سپکاوی او د اسیرانو په سترګه ورته کتل، نه د ملت ارادې ته درناوی او د شوری پر بنسټ ولاړ نظام رامنځته کول، د ټولو ملي قضایاوو او شتمنیو په اړه د هغې شوری پرېکړو ته د نهائي پرېکړو په سترګه کتل چې ملت تمثیلوي او غړي ئې د ملت وکیلان او استازي وي، نه اساسي قانون، نه د نظام او حکومت لپاره قانوني تعریف او د واکمنو او مسئولینو صلاحیتونه او مسئولیتونه ټاکل او تحدیدول؛ ... دا به د هر هغه نظام برخلیك وي چې زعیم او چارواکي ئې له لنډو لارو او د پردیو د مټو په زور پر ملت تپل شوي وي. زعیم او هغه ملګري ئې چې اقتدار ته له رسېدو وروسته د ده خوا ته راغونډېږي؛ په غرض او مرض مبتلی؛ د قبیلوي اړیکو له مخې به غوره کېږي، نه به ئې زعیم له وړتیاوو او اهلیت خبر وي، نه به ئې په سختو ورځو کې آزمویلی وي، نه ئې د تقوی، صداقت او اهلیت امتحان ورکړی وي؛ نه ده سنګر لیدلی او نه ئې ملګرو؛ نه ئې د مبارزې په لوړو ژورو کې د خپلو ملګرو ثبات، استقامت، آرمانونو ته ژمنتیا، اخلاص او صداقت لیدلی، دا ئې نه دي ترې لیدلې چې د دښمن تطمیع او تخویف په وړاندي ئې پښې نه دي ښویېدلې او مبارزه ئې په نیمه لاره کې نه ده پرېښې او ... نو دی به مخلص ملګري څنګه پېژني؟ د موفق حکومت جوړول خو له ده په زرګونو اهل او صادق شخصیتونه ایجابوي؛ څنګه به ئې پېژني او له کومه به ئې راپیدا کوي؟ د ښو شخصیتونو په اړه به د ده ټول معلومات ښایي دومره وي لکه په یوه واړه کلي کې د څو صالح شخصیتونو پېژندا، یا په کلیوالي مدرسې کې د څو تکړه طالبانو پېژندا او یا د خپل ټبر او وړې قبیلې په محدوده کې نېك افراد د هغوی له ظاهري حالت پېژندل!! دومره وړوکی شمېر صالح ملګري خو د یوې ولسوالۍ د سمې اداري لپاره هم کافي نه

دي. د ټول هېواد د سالمي لارښووني او د يوه موفق حکومت جوړولو لپاره هغه زيات شمېر وړ او اهل کدرونه به څنګه پېژني چي د وزارت، ولايت، سفارت، امنيه قومندانۍ، د فرقو او قول اردو د مديريت، سوق او اداري توان او اهليت ولري؟ رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايي: څوك چي د خپلوی، رفاقت، ... له کبله داسي څوك پر مسلمانانو وګماري چي تر ده افضل او اعلم په مسلمانانو کي وي؛ نو هغه له خدای، پيغمبر او ټول امت سره خيانت کړی.

عنِ ابنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنِ اسْتَعْمَلَ عَامِلًا مِنَ الْمُسْلِمِينَ وَهُوَ يَعْلَمُ أَنَّ فِيهِمْ أَوْلَى بِذَلِكَ مِنْهُ وَأَعْلَمُ بِكِتَابِ اللهِ وَسُنَّةِ نَبِيِّهِ فَقَدْ خَانَ اللهَ وَرَسُولَهُ وَجَمِيعَ الْمُسْلِمِينَ "

له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: چا چي له مسلمانانو کوم عامل او آمر توظيف کړ؛ په داسي حال کي چي پوهېږي په دوی کي بل داسي کس شته چي د دې کار لپاره تر ده غوره او د الله په کتاب او د پيغمبر په سنت؛ زيات پوه وي؛ يقيناً چي له الله، د ده له رسول او له ټولو مسلمانانو سره ځې خيانت کړی.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «مَنِ اسْتَعْمَلَ عَامِلًا عَلَى قَوْمٍ وَفِي تِلْكَ الْعِصَابَةِ مَنْ هُو أَرْضَى لِلَّهِ مِنْهُ فَقَدْ خَانَ اللَّهَ وَخَانَ رَسُولَه وَخَانَ جَمِيعَ الْمُسْلِمِينَ». السنة لابن ابی عاصم

له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: چا چي کوم عامل او آمر پر يوه قوم مأمور او توظيف کړ؛ په داسي حال کي چي په دې ولس کي تر ده بل څوك؛ الله تعالى ته زيات محبوب او مقبول شخص وي؛ يقيناً چي له الله سره ځې خيانت کړی، د ده له رسول سره ځې خيانت کړی او له ټولو مسلمانانو سره ځې خيانت کړی.

قال عُمرُ بنِ الخَطَّاب رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: مَنِ اسْتَعْمَلَ رَجُلاً لِمودَّةٍ أو لِقَرابَةٍ لَا يَسْتَعْمِلُهُ إِلَّا لِذَلِكَ فَقَدْ خَانَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَالْمُؤْمِنِينَ. مسند الفاروق لابن كثير

عمر رضي الله عنه فرمايلي: چا چې کوم سړی د دوستي له کبله، يا د خپلوي له کبله توظيف کړ؛ نه ئې ګماري مګر له همدې کبله؛ يقيناً چې له الله، د ده له رسول او له ټولو مسلمانانو سره ئې خيانت کړی.

الله تعالی د دې فکري او عملي انحراف، بې رحمي او فساد؛ اصلي سبب هم زمونږ مخې ته ايښی:

أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ ٱلْقُرْءَانَ أَمْ عَلَىٰ قُلُوبٍ أَقْفَالُهَآ ﴿٢٤﴾

نو آيا په قرآن کې تدبر نه کوي يا ئې پر زړونو خپل کلپونه دي.

دلته د دغو بې رحمو او مفسدو واکمنو د مخکيني بد چلن د عواملو په اړه دوه احتماله وړاندي شوي: په قرآن کې عدم تدبر او د هدايت په وړاندي د دوی د زړونو د درې بندېدل؛ يعني يا خو دوی د قرآن په هغه الهي کتاب کې له تدبر محروم شوي چې دوی د ايمان ادعاء پرې لري؛ او يا ئې د بيمارو زړونو دروازې د دې الهي کتاب د معارفو په وړاندي تړل شوې.

الف- په قرآن کې عدم تدبر

د قرآن له لارښوونو بې خبري، د ايماني مسئوليتونو په اړه ناقص او نيمګړی معرفت، د هغې لاري له لوړو ژورو او کږليچونو بې خبري چې د الله تعالی په لوري دروميږ، د اسلامي نهضت د تګلاري او د هغې د مقتضياتو په اړه جهل؛ او د کفر او ايمان تر منځ وروستۍ پوله او فاصل حد نه پېژندا؛ د دې باعث شوي چې دا ډله د خپلې تګلاري او دريځونو په ټاکلو او د وسائلو په غوراوي کې د خبط او خطأ مرتکب شي او په هر ګام کې د نفاق داعي ته لبيك ووايي.

دا موضوع د رسول الله صلى الله عليه و سلم په يوه حديث کې په

دې توګه راغلې:

عَنِ النَّوَّاسِ الْأَنْصَارِيِّ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضَرَبَ مِثْلًا صِرَاطًا مُسْتَقِيمًا عَلَى جَنَبَتَيِ الصِّرَاطِ سُورَانِ فِيهِمَا أَبْوَابٌ مُفَتَّحَةٌ، وَعَلَى الْأَبْوَابِ سُتُورٌ مُرْخَاةٌ، عَلَى بَابِ الصِّرَاطِ دَاعٍ يَقُولُ: " يَا أَيُّهَا النَّاسُ ادْخُلُوا الصِّرَاطَ جَمِيعًا وَلَا تَتَعَرَّجُوا - أَوْ قَالَ: تَتَعَوَّجُوا، وَدَاعٍ يَدْعُو مِنْ فَوْقِ الصِّرَاطِ، فَإِذَا أَرَادَ فَتْحَ شَيْءٍ مِنْ تِلْكَ الْأَبْوَابِ قَالَ: وَيْحَكَ لَا تَفْتَحْهُ، فَإِنَّكَ إِنْ فَتَحْتَهُ تَلِجْهُ، وَالصِّرَاطُ الْإِسْلَامُ وَالسُّورَانِ حُدُودُ اللهِ، وَالْأَبْوَابُ الْمُفَتَّحَةُ مَحَارِمُ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ، وَذَلِكَ الدَّاعِي عَلَى رَأْسِ الصِّرَاطِ كِتَابُ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ، وَالدَّاعِي مِنْ فَوْقٍ وَاعِظُ اللهِ فِي كُلِّ قَلْبِ مُسْلِمٍ " شعب الايمان

له النواس الانصاري روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم د يوې مستقيمي لاري مثال داسې بيان کړ: په دواړو کنارو کې ئې دېوالونه دي، چې په هغوی کې خلاصې دروازې دي او پردې پرې راځړېدلې دي، د لاري د دروازې سر کې يو داعي دئ چې وايي: اې خلکو! په دې لاري مخامخ او سيده ولاړ شئ او يوه بل لوري ته مه اوړئ او يا مه کړېږئ؛ او له لاري بر بل داعي دئ چې ټولو ته بلنه ورکوي، کله چې يو بنده د کومې دروازې د پرانيستلو اراده وکړي ورته وايي: افسوس ستا پر حال، دروازه مه پرانيزه که نه نو ورداخل به شې (له لاري به منحرف شې)، (بيا ئې هغه داسې تفسير کړ او وئې ويل): مستقيمه لار د اسلام لار ده، دېوالونه د الله حدود دي، او پرانيستې دروازې د الله محارم (هغه څه چې الله تعالى تحريم کړي) دي، د لاري سر کې داعي قرآن دئ؛ او هغه لوړ داعي هغه الهي او فطري واعظ دئ چې د هر مؤمن په زړه کې ايښودل شوی.

هو؛ څوک چې د دغو دواړو داعيانو (قرآن) او (نفس لوامه او مطمئنه)؛ بلنه او دعوت نه اوري؛ نه پرې پوهېږي، غوږونه ئې کاڼه،

سترګي ئې ړندې، زړه ئې له بيماريو تور، نفس ئې سر کښ او له مهارولو ئې عاجز؛ داسي څوك په دې مستقيمي لاري د تګ توان او اهليت نه لري؛ حتماً به له ډېرو دروازو کومه يوه پرانيزي او له سمي لاري به منحرف کېږي.

ب ـ مسخ شوی زړه

د منافقانه مواقفو او ظالمانه دريځونو او تګلارو؛ بله وجه مسخ شوی زړه دئ، هغه سپېره او بې احساس ضمير چې د شېګنې ملکات او محرکات په کې ځپل شوي، د شرارتونو، تفتين، بدکاريو او خدعو د تکرار له کبله د دوی زړونه داسي تور شوي چې د (حق) او (هدايت) لپاره په هغه کې هيڅ ځای نه دئ پاته، د زړه صفحه ئې داسي زنګ وهلې ده چې هيڅ صيقل ئې نه شي صفا کولی. لکه چې قرآن فرمايي:

فَأَعۡقَبَهُمۡ نِفَاقٗا فِي قُلُوبِهِمۡ إِلَىٰ يَوۡمِ يَلۡقَوۡنَهُۥ بِمَآ أَخۡلَفُواْ ٱللَّهَ مَا وَعَدُوهُ وَبِمَا كَانُواْ يَكۡذِبُونَ ٧٧ التوبه

نو په پايله کې ئې داسي نفاق ورپه برخه کړ چې تر هغې ورځې به د دوی په زړونو کې وي چې ورسره مخامخ شي، له دې امله چې له الله سره ئې په کړو ژمنو کې مخالفت وکړ او له دې امله چې دروغ ئې ويل.

فَبِمَا نَقۡضِهِم مِّيثَٰقَهُمۡ لَعَنَّٰهُمۡ وَجَعَلۡنَا قُلُوبَهُمۡ قَٰسِيَةٗۖ يُحَرِّفُونَ ٱلۡكَلِمَ عَن مَّوَاضِعِهِۦ وَنَسُواْ حَظّٗا مِّمَّا ذُكِّرُواْ بِهِۦۚ وَلَا تَزَالُ تَطَّلِعُ عَلَىٰ خَآئِنَةٖ مِّنۡهُمۡ إِلَّا قَلِيلٗا مِّنۡهُمۡۖ فَٱعۡفُ عَنۡهُمۡ وَٱصۡفَحۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ١٣

المائدة

نو د خپلو ژمنو د ماتولو له کبله مو ورټل او د دوی زړونه مو سخت کړل، کلمې له خپل خپل ځايه کړوي او له هغه څه ئې برخمن کېدل هېر کړل چې پند پرې ورکول کېدو او تل به د دوی له يوه او بل خيانت خبرېږې، مګر لږ ئې، نو ترې تېر شه او مخ ترې واړوه، بې شکه چې الله داسي محسنين

خوښوي.

په دې مبارکو آیتونو کې د یهودانو څو هغو خصلتونو ته ګوته نیول شوې چې الله تعالی له همدې امله ورټل او زړونه ئې ورسخت کړل، له همدې کبله د هر چا له لورې رټل شوي او هر څوک په سپکه سترګه ورته ګوري؛ او په همدې سبب له الهي هدایت محروم شوي:

- خپلې ژمنې ماتول؛ له الله تعالی او د ده له بندګانو سره خپلې ژمنې.
- د الله تعالی په کتاب کې تحریفونه کول، حق دین غلط تعبیرول او کاږه تفسیرونه کول.
- هغه لارښوونې شا ته غورځول چې د پیغمبرانو علیهم السلام په لاس ئې په برخه شوې.
- پر له پسې خیانت؛ له دوست او دښمن سره؛ له الله تعالی او د ده له بندګانو سره.
- دا خیانت په کې عام شوی؛ له لږو پرته ټول پرې اخته شوي.
- له دوی سره په معامله کې د څو لارښوونو توصیه کېږي: د دوی له کړنو سترګې پټول، مخ ترې اړول او ښېګڼه ورسره کول، دا ځکه چې الله تعالی ښېګڼې او نېکان خوښوي.

د نړۍ اقتصادي بحران

د قرآن بل اعجاز

نړۍ په دې ۲۱ مي پېړۍ کې هم له پراخو خونړیو جګړو سره مخ ده او هم له شدید اقتصادي بحران سره، جګړې ئې د امریکا له لوري او له افغانستان پیل شوې؛ عراق، سوریې، لیبیا، یمن، سودان او ... ته انتقال شوې او ورپسې اوکراین، غزې او لبنان ته؛ په دې جګړو کې هم د غرب اقتصادي بحران خپل اغېز لري او هم د دوی د وسلو جوړولو سترې کمپنۍ؛ سږ کال (۲۰۲٤م)؛ د اوکراین او غزې د جنګونو له امله؛ د غرب

سلاح جوړولو ۱۰۰ فابریکو ٦٣٤ ملیارده ډالر عوائد درلودل؛ د امریکا بهرنیو چارو وزارت وایي، تېر ۲۰۲۴ کال کې پر بهرنیو هېوادونو د دغه هېواد د پوځي تجهیزاتو پلور ۲۹ سلنه زیاتوالی موندلی وو او ۳۱۸.۷ میلیارده ډالرو ته رسېدلی!! له شك پرته ویلی شو چې د نړۍ د ډېرو جنګونو تر شا د همدغو کمپنیو لاس دئ؛ سږ کال چې د دغو جګړو له کبله ئې ٦٣٤ ملیارده ډالر تر لاسه کړي؛ په ۲۰۲۵ کې به حتماً دا هڅه کوي چې جګړې مزید تشدید کړي، لمن ئې لا زیاته پراخه کړي او نورو سیمو ته ئې وغزوي او په نورو سیمو کې هم د جګړو اورونه بل کړي. حقیقت دا دئ چې پانګوال نظام او شرکتونه ئې له مستعمراتو او د دوی تر منځ له جنګونو پرته دوام نه شي کولی. امریکا او پانګوال نظام ئې له هغې ورځې چې د یوه ستر او استعماري ځواك په توګه راڅرګند شو؛ تر نن پورې د نړۍ په ټولو جنګونو کې فعاله او ورانوونکې ونډه لري؛ د یو ویشتمې پېړۍ ټول جنګونه؛ د اوکراین د جنګ په شمول امریکا پیل کړل.

د ۲۱ مې پېړۍ له ننګونو ډك وضعیت

په دې ۲۱ مې پېړۍ کې چې انسان له علمي پلوه د مصنوعي هوش جوړولو ته او په فضاء کې تر مریخ پورې رسېدلی؛ خو په خپلو غلطو تصرفاتو سره ئې له زمکې ځان ته جهنم جوړ کړی؛ همغسې چې قرآن فرمایي:

ظَهَرَ ٱلۡفَسَادُ فِي ٱلۡبَرِّ وَٱلۡبَحۡرِ بِمَا كَسَبَتۡ أَيۡدِي ٱلنَّاسِ لِيُذِيقَهُم بَعۡضَ ٱلَّذِي عَمِلُواْ لَعَلَّهُمۡ يَرۡجِعُونَ ٤١ الروم

په وچه او سمندر کې فساد راڅرګند شو؛ د خلکو د کړنو او لاسته راوړنو له امله؛ د دې لپاره چې دوی ته د ځینو هغو عملونو خوند وروڅکو چې دوی کړي؛ په دې موخه چې راوګرځي.

یعني که نن ګورئ چې هر لوري ته فساد او تباهي خپل تور وزر

غوړولی، په وچه او سمندر کې وراني او تباهي روانه ده؛ وجه ئې د خلکو هغه عملونه دي چې له ظلم، کفر او شرك څرګندېږي. الله تعالی د ظالمانو د ظلمونو او فسادونو ځینې بدي پایلې دوی ته ورښودلې؛ اما نوري ئې او هغه چې په خپل وخت به څرګندېږي او دوی به هرو مرو ورسره مخامخ کېږي؛ باید راتلو او څرګندېدو ته ئې انتظار وکړي. په دې بد حالت سره دوی ته د ځینو بدو کړنو، ظلمونو او فسادونو خوند ورځکي؛ د دې ابتدایي سزا موخه دا ده چې دوی په خپلو تګلارو کې بیا کتنه وکړي او سمې لاري ته راوګرځي.

د زمکې د وچې او سمندر دا پراخه تباهي او وراني په دغو صورتونو کې ځان ښیي:

یو پر بل ظلم او تېری

په انساني ټولنو کې بې عدالتي، ظلم، تجاوز، یو پر بل تېری، جګړې، اشغال، د انسان د وژلو لپاره نوې نوې ټول وژونکې زهري، کیمیایي، مکروبي او اټمي وسلې جوړول او پر ښارونو، ګڼ مېشتو سیمو او کلیو ئې کارول؛ دوه نړۍ والي جګړې، درېیمه ئې راروانه، اروپا له روسیې سره جنګ ته چمتو کېږي، امریکا اوکراین ته لري واټن راکټونه ورکوي چې پر روسیې ئې ووروي؛ روسیه د اټمي وسلو کارولو ګواښونه کوي؛ د امریکا بد مست وکیلان نتنیاهو ته مشوره ورکوي چې د غزې خلاف اټمي وسلې وکاروي، ټرامپ وایي: اسرائیل باید د غزې په جنګ کې بریالی شي، دغو جګړو چې کوم هېوادونه وران کړي او ولسونه ئې هجرت ته اړ کړي؛ شمېر ئې دومره لوړ چې په انساني تاریخ کې ئې بېلګه نه مومو؛ د ملل متحد د مهاجرت اړوند اداري د راپور له مخې په ۲۰۲٤ میلادي کال کې د مهاجرینو شمېر تر ۲۸۰ ملیون اوښتی؛ یعني شمېر ئې د امریکا د پنځوسو ایالتونو تر نفوس لږ کم؛ په دې کې افغانستان او سوریې لومړی او دوهم مقام خپل کړی. په دې راپور کې دا هم راغلي چې په هره دقیقه کې لږ تر لږه ۲۰ تنه مجبور شوي؛ خپل هر څه شا ته پرېږدي او

د دې لپاره د هجرت او فرار لار غوره کړي چې له جګړو، ځورونو، تعذيبونو، اختطافونو او ترورونو وژغورل شي. دا لوی شمېر انسانان يا د تحميلي او نيابتي جګړو او ناامنيو له کبله او يا د شديد فقر او لوږې په سبب له خپلو سيمو، کليو او هېوادونو مهاجر شوي؛ پر نړۍ مسلط نظام؛ هم جنګونه زېږولي او هم فقر، لوږه او ګراني؛ د خوراکي موادو نرخونه دومره لوړ تللي چې ډېرو ته ئې پېرل ګران شوي او د ډېرو نورو ژوند ګواښي، د کورونو کرايه دومره زياته شوې چې ډېر ئې د کرايې له ورکولو عاجز شوي، دا يوازي نېستمن ملکونه نه دي چې دې بحران ځپلي؛ د نړۍ بډای ملکونه هم له شديد مالي بحران سره مخامخ شوي، لوی لوی بانکونه په افلاس اخته شوي، ستري ستري فابرېکې او شرکتونه له ماتې سره مخ او بند شوي، خپل کارګران رخصتوي، مامورين راکموي او خپل تأسيسات او ملکيتونه پلوري، له بانکونو پور اخيستونکي د خپلو پورونو له پرې کولو عاجز شوي، هغو بانکونو چې کورونه ئې ګرو کړي او په کرايه ئې ورکړي؛ د ګټې پر ځای ئې تاوان وراړولی، د سوداګرۍ په بازارونو کې د اسهامو پېر پلور بحراني ورځې تېروي، د اسهامو په پېر پلور کې دا شديد کمښت ښيي چې پېرونکي د بازار د راتلونکي په اړه مشوش دي او نه غواړي خپلې شتمنۍ د بې باوره اسهامو په پېرلو سره په خطر کې واچوي.

امريکا له دې شديد اقتصادي بحران؛ تر نورو زياته او مخکې صدمه ليدلې، ځيني کړۍ خو په دې باور دي چې په اصل کې د امريکا بحران نورو هېوادو ته غزېدلی، امريکا د سپتمبر يولسمي له پېښې وروسته او د افغانستان او عراق د جګړو د ملاماتونکو لګښتونو په وجه په دې بحران اخته شوې، که څه هم دغو عواملو د امريکا د مالي بحران په رامنځته کولو او تشديد کې مهم اغېز درلود خو د دې بحران جړۍ بايد په نورو عواملو کې ولټوو، حقيقت دا دئ چې دا بحران د نړۍ د موجود اقتصادي نظام طبيعي پايله ده، د نړۍ موجود اقتصادي نظام په سودي معاملاتو ولاړ دئ، د ټولې نړۍ د شتمنيو لويه برخه په سودي معاملاتو

کي په کار اچول شوې، يوازي امريکا، انګلستان، جرمني او فرانسې د خپلو بانکونو د ژغورنې لپاره نژدې دوه زره ملياردې ډالر عاجل مرستې تصويب کړې چې له افلاس سره مخامخ بانکونو ته ئې ورکړي، له دې حدس وهلی شئ چې د نړۍ ځومره شتمني به د بانکونو له لارې په سودي معاملاتو کې لګول شوې وي، که د دغو بانکونو تأسيسات، دفترونه، وسائل، وسائط، ورځني مصارف، د زيات شمېر مامورينو معاشات او نور امتيازات او د هېوادو هغه لګښتونه چې په اداري چارو او نظامي برخو کې ئې کوي په پام کې ونيسو؛ او دا په هر هېواد او د ټولې نړۍ په کچه له هغو پانګو سره مقايسه کړو چې د زراعت، بندونو، نهرونو او په نورو ګټورو توليدي چارو کې لګول کېږي، نو په يقين سره ويلی شو چې توپير ئې ډېر ژور او پراخ دئ، په دغو برخو کې پانګوني ډېري محدودي او د لزوم له کچې ډېري ټيټې دي.

د امريکا حکومت اوه سوه ملياردې ډالر د دې لپاره تصويب کړل چې د افلاس وهلو بانکونو اسهام ترې واخلي، ځينې خېړونکي دا کار د بانکونو د ملي کولو په لور يو ګام ګڼي، په داسې حال کې چې آزاد او خصوصي بانکونه د نړۍ په موجود پانګوال نظام کې د اساسي بنسټ حيثيت لري، د بانکونو ملي کول هغه ګام دئ چې يو وخت سوسياليستي هېوادو وآزمويو، د غرب له شديد عکس العمل سره مخامخ شول او مجبور شول چې ببرته ئې خصوصي سيکتور ته وسپاري، د امريکا حکومت همغه زړه او ناکامه تجربه تکراروي، له بانکونو سره دغو مرستو پر بازار مثبت اغېز ونه کړ او د اسهامو د پېر پلور منفي حرکت ئې متوقف نه کړی شو، د دغو مرستو له اعلان سره سره د اسهامو بازار همداسې له بحراني حالت سره مخ دئ! ښايي له بانکونو سره دا مرستې به تر يوه حده او تر لنډې مودې بحران مهار کړي خو د دائمي او بشپړ حل له عهدې ئې نه شي وتلی.

ځينې دا ګمان کوي چې د نيويارک پر تجارتي مرکز د القاعدې برید او ورپسې پر افغانستان او عراق د امريکا يرغل، د جګړې دوام، د

امريکايانو او اروپايي هيوادو درانه مالي لګښتونه چې په شلو کلنو کې ئې د افغانستان، عراق او نورو جنګونو کې درلودل، نژدې دوه لکه شل زره فوځ ئې داسي جګړې ته سوق کړ چې ملاماتوونکي لګښتونه ئې ترې غوښتي، پر امريکايي بانکونو د شتمنو بې باورې او خپلې پانګې ترې ايستل؛ هغه عوامل وو چې امريکا او ورپسې نړۍ ئې له دې بحران سره مخامخ کړه. په دې کې شک نه شته چې دغو عواملو خپل ژور اغېز درلودو؛ خو د بحران لړۍ تر دې د مخه پيل شوې وه، دغو پېښو هغه تسريع کړه، ډېر ځېرونکي په دې باور دي چې دا بحران د نړۍ په اقتصادي نظام کې ژوري جړې لري او له دې پرته چې په نظام کې اساسي تبديلي راشي؛ حل کول ئې ممکن نه دي، عاجل او لنډ مهاله اقدامات دا بحران نه شي حل کولی. ځينو هېوادو له بحران سره د مقابلې لپاره په وار وار د سود شرحه راکمه کړه او د هغو اقتصاد پوهانو په مشورو ئې عمل وکړ چې وايي د سود زياتوالي بحرانونه زېږولي، که راکم نه کړی شي نو نړۍ به له سترو سترو اقتصادي بحرانونو سره مخامخ کړي. ډېرې اقتصاد پوهان او د اقتصادي چارو ځېرونکي لا د مخه په دې باور ول او خپله رأيه ئې په وار وار او د هر بحران په دوران کې څر ګنده کړې چې د اقتصادي بحرانونو د مخنيوي چاره دا ده چې د سود شرحه صفر ته نژدې کړی شي، دوی په قاطع الفاظو ادعاء کړې چې بانکونه مجبور دي په نژدې راتلونکي کې د سود شرحه صفر ته ورسوي او دا يعني د سود تحريم.

او دا همغه څه دي چې قرآن څوارلس پېړۍ مخکې ويلي، کوم څه چې اسلام څوارلس سوه کاله مخکې حرام کړل منصف اقتصاد پوهان ئې نن د تحريم وړاندیز کوي!! اسلام سود حرام کړی، هغه ئې له خدای او پيغمبر سره جنګ ګڼلی، د سود خورو په ضد ئې د جنګ اعلان کړی، وايي ربا د سود خورو په نظر کې د ګټې وسيله برېښي خو په حقيقت کې او د الله تعالی په نزد کې د زيان سبب دۀ، سود خور داسي ګڼي لکه مخبوط الحواس انسان چې د ګټې او تاوان له پېژندو عاجز او شيطان د

ده معيارونه ګډ وډ کړي وي. آيا دا د قرآن يو بل علمي اعجاز نه دئ چي نړۍ وال ئې نن په خپلو سترګو ګوري، نن د نړۍ مشهور او منصف اقتصاد پوهان د هغه څه د تحريمولو وړاندیز کوي چي د قرآن له لوري څوارلس سوه کاله مخکې تحريم شوی؟!

سود يعني د بې وزلې او محتاج انسان له مجبوريت ظالمانه او بې رحمانه استفاده، هغه انسان چي د خپلو ضروري او حياتي اړتياوو لپاره څه نه لري، له بل پور اخيستو ته اړ شوی، بډای ته مراجعه کوي او دا بې رحمه او همداسي فرصت ته منتظر شتمن هغه ته د ګټې په مقابل کې تر يوې مودې پور ورکوي، په دې معامله کې پور ورکوونکی له زياره پرته ګټه تر لاسه کوي او پوروړی د مجبوريت او بې وزليتوب په سبب تاوان په غاړه اخلي. د نړۍ اوسنی اقتصادي نظام پر دغه بنسټ ولاړ دئ او دا اوسنی نړۍ وال بحران له دغې سودي معاملې راولاړ شوی. له بحران د وتلو چاره همغه ده چي پيغمبر عليه السلام د مکې د فتحي په ورځ اعلان کړه، په خپلې هغې تاريخي وينا کې ئې اعلان وکړ چي "ټولې سودي معاملې زما تر پښو لاندي دي، لومړی سود چي بطلان ئې اعلانوم زما د تره عباس سود دئ، د پانګې خاوند يوازي د خپل پور تر لاسه کولو حق لري، سود او ګټه ئې لغوه ده"، خو دې ته بايد متوجه وو چي د اسلام هر حکم د يوه بشپړ نظام يوه نه بېلېدونکې برخه ده، نه په يوازي توګه پلي کېدی شي او نه هغه نتيجه ورکوي چي د بشپړ اسلامي نظام په سيوري کې ئې ورکوي. په يوازي توګه د اسلامي احکامو پلي کول داسي دي لکه څوك چي په يوه غير اسلامي نظام کې له چارواکو غواړي چي شرعي حدود جاري کړئ!! د غلو لاسونه قطع کړئ، زانيان رجم او شرابخواره په درو ووهئ!! عجيبه ده، ډېره ډېره عجيبه!! له لويو لويو او د اقتدار پر کرسيو ناستو غلو غواړي چي د وړو وړو غلو لاسونه قطع کړئ، د رڼا ورځې له قانوني غلو غواړي چي د شپې غله مجازات کړي، له هغو چارواکو د زنا او شرابو حدود جاري کول غواړي چي د اخلاقي فساد په ناولي ډنډ کې ترستوني غرق دي او ډېرى ئې

حراموني!! دغو جنابانو ته وايو: آيا پيغمبر عليه السلام له ابوجهل داسي کومه غوښتنه کړې؟! آيا په مکه کې او د ابوجهل تر واکمنۍ لاندې ئې حدود جاري کړي؟! نه پوهېږو تاسو د چا کړنلاره خپله کړې او د چا په سنت عمل کوئ؟!

يا ئې مثال هغو خلکو ته ورته دئ چې د امريکايانو د جهازونو تر وزر لاندې اشغال شوي افغانستان کې ئې په هغو انتخاباتو کې برخه واخيسته چې امريکايانو په دې موخه تر سره کول چې د افغانستان اشغال توجيه او هغه ته د ديموکراسۍ راوستو نوم ورکړي، دغو جنابانو چې هم ئې له خپل ځان سره خدعه او دوکه کوله او هم له خپل خداى سره او غوښتل ئې ولس وغولوي؛ خلکو ته ويل چې مور غواړو د پارلمان له لارې اسلام ته خدمت وکړو!! دوى د امريکايانو له لورې وړاندې شوي اساسي قانون او په بن کې جوړ شوي حکومت ته رأيه ورکړه، امريکايي حکومت ته ئې د (جمهوري اسلامي افغانستان) نوم ورکړ، او همدا ئې اسلام او هېواد ته ستر خدمت ګڼلو، په داسي حال کې چې دوى له اشغالګرانو سره مرسته او ملګرتيا کوله او هغه څه ئې کول چې امريکايانو ترې غوښتل، امريکايان د داسي چا په لټه کې ول چې د دوى لاس پوڅي حکومت ته اسلامي کميس او پرتوګ ورواغوندي او هغه يو منتخب حکومت وګڼي!!

د دې مطلب په لوستلو سره به ځيني حتماً دا پوښتنه کوي چې حزب اسلامي ولې په انتخاباتو کې شرکت وکړ؟ پوښتونکي به ئې يا هغه وي چې په انتخاباتو باور نه لري او د سازشونو له لارې قدرت ته رسېدل ئې مسلك او مذهب دئ؛ تل له بهرنيو سره د پټو معاهدو له لارې قدرت ته رسېدلي؛ او د هغوى په جهازونو او ټانکونو کې هېواد ته راانتقال شوي؛ يا هغه چې نه پوهېږي حزب اسلامي په انتخاباتو کې ولې شرکت کړى، هدف ئې څه وو او په دغو انتخاباتو کې ئې څه کړي او څه تر لاسه کړي؟ ښايي دوى به له دې هم خبر نه وي او يا به ئې په اهميت نه پوهېږي چې حزب اسلامي په دې انتخاباتو کې دومره ستر او اغېزمن

فکري او دعوتي کار کړی چي د نهضت له پيل تر دې ورځي پوري ئې نه وو کړی؛ په لسګونو ستري ستري غونډې؛ په کابل، ګردیز، خوست، جلال آباد، کنر، پروان، کاپیسا، بدخشان، تخار، هرات، کندهار، میدان... کي، او په دې پرتمینو او منظمو غونډو کي د ولس دومره پراخ حضور چي هیڅ انتخاباتي ټیم؛ د برحال جمهور رئیس په شمول؛ نه دئ توانېدلی چي د غونډو د شمېر، نظم او د ولس د پراخ مشارکت له پلوه د حزب له غونډو سره سیالي او برابري وکړي؛ دا لومړی ځل وو چي حزب اسلامي ته د داسي پراخو غونډو او بې مثاله سترو سترو تظاهراتو فرصت په لاس ورغلی وو؛ الحمد لله چي له دې فرصت اعظمي استفاده وشوه؛ که چا دا غونډې او تظاهرات په خپلو سترګو لیدلي وي او یا ئې ویډیوګاني وویني؛ د اشغال، اشغالګرانو او د دوی د لاسپوڅو حکومتونو د جناياتو په اړه د دې غونډو ویناوي او له شور او ځورِ ډك امریکا ضد شعارونه واوري؛ د بهرنیو ځواکونو پر بلا قید او شرط او فوري وتلو او د لاس پوڅي حکومت پر استعفاء د ویناوالو او شعار ورکوونکو ټینګار ته ځیر شي؛ نو له شك پرته به حتماً اعتراف وکړي چي د اشغالګرانو پښې همدغو غونډو او تظاهراتو ولړزولې؛ دا ځکه چي دوی تر دې وړاندي ګمان کولو چي وسله وال مخالفین په اطراف او کلیو کي دي او د کلیوالو څه نا څه حمایت ورسره دئ؛ خو ښارونه او هستوګن ئې د کابل له حکومت او په دې حکومت کي له شامل ډلو سره دي؛ او دا په داسي حال کي چي د افغانستان ډېرى خلك په ښارونو کي اوسي؛ د حزب اسلامي دغو بې ساري او بې سابقې پرتمینو غونډو او سترو سترو تظاهراتو دوی ته وښوده چي په خپلي محاسبې کي غلط شوي دي؛ د ښار مېشتو غوڅ اکثریت هم د اشغال او لاسپوڅي حکومت ضد دي او د اشغالګرانو فوري او بلا قید او شرط وتل غواړي. د امریکا خلاف جهاد؛ هم له فکري پلوه د حزب اسلامي مؤمنو مجاهدینو پیل کړ او هم له نظامي پلوه؛ ۱۷ کاله وجنګیدل، هغه مهال ئې د مشروط سولې لار غوره کړه چي اوباما له سپیني مانۍ اعلان وکړ چي د ۲۰۱۶م کال تر پای پوري به هیڅ

امريکايي سرتېرې په افغانستان کې نه وي، تر ۹۰٪ زيات ئې وتلي وو او پاته ئې د وتلو په حال کې؛ حزب اسلامي دا غلطي ونه کړه چې د نورو ډلو په څېر له روسي او امريکايي اشغالګرانو سره د افغانستان د راتلونکي په اړه پټ سازشونه وکړي؛ او له دې لاري ارګ ته ورسېږي؛ تل ئې ټينګار پر دې وو چې د هېواد د راتلونکي په اړه بايد په خپله افغانان تصميم ونيسي او هره معاهده او تړون بايد د پرديو له مشارکت پرته؛ يوازي د افغانانو تر منځ وي. که حزب اسلامي له بهرنيو سره د سازشونو او يا د حريف او رقيب خلاف د زور او وسلې کارولو له لاري قدرت ته رسېدل غوښتی؛ نو هم به د شوروي ځواکونو د وتلو په وخت کې اقتدار حزب اسلامي ته سپارل شوی وو او هم د امريکايي ځواکونو د راتلو او تلو په وخت کې؛ او په پېښور او کويټه کې هغه جوړې شوې ډلې به هم هيڅکله نه وې رامنځته شوې چې امريکايانو د حزب اسلامي خلاف جوړې کړې.

بايد په دې پوه وو چې اسلامی نظام يوازې له هغې لاري راتلی شي چې پيغمبر عليه السلام غوره کړه، څوک چې نوري لاري لټوي او غوره کوي؛ نه په اسلام پوه دئ او نه ورته مخلص او وفادار، د پيغمبر عليه السلام په سنت د عمل کولو معنی دا ده چې موږ به د اسلامی انقلاب راوستو لپاره په همغه لار درومو چې زمونږ ګران پيغمبر پرې تللی، که پيغمبر عليه السلام د ابوجهل په دارالندوة (پارلمان) کې د غړيتوب تر لاسه کولو او له دې لاري اسلام ته د خدمت کولو طريقه نه وه غوره کړې، بلکې د هجرت، جهاد او شهادت لار ئې اختيار کړه، مدينې ته ولاړ او جهاد ئې پيل کړ، دا اسلام ته د ژمنتيا دروغجن مدعيان څنګه پر پيغمبر عليه السلام د ايمان دعوی هم کوي او د اسلام د ستر او تر ټولو خطرناك دښمن په خوا کې د ودرېدو او له هغه سره د ملګرتيا ګناه هم، په افغانستان کې د امريکايانو نظامی حضور جائز او ضروري ګڼي، د مجاهدينو په ضد د جنګ فتوی ورکوي او له امريکايانو په وار وار او په زاريو زاريو غواړي چې د مجاهدينو په ضد ئې جنګ ته واستوي او دا دنده دوی ته وسپاري!! خو امريکايان ترې انکار کوي او ورته وايي:

ستاسو فتوی کافي ده!! عجیبه ده د امریکایانو په فعال حضور او تر بشپړ اشغال لاندي؛ د ابوجهل ډوله دارالندوة (لویي جرګې او پارلمان) کي د غړیتوب تر لاسه کولو او په اقتدار کي د مشارکت هلي ځلي کوي، او همدا قبیح او شنیع خیانت او منافقت؛ اسلام ته د خدمت په نامه یادوي!! مور پر هغو اعتراض نه لرو چي د اشغال په دوران کي؛ یا د مجبوریت له امله او یا د مبارزې لپاره؛ د هېواد دننه پاته شوي؛ او خپل کور او دفتر ئې د مبارزې سنګر وو. رسول الله صلى الله عليه و سلم ۱۳ کاله په هغي مکه کي تېر کړي چي ابوجهل ئې واکمن وو او شرك ئې دین او مذهب؛ کعبه او مسجد الحرام ئې له بتانو ډك. هغه مهال ترې وتلی چي له دې پرته ئې بل بدیل نه درلود؛ او فرمایل ئې: که قریشو نه وی مجبور کړی؛ له مکې نه وتلم!!

د زمکي د تودوخي زیاتېدا

د انسان هغه ناوړه تصرفات چي له کبله ئې د زمکي چاپېریال له داسي خطرناکو ګواښونو سره مخامخ شوی او د تودوخي درجه ئې په داسي سرعت سره زیاتېږي چي که ژر او له ځنډ پرته ئې چاره ونه شي؛ د زمکي پر سر د انسان ژوند به ناشونی کړي؛ په ۲۰۲٤ میلادي کال کي چي د نړۍ په ډېرو هېوادونو کي؛ د افغانستان په شمول؛ ستر ستر طوفانونه، ورانوونکي سیلابونه، د سختي تودې هوا څپې، د ځنګلونو سوزېدا، د زمکي د لوړو او د شمالي او جنوبي قطبونو د واورو د ذخائرو ویلي کېدا، د سمندرونو د اوبو د سطحي لوړېدا رامنځته شول او ډېر ساحلي ښارونه او د ساحل ژۍ کي پرتې سیمي ئې د غرقېدو له ګواښ سره مخ کړې؛ د دې ټولو ناخوالو لوی عامل په خپله انسان او له طبیعت سره د هغه دښمني او د ده غلط تصرفات دي. د اقلیمي چارو ځیني پوهان په دې باور دي چي د شلمي پېړۍ وروستۍ لسیزې؛ په تېرو ٤۰۰ کلونو کي تر ټولو زیات ګرم کالونه وو؛ همدا محققان وایي چي تر ۲۱۰۰ پوري به د زمکي حرارت دومره لوړ شي چي ډېرې سیمي به له

شديدو وچکاليو، ډېرو تودوخو او وحشتناکو طوفانونو سره مخ شي، ډېر نهرونه، کاريزونه او چينې به وچې شي، د زمکې لاندې اوبو سطح به په بې ساري پيمانه ټيټه شي. د اقليمي تغييراتو دا لړۍ او بدي پايلې ئې له هغه مهال پيل شوي او په سريع توګه پراخېږي چې انسانانو د فسيلي سوند (نفت، ګاز، د ډبرو سکاره...) په پراخه پيمانه کارول او سوزول پيل کړل؛ په دې کې لويه ونډه د هغو صنعتي هېوادو او د دوی د سترو سترو فابريکو وه چې د سوند په دغو توکيو چلېږي؛ ډير دود او لوخړې فضاء ته لېږي، د فضاء ککړتيا رامنځته کوي او د زمکې اتمسفر کې د هغو ګازونو کچه زياتوي چې د زمکې د تودوخې په زياتولو کې ډېر اغېز لري؛ دا د کاربن دای اکسايد او ميتان په څېر ګازونه دي چې د زمکې په فضاء کې د داسې پرېږي پردې په رامنځته کېدو منتج کېږي چې د زمکې د تودوخې درجه زياتوي او نه پرېږدي د زمکې هغه تودوخه چې د ورځې له لورې او د لمر د تودو وړانګو له امله رامنځته شوې؛ د آسمان په پراخې غېږ کې خوره شي او د زمکې د حرارت درجه متعادل پاته شي. که انسانان توانېدلې وی چې د صنعتي انقلاب په پيل کې ئې د فسيلي سوند پر ځای د انرژي نور بديلونه تر لاسه کړي وی؛ لکه د لمر، د بادونو او د سمندر د څپو انرژي؛ نو له اوسنيو خطرناکو ګواښونو سره به نه مخامخ کېدو؛ که نن همدا کار وشي؛ انسان او زمکه به ئې له تباهي وژغورل شي؛ خو د دې په وړاندې لوی خنډ صنعتي هېوادونه او په سر کې ئې امريکا ده؛ هر ځل چې د ملل متحد اړوند ادارو غوښتي چې صنعتي هېوادونه د زمکې د اقليم په اړه پر يوه ميثاق (کنوانسيون) توافق وکړي؛ او د زمکې په فضاء (اتمسفر) کې د دغو ګازونو غلظت په داسې سطح کې وساتل شي چې خطرناک نه وي او د زمکې هستوګن ونه ګواښي؛ خو هر ځل چې ئې صنعتي هېوادونه په دې موخه راغونډ کړي چې د زمکې د سريع تودېدو د مخنيوي لپاره لازم تصميم ونيسي او د دغو ګازونو د توليد کچه راکمه کړي؛ امريکا ئې مخالفت کړی!! يعني چې د زمکې بقاء او د انسانانو سلامتيا؛ د امريکا په څېر صنعتي هېوادو او د دوی پانګوال

نظام له مهلك ګواښ سره مخامخ کړي او د هلاکت کندي پر ژۍ ئې ودرولي.

دې انځورو ته ځير شئ او وګورئ چې يوه يوه فابريکه څومره دود فضاء ته لېږي:

که د نړۍ ظالمانه اقتصادي نظام ته ځير شو، نو ګورو چې دې نظام يوه ته داسي ژوند ورپه برخه کړی چې کور او ګور ئې سره ورته دي، دواړه تنګ او تياره، له خاورو او خټو جوړ شوی کور او ګور، د خوراك لپاره وچه ډوډۍ او د څښاك لپاره پاکي اوبه نه لري، خو بل ته داسي ژوند چې هم ئې کور قصر دئ او هم ئې ګور، د اوسېدو کور ئې داسي چې مخکينيو فرعونانو او امپراطورانو په خوب کې هم نه وو ليدلي، او

گور ئې دومره ستر چې سپينه مانۍ تړې وړه برېښي، د ايران پر زيارتونو جوړ شوي قصرونه د اروپا د ټولو جمهورو رئيسانو تر قصرونو ډېر ستر او ډېر اشرافي دي او د دغو دولس امامانو د ديارلسم امام قبر خو پرېږده چې څه دئ او څومره ستر، دا په داسي حال کې چې د دغه ايران په اطراف کې او حتى د تهران په جنوب کې داسي خلك هم شته چې د گور په اندازه کور هم نه لري، عجيبه لا دا چې پر قبرونو جوړ شوي ستر ستر قصرونه د هغو بې وزلو په شکرانو او نذرانو جوړ شوي چې کور او گور ئې د خاورو او خټو دي، په دې کې هيڅ شك نه شته چې نن په نړۍ کې د خوار او بډاى تر منځ ورځ په ورځ زياتېدونکى واټن دومره ژور دئ چې په انساني تاريخ کې ئې بيلگه نه شو موندلى.

كاغذي بانكنوټونه او بدي پايلي ئې

كله چې د انسانانو تر منځ د پېر پلور لړۍ پيل شوې نو راکړه ورکړه ئې جنس د جنس مقابل کې وه؛ چا غوښه او غوړي په غنمو او جوارو پلورل؛ او چا اوښان په آسونو او خرو بدلول؛ تر خپل ضرورت زيات څه ئې په هغه بدلول چې ورته اړ وو؛ ډېر وروسته او هغه مهال چې انسانانو سره او سپين زر كشف كړل او وتوانېدل چې له سرو او سپينو زرو لوښي او گاڼې جوړې كړي؛ همدا دواړه په مرغوب او قيمتي جنس بدل شول؛ ورو ورو ئې داسي مقام وموند چې د نورو توكيو او اجناسو د تبادلې او پېر پلور وسيله شي؛ او د درهم او دينار سكې ترې جوړې شي؛ هم ئې ساتل آسان وو او هم انتقال، نه ئې د ورستېدو وېره وه او نه ئې انتقال جوال او اوښ غوښتلو. دا هم جنس د جنس په بدل کې معامله وه؛ د هر څه بيه هغه ته اړتيا او ضرورت ټاكله؛ يو مهال به واكمنو د خپلې خوښې خلكو ته داسي سندونه وركول چې له مخې به ئې له خزانې او بيت المال خاص مقدار جنس تر لاسه كولو؛ دا سندونه به داسي وو لكه د نن ورځې بانكنوټونه، خو كله چې د چاپ وسائل رامنځته شول او د راكړې وركړې لپاره د اسنادو تبادله رائج شوه؛ دغه

اسناد ورو ورو په کاغذي اسعارو بدل شول؛ که څه هم دې انکشاف په تجارتي معاملاتو کې تسهیلات رامنځته او د خلکو ستونزې ئې راکمې کړې؛ خو بدي پایلې ئې دومره زیاتې وې چې ویلی شو د دې پېړۍ تر ټولو ستره مالي ستونزه همدا ده؛ دا اسعار اوس په غیر معتبر او جعلي اسنادو بدل شوي؛ حکومتونه کولی شي؛ څومره چې ئې زړه غواړي پیسې چاپ کړي؛ دې ته ځان ملزم نه ګڼي چې په خزانه کې ئې باید یوازې هغه مال او پانګه وي چې له مشروع او قانوني لارو تر لاسه شوي؛ هر غیر قانوني بانکنوټ چې بازار ته عرضه کوي په حقیقت کې ئې یو جعلي سند سپارلی او له ناوړه اغېز ئې خپل ولس ته زیان رسولی؛ هر څومره چې دا بانکنوټونه زیاتېږي همدومره به قیمتونه لوړ ځي؛ اسعار به غیر واقعي وي او ارزښت ئې کاذب؛ د یوه ارزښت به بې دلیله لوړ ځي او د بل ټیټ؛ تاوان ئې ولس پرې کوي؛ دا په حقیقت کې له ولس سره غدر او دوکه ده او په جعلي اسنادو د دوی غولول دي.

څو مثالونه د دې مطلب په توضیح کې مرسته کوي:

۱- که یو حکومت وغواړي په ارمنو هغه غنم ووېشي چې په خپلو ګدامونو کې ئې ذخیره کړي، هر چا ته داسي لیکلی سند ورکړي چې له مخې ئې کولی شي معین مقدار غنم له ګدام تر لاسه کړي، ځینې تر غنمو بل څه ته زیات ضرورت لري، دا سند پر بل پلوري او خپل مشکل حلوي؛ دا سند د اعتبار او ارزښت له پلوه کټ مټ داسي دئ لکه د پیسو کاغذي بانکنوټونه؛ حکومت د غنمو دومره سندونه ورکولی شي چې په ګدامونو کې د شته غنمو تر مقدار زیات نه وي؛ هر اضافي سند غدر او دوکه ده او د ستونزو باعث؛ که دا بې اعتباره اسناد هر څومره زیات وي؛ د غدر د زیاتولي په معنی دئ او د ولس تر منځ د ستونزو د زیاتېدو عامل. همداسي د هېواد ملي بانك مکلف دئ په ټول هېواد کې یوازې دومره اسعار ولري چې د دولت د مالي زېرمو معادل وي؛ تر دې مقدار زیات بانکنوټونه بازار ته وړاندي کول له ولس سره غدر دئ او د اجناسو د قیمت لوړېدا ستر عامل.

٢- بريتانيا د هند نيمه وچه په داسي حال کې اشغال کړه چې نژدې اته پېړۍ مسلمانانو پرې حکومت کړی وو، جنګ ئې له مسلمانانو سره وو، هندوانو ئې ملګرتيا وکړه؛ د دې غني سيمي د دائمي اشغال، پر ټولو زېرمو ئې د بشپړ تسلط او د خپلو کمپنيو په واک کې سپارلو په موخه راغلل، په هند کې د سرو زرو سکه رائج وه، دا سکه ئې په کاغذي بانکنوټونو تعويض کړه؛ د سکو رواج پای ته ورسېدو او ځای ئې بانکنوټونو ونيولو او د لوی هند ټولې سکې ئې د کوه نور الماس په څېر له قيمتي ډبرو سره يو ځای لندن ته انتقال کړې. د وتلو په وخت کې ئې د هند اقتدار هندوانو ته وسپارو، مسلمانان ئې په دريو برخو؛ شرقي پاکستان، غربي پاکستان او په هند کې پاته مسلمانان؛ ووېشل او دا ځکه چې د عدم وېش په نتيجه کې به د بريتانيا له وتلو وروسته؛ د هند اقتدار بيا د مسلمانانو لاس ته لوېدو؛ بريتانيا په خپلو ټولو مستعمراتو کې همدا کار کړی؛ هغه ئې وېشلي او په دې سره ئې له اقتدار محروم کړي چې د دوی په خلاف جنګېدلي وو؛ اقتدار ئې هغو اقليتونو ته سپارلی چې په اشغال کې ئې د دوی ملګرتيا کړې؛ نه يوازې د هند مسلمانان ئې په دريو برخو ووېشل بلکه بلوڅان ئې د دريو هېوادو؛ افغانستان، پاکستان او ايران تر منځ ووېشل، کشميريان ئې په دوو؛ هندي او پاکستاني کشمير ووېشل. هندوانو نه پر وېش اعتراض کړی او نه ئې له بريتانيا د خپلو غارت شويو سکو مطالبه کړې؛ شوروي او امريکا هم له افغانستان او افغانانو سره همدا معامله کړې؛ د وتلو په وخت کې ئې اقتدار داسي چا ته سپارلی چې له يوې خوا د هغو د راتلو مخه پرې ونيسي چې د اصلي او خطرناک دښمن په سترګه ئې ورته کتل او له بلې خوا په راتلونکي کې نه يوازې له دوی د جنګي غراماتو مطالبه ونه کړي بلکې دې ته هم چمتو وي چې د دوی د کرايي او نيابتي جنګيالیو په توګه عمل وکړي او د هغو خلاف وجنګېږي چې د مسکو او واشنګټن نړۍ وال او سيمه ايزو رقيبان دي!!

٣- د نجيب حکومت له نسکورېدو وروسته ائتلافي حکومت چې په

حقیقت کې د کابل علاقه داری حکومت وو؛ د روسانو په خوښه او د امریکا په موافقه جوړ شوی وو؛ مأموریت ئې د شوروي اتحاد نیمګړی جنګ بشپړول او تر هغه جاري ساتل چې د مجاهدینو اسلامي حکومت جوړیدو امکانات او ګواښ پای ته ورسېږي؛ افغانۍ ورته مسکو چاپولې، یوه برخه ئې د کابل تش په نامه جمهور رئیس ته لېږلې، یوه برخه ئې په مسکو پوري تړلو ډلو او مزدورو څېرو ته او بله برخه ئې په ډالرو بدلولې او دا د هغو وسلو او مهماتو بیه ګڼل کېده چې مسکو به د مشهد له لارې پنجشیر او خواجه بهاء الدین ته لېږلې؛ په دې توګه د افغانیو ارزښت په بې ساري توګه ولوېدو، ګراني او قیمتي دومره زیاته شوه چې زغمل ئې ولس ته ناشونی شو؛ خو ښاغلي بې پلازمېنې او سیار جمهور رئیس به د دې دردوونکي حالت د توجیه او دفاع په ارتباط ویل: د دوهم نړۍ وال جنګ له کبله په جرمني کې د دې هېواد د کرنسۍ ارزښت دومره ټیټ شو چې جرمنیانو به د څو ډوډۍ پېرلو لپاره یوه بوجۍ پیسې نانوایي ته ورکولې!! دا به ئې هم ویل: الحمد لله موږ خو لا هغه ځای ته نه یو رسېدلي!!

٤- له هغه تحول وروسته چې امریکایي اشغالګران له افغانستان ووتل؛ خو محدودیتونه او محاصرې ئې پر افغانانو اعمال کړې؛ د افغانیو د چاپ په شمول؛ یوه ښاغلي چارواکي چې د بشپړ اسلامي نظام دعوی ئې هم کوله وویل: موږ پرېکړه کړې چې مطبعه واخلو، افغانۍ په خپل وطن کې چاپ کړو او څومره چې مو زړه غواړي همدومره چاپ کړو!! ده ته دا مهمه نه وه چې دا کار جائز دئ که حرام او ناجائز، په دې هم نه پوهېدو چې دا غیر اسلامي کار څومره ظالمانه دئ او څومره بدي پایلې لري.

٥- همدا نن ٢٠٢٥ کال کې؛ د امریکا متحده ایالات نژدې ٣٤،٩٥ ټریلون ډالر پورې ده؛ یعني هر امریکایي نژدې ١٠٥٩٠٠ ډالر پورې دئ؛ له هر چا سره به دا پوښتنه راولاړېږي چې امریکا له چا پورې ده؟ له نورو هېوادو که له خپل ولس او داخلي شرکتونو؟ د دې ستونزې جړې

چېري دي؟ ځواب دا دئ چې دا ستونزه له هغو بانکنوټونو او بها لرونکو اوراقو زېرېدلې چې دولتونه او د هغوی بانکونه ئې له مدرك او متکاء پرته بازار ته وړاندي کوي؛ کله چې دولتونه له مالي ستونزي او د بودجې له کسر سره مخ شي، د قانوني او مشروع مدارکو، مالیو او ټکسونو له لاري تر لاسه شوي مبالغ د لګښتونو لپاره کفایت نه کوي؛ نو د دغو بې متکاء مالي اوراقو او اسنادو له لاري خپله ستونزه حل کوي؛ د امریکا د څو ټېرو جمهورو رئیسانو په دوران کې؛ د ټرامپ او بایدن په شمول؛ د هر یوه په دوران کې دا پورونه تر یو ټریلیون زیات علاوه شوي؛ دواړه جمهوري غوښتونکي او دیموکراتان غواړي دا پورونه راکم کړي؛ خو دې هدف ته د رسېدو بېلي بېلي حل لاري وړاندي کوي؛ یو د مالیاتو زیاتولو او بل د لګښتونو کمولو له لاري هڅه کړې ستونزه حل کړي؛ خو هیڅ یو ئې نه دئ توانېدلی؛ بحران حل یا راکم کړي او یا ئې د زیاتېدو مخه ونیسي! د متحده ایالاتو دا ستونزه په اصل کې د امریکا فدرالي (مرکزي) حکومت رامنځته کړې؛ تاوان ئې ایالتونه پرې کوي؛ د مرکزي حکومت لګښتونه زیات شوي؛ په ځانګړې توګه د هغو جنګونو له کبله چې د نړۍ په ګڼ شمېر هېوادونو کې ئې پیل کړي او د امریکا فوځ په کې شکېل شوی؛ د بودجې له کسر سره مخ شوی او دا ستونزه ئې د بها لرونکو اوراقو له لاري حل کړې.

ډیجیټل کرنسي

دامریکا د مرکزي بانك په هڅه او ابتکار؛ د ډیجیټل کرنسي په نامه داسي مجازي کرنسي په بانکي تعاملاتو کې رائج شوه چې د بها لرونکو مالي اوراقو ځای ناستې شي، که څوك غواړي په دې بهیر کې شریك شي؛ نو له اړوند مالي مؤسسې به د معین مبلغ په بدل کې مالي اعتبار پېري؛ هغه ورته یو حساب پرانیزي او داسي خاص رمز او شفر ورکوي چې له ده پرته بل څوك ورته لاس رسی ونه لري؛ د حساب خاوند کولی شي د همدغي مؤسسې له لاري تجارت او پېر پلور وکړي؛ پرته له دې چې له

یوه ځای بل ځای ته د بها لرونکو اوراقو لېږدولو ته اړ شي او یا کوم بانك ته د مبلغ د انتقال لپاره کمیشن ورکړي؛ په دې توګه هم په مالي راکړه ورکړه کې سهولت رامنځته شوی او هم سرعت؛ بیت کوین لومړۍ ډیجیټل کرنسي ده چې رامنځته شوه، مهندس او رامنځته کوونکی ئې په مستعار نوم ساتوشي ناکاموتو (Satoshi Nakamoto) دئ؛ تر ننه نه دئ پېژندل شوی چې دی څوك دئ؛ کوم فرد دئ که کوم شرکت یا په کوم دولت پورې تړلې پټه اداره؟! نن او همدا اوس چې زه دا مطلب لیکم یو بیت کوین ۹۷,۵۵۳ ډالر دئ؛ په داسي حال کې چې په ۲۰۱۳ کې د هر بیت کوین ارزښت ۲۲۰۰۰ ډالر وو. د بها لرونکو اوراقو په پرتله د دغو ډیجیټلي اسعارو لویه ستونزه دا ده چې اخیستونکی ئې له ډیجیټلي رمز پرته هیڅ تضمین په واك کې نه لري؛ ترویج، شهرت او اعتبار ئې په دې پورې تړلی چې ستر شرکتونه او مالي مؤسسې په خپلو مالي تعاملاتو کې اعتبار ورکړي؛ له پېر پلور او په نورو اسعارو بدلول ئې؛ اوس قمار ته ورته لوبه جوړه شوې؛ هغه ئې کاروي چې غواړي د قمار په څېر له آسانه او لنډو لارو د ډېري شتمنۍ خاوند شي؛ د ځینو هیلي تر سره شوې خو ډېرو خپل شته هم بایللي او لاس تر زني لاندي کښېنستا ئې په برخه شوې.

که څوك غواړي پوه شي چې د ډیجیټل کرنسي حکم به د اسلام له نظره څه وي؟ هغوی ته وایو: اسلام یوازي داسي پیر پلور، تجارت او مالي تبادله جائز ګڼي چې هممهال، لاس په لاس او د طرفینو په رضایت او موافقه وي، معتبر شاهد یا ډاډمن تضمین په منځ کې وي؛ د ډیجیټل کرنسۍ په معامله کې دا ضروري شرائط نه مراعات کېږي، نه په معامله کې معتبر شاهد حضور لري او نه عملي تضمین؛ یو لوری داسي دئ لکه د بیت کوین مخترع او مهندس چې هویت ئې هم څرګند او واضح نه دئ!! پر دې سر بېره د ډیجیټل کرنسۍ له پیدایښت او ترویج تر ننه پورې په وار وار لیدل شوي چې هم ئې په حساب کې د جمع کولو په ارتباط ستري جعلکارۍ او درغلۍ شوې او هم ئې په ایستلو کې؛ همدا

سږ کال (۲۰۲۵) م د فبروري میاشت کې ۱،۲ ملیارد ډالر غلا شوي؛ شمالي کوریا په دې تورنه شوې چې ځینو اتباعو ئې د یو شمېر حسابونو د هك کولو له لارې دا مبالغ ایستلي. تر بیت کوین وړاندې (ستیبل‌کوین ترا) (Terra UST) او مشترکین ئې د همداسي درغلیو له کبله له تور برخلیك سره مخامخ او په بشپړه توګه متلاشي شو. سپارښتنه مي دا ده چې په دې قمار کې خپل بخت مه آزمویئ.

رهن (ګروي) څه ده او له سود سره ئې توپیر څه؟

دې مبحث ته تر ننوتلو وړاندې باید په دې پوه شو چې د رهن معنی څه ده او وګورو چې په قرآن کې په دې اړه څه لارښوونې شوې. دې آیت ته ځیر شئ:

وَإِنْ كُنْتُمْ عَلَى سَفَرٍ وَلَمْ تَجِدُوا كَاتِبًا فَرِهَانٌ مَقْبُوضَةٌ فَإِنْ أَمِنَ بَعْضُكُمْ بَعْضًا فَلْيُؤَدِّ الَّذِي اؤْتُمِنَ أَمَانَتَهُ وَلْيَتَّقِ اللَّهَ رَبَّهُ وَلا تَكْتُمُوا الشَّهَادَةَ وَمَنْ يَكْتُمْهَا فَإِنَّهُ آثِمٌ قَلْبُهُ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ ﴿٢٨٣﴾ البقرة

او که په سفر کې وئ او کوم کاتب مو ونه موندو؛ نو بیا مقبوضه رهن (ګرو تر لاسه کول) دي او که ستاسو ځینو ځینې نور امین وګڼل (او اعتبار ئې پرې وکړ) نو امین ګڼل شوی دي؛ د هغه امانت بېرته ورکړي او له خپل رب دي ووېرېږي؛ او شهادتونه مه پټوئ او چا چې پټ کړل نو بې شکه چې زړه ئې ګنهګار دئ او الله په هر هغه څه ښه پوه دئ چې تاسو ئې کوئ.

دلته د مجاز رهن صورت بیان شوی، که په سفر کې، د کاتب د نه شتون په صورت کې؛ د پور ورکولو ضرورت مو احساس کړ؛ نو قرض ورکړئ؛ له پوروړي د تضمین لپاره؛ کوم څه په امانت واخلئ؛ کله چې

ئې پور اداء کړ؛ امانت ئې مسترد کړئ.

د آیت له الفاظو داسي معلومېږي چې د رهن سپارښتنه په سفر او د شاهد او کاتب د نه شتون حالت پورې مربوطه ده؛ داسي چې پور ورکوونکی باید په دغه حالت کې له پوروړي ګرو تر لاسه کړي؛ نه په نورو حالتونو او د شاهد او کاتب په شتون کې؛ خو که هغه د پوروړي له مجبوریت او اړتیا په استفادې سره؛ داسي څه ترې اخستل غواړي چې کولی شي له هغه ګټه تر لاسه کړي؛ نو بیا دا معامله جواز نه لري.

متأسفانه له دې جواز هم سود خورو د سود لپاره حیله جوړه کړې؛ په داسي حال کې چې رهن یو امانت او ضمانت دئ او له هغه ګټه اخیستل جائز نه دي؛ له هغه ګټه اخیستل سود ته ورته کار دئ؛ سود خور له دې همغه ګټه تر لاسه کوي چې د نقدو پیسو په ورکولو ئې تر لاسه کوي؛ اوس په ډېرو هېوادونو کې بډایان زمکي اخلي، کورونه پرې جوړوي، په رهن ئې ورکوي، د کور تر اصلي قیمت په کمه بیع ئې هغه چا ته په رهن ورکړي چې په دې کور کې به اوسېږي او له کرایي به معاف وي؛ د کور مالك دا د رهن په نامه تر لاسه کړی مبلغ د ګټې په نورو مواردو کې په کار واچوي، دوه درې کورونه په رهن ورکړي او د رهن په پیسو ئې بل کور جوړ کړي او په دې سره دومره ګټه تر لاسه کړي چې د سود له بلې معاملې ئې نه شي تر لاسه کولی. ډېر خلك له بانکونو په سود پیسې اخلي او بیا کورونه او ښار ګوټي پرې جوړوي او په رهن ئې ورکوي؛ په ځینو هېوادونو کې د کورونو مالکان اکثراً د کرایه پر ځای خپل کورونه په رهن ورکوي؛ او داسي رهن په حقیقت کې حرام کار ته د حلال بڼه ورکول دي. په دې اړه د قرآن لارښوونه داسي ده:

وَمَا آتَيْتُمْ مِنْ رِبًا لِيَرْبُوَ فِي أَمْوَالِ النَّاسِ فَلا يَرْبُو عِنْدَ اللَّهِ وَمَا آتَيْتُمْ مِنْ زَكَاةٍ تُرِيدُونَ وَجْهَ اللَّهِ فَأُولَئِكَ هُمُ الْمُضْعِفُونَ ﴿٣٩﴾ الروم

او له (ربا) مو چې څه د دې لپاره ورکړي چې د خلکو په مال کې وده وکړي؛ نو د الله په وړاندي وده نه کوي؛ او له زکات مو چې څه د الله

د رضاء په تکل ورکړي؛ نو همدا دوی (څو ځلي) زیاتوونکي دي.

دلته باید څو خبري په پام کې ولرو: ١- په آیت کې د (رِبًا) لفظ راغلی چې معنی ئې هر هغه څه دئ چې وده کوي او زیاتېږي؛ نو مراد ترې هر ډول مال دئ؛ هم جنس او هم سکه او پیسې؛ یعني که څوك کوم چا ته جنس یا درهم او دینار یا بله سکه په دې موخه په پور ورکړي چې د مال خاوند ته ګټه پرې مرتب شي، د وخت په تېرېدو سره د پورورې په مال کې وده وکړي او زیات شي؛ همدا سود دئ او د الله په دین کې حرام. په مقابل کې ئې حسنه قرض (له ګټې پرته پور) دئ او زکات چې نه اصل مبلغ ېېرته ترې غوښتل کېږي او نه کومه مالي ګټه او منفعت. ٢- دا آیت د اقتصادي مناسباتو دوه متقابل صورتونه زمونږ په وړاندي ږدي: ربا (سود) او زکات، د سود په اړه وایي: هغه څه (مال) چې خلکو ته ئې د دې لپاره ورکوئ چې د هغوی په مال کې زیات شي، وده وکړي او تر خپل اصلي او لومړني مقدار زیات تاسو ته ېېرته راستون کړي، دا سود دئ؛ د الله تعالی په وړاندي وده نه کوي او بې برکته دئ؛ او کوم څه چې د زکات په توګه او د الله تعالی د رضاء په تکل ورکوئ نو په دې سره نه یوازي د خپل رب رضاء تر لاسه کوئ بلکې مضاعف بدله او اجر درپه برخه کېږي، همدا زکات ورکوونکي د الهي معیارونو له مخې د خپلو نعمتونو څو ځلي زیاتوونکي دي.

د دې مبارك آیت الفاظ ډېر صریح او حکم ئې ډېر پرېکنده دئ او هري هغې معاملې ته د سود (ربا) نوم ورکوي چې بنسټ ئې پر داسې تعامل والړ وي چې د یوه مال د بل په مال کې زیات شي، یو بل ته خپل مال ورکړي او د مال دا لومړنی خاوند؛ څه موده وروسته؛ هم خپل مال او هم ئې اضافي ګټه تر لاسه کړي، پرته له دې چې څه کار، زیار او څه تاوان ئې ګالی وي. د (زکات) په مقابل کې د (ربا) راوړل د سود ماهیت او څرنګوالی لا زیات واضح کوي، زکات دا دئ چې څوك په خپل حلال مال کې یوه برخه د فقیر او مسکین مسلم حق وګڼي او هغه د الله تعالی د رضاء تر لاسه کولو په موخه ورکړي او سود دې ته وایي چې څوك د

خپل نفس راضي کولو په موخه خپل مال بل ته په دې شرط ورکړي چې مزید مال او ګټه تر لاسه کړي.

دا پوښتنه راولاړېږي چې آیا دا هم د سود په ضمن کې راځي چې څوک خپله د کر زمکه بل ته ورکړي او هغه ئې وکري او ګټه د دواړو تر منځ په یوه عادلانه او معقول تناسب ووېشل شي؟ یا خپلې پیسې بل ته ورکړي او هغه پرې تجارت وکړي، کور پرې جوړ کړي او په کرایه ئې ورکړي، زمکه پرې واخلي او وئې کري، یا کوم بل ګټور کار پرې وکړي او په ګټې کې ئې دی او د زمکې او مال خاوند شریك وي؟ که دې پوښتنې ته د دې مبارك آیت په رڼا کې ځواب ووایو نو یقیناً ځواب به ئې له دې پرته بل څه نه وي چې د مسکین له خولو د ګټې تر لاسه کولو پر ځای له هغه سره مرسته وکړه، له ګټې پرته حسنه قرض ورکړه، هغه ستا ورور دئ او ستا په مال کې د حق خاوند، که د الله تعالی رضاء لټوې او دا غواړې چې الله تعالی ستا په مال کې برکت واچوي نو یا بلاعوضه مرسته ورسره وکړه او یا له ګټې پرته حسنه پور ورکړه. خو دا چې آیا داسې معامله جائزه ده که نه؛ باید ووایو چې ځینو فقهاءو په دې شرط جائزه ګڼلې چې په ګټې کې دواړه لوري په یوه عادلانه تناسب شریك وي او د تاوان په صورت کې د مال خاوند د تاوان پېټی قبول کړي.

دې ته مو باید پام وي چې دا معامله اوس له مخکیني انفرادي حالت وتلې او پراخه نړۍ واله بڼه ئې غوره کړې، ستر ستر بانکونه رامنځته شوي، له یوه د سود په بدل کې پیسې تر لاسه کوي، بل ته ئې د سود په بدل کې ورکوي، هغه پرې یا تجارت کوي، یا کورونه جوړوي او په کرایه ئې ورکوي، یا د حمل و نقل وسائل (لکه کښتۍ، جهازونه او موټري) پېرې او ګټه تر لاسه کوي؛ او دې ته ورته کوم بل کار پرې روانوي؛ څه موده وړاندې دې ته د یوه ګټور اقتصادي تعامل په سترګه کتل کېدل، په اسلامي نړۍ کې هم ځینو هڅه وکړه چې دې ته اسلامي رنګ ورکړي، خو په دې وروستیو کې د دې معاملې بدې پایلې راڅرګندې شوې، د امریکا او اروپا ستر ستر بانکونه له افلاس سره مخامخ شول، ستر

ستر اقتصادي بحرانونه ئې وزېږول، دولتونه مجبور شول د دې خطرناکو بحرانونو د حل لپاره دغو بانکونو ته په ملیاردونو ډالر پور ورکړي، خو سره له دې ونه توانېدل چې دا ستونزه حل کړي،

د قرآن لارښوونې ښيي چې هر هغه دَين او قرض؛ چې قرض ورکوونکي ته ګټه جلب کړي؛ هغه ربا او سود دئ او الله تعالى حرام کړی. په اسلام کې هره مداينه، مبايعه، معاهده، تجارت، نکاح، مشاوره؛ چې په هغې کې څو کارونه شوي وي؛ ناروا او غير معتبره معامله ده:

۱. زور، اکراه او جبر؛ له خپل زور او سلطې په استفادې سره څوک په نکاح کول، څه پېرل، بيعت تر لاسه کول او نور.

۲. د بل له مجبوريت غلطه استفاده؛ لکه دا چې يو څوک تر عمليات لاندې مريض لري؛ پيسو ته اړ دئ؛ څوک دوا په پور ورکړي؛ خو په ګرانه بيه.

۳. د طرفينو عدم رضايت؛ په پېر پلور، تجارت، نکاح او بيعت کې؛

٤. دوکه او فريب؛ لکه يو شی د بل شي په نامه وپلورل شي، يا څوک خپله غوا د پلورلو لپاره منډيي ته بيايي؛ خو دوه ورځې ئې نه لوشي؛ چې تي ئې له شيدو ډک معلوم شي او په لوړه بيه ئې وپلوري؛ يا کوم واکمن؛ د خپلې خوښې خلك راغونډ کړي؛ د خپلې خوښې پرېکړه پرې لاسليك کړي او دې ته د ملت د پرېکړې نوم ورکړي؛ په همدی پرېکړې؛ غونډ شوي خلك لاسونه لوړولو ته اړ کړي او ووايي: ملت فيصله وکړه چې دا ښاغلی د خپلو ځلاندو خدماتو له امله؛ دائم العمر جمهور رئيس وټاکل شو!! داؤد، ببرك، نجيب او خلف ئې همدا کارونه کړي؛ او تر دوی وړاندې ټولو پاچايانو.

۵. حيله: لکه دا چې څوک په پور سره ګټه او سود تر لاسه کوي؛ خو محتاج کس ته د نقدو پيسو پر ځای جنس ورکوي؛ مديون او پوروړی؛ له ده جنس په ګرانه بيه اخلي او څو ګامه آخوا ئې په بل چا د بازار په نرخ پلوري.

٦. ګرو او رهن ته داسي بڼه ورکول چې سود ترې جوړېږي او په

حقیقت کې بل ته پور ورکول او پر همدې پور مفته ګټه تر لاسه کول وي.

۷. په یوه مال کې چې دوه او تر دوه زیات شریکان ولري؛ که دا د یوې کورنۍ وي او که د یوه ملت بیت المال او عمومي شتمني؛ هیڅوک حق نه لري په خپل سر او د شریکانو له موافقې او رضایت پرته په هغه کې لږ یا ډېر تصرف وکړي؛ هر یو اړخیز تصرف ناروا او حرام دئ.

د رهن په اړه د احنافو په شمول د ټولو فقهاءو او سلف شبه اجماع په دې ده:

۱. ګرو به د پور ورکوونکي په بشپړ واك کې وي؛ همغسي چې قرآن وایي: (فَرِهَانٌ مَقْبُوضَةٌ: نو قبض کړی شوی رهن).

۲. د پور خاوند له ګرو؛ د ګټې او منفعت تر لاسه کولو حق نه لري.

۳. نه د پور خاوند او نه د ګرو خاوند؛ د معاملې تر پای او د قرض تر ورکړې پورې؛ په ګرو کې نه یو اړخیز تصرف کولی شي او نه ئې پلورلی شي. امام ابو یوسف وایي: رهن اخستونکی حق نه لري چې له ګرو ګټه تر لاسه کړي؛ حتی که غلام وي باید استخدام ئې نه کړي، که سورلي وي؛ پرې سپور نه شي، که جامه وي نه به ئې اغوندي، که کور وي نه به په کې اوسي، ... راهن هم حق نه لري له رهن استفاده وکړي یا ئې وپلوري.

٤. په متأخرینو کې ځینو پور ورکوونکي ته له ګرو د استفادې جواز ثابتولو هڅه کړې او دې ته ئې د (بیع وفا)، (بیع جائز) او (بیع امانت) نوم ورکړی؛ امام شافعي د انتفاع جواز نه مني، امام مالك ئې په دې شرط جائز ګڼي چې په قرض کې مجرا او د انتفاع مجموعي مبلغ له پور کسر شي. د احنافو متأخرین؛ چې ډېری ئې د سمرقند او مصر اوسېدونکي دي؛ وایي: ګرو اخستونکي ته له ګرو شوي ملکیت؛ د ګرو ورکوونکي په اجازه، انتفاع او ګټه اخستل جائز دي. دا توجیه ځکه کمزورې ده چې که له ګروي مال انتفاع ناجائز وي نو د پور اخستونکي رضایت او موافقه؛ د هغه حرمت نه شي بدلولی؛ بیا خو به څرګند سود هم په دا ډول استدلال جائز ګڼل کېږي؛ او ټګمار مفتیان به وایي: که د سود دواړه

لوري (اخيستونکی او ورکوونکی) راضي وي نو سود هم جائز دئ!! قرآن د سود خورو همداسي غلط استدلال زمور مخي ته ايښی؛ هلته چي فرمايي:

الَّذِينَ يَأْكُلُونَ الرِّبَا لا يَقُومُونَ إِلا كَمَا يَقُومُ الَّذِی يَتَخَبَّطُهُ الشَّيْطَانُ مِنَ الْمَسِّ ذَلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُوا إِنَّمَا الْبَيْعُ مِثْلُ الرِّبَا وَأَحَلَّ اللَّهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبَا... ﴿۲۷۵﴾ البقرة

هغه چي سود خوري نه پاڅي مگر د هغه چا د پاڅېدو په څېر چي شيطان په مس (لاس راکښلو) سره د ده حواس خراب کړي وي؛ دا له دې کبله چي وايي: بيع خو هم د سود په څېر ده! حال دا چي الله بيع حلاله کړې او سود ئې حرام کړی ....

رهن يا گروي نن د داسي مالي معاملې په توګه رائجه شوې او تر ډېره حده عامه شوی؛ چي سود ته کاملاً ورته دئ؛ د نړۍ په ډېرو هېوادونو کي ئې عموميت موندلی، د افغانستان او ايران په شمول؛ په ځينو نورو اسلامي هېوادو کي هم؛ فتوی پلورونکي ئې د جواز فتوی ورکوي؛ د قرآن يو آيت په غلطه او مُحَرَّفه توګه داسي تعبيروي چي د دې سودي معاملې مجوز ترې راباسي؛ په داسي حال کي چي قرآن د سفر په خاص حالت او د شاهد او کاتب په نه شتون کي؛ د رهن (گروي) اجازه ورکړې؛ خو متأسفانه سودخورو او د دوی په خدمت کي ډنډه مارو مفتيانو له دې استثنائي اجازې؛ نوی ډول سود رامنځته کړی؛ راشئ په دې اړه د قرآن يوې مهمي رکوع او يوه مفصل او جامع آيت په وړاندي لږ توقف وکړو:

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا تَدَايَنتُم بِدَيْنٍ إِلَىٰٓ أَجَلٍ مُّسَمًّى فَٱكْتُبُوهُۚ وَلْيَكْتُب بَّيْنَكُمْ كَاتِبٌۢ بِٱلْعَدْلِۚ وَلَا يَأْبَ كَاتِبٌ أَن يَكْتُبَ كَمَا عَلَّمَهُ ٱللَّهُۚ فَلْيَكْتُبْ وَلْيُمْلِلِ ٱلَّذِی عَلَيْهِ ٱلْحَقُّ وَلْيَتَّقِ ٱللَّهَ رَبَّهُۥ وَلَا يَبْخَسْ

مِنۡهُ شَيۡـٔٗاۚ فَإِن كَانَ ٱلَّذِي عَلَيۡهِ ٱلۡحَقُّ سَفِيهًا أَوۡ ضَعِيفًا أَوۡ لَا يَسۡتَطِيعُ أَن يُمِلَّ هُوَ فَلۡيُمۡلِلۡ وَلِيُّهُۥ بِٱلۡعَدۡلِۚ وَٱسۡتَشۡهِدُواْ شَهِيدَيۡنِ مِن رِّجَالِكُمۡۖ فَإِن لَّمۡ يَكُونَا رَجُلَيۡنِ فَرَجُلٞ وَٱمۡرَأَتَانِ مِمَّن تَرۡضَوۡنَ مِنَ ٱلشُّهَدَآءِ أَن تَضِلَّ إِحۡدَىٰهُمَا فَتُذَكِّرَ إِحۡدَىٰهُمَا ٱلۡأُخۡرَىٰۚ وَلَا يَأۡبَ ٱلشُّهَدَآءُ إِذَا مَا دُعُواْۚ وَلَا تَسۡـَٔمُوٓاْ أَن تَكۡتُبُوهُ صَغِيرًا أَوۡ كَبِيرًا إِلَىٰٓ أَجَلِهِۦۚ ذَٰلِكُمۡ أَقۡسَطُ عِندَ ٱللَّهِ وَأَقۡوَمُ لِلشَّهَٰدَةِ وَأَدۡنَىٰٓ أَلَّا تَرۡتَابُوٓاْ إِلَّآ أَن تَكُونَ تِجَٰرَةً حَاضِرَةٗ تُدِيرُونَهَا بَيۡنَكُمۡ فَلَيۡسَ عَلَيۡكُمۡ جُنَاحٌ أَلَّا تَكۡتُبُوهَاۗ وَأَشۡهِدُوٓاْ إِذَا تَبَايَعۡتُمۡۚ وَلَا يُضَآرَّ كَاتِبٞ وَلَا شَهِيدٞۚ وَإِن تَفۡعَلُواْ فَإِنَّهُۥ فُسُوقُۢ بِكُمۡۖ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۖ وَيُعَلِّمُكُمُ ٱللَّهُۗ وَٱللَّهُ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٞ ٢٨٢ وَإِن كُنتُمۡ عَلَىٰ سَفَرٖ وَلَمۡ تَجِدُواْ كَاتِبٗا فَرِهَٰنٞ مَّقۡبُوضَةٞۖ فَإِنۡ أَمِنَ بَعۡضُكُم بَعۡضٗا فَلۡيُؤَدِّ ٱلَّذِي ٱؤۡتُمِنَ أَمَٰنَتَهُۥ وَلۡيَتَّقِ ٱللَّهَ رَبَّهُۥۗ وَلَا تَكۡتُمُواْ ٱلشَّهَٰدَةَۚ وَمَن يَكۡتُمۡهَا فَإِنَّهُۥٓ ءَاثِمٞ قَلۡبُهُۥۗ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ عَلِيمٞ ٢٨٣

[٢٨٢]- اې مؤمنانو! کله چې په خپلو کې تر يوې نېټې د پور راکړه ورکړه کوئ؛ نو وئې ليکئ؛ کوم ليکونکی دي هغه په عدل سره ستاسو تر منځ وليکي او ليکونکی دي له ليکلو ډډه نه کوي؛ لکه څنګه چې الله ورښودلي همغسي ئې بايد وليکي او هغه څوک دي املاء وکړي (د ليك مطلب دي په خوله بيان کړي) چې حق (پور) وربانديدئ او له خپل رب دي ووېرېږي او هيڅ څه دي نه ترې کموي او که هغه څوک چې حق وربانديدئ ناپوه يا ضعيف وو او يا ئې املاء نه شوی کولی؛ نو د ده ولي دي عادلانه اقرار وکړي او له خپلو نارينه وو د شهادت لپاره دوه شاهدان ونيسئ؛ خو که دوه سړي نه وو نو ستاسي د خوښي له شاهدانو دي يو سړی او دوه ښځي وي چې که له دوی دواړو يوې خبره هېره

کړه؛ بله به ئې ور په یاد کړي او کله چې شاهدان (د شهادت لپاره) وبلل شي؛ ډډه دي نه کوي او په دې کې اهمال مه کوئ چې تر خپلې خاصې نښې یو پور ولیکئ؛ لږ وي که ډېر؛ دا (لیکل) مو د الله په نزد کې ډېر عادلانه دئ او د شهادت مضبوطوونکی او دې ته ډېر نژدې چې په خپلو کې شك ونه کړئ؛ مگر دا چې هغه حضوري او مخامخ تجارت وي چې په خپلو کې ئې لاس په لاس کوئ؛ نو بیا پر تاسو د دې گناه نه شته چې وئې نه لیکئ او کله چې مو په خپلو کې بیع کوله نو شاهدان ونیسئ؛ نه به لیکونکي ته تاوان رسول کېږي او نه شاهد ته او که مو داسي وکړل نو دا به ستاسو گناه او فسق شمېرلی شي او له الله ووېرېږئ او الله خو تاسو ته ښوونه کوي او الله خو په هر څه ښه پوه دئ. [۲۸۳]- او که په سفر کې وئ او کوم کاتب مو ونه موندو؛ نو بیا مقبوضه رهن (تر لاسه شوی گرو) دئ او که ستاسو ځینو ځینې نور امین وگڼل (او اعتبار ئې پرې وکړ) نو امین گڼل شوی دي د هغه امانت بېرته ورکړي او له خپل رب دي ووېرېږي؛ او شهادتونه مه پټوئ او چا چې پټ کړ نو بې شکه چې زړه ئې ګنهګار دئ او الله په هر هغه څه ښه پوه دئ چې تاسو ئې کوئ.

په دې مبارکو آیتونو کې څو مهم او بارز ټکي د خاصې پاملرنې او توجه وړ دي:

- سود حرام کړی شوی، د پور په بدل کې له چا ګټه تر لاسه کول منع دي؛ د دې پر ځای یوه بل ته بې سوده پور ورکړئ.
- د پور په ورکړه راکړه کې باید ټول هغه ضروري تدابیر مراعات شي چې د شخړو، لانجو، اختلافاتو، د یوه بل کړولو او د چا د حق تلف کېدو باعث کېږي، د پور مقدار او نېټه به لیکئ، املاء به د پوروړي له خوا وي، که هغه له دې عاجز وو؛ نو وکیل او ولي به ئې دا کار کوي، کاتب به ئې په دقت، احتیاط او عدالت سره لیکي، د هیڅا پلوي به نه کوي، شاهدان به په منځ کې وي، غوره دا ده چې دواړه شاهدان نارینه وي، خو که دا ممکنه نه وه نو د طرفینو په موافقه دي یو نارینه او دوه

سځي غوره شي، دا هم يوازي د دې لپاره چې که يوه سځه خبره هېره کړي بله ئې ورپه ياد کړي، که مخامخ او لاس په لاس تجارت وو نو شاهد ونيسئ، که د سفر حالت وو، نه کاتب وو او نه شاهد، نو رهن يا ګرو اخيستی شئ، خو که يوه پر بل باور وکړ او له رهن پرته ئې پور ورکړ، پوروړی دي له الله ووېرېږي او امانت دي په خپل وخت مسترد کړي.

الله تعالى او دين ئې دا خوښوي چې د پور په ورکړه راکړه کې بايد ټول دغه ضروري تدابير مراعات شي چې په دې آيتونو کې راغلي؛ عدم مراعات ئې د قرآن په اړه بې اعتنائي ده؛ دا ځکه چې د البقرة سورې په دغو آيتونو کې چې کومې لارښوونې شوې؛ ټول د امر په صيغه دي؛ او دا ښيي چې مراعات ئې پر مسلمان لازم او ضروري دي؛ هر مؤمن ئې بايد د قرض، تجارت او رهن په اړه مراعات کړي؛ که ئې مراعات نه کړي؛ نو هم ئې له الهي لارښوونو مخالفت کړی او هم به ئې دا عدم مراعات ده او نورو ته ستونزي زېږوي؛ قرآن همدا د عدالت او قسط لپاره ضروري ګڼي؛ او هم د دې لپاره چې په پور، تجارت او رهن کې د دوی تر منځ لانجې راولاړې نه شي؛ يوازې هغه مهال د شاهدانو، ليکلو، تضمين او رهن شرط منتفي ګڼل شوی چې نه کاتب وي، نه شاهد او نه داسې څه چې له پور اخيستونکي د تضمين لپاره تر لاسه شي.

په (٢٨٣) آيت کې د رهن صورت بيان شوی؛ او ويل شوي: که په سفر کې، د کاتب د نه شتون په صورت کې چا ته د پور ورکولو ضرورت احساس شو؛ نو قرض ورکړئ؛ له پوروړي کوم څه په امانت واخلئ؛ فقط د تضمين لپاره، کله چې ئې پور اداء کړ؛ امانت ئې مسترد کړئ. د آيت له الفاظو داسې معلومېږي چې رهن په سفر او د شاهد او کاتب د نه شتون حالت پوري مربوط سپارښتنه ده؛ داسې چې پور ورکوونکی بايد دا ومني چې يوازې په دغه حالت کې له پوروړي ګرو تر لاسه کړي؛ نه په نورو حالتونو او د شاهد او کاتب په شتون کې؛ خو که هغه د پوروړي له مجبوريت او اړتيا په استفادې سره؛ داسې څه ترې اخيستل غواړي

چې کولی شي له هغه ګټه تر لاسه کړي؛ نو بیا دا معامله جواز نه لري او سود ته ورته معامله ده.

تاسو ګورئ چې اسلام د قضایاوو په اړه څومره دقت کړی او څنګه ئې د هري معاملې ټول جوانب په پام کې نیولي او دقیقي لارښوونې ئې کړې، دا لارښوونې باید د مسلمانانو د ټولو فردي او اجتماعي مسائلو لپاره بنسټ وي او د همدې په رڼا کې خپل اجتماعي ژوند تنظیم کړي، که د پور او مخامخ بیع او تجارت په اړه د اسلام تأکید او دقت دومره وي نو د نورو سترو اجتماعي مسائلو په اړه به ئې غوښتنې او لارښوونې څنګه وي؟!

دا جامع لارښوونې د قرآن په دوو آیتونو؛ یو اوږد او بل متوسط کې راغلي او د قرآن یوه بشپړه صفحه او د بلې صفحې څلور کرښې ئې نیولې؛ اما د محتوی له پلوه دومره ارزښتمن او جامع چې ویلی شو د ټولنې د اقتصادي نظام د پېر پلور او تجارت په اړه یوازې همدا لارښوونې کفایت کوي؛ که څه پرې اضافه کېږي نو هغه به د همدغو اصولو شرح او تفسیر وي.

د دوه متفق علیه نارینه شاهدانو د نه موندلو په صورت کې د یوه نارینه او دوه ښځینه شاهدانو د نیولو دلیل هم دلته قرآن بیان کړی او ویلي ئې دي چې دا یوازې د دې لپاره چې که یوه ښځه خبره هېره کړي بله ئې ورپه یاد کړي، دا ځکه چې د ښځې عاطفه هومره قوي ده چې د دې حافظه هم تر اغېز لاندې نیسي، ګورئ چې عاطفه ئې د اولاد ټولې نادودي او غلط کارونه حتی جفاګاني پرې هېروي، هري مور ته خپل اولاد ډېر بې ګناه معلومېږي، زوی ئې د ګاونډي له زوی سره په جګړې کې سخت ملامت وي خو دا ترې په حقه او ناحقه دفاع کوي، خپله مورنۍ عاطفه ئې دې ته هڅوي چې له خپل زوی دفاع وکړي، همدغه عاطفه د بې وزلې پوروړي په نسبت د شهادت ورکولو په وخت کې پر مېرمني همغه کار کوي چې له خپل زوی د دفاع په وخت کې ئې پرې کوي.

هغه ناپوه کسان چې دا د ښځو په نسبت تبعیض ګڼي، په دې هم

نه پوهېږي چې شهادت ورکول امتياز نه بلکې يو مکلفيت دئ او اسلام د مکلفيتونو په برخه کې تل ښځو ته امتيازات ورکړي.

له دې لارښوونې دا هم معلومېږي چې که مېرمني د شاهد او گواه په توګه عمل کولی شي او په محکمه کې د قاضي په وړاندي گواهي ورکولی شي نو د قاضي په توګه هم عمل کولی شي؛ که له علمي پلوه ئې وړتيا ولري او لازم شرائط ئې پوره کړي وي؛ دا هم ترې معلومېږي چې مېرمني نه د مخ په پټولو گمارل شوې او نه له نامحرم سره له خبرو منع شوې، دا ځکه چې شهادت او گواهي نه په پټ مخ د منلو وړ دئ او نه له خرگندو واضح خبرو پرته او په اشارو؛ شاهد بايد وپېژندل شي او په واضح الفاظو شهادت ورکړي. همدا راز اسلام مېرمنو ته د پېر پلور او تجارت اجازه ورکړې؛ او تجارت نه په پټ مخ اعتبار لري او نه په اشارو او له خبرو پرته تر سره کېدی شي؛ پلورونکي او پېرونکي بايد وپېژندل شي.

راشئ وگورو چې د رهن (گرو) په اړه په رواياتو کې څه راغلي؟ د بخاري د رهن کتاب په لاندي باب کې داسي راغلي:

باب: د گرو شوي څاروي له سپرلۍ او شيدو استفاده

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الرَّهْنُ يُرْكَبُ بِنَفَقَتِهِ إِذَا كَانَ مَرْهُونًا، وَلَبَنُ الدَّرِّ يُشْرَبُ بِنَفَقَتِهِ إِذَا كَانَ مَرْهُونًا، وَعَلَى الَّذِي يَرْكَبُ وَيَشْرَبُ النَّفَقَةُ». (بخاری: ۲۵۱۲)

له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: ((پر هغه گرو شوي څاروي سپرېدا کېدی شي؛ چې په گرو تر لاسه شوی وي؛ د خپل لگښت په بدل کې؛ د شيدې ورکوونکي څاروي شيدې څښل کېدی شي؛ که په گرو تر لاسه شوی وي؛ د خپل لگښت په بدل کي؛ پر هغه چا ئې لگښت دئ چې پرې سپرېږي او ترې څښي)).

دا روايت په بخاري کې ۲ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۲۵۱۱ - ۲۵۱۲ - غريب دئ؛ په ۳ طبقو کې يو يو راوي لري چې دا دي: زَكَرِيَّاء، الشَّعْبِي او أَبو هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ له صحيح بخاري او صحيح ابن حبان پرته په بل کتاب کې نه دئ راغلی. که څه هم د دواړو کتابونو راويان په دريو طبقو کې سره ورته دي؛ خو په متن کې لږ توپير سره لري؛ په يوه کې الرَّهْنُ يُرْكَبُ بِنَفَقَتِهِ وَلَبَنُ الدَّرِّ يُشْرَبُ إِذَا كَانَ مَرْهُونًا او په بل کې الرَّهْنُ يُرْكَبُ بِنَفَقَتِهِ، إِذَا كَانَ مَرْهُونًا وَلَبَنُ الدَّرِّ يُشْرَبُ بِنَفَقَتِهِ، إِذَا كَانَ مَرْهُونًا؛ د صحيح ابن حبان روايت داسي دئ:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم قَالَ: «الرَّهْنُ يُرْكَبُ بِنَفَقَتِهِ، وَلَبَنُ الدَّرِّ يُشْرَبُ إِذَا كَانَ مَرْهُونًا، وَعَلَى الَّذِي يَرْكَبُ وَيَشْرَبُ نَفَقَتُهُ»

له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: پر رهن شوي سپرېدل شته خو د لګښت په بدل کې؛ د څاروي شيدې څښل کېدی شي که رهن وي؛ او پر سپرېدونکي او د شيدو څښونکي ئې لګښت دئ.

ځيني دا روايت په هغه مهال پوري مربوط ګڼي چې د سود حرمت نه وو نازل شوی؛ دا ځکه چې په دې کې له رهن د استفادې جواز راغلی؛ او دا سود ته ورته دئ؛ د عمدة القارئ مصنف امام بدر الدين عيني رأی همدا ده؛ ځيني وايي چې د ګرو شوي څاروي لګښت هم پر خاوند ئې دئ؛ نه پر مرتهن (ګرو اخيستونکي)؛

د څارويو د رهن په اړه عادلانه چلن دا دئ: هر څه ئې د راهن (خاوند) دي؛ که دا شيدي وي او که بچي ئې؛ شيدي ئې مرتهن (ګرو اخيستونکی) په هغه صورت کې څښلی شي چې بيه به ئې له پور پرې کوي؛ البته په څاروي چې ده کوم لګښت کړی؛ هغه د ده مسلم حق دئ؛ بايد تر لاسه ئې کړي؛ دا به محاسبه کېږي؛ په روايت کې يوازي دا راغلي چې شيدې ئې څښل کېدی شي؛ د لګښت په بدل کې؛ خو فقط دومره څښلی شي چې بيه ئې له مصرف او لګښت سره برابره وي؛ که

بيه ئې تر لګښت زياته وي؛ دا زياتی مبلغ د مرتهن لپاره سود ګڼل کېږي؛ دا ځکه چې هر هغه پور سود دئ چې خاوند ته ئې ګټه جلب کړي.

دا وضاحت هم لازم دئ چې که راهن؛ د مودې له بشپړېدو وروسته پور اداء نه کړي؛ آيا پور ورکوونکی؛ کولی شي رهن په بشپړه توګه تملیك کړي؟ ځواب دا دئ چې يوازي د خپل پور تر لاسه کولو حق لري؛ نه د ټول رهن تملیك؛ د جاهليت په دور کې همدا دود وو خو اسلام لغو کړ؛ په دې روايت کې ئې د لغوي اړوند لارښوونه مومو:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا يُغْلَقُ الرَّهْنُ لَهُ غُنْمُهُ وَعَلَيْهِ غُرْمُهُ» السنن الصغير للبيهقی

له ابو هريره روايت دئ چې وايي: رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايلي: رهن (له خاوند ئې) راتم کېدی نه شي؛ ګټه ئې هم د ده ده او تاوان ئې هم.

حافظ احمد بن حجر عسقلاني په بلوغ المرام کې ويلي: راويان ئې ثقه او معتبر دي.

له دې روایاتو په څرګنده توګه معلومېږي چې له ګرو شوي څارويو؛ د سورلۍ او شيدو حيوان، زمکې او کور؛ له معاوضې پرته هره استفاده ممنوع ده او سود ګڼل کېږي.

داسي رهن چې خاوند ته ئې ګټه پرې مرتب کېږي او په همدې موخه ئې محتاج کس ته ورکوي؛ نه يوازي سود ته ورته معامله ده؛ بلکې پر دې سربېره حرام ته د حلال بڼه ورکول او سود خورو ته ناروا حيله او پلمه په لاس ورکول دي؛ قباحت او ګناه ئې تر سود زياته ده؛ پر دې سر بېره ډېر ځلي د اختلاف او دښمنۍ باعث؛ کله د کور مالك غواړي راهن له کور وباسي خو هغه بل کور نه مومي او کله راهن غواړي خپل مبلغ تر لاسه کړي؛ خو د کور مالك د ده په پيسو بل کور جوړ کړی.

زکات، نصاب او مقدار ئې

په اسلامي قاموس کې هغه څه چې اسلامي حکومت ئې باید له شتمنو تر لاسه کړي؛ د زکات په نامه یاد شوی؛ لغوي معنی ئې وده او برکت دئ یعني په دې سره مال کمېږي نه بلکې وده کوي او الله تعالی په کې برکت اچوي؛ دا د مالیې، ټکس او کستم ځای ناستی دئ؛ یوازې له هغو شتمنو تر لاسه کېږي چې شتمني ئې د ټاکلي نصاب حد ته رسېدلې وي. شریعت هم د دغه نصاب حد ټاکلی او هم د زکات مقدار. تر اسلام وړاندې به زورواکو له خلکو په مختلفو نومونو او د خپلې خوښې مقدار مالیات تر لاسه کول؛ چا د زمکې او باغونو د حاصلاتو یوه برخه، چا د پېر پلور په دوران کې له دواړو لوریو یا له یوه، د مسیحیانو او یهودانو مذهبي مشرانو به د هر څاروي لومړنی بچی او د هري ونې د لومړي کال حاصل؛ د خدای حق ګڼلو، د خدای په نامه به ئې له خلکو اخیستلو؛ خو دا به د خدای فقیرو او اړمنو بندګانو ته نه؛ بلکې د مذهب په نامه یوې مفت خوري ډلې ته رسېدل!! اسلام دا ټول لغو کړل او پر ځای ئې د زکات هغه سیستم رامنځته کړ چې له شتمنو اخیستل کېږي او لومړني مستحقین ئې فقیران او مسکینان دي؛ حکومت او مشران ئې وګمارل چې د اړمنو متکفل به وي او دا ئې لومړنۍ مالي دنده او مسئولیت دئ چې دوی به له فقر او مسکنت ژغوري.

د جاهلیت په دوران کې به د عربو زورواکانو له پلورونکو او پېرونکو د مکس په نامه (مالیه او ټکس) اخیستلو؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم د مکس په اړه فرمایلي: «إِنَّ صَاحِبَ الْمَكْسِ فِي النَّارِ»: د مکس اخیستونکی دوزخي دئ؛

عَنْ أَبِي الْخَيْرِ، قَالَ: سَمِعْتُ رُوَيْفِعَ بْنَ ثَابِتٍ، قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم يَقُولُ: «صَاحِبُ الْمَكْسِ فِي النَّارِ» يَعْنِي الْعَاشِرَ. المعجم

الكبير للطبرانی

له أبو الخير روايت دئ چې له رويفع بن ثابت مي اورېدلي چې ويل ئې: له رسول الله صلى الله عليه و سلم مي واورېدل چې فرمايل ئې: د مکس خاوند (د جاهليت په زمانه کې د ټکسونو غونډونکی)؛ به په اور کې وي.

د زکات د فرضيت شروط

زکات په مدينه کې فرض شوی؛ که څه هم يادونه ئې له مانځه سره يو ځای په هغو آيتونو کې هم راغلې چې په مکه کې نازل شوي؛ عملاً د بدر له غزوې وروسته او د التوبه سورې د دغه آيت له نازلېدو وروسته رسول الله صلى الله عليه و سلم د زکات راغونډول پيل کړي:

خُذۡ مِنۡ أَمۡوَٰلِهِمۡ صَدَقَةٗ تُطَهِّرُهُمۡ وَتُزَكِّيهِم بِهَا وَصَلِّ عَلَيۡهِمۡۖ إِنَّ صَلَوٰتَكَ سَكَنٞ لَّهُمۡۗ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ١٠٣ التوبة

له مالونو ئې داسي صدقه (زکات) تر لاسه کړه چې پرې پاک او تزکيه ئې کړې او دعاء ورته وکړه، يقيناً چې ستا دعاء ورته يوه ډاډېنه ده؛ او الله پوه اورېدونکی دئ.

دا آيت پيغمبر عليه السلام ته لارښوونه کوي چې: د مؤمنانو د اصلاح، روزنې او د ګناهونو د معافېدا لار دا ده چې هغوی په صدقاتو او د الله تعالى په لار کې د خپل مال په لګولو وګمارل شي، دا به د دوی د (تطهير) او (تزکيې) باعث شي، نو ته صدقه ترې واخله او دعاء ورته وکړه، ستا دعاء د دوی د تسل او ډاډ باعث ده. په دې مبارک آيت کې د څو الفاظو په وړاندي لږ توقف ضروري برېښي: له (تطهير: پاکولو) د ګناه او بد عمل له اغېز د انسان پاکول مراد دي؛ او له (تزکيه) د انسان روحي او معنوي روزنه مراد ده، تطهير او تزکيه دواړه پاکول افاده کوي خو په تزکيه کې له پاکولو علاوه د ودي ورکولو او شېرازه کولو معنى هم پرته ده. يعني په صدقاتو سره هم الله تعالى د دوی ګناهونه بخښي او

هم له روحي او معنوي پلوه وده ورکوي.

د آیت په پای کې د الله تعالی دوه صفات: سمیع او علیم راغلي، سمیع د پیغمبر علیه السلام د دعاء په ارتباط دئ او دا مطلب افاده کوي چې الله تعالی د دوی په اړه ستا دعاء اوري او قبلوي ئې؛ او (علیم) د صدقاتو د پایلو او نتائجو په ارتباط چې ښیي دا د هغه علیم رب وینا ده چې پوهېږي صدقه د انسان د روحي او معنوي ودي او د ګناهونو له اغېز د انسان د ژغورنې وسیله ده.

زکات پر هغه غني فرض شوی چې شتمني ئې د نصاب تر حد رسېدلې وي؛ د ده او تر کفالت لاندي کورنۍ تر کلني ضروري لګښتونو او مصارفو علاوه دومره شتمني ولري چې د ۸۵ ګرامه سرو زرو معادل وي. د صحت شرائط ئې دا دي:

۱ـ اسلام؛ یعني هغه به اسلام د دین په توګه قبول کړی وی؛ پر کافر او هغه چې مرتد شوی وي؛ زکات نه شته.

۲ـ آزادی؛ هغه به آزاد وي پر مړي زکات نه شته.

۳ـ بلوغ؛ پر ماشوم زکات فرض نه دئ.

٤ـ عقل؛ پر لېونې تر هغه زکات فرض نه دئ چې روغ شوی نه وي.

۵ـ تام او بشپړ ملکیت؛ تر هغه د شتمن په مال کې زکات نه شته چې خپله شتمني ئې په بشپړه توګه په واك کې نه وي راغلې؛ لکه دا چې د مېرمنو په ټاکلي مهر کې هغه مهال زکات فرض کېږي چې دا مهر عملاً تر لاسه کړي.

٦ـ شتمني ئې باید د زکات نصاب ته رسېدلې او یو کال پرې تېر شوی وي.

۷ـ مال به ئې تر اصلي حاجت زیات وي؛ په هغه مال او شتمني کې زکات نه شته چې د انسان تر استعمال او استفادې لاندي وي: لکه د هستوګني کور، جامه او د کور فرش او ظرف، د سورلۍ آس، اوښ، ګاډی، هغه وسله چې د ځان، کور یا جهاد لپاره ئې ساتي؛ همدا راز د کسب او کار پر وسائلو او تجهیزاتو، کمپیوټر، پرنټر، د شخصي کتابتون کتابونه؛ زکات

نه شته؛ د کتنځي په څېر دفاترو او تجهیزاتو هم زکات نه شته؛ د دوی له خاوندانو به یوازي د عوائدو له مخي او ٢,٥٪ زکات په یوه کال کې اخیستل کېږي. متأسفانه اوس او د اسلام تر نامه لاندي؛ له لاسي کراچیو، غرفو، او طبي کتنځیو هم مالیه اخیستل کېږي!!

٨ـ پر پوروړي یوازي هغه مهال زکات فرض کېږي چې د پور له اداء کولو وروسته ئې شتمني د زکات نصاب ته رسېدلې وي.

٩ـ مال باید وده کوونکی وي؛ که دا حقیقتاً وده کوونکی وي لکه څاروي؛ یا تقدیراً لکه سره او سپین زر؛ دا دواړه ذاتاً ارزښتمن منل شوي؛ که د سکې په بڼه کې یا غیر مسکوك وي؛ او یا د ګاڼې او لوښو په بڼه کې؛ خو جواهر او قیمتي کاڼي لکه الماس، زمرد، یاقوت او مروارید؛ که د ګاڼې او استعمال لاندي توکیو په توګه کارول کېږي نو ځینې فقهاء ئې له زکات معاف نیسي.

١٠ـ باید یو بشپړ قمري کال پرې تېر شوی وي؛ تر دې وړاندې زکات پرې فرض نه دئ. او که زراعتي محصول د مرض یا بل مصیبت له کبله تلف شي نو عشر پرې نه شته.

د زکات نصاب او مقدار څنګه ټاکل شوی؟

دا یوه جدي او مهمه پوښتنه ده چې د زکات نصاب او د شتمني هغه اندازه چې پر خاوند ئې زکات فرض کېږي، او د زکات هغه مقدار چې په نقدي شتمني (درهم او دینار)، غلې، مېوې او څارویو کې پر مسلمان فرض دي؛ څنګه ټاکل شوی؟ د قرآني لارښوونو او آیتونو له مخي که د احادیثو په رڼا کې؟ که منشأ ئې د قرآن لارښوونې وي؛ نو اړوند آیتونه ئې کوم دي؟ او که ئې منشأ د رسول الله صلى الله عليه و سلم ارشادات وي نو اړوند روایات ئې کوم دي؟ دې روایت ته لږ ځیر شئ:

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ رضى الله عنه قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم: «لَيْسَ فِيمَا دُونَ خَمْسِ أَوَاقٍ صَدَقَةٌ، وَلَيْسَ فِيمَا دُونَ خَمْسِ ذَوْدٍ صَدَقَةٌ، وَلَيْسَ

فِيمَا دُونَ خَمْسِ أَوْسُقٍ صَدَقَةٌ». (بخاری: ١٤٠٥)

له ابو سعيد خدري رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: نبي صلى الله عليه و سلم فرمايلي: په هغه مال (سِکو) کي چي تر پنځو أَوقِيو کم وي زکات نه شته، په اوښانو کي چي تر پنځو کم وي زکات نه شته او په هغي غلې کي چي تر پنځو وسقو لږ وي زکات نه شته.

يادونه: پنځه اَوقِيې تقريبًا ٧٠٠ گرامه او پنځه وسقه ٦٥٢ کيلو گرامه کېږي.

په دې روايت کي ويل شوي چي په هغه مال کي چي تر پنځو اوقيو کم وي، په اوښانو کي چي تر پنځو کم وي او په هغي غلې کي چي تر پنځو وسقو لږ وي؛ زکات نه شته؛ دوه خبري بايد په پام کي ولرو:

- دلته د سپينو زرو؛ اوښانو او خرما يادونه شوې؛ آيا دا د نورو شيانو لپاره معيار ګڼل شوی؟ يعني که د سکو بيع تر پنځو اوقيو سپينو زرو (چي دوه سوه درهمه کېږي) کمه وي زکات په کي نه شته، که د نورو څارويو معادل ارزښت د پنځو اوښانو حد ته نه وي رسېدلی زکات په کي نه شته، که د نورو مېوو او غلو معادل ارزښت د خرما پنځو اوسقو ته نه وي رسېدلی زکات په کي نه شته؟! او که د نورو شيانو په اړه له دې پرته بېله بېله لارښوونه شوې؟! دا پوښتنه هم راولاړېږي چي د سکو او اجناسو بيع له يوه وخت تر بل او له يوې سيمي تر بلي توپير لري او بدلېږي رابدلېږي؛ په هغو سيمو کي چي کجوري لري د خرما ارزښت تر هغو سيمو ډېر لږ دئ چي کجوري نه لري؛ د رسول الله صلى الله عليه و سلم په وخت کي د يوه وسق غنمو ارزښت نژدې دوه وسقه کجوري وو.
- د اسلام د راتلو په وخت کي يوه اوقيه سپين زر څلوېښت درهمه ارزښت درلود، يو رطل دولس اوقيه يعني څلور سوه اتيا درهمه وو، يو نش شل درهمه... رسول الله صلى الله عليه و سلم همدا د مدينې سکې او اوزان معتبر وګڼل؛ وسق د يوه اوښ بار ته ويل کېدل، چي ويل کېږي شپېته صاع وو، کله چي د سرو زرو مقدار دوه سوه درهمو ته ورسېږي

نو په هرو څلوېښتو دراهمو کې بايد يو درهم زکات ورکړی شي؛ او بيا چې هر څومره زياتېږي په هرو څلوېښتو دراهمو کې به يو يو درهم ورکول کېږي؛ نوري سکې په همدې قياس کېږي، خو په دې اړه د فقهاءو تر منځ اختلاف دئ چې تر څلوېښتو دراهمو لږ کې زکات شته که نه؟ غوره رأيه دا ده چې په دې کې به دوه نيم سلنه زکات ورکول کېږي. البته په هغو کې چې تر نصاب زيات وي. يعني د چا شتمني چې د زکات نصاب حد ته ورسېږه؛ په ٤٠ کې يوه او په ١٠٠ کې دوه نيم به زکات ورکوي؛ د سکې نوعيت چې هر څه وي او مقدار ئې تر٤٠ هر څومره کم يا زيات وي؛ په کم او زيات کې به ٢,٥٪ زکات ورکوي؛ داسي نه چې په ٨٠ کې به ٢ ورکول کېږي او پاته ٢٠ کې هيڅ!

- په روايت کې داسي څه نه مومو چې که د مال زکات ورکړل شي نو بيا که همداسي راکد پرېښودل شي کنز نه ګڼل کېږي؛ په داسي حال کې چې د غلې احتکار او بازار ته ئې هغه مهال وړاندي کول چې بيه ئې لوړه شوې وي؛ ناجائز عمل دئ؛ دا ځکه چې احتکار په خپله د اجناسو بيه لوړوي او عام ولس ته صدمه رسوي؛ که څه هم محتکر او د غلې خاوند د هغه زکات ورکړی وي؛ د سکې او نورو شتمنيو حکم دې ته ورته دئ؛ تأثير او پايله ئې د غلې د احتکار په څېر ده. کېدی شي څوک د سرو او سپينو زرو ډېرې سکې وپېرې، ذخيره ئې کړي، په دې سره په بازار کې د سکو بيه لوړه کړي؛ کله چې ډېره لوړه شي، ورو ورو ئې بازار ته عرضه کړي او زياته ګټه وکړي. غوره دا ده چې د سکو کنزولو پر ځای هغه په مفيد او ګټور کار ولګول شي.

دا يوه مهمه پوښتنه ده چې رسول الله صلى الله عليه و سلم د زکات نصاب او مقدار د قرآن له مخې ټاکلی که د مستقلې وحي له مخې؟ که ځواب دا وي چې د قرآن له مخې نو اړوند قرآني لارښوونه کومه ده؟ او که مستقله وحي وي هغه احاديث کوم دي چې په کې ويل شوي وي چې ده ته په دې اړه وحي شوې؟ آيا کېدی شي ووايو؛ د زکات مقدار؛ په غنيمت کې د خمس له مخې ټاکل شوی؛ دا ځکه چې له دې پرته

داسي بل آيت نه مومو چي صراحتاً يا تلويحاً او اشارتاً دا مطلب په کې راغلی وي چي له شتمني به خومره مقدار د زکات يا بل نامه لاندي اخيستل کېږي؟ د زکات د نصاب او مقدار په اړه دا پوښتنه راولاړېږي چي آيا د قرآن دا لارښوونه چي د غنيمت پنځمه برخه به بيت المال ته سپارل کېږي؛ د نورو مالي وجائبو لپاره بنسټ او معيار نه دئ غوره شوی؟

رسول الله صلی الله عليه و سلم مور ته د زمکو د حاصلاتو، د باغونو د مېوو، د څارويو او د سرو او سپينو زرو؛ هم نصاب ټاکلی هم د زکات مقدار؛ د هغو شتمنيو چي ثمره او حاصل ئې په کم لګښت او لږ خواري تر لاسه کېږي؛ زکات ئې نسبت هغو ته زيات دئ چي لګښت او خواري ئې زياته وي؛ د مثال په توګه له هغو زمکو لسمه اخيستل کېږي چي د نهر په روانو اوبو خړوبېږي او له هغو شلمه چي خړوبول ئې مصارف او زيار ايجابوي؛ همداسي په غنيمت کې پنځمه د بيت المال سهم وي او څلور ئې د جنګياليو؛ د درهم او دينار زکات څلوېشتمه ده؛ او د مېږو هم څلوېښتمه؛ له دې معلومېږي چي د زکات مقدار د لګښت او زيار په تناسب ټاکل شوی؛ تر ټولو لږ زکات د مېږو او نقد پيسو (درهم او دينار) دئ او تر ټولو زيات د غنيمت؛ په قرآن کې يوازي د غنيمت په اړه ويل شوي چي پنځمه ئې ترې اخيستل کېږي؛ په قرآن کې د نورو مواردو د زکات مقدار؛ په څرګنده توګه نه مومو؛ پوښتنه راولاړېږي چي آيا رسول الله صلی الله عليه و سلم د نورو املاکو او عوائدو د زکات مقدار د قرآن دغي لارښووني ته په پام سره ټاکلی؛ او که د هري برخي لپاره مستقله وحي نازله شوې؟ که ئې منشأ قرآن وي؛ نو اړوند آيتونه ئې کوم دي؟ او که بېله وحي وي؛ په کوم حديث کې ويل شوي چي الله تعالی په دې اړه مشخصه وحي ورته کړې؟ او دا وحي کله او چېرې پر رسول الله صلی الله عليه و سلم نازله شوې؟ زه د خپل معلومات له مخي وايم چي داسي روايات مي له نظره نه دي تېر شوي؛ لږ تر لږه دومره ويلی شم چي د حکمة البارئ په څلورو جلدونو کې چي ما د

بخاري نژدې دوه ثلثه روايات څېړلي؛ د بخاري د زکات کتاب په شمول؛ داسي کوم روايت مي نه دئ ليدلی؛ له همدې کبله وايم چې رسول الله صلی الله عليه و سلم د زکات مقدار د قرآن د دغي لارښوونې له مخې ټاکلی:

وَاعْلَمُوا أَنَّمَا غَنِمْتُمْ مِنْ شَيْءٍ فَأَنَّ لِلَّهِ خُمُسَهُ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِي الْقُرْبَىٰ وَالْيَتَامَىٰ وَالْمَسَاكِينِ وَابْنِ السَّبِيلِ إِنْ كُنْتُمْ آمَنْتُمْ بِاللَّهِ وَمَا أَنْزَلْنَا عَلَىٰ عَبْدِنَا يَوْمَ الْفُرْقَانِ يَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعَانِ وَاللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿٤١﴾ الأنفال

او په دې پوه شئ چې څه په غنيمت تر لاسه کوئ نو پنځمه ئې د الله، د پيغمبر، د خپلوانو، يتيمانو، مسکينانو او مسافرو ده؛ که په الله او هغه څه مو ايمان راوړی وي چې په خپل بنده ئې د فرقان په ورځي نازل کړ؛ هغه ورځ چې دواړه ډلې سره مخامخ شوې؛ او الله په هر څه ښه قادر دئ.

دلته د غنائمو په اړه ويل شوي چې پنځمه برخه ئې د الله، د پيغمبر، د خپلوانو، يتيمانو، مسکينانو او مسافرو برخه ده؛ يعني چې دا به بيت المال ته سپارل کېږي.

که څه هم زکات او لمونځ په ۸۲ آيتونو کې څنګ په څنګ ياد شوي؛ او لږ ئې له مکې پيل شوې؛ خو زکات په دوهم هجري کال فرض شوی؛ او رسول الله صلی الله عليه و سلم ئې تفصيلات له دې وروسته مؤمنانو ته بيان کړي؛ او دا هغه وخت دئ چې د انفال سوره او دغه آيت ئې نازل شوی؛ دا سوره په دوهم هجري کال او د بدر له جګړې وروسته نازله شوې.

رسول الله صلی الله عليه و سلم د قرآن شارح او مفسر دئ؛ الله تعالی هغه ته د قرآن په ټولو رموزو او اسرارو پوهه او د بيان او تفسير بشپړ علم ورکړی؛ ده ته همدا آيت کافي وو چې له مخې ئې د نورو مالي

وجائبو اندازه وټاکي. دې ته مو هم پام وي چې د مالي وجائبو نور مقادیر د همدې خمس؛ ضریب دي؛ همدا ۵ په ۲-٤-۸ ضرب شوي؛ لسمه، شلمه او څلوېښتمه ترې جوړ شوي.

کوم روایت چې مورږ لګیا یو پرې بحث کوو؛ په دې کې هم ویل شوي: په هغه مال کې چې تر (پنځو) اوقیو کم وي، په اوښانو کې چې تر (پنځو) کم وي او په هغې غلې کې چې تر (پنځو) وسقو لږ وي؛ زکات نه شته؛ دلته هم ګورئ چې همغه د الانفال سورې د ٤١ آیت (خمس: پنځمه) معیار ګڼل شوی. له دې آیت او روایت په واضح توګه معلومېږي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم د زکات ټول تفصیلات له دې آیت استنباط کړي.

زکات او د حکومت مالي ستونزي

آیا یوازي زکات د حکومتي لګښتونو لپاره بسنه کوي؟

ځیني ښاغلي وایي: نن د حکومتونو مصارف ډېر زیات شوي، فوځ، امنیتي ځواکونه، پولیس، استخبارات، اداري پرسونل، سفارتونه، تعلیمي مؤسسات، صحي اداري، روغتونونه، ډاکټران او پرسونل ئې، اجتماعي او عمراني خدمات، برق، د اوبو بندونه، نهرونه، سړکونه او دې ته ورته موارد؛ پریمانه مصارف ایجابوي؛ آیا کېدی شي یوازي د زکات له لارې دا مصارف تأمین شي؟ که دا کافي نه وي او له زکات پرته د بل څه (کستم، مالیه او ...) اخیستل جائز نه وي؛ نو د دولت مالي ستونزي به څنګه حل کېږي؟

دوی ته په ځواب کې باید ووایو: که دا پوښتنه د هغه چا له لورې وي چې لا ئې اسلام د دین په توګه نه دئ قبول کړی؛ د اقتصادي او مالي مسائلو په اړه هم کافي پوهه او علم نه لري؛ له دې هم واقف نه دئ چې نن د حکومتونو د عوائدو مدارك کوم دي؛ عادلانه دي که ظالمانه، له شتمنو اخیستل کېږي که له عام ولس؛ په جائزو لارو او مواردو کې

مصرف کېږي که د واکمنو پر عیش او عشرت؟ ولې له ۵۰ ایالتونو جوړه شوې امریکا، ۳۳۰ ملیون نفوس، د عوائدو پراخ موارد او په داسې حال کې چې د نړۍ د ستر شتمن هېواد په نامه مشهوره شوې؛ نن نژدې ۳۴ ټریلیون ډالر پورونه دي؟ آیا د دې وجه او دلیل د عوائدو او مصارفو تر منځ عدم تعادل دئ که بل څه؟ تر دې زیات څه له عام ولس واخلي چې له پورونو ځان وژغوري؟ ولې له دومره پراخو عوائدو سره سره د پورونو تر دومره دروند بار لاندې ده؟ دغو ښاغلیو ته به ناچار ښه ځواب وایو؛ البته هغو ته چې اسلام ته د ژمنتیا ادعاء کوي، خو نه له اسلام خبر دي او نه ئې ژمنتیا صادقانه ده؛ دوی ته باید ښه ځواب ولرو. چا چې اسلام د خپل عقل په حکم غوره کړی؛ لومړی ئې اسلام دقیقاً مطالعه کړی او د ژوند په ټولو برخو؛ فکري، اعتقادي، سیاسي، اجتماعي، اقتصادي.. کې ئې د اسلام لارښوونې او تګلارې؛ تر بل هر دین، مسلك، نظام او ایدیوژي غوره او ممتاز موندلې؛ هغه نه یوازې په دې اړه پوښتنه نه کوي؛ بلکې نورو ته هم ځواب ویلی شي؛ لنډ او مجمل ځواب به ئې دا وي: هو؛ د عادل او اسلامي حکومت د ټولو جائزو لګښتونو لپاره یوازې زکات کافي دئ. له فقیر او مسکین؛ تر هر نامه لاندې؛ مالیه او کستم اخیستل؛ شرعاً حرام دي او عقلاً ظالمانه او غیر انساني. د حل لار دا نه ده چې پر خلکو مالیات زیات شي؛ د عدل او عقل غوښتنه دا ده چې د حکومت مصارف او لګښتونه له جائز او مشروع عوائدو سره متوازن او متعادل شي؛ د جمهور رئیس، امیر، وزیر، سفیر، والي، جنرال، د پارلمان وکیل او په مجموع کې د ټولو دولتي لوړ پوړو مامورینو معاشات متوازن شي، د اشرافي قصرونو او دفترونو جوړول بند شي، د ګران بیو موټرو واردول متوقف کړو، پر قبرونو قصرونه جوړ نه کړو، په ودونو او مېلمستیاوو کې د زیاتو لګښتونو سیالي ونه کړو، د اسراف او بې ځایه مصارفو مخه ونیسو، تشکیلات محدود شي، اردو او امنیتي ځواکونه مو د خپل وس په اندازه وي، که امکانات محدود وي او بهرني ګواښونه له مورِ د ځواکمنو امنیتي ادارو او بنسټونو غوښتنه کوي؛ نو د دې پر ځای

چې مصارف ئې د ملت پر اوږو بار کړو یا له بهرنیو هېوادونو مرسته وغواړو؛ له یوه سره وجنګېږو او پر بل ځان او هېواد وپلورو؛ داسې مناسب تدابیر ونیسو چې ملت دفاع ته چمتو کړو؛ له ټول ملت د خپل هېواد مدافع ځواک جوړ کړو. د افغانستان، عراق، لیبیا، او ډېرو نورو هېوادونو تجربو وښوده چې د اسلامي هېوادونو فوځونه او امنیتي ځواکونه؛ د خپل ولس او ملت د ځپلو او مهارولو لپاره رامنځته شوي نه د بهرنیو تېریو د دفع کولو لپاره؛ په ډېرو کې د همدې فوځونو تر څنګ د بهرنیو ځواکونو ستري ستري اډې دي؛ د جنګ او سولې پرېکړې ئې د هغوی په واک کې دي؛ او د دوی خپل فوځونه هم د هغوی کرایي جنګیالي دي؛ د عراق فوځ د امریکا به وړاندي څو اونۍ مقاومت ونه کړ؛ خو د فلوجې ولسي مقاومت؛ پر امریکا رڼا ورځ توره شپه کړه؛ په ۱۹٦۷ کې؛ د ټولو عربي هېوادونو؛ په سر کې ئې مصر، اردن، سوریه او عراق؛ فوځونه ونه توانېدل چې د وړوکي اسرائیل په وړاندي شپږ ورځي مقاومت وکړي؛ تسلیم شول، لاسونه ئې اوچت کړل؛ مهمي سیمې ئې له لاسه ورکړې، د سینا ټاپووزمی، د جولان لوړي، د اردن سیند غربي تراړه؛ د یورشلیم زوړ ښار او د غزې شمالي برخه؛ د اسرائیلو له لورې اشغال او د عربو له واک ووتله؛ خو یوازې د غزې مؤمن جنګیالي وتوانېدل د اسرائیل او ټولو غربي حامیانو؛ د ګډ برید په وړاندي ۱۵ میاشتې مقاومت وکړ؛ د طوفان اقصی تاریخي او بې ساري عملیاتو سره ئې د امریکا پوزه په خاورو ولړله. او دا دئ نن د دوی ټولې غوښتنې او شرائط ومنل شول؛ د حماس او تل ابیب تر منځ معاهده ښیي چې تل ابیب د خپل وحشیانه جنګ هیڅ هدف تر لاسه نه کړی شو؛ نه ئې حماس له پښو وغورځولو او نه ئې خپل اسیران آزاد کړی شو، حماس نه یوازې فعال او ځواکمن پاته دئ بلکې په وروستیو ورځو کې ئې اغېزمن بریدونه کړي چې اسرائیلي سرتېرو ته ئې کافي مرګ ژوبله اړولې؛ فلسطینیان له معاهدې راضي او په څېرو کې ئې د خوښې نښې څرګندې دي؛ مشران ئې وایي: د هر څاڅکي وینې او اوښکې انتقام به اخلي. تل

ابیب منلې چې له ټولې غزې به وځي، خپلې اډې او نظامي تأسیسات به ختموي، د هر اسرائیلي اسیر په بدل کې به ۳۰ فلسطیني اسیران آزادوي، ټول مهاجر او بې ځایه شوي فلسطینیان به خپلو سیمو ته ستنېږي، فلسطینیانو په خپل کلك او مضبوط مقاومت سره وښوده چې د خپلواکې، آزادي او مستقل فلسطین جوړولو لپاره هري قربانۍ ته چمتو دي؛ اسرائیل او حامیانو ته ئې وښوده چې فقط یو بدیل په مخکې لري: د فلسطینیانو حق او ارادې ته تمکین او له ټولو اشغال شوو سیمو وتل.

همدا راز د افغانستان فوځ نه د شوروي په وړاندي مقاومت کړی او نه د ناټو په وړاندي؛ نه یوازي د بهرني تېري په وړاندي ئې مقاومت نه دئ کړی بلکه افسران او سرتېري ئې د یرغلګرو په کرایي جنګیالو بدل شوي؛ په مسکو کې روزل شوي څو وړوکي ماشینی ضابطان وتوانېدل د ظاهر خان زړه او موروثي پاچایي نسکوره کړي او افغانستان د شوروي په اقمارو کې شامل کړي؛ طالبان مو ولیدل چې کله حکومت په لاس ورغی او جنګیالي ئې په عسکري قطعاتو کې تنظیم شول؛ د امریکایي یرغل په وړاندي پنځه اونۍ مقاومت ونه شو کړی؛ په شمال کې ئې پنځلس زره جنګیالي په داسي حال کې افغان امریکایانو (شمالي ټلوالي) ته تسلیم شول چې لا امریکایي سرتېري په افغانستان کې نه وو پلي شوي؛ یوازي B-۵۲ جهازونه ئې په فضاء کې راڅرګند شوي وو؛ دا ۱۵ زره مظلوم جنګیالي په ډېره بې رحمۍ سره ووژل شول. خلکو ګمان کولو چې که طالبان ونه توانېدل په شمال کې مقاومت وکړي نو په کابل او کندهار کې خو به حتماً د کلك مقاومت شاهد وو؛ خو دا انتظار تر سره نه شو او دوی له کابل او ورپسې کندهار هم ډېر سریع او له مقاومت پرته ووتل؛ د امریکا افغان کرایي جنګیالي وتوانېدل په ۵ اونیو؛ یعني ۳۵ ورځو کې؛ هم ټول شمال ونیسي او هم کابل او کندهار. د امارت سفیر په اسلام آباد کې وګمارل شو چې د مطبوعاتي کنفرانس له لارې د کندهار تسلیمول اعلان کړي؛ او هغه همدا کار وکړ او وئې: د امیر المؤمنین په هدایت او ستاسو له لارې امریکا او کرزي ته وایو: همدا نن کندهار تاسو ته

تسلیموو. دا ناکامي تاریخي تجربې کافي دي چې پر فوځ له حد زیات اتکاء او اعتماد ونه شي او پر ځای ئې ولس د دفاع لپاره چمتو او وروزل شي. دا به یقیناً ستره اشتباه وي چې حکومت په دې موخه ملا ماتوونکي مالیات پر ملت وضع کړي چې ګواکي د امنیتي ځواکونو د پیاوړتیا لپاره پیسو ته ضرورت لري او مجبور دئ ټکسونه او مالیات زیات کړي؛ ډېر ځلي همدا ډول مالیات او په زور او زیاتي سره له اړمنو او داسي نېستمنو خلکو ملا ماتوونکې مالیې اخیستل چې له میاشتني معاش پرته نور هیڅ نه لري؛ او د دولت له ټکسنو تر نورو وړاندي دوی صدمه ګوري؛ له نظام متنفر شي، نسکورېدا ئې د خپلو ستونزو علاج ګڼي، له انقلابیونو سره ئې خواخوږي راپیدا شي او هغوی ته د وړیا جنګیالیو موندلو فرصت په لاس ورشي. دا نن چې ما د دې کتاب دغه برخه لیکله په امریکا کې د ۲۰۲۵ کال په لومړۍ ورځ؛ درې خونړۍ پېښې په دریو ایالاتو کې رامنځته شوې، لومړۍ پېښه د تکزاس ایالت په نیو اورلینز ښار کې چې د امریکا د فوځ یوه مخکیني سرتېري په خپل پک اپ ګاډي سره پر هغې غونډې برید وکړ چې د ۲۰۲۵ میلادي کال لومړۍ ورځې لمانځني په موخه جوړه شوې وه؛ پک اپ ئې په لوړ سرعت سره د خلکو ستري غونډې منځ ته ننایستی؛ کله چې ګاډی له مخکې تګ تم شو نو کوز شوی او پر خلکو ئې تر هغه ډزي کړې چې د پولیسانو له لوري ویشتل شوی؛ په پېښې کې ۱۵تنه وژل شوي او په لسګونو نور (لږ تر لږه ۳۶) ژوبل شوي. دې امریکایي سرتېري په افغانستان کې هم د جنګ تجربه درلوده. په بلې پېښې کې په لاس وګاس کې د ټرمپ نړۍ وال هوټل مخي ته؛ په ټسلا سایبر ټرک ګاډي کې چاودنه شوې، ډېرېور وژل شوی او اوه تنه ژوبل شوي. وروسته معلومه شوه چې ډېرېور په چاودني کې نه دئ وژل شوي بلکې ځان وژنه ئې کړې؛ او پولیس ته داسي اسناد په لاس ورغلي چې ښیي دی له یوې تروریستي ډلې سره لاس لري او درېیمه پېښه د نیویارک ښار په کونینز کې په شپني کلپ کې هغه برید وو چې په ډزو کې ئې ۱۱ تنه زلمیان ژوبل شوي. که دا پېښې د افغانستان شل

کلن اشغال په دوران کې پر امریکایي ځواکونو له ورته بریدونو سره مقایسه کړو نو ویلی شو چې هغه دومره نه وو؛ په افغانستان کې د ناټو د نظامي حضور په دوران کې لږ داسې واقع شوي چې پر امریکایي ځواکونو دي افغان مجاهدینو په یوه ورځ کې دومره عملیات کړي وي؛ البته پر عام افغانانو د امریکا او ناټو ځواکونو بریدونه؛ کله کله لسګونو ته رسېدل او کله کله د امریکا بد مستو سرتېرو؛ په ښارونو کې او د عام ولس پر ګټه ګوڼې؛ همداسې لوی عسکري ګاډي او ټانکونه تېر کړي. نن که په امریکا کې د دوی زاړه سرتېري داسې بریدونه کوي؛ دا ځې په افغانستان کې زده کړي. په دوو بریدونو کې کارول شوي ګاډي له هغه شرکت په کرایه نیول شوي چې ټکسي په کرایه ورکوي؛ او دا ښیي چې هم پېښې سره ورته دي، هم ځې موخې او هم ځې عاملین له یوې ډلې. دا پېښې نه عادي دي او نه ساده او د عادي ګڼلو وړ؛ یقیناً چې پراخ ابعاد لري او خاص پیغامونه له ځان سره؛ په دې کې هیڅ شك نه شته چې د امریکا داخلي او خارجي سیاستونه هم په دې پېښو کې اغېز لري او اقتصادي نظام او تګلاري ځې هم. د امریکا د وورستي انتخاباتو هغه پېښې او پر ټرامپ په دقیقه توګه پلان شوي بریدونه هم باید په پام کې ولرو چې په یوه کې ځې د ټوپك مردکي فقط یوه سانتي خپل هدف غلط کړ؛ که نه نو اوس به د سپیني ماڼۍ پر کرسۍ د ټرامپ پر ځای بل څوك ناست وو.

حقیقت دا دئ چې که د هېواد چاري د صالح او امین مشرانو لاس کې وي، په ټولنې کې عدالت تأمین شي، د فساد، غارت، غصب او ظلم بساط ټول شي، د اسراف، بې ځایه او بېهوده لګښتونو مخنیوی وشي، نو زمور کورنۍ عوائد د ټولو ضروري دولتي لګښتونو لپاره کفایت کوي؛ د نورو اسلامي هېوادو وضعیت هم دغسې دئ. یوازې سعودي دومره لري چې په سپیني ماڼۍ کې د ټرامپ له وینا وروسته د سعودي ولیعهد؛ فوراً او له شوری یا بل مقام سره له مشورې پرته اعلان وکړ چې تیار دئ په امریکا کې ٦۰۰ ملیارده ډالر پانګونه وکړي؛ دا مبلغ دومره دئ چې که د

نړۍ پر۵۰ اسلامي هېوادو ئې ووېشي؛ نو هر یوه ته ۱۲ ملیارډه ډالر رسېږي؛ او دا د افغانستان په شمول د ډېرو اسلامي هېوادو تر کلنۍ بودجې زیات مبلغ دئ. او که همدومره پانګونه په اسلامي هېوادو کې وکړي؛ نو هم به ډېرې هېوادونه او ولسونه ئې له اقتصادي پلوه له احتیاج وژغورل شي او هم به سعودي له دې پانګوني دومره ګټه تر لاسه کړي چې د امریکا له پانګوني ئې نه شي تر لاسه کولی. خو هغه حتی د غزې او القدس له مؤمنو مدافعینو سره نه یوازې هیڅ مرسته ونه کړه؛ بلکې هغه مهال به له ریاض دا اورېدل کېدل چې مور ته خپلې ګټې ارزښت لري، نه غزه، له تل ابیب سره زمور نورمالي سیاسي اړیکي باید د غزې په سبب ترینګلې نه شي!! دا ځکه چې هغه د ټرامپ حمایت ته ضرورت لري؛ او د پانګوني دا وړاندیز په حقیقت کې ټرامپ ته یوه تحفه او رشوت دئ!! ټرامپ په ۶۰۰ ملیارډ قانع نه دئ؛ ۱۰۰۰ ملیارډ غواړي؛ احتمالاً عربي هېوادو ته د ده لومړۍ سفر به له سعودي پیل او ورپسې متحده إمارات او قطر ته وي؛ له ټولو به ملیارډ ډالري تحفې تر لاسه کړي!!

زه د غزې او سوریې مجاهدینو ته وایم: د عربو هېوادو له اوسنیو حکامو د خیر هیڅ طمع مه کوئ، دوی د نړۍ په هیڅ ګوټ کې هم د اسلامي حکومت راتګ نه شي زغملی او له داسي پېښې دومره وېرېږي چې امریکا او روسیه دومره نه وېرېږي؛ د اسلامپالو په خلاف د غرب جنګ دوی په غاړه اخیستی او په لومړۍ کرښې کې د دوی په خلاف د کرایي جنګیالیو په څېر جنګېږي؛ دا څوك وو چې د غزې مجاهدین ئې په دې ګواښل چې یا د امریکا د خوښې اوربند ومنئ یا له دوحې ووځئ؟ هغه څوك وو چې بشار اسد ته ئې له انزوا د ایستلو په موخه هغه وخت د عربو حکامو په غونډې کې د شرکت بلنه ورکړه چې څو میاشتې وروسته ئې واکمني نسکوره شوه؛ او یقیناً چې دا د سوریې مجاهدینو د بریا له وېرې وه!! په افغانستان کې د مجاهدینو له بریا او د اسلامي حکومت د جوړیدو د مخنیوي لپاره همدغو حکامو هغه څه کړي چې

مسکو او واشنګټن ئې له کولو عاجز ول؛ د منافقینو یوه ډله ئې د ریاض له لارې مسکو ته ولېږله چې له کمونستانو سره د مجاهدینو خلاف ګډه جبهه جوړه کړي او د شوروي نیمګړي جنګ ته تر هغه ادامه ورکړي چې په کابل کې د مجاهدینو په لاس د اسلامي حکومت د جوړېدو امکان د تل لپاره له منځه ولاړ شي. طالبان د دوی له لوري د یوې ډلې په توګه او د مجاهدینو خلاف د جنګ په موخه رامنځته شول؛ او بیا همدا دوی ول چې د طالبانو خلاف د امریکا تر فرمان لاندې په لومړۍ کرښې کې جنګېدل.

خو دوی او ټولو نورو هغو ته چې الله تعالی ئې هېر کړی، د زمکنیو اربابانو او زبرځواکونو په وړاندې سجده کوي او په اقتدار کې د پاته کېدو طمع ترې لري؛ وایو: چا چې پر دغو ځواکونو تکیه کړې نو د همدوی په لاس نسکور شوي؛ په افغانستان کې چې څوک د شوروي د متو په زور قدرت ته ورسېدل له ارګ ئې جنازې ووتلې، د شوروي ځواکونو په لاس یا ووژل شول، یا له قدرت خلع او ذلیل شول او نن ئې یا قبرونه معلوم نه دي او یا ئې خلك په ډبرو ولي؛ امریکا له خپلو لاسپوڅو سره همداسي وکړل، نن حتی امریکا ته د تګ ویزه نه ورکوي؛ نه ئې د ایران رضا شاه پهلوي ته ویزه ورکړه او نه د افغانستان اشرف غني ته؛ له طالبانو سره امریکا په دریو کلنو کې ۲۱ ملیارډه ډالر مرسته وکړه، دوه ځلي ئې قدرت ته ورسول؛ خو نن غواړي د دوی مشران په نړۍ والي محکمې کې محاکمه کړي؛ او پر سر ئې تر اسامه بن لادن لویه جایزه وټاکي، همغه ابن لادن چې امریکا د طالبانو مخکینی حکومت ځکه نسکور کړ چې ده ته ئې پناه ورکړې وه. نن د ټرامپ دفاع وزیر وایي: طالبان د نړۍ تر ټولو بده تروریستي ډله ده!!

که څوك ګمان کوي چې همدا امریکا او د هغې کبر او غرور به وي او همدا ټرامپ او د هغه مستي او نخا؛ سخت غولېدلی؛ مګر له یاده ئې وتلي چې څو اونۍ وړاندې یوې مرمۍ د ده سر په نښه کړی وو؛ هسي یوه سانتي له مسیر کږه شوه او د ده غوږ ئې سوری کړ؟! کله چې

په مخکيني ځل کي بريالی شو؛ نو ما د ده حرکاتو او ويناوو ته په پام سره دا ګمان وکړ چي دی به د امريکا لپاره د شوروي هغه برژنف ثابت شي چي پر افغانستان ئې د برید پربکړه وکړه؛ زمور د هېواد د دائمي اشغال په موخه او پر ټولي سيمي د تسلط لپاره؛ عسکرو ئې ويل: د بوټونو بندونه به د کراچۍ په ساحل کي خلاصوو!! خو همدې غلط تصميم هم د ده سر وخوړلو او هم د شوروي؛ نن نه شوروي شته او نه برژنف!! اوس چي مي د تحليف په مراسمو کي د ټرامپ وينا؛ د ستري، عظيمي او بې سيالي امريکا په اړه واوربده، د پانامه کانال او ګرينلنډ د نيولو عزم، کانادا ته دا بلنه چي د امريکا ۵۱ م ايالت شي، د چين او روسيې ګواښل او د خپلي بريا په لمانځني کي د ده کچه او خندونکې نڅا مي وليدله؛ متيقن شوم چي هغه مخکينی ګمان به مي دا ځل تحقق مومي؛ دا ځکه چي د عالمونو ستر رب؛ نه مغرور او کبرجن فرعونان بې سزا پربږدي او نه ئې ذليل او سپېره غلامان؛ دواړو ته عملاً د دوی غلطي ورښيي.

کوم حالت کي پر زکات سربېره نور څه له شتمنو اخيستل جائز دي؟

دا هم بايد په پام کي ولرو چي اسلامي حکومت کولی شي د ضرورت په صورت کي په ځانګړې توګه هغه مهال چي د اضطراري حالت له کبله د ولس مزيد مرستو ته اړ شي؛ له هغوی پر زکات سربېره نوري مرستي وغواړي؛ چي فقهاءو داسي مواردو ته د مصالح مرسله او سد ذرائع نوم ورکړی؛ خو په داسي مواردو کي به هره پربکړه د ټولو مسلمانانو په اتفاق او رضايت سره کېږي؛ نه د امراءو په فوق العاده فرمانونو سره؛ د مسلمانانو هغه شورى به داسي پربکړي کوي چي ټول ملت تمثيلوي، غړي ئې د ملت معتمد او منتخب وکيلان وي؛ دا ځکه چي شريعت له يوې خوا په داسي مواردو کي شورى او د مسلمانانو رضايت واجب کړی او له بلي خوا وايي: هيڅوک حق نه لري حدود، احکام او وجائب وضع

کړي، يا په حدودو او احکامو کې کمی او زياتی وکړي او له ځان شارع جوړ کړي. قرآن وايي: الله تعالی د احکامو په وضع کولو کې هيڅوک له ځان سره نه شريکوي؛ روايات هم په واضح الفاظو وايي چې (لَيْسَ فِي الْمَالِ حَقٌّ سِوَى الزَّكَاةِ: په مال کې له زکات پرته بل حق نه شته)؛ يعني هغه څه چې حکومت ئې له خلکو تر لاسه کوي فقط زکات دئ چې نصاب، مقدار او د مصارفو ټول موارد ئې د شريعت له لوري ټاکل شوي؛ مقدار ئې پنځمه، لسمه، شلمه او څلوېښتمه دئ؛ نه ئې څوک نصاب بدلولی شي او نه مقدار.

د مثال په توګه وايو: شريعت په شتمنيو کې د زکات نصاب او مقدار ټاکلی؛ په شتمنيو کې ئې د هستوګني خپل کور، د کور ضروري او تر استعمال لاندي وسائل، د سورلۍ آس، اوښ او موټر، د مېرمنو ګاڼه.... له زکات مستثنی کړي؛ نو حکومت حق نه لري چې له چا د کور، دکان، موټر، لاسي کراچۍ، لوحې او په بل هر نامه کميشن او ماليه واخلي، حکومت حق نه لري له هغه چا څه واخلي چې شتمني ئې د زکات نصاب ته نه وي رسېدلې؛ زمونږ د ولس اکثريت داسي دئ چې په زحمت سره کولی شي خپل ورځني ضرورتونه پوره کړي او د خپلي کورنۍ د خوراک، لباس، دواء، د تعليم مصارف، د کور کرايه، ... له عهدې ووتلی شي؛ فقير او مسکين په بيت المال کې تر ټولو وړاندي مسلم حق لري؛ اما متأسفانه اوس له ټولو افغانانو؛ که شتمن دي او که فقير او مسکين؛ په مختلفو نومونو مالیې اخيستل کېږي، پر ټولو وارداتي اجناسو؛ د خوراکي توکيو، دواء او جامو په شمول ناروا او لوړ ګمرکي ټکس او محصول وضع شوي؛ دا نه يوازي حرام دي او هيڅ شرعي مجوز ورته نه شو موندلی؛ بلکي څرګند ظلم دئ؛ د ګمرکاتو اصلي اداءکوونکي نه تاجران دي او نه شتمن؛ هغه عام ولس ئې تأديه کوي چې غوڅ اکثريت ئې د فقر او مسکنت تر کربې لاندي دي؛ د اسلام له نظره حکومت د فقيرانو او مسکينانو متکفل دئ، په بيت المال کې لومړي مستحقين دوی دي، داسي نظام رامنځته کول چې فقيران، مسکينان او هغه چې شتمني ئې د

نصاب حد ته نه وي رسېدلې؛ په يوه او بل نامه د مالیې په ورکولو مکلف کړي؛ دا ظالمانه او غیر اسلامي نظام دئ او دا ډول ټکس په قطعي توګه حرام دئ؛ او که دا ظلم د اسلام تر لاندي کېږي نو یقیناً چې دا هم له اسلام سره جفا ده او هم له ولس سره؛ او که له دغو لارو تر لاسه شوي مبالغ؛ حکامو ته د اشرافي ژوند په برابرولو لګېږي؛ له دې جفا او ظلم باید الله تعالی ته پناه یوسو!! او که د لوړ پوړو حکامو معاش او امتیازات؛ تر پنځوس عادي مأمورینو، معلمینو او د امنیتي ځواکونو تر محافظینو زیات وي؛ دا یو امریکایي نظام کېدی شي نه اسلامي او عمري نظام.

خو دا باید په پام کې ولرو چې زکات د اسلامي حکومت له لورې له هغو مسلمانانو اخیستل کېږي چې د حکومت تر واک لاندي سیمې کې ژوند کوي او د سیمې اداره او د ولس امنیت تأمینوي، رسول الله صلی الله علیه و سلم په مکه کې نه له چا زکات اخیستی او نه زکات فرض شوی وو؛ په مدني دور کې او د بدر له جګړې وروسته زکات فرض شوی او د راغونډولو لړۍ ئې پیل شوې. متأسفانه ځینې دې اصل ته له پام پرته د زکات د اخیستلو فتوی هر هغه چا ته ورکوي چې پر کومې سیمې د زور او وسلې په مرسته مسلط شي، د جهاد په دوران کې داسې خلك هم راڅرګند شول چې په کومې غرنۍ سیمې کې به ئې جبهه پرانیستله او بیا به ئې د سیمې له خلکو په زور د زکات او عشر په نامه پیسې اخیستلې، حتی د هیروئینو او چرسو عشر به ئې هم اخیستلو!! دې ته ئې هم د سرکاري او کرایي مفتیانو فتوی تر لاسه کړې وه!! خو کله چې به سیمې ته دولتي ځواکونه ورغلل نو له معمولي مقاومت پرته به وتښتېدل او سیمه به ئې خوشې کړه؛ او بیا به دولتي ځواکونو له همدغو مظلومانو مالیه تر لاسه کوله!! هغه مو هم ولیدل چې مشران ئې د هیروئینو نړۍ وال قاچاقچیان ول او په هلیکوپټرو کې به ئې اپیم انتقالول!!

دې ته هم باید متوجه وو چې د اسلامي حکومت د بیت المال او

خزانې مهم شرائط دا دي: ۱- دا د ملت امانت دئ؛ حکام په کې په خپل سر او خوښه د تصرف هیڅ حق نه لري؛ هر لوی او ووړ تصرف به د ملت په خوښه او مشوره او د اسلامي لارښوونو مطابق وي؛ د امیر المؤمنین او نورو حکامو تر معاش پوري؛ ۲- په دې کې حرام مال او شتمني نه شي جمع کېدی او په حرامو لارو او غیر عادلانه توګه نه شي مصرف کېدی؛ د مصارفو موارد او ترتیب او تسلسل به ئې همغې وي چې قرآن ښودلی؛ ۳- که اسلامي حکومت نه وي نو شتمن باید خپل زکات په خپله پر مستحقینو ووېشي؛ اسلامي حکومت هغه دئ چې مشر ئې د مسلمانانو له لوري غوره شوی وي؛ شریعت ته التزام لري او کارونه ئې له ولس سره په مشوره وي؛ د داسي حکومت په نه شتون کې؛ غوره دا ده چې مسلمانان خپل زکات کوم ډاډمن او صالح اسلامي تنظیم ته وسپاري او د مصرف ځرنګوالی او موارد ئې همدې تنظیم ته پرېږدي. حکومت یا کوم صالح او معتمد تنظیم ته ئې سپارل له دې امله غوره دئ چې: ۱- زکات په سمه توګه مستحقینو ته رسېږي، ۲- یوه تن ته د څو اغنیاءو له لوري نه ورکول کېږي، ۳- د زکات اخیستونکي عزت النفس خوندي پاته کېږي، ٤- کېدی شي تر دې چې زکات څو تنو ته ورکړی شي؛ په کوم ضروري عام المنفعه کار لګول ډېر مفید وي؛ لکه د ساري مرض په وخت کې کلینیك جوړول، ډاکټران استخدامول او خلکو ته وړیا دوا ورکول؛ یا د څښاك پاکو اوبو ځاګان کیندل. داسي کارونه یوازي حکومت او خدماتي اداري کولی شي.

زمونږ لویه او اساسي ستونزه دا ده چې حکومتونه او حکام مو تل په بهر کې ټاکل شوي؛ په لندن، پېښور، مسکو، بن، واشنګټن او دوحه کې؛ یو ځل هم زمونږ حکومت او زعیم په کابل کې او د افغانانو په خوښه او رأی او د اسلام له لارښوونو سره سم نه دئ غوره شوی؛ هر څوك چې راغلی؛ د پردیو د متو په زور او یا له پردیو سره د سازش او معاملې له لارې راغلی؛ خپل ټبر، قبیله یا ډله ئې پر هېواد او ولس تحمیل کړې؛ نه ئې د ولس ارادې او رأی ته ارزښت ورکړی او نه ئې هغوی ته د خپل

برخليك ټاکلو او د خپلي خوښي نظام جوړولو حق ورکړي؛ له هر زعيم مو داسي مستبد او مطلق العنان واکمن جوړ شوی چي ولس ته ئې د غلامانو او اسيرانو په سترګه کتلي، د هغوی د سر، مال او عزت په اړه ئې د هر څه کولو حق ځان ته ورکړی؛ د هغوی وطن ئې کله په يوه پلورلی او کله په بل؛ نه ئې درنه، د ملت ممثله او صلاحيت منه شوری درلوده او نه داسي اساسي قانون چي د ملي ميثاق حيثيت ولري، د ديني او ملي ارزښتونو په رڼا کې جوړ شوی او د ملت ممثلي شوری تصويب کړی وي؛ نظام تعريف کړي، د حکومت دندي، مسئوليتونه او صلاحيتونه وټاکي، د عزل او نصب اسباب او مراجع مشخص کړي؛ کورني او بهرني سياستونه وټاکي، دوست او دښمن وښيي، او نور مهم او مسائل. که ئې شوری جوړه کړې نو د خپلي خوښي څو مداحان، متملقين او درباريان ئې راغونډ کړي او که ئې د اساسي قانون په نامه کومه لوبه کړې او څه ئې اعلان کړي نو خپل هوس او هوی ته ئې د قانون نوم ورکړی؛ خپل ناروا اقتدار، انحصار او زورواکي ته ئې د قانون جامه وراغوستې، ځان ئې ټولواك کړی او خپله مبرمن ملکه او خپل ځامن او لوڼي شهزادګان، له مرګ وروسته د ده ځای ناسي او د تخت او تاج وارثان!! تر هغه چي دا ستونزه نه وي حل شوې او ملت د خپل برخليك ټاکلو حق نه وي تر لاسه کړی او د لاسته راوړلو لپاره ئې د همت ملا نه وي تړلې؛ نو نه له دې دردناك حالت وتلی شي او نه د مخکينيو ترخو او خونړيو تجربو د بيا بيا تکرار مخنيوی کولی شي.

حکومت او د شخصي ملکيت مصادره

دا هم يوه مهمه پوښتنه ده چي آيا حکومت کولی شي د چا شخصي ملکيت مصادره کړي؟ که د سړك جوړول يا پراخول، د جومات جوړول يا پراخول او کوم بل اجتماعي مصلحت ايجابوله چي د چا کور وران شي يا ئې زمکه او باغ تصرف شي؛ آيا حکومت دا کار کولی شي؟ که ئې کولی شي نو په کوم حالت کې او د کومو شرائطو په مراعات سره؟

راشئ په دې موضوع د سره پوهېدو لپاره د عمر او عباس رضي الله عنهما تر منځ د نبوي مسجد د توسيع په اړه اختلاف او د حل څرنګوالی ئې خپلې مخې ته کښېږدو. چې هغه داسې وو:

د عمر رضي الله عنه په خلافت کې او هغه مهال چې په مدينه کې د مسلمانانو شمېر زيات شو او نبوي مسجد ورته کفايت نه کولو؛ نو وئې غوښتل چې مسجد پراخ کړي؛ د جومات خوا ته د عباس بن عبد المطلب کور وو؛ له هغه ئې وغوښتل چې د جومات د پراخولو لپاره دا ما ته وپلوړه کړه يا ئې راباندې وپلوره؛ هغه ونه منله، موضوع قاضي او حکم ته وړاندې شوه، حکم ئې هم د رسول الله صلى الله عليه و سلم يو مشهور صحابي أُبی بن کعب رضي الله عنه وو؛ هغه د عباس رضي الله عنه په حق کې فيصله وکړه؛ عمر رضي الله عنه له دې پرته بل بديل او انتخاب نه درلود مګر دا چې له خپل تصميم واوړي؛ د دې موضوع اړوند روايت داسې دئ:

عن أُبَيّ بن كعب قال: إن عمر بن الخطاب والعباس بن عبد المطلب تحاكماَ إليه في دار للعباس إلى جانب المسجد أراد عمر أخذها ليزيدها في المسجد فأبى العباس، فقال لهما أُبَيٌّ بن كعب: لما أمر سليمان - هو ابن داود النبي - ببناء بيت المقدس كانت أرضه لرجل فاشتراها منه سليمان فلما اشتراها قال له الرجل: الذي أخذت مني خير أم الذي أعطيتني؟ قال سليمان: بل الذي أخذت منك، قال: فإني لا أجيز البيع، فرده، فزاده، ثم سأله فأخبره، فأبى أن يجيزه، فلم يزل يزيده ويشتري منه، فيسأله فيخيره، فلا يجيز البيع، حتى اشتراها منه بحكمه على أن لا يسأله، فاحتكم شيئاً كثيراً، فتعاظمه سليمان، فأوحى الله إليه: إن كنت إنما تعطيه من عندك فلا تعطه، وإن كنت إنما تعطيه من رزقنا فأعطه حتى يرضى بها، فقضى بها للعباس. المحلى بالآثار لإبن حزم

له أبی بن کعب رضي الله عنه روايت دئ چې عمر بن الخطاب او عباس بن عبد المطلب ده ته د عباس بن عبد المطلب د هغه کور په اړه د حکميت او قضاوت لپاره ورغلل چې د جومات خوا ته وو؛ عمر وغوښتل

چې ترې وائي خلي او په جومات کې ئې علاوه کړي؛ خو عباس رضي الله عنه ډډه وکړه؛ نو أبی بن کعب ورته وویل: کله چې سلیمان د داؤد علیهما السلام زوی په دې وګمارل شو چې بیت المقدس جوړ کړي؛ زمکه ئې د یوه سړي وه؛ نو سلیمان علیه السلام ترې وپیرله؛ هغه سړي ورته وویل: هغه څه غوره دئ چې له ما دي واخیست او که هغه چې ما ته دي راکړ؟ سلیمان وویل: نه، بلکې هغه څه چې له تا مي واخیست؛ هغه سړي وویل: نو زه له دې سودا سره موافق نه یم؛ نو بیه ئې مسترده کړه؛ بیا سلیمان ورزیاته کړه؛ هغه بیا د مخکې په څېر وپوښتل: او هغه همغسي ځواب ورکړ؛ نو ده بیه مسترده کړه او هغه ورزیاته کړه، همداسي څو ځله ئې پیرله او ردوله؛ تر هغه چې د زمکې خاوند ته ئې د بیې اختیار ورکړ؛ په دې شرط چې مخکینۍ پوښتنه به نه ترې کوي؛ نو هغه دومره لوړه بیه وټاکله چې سلیمان علیه السلام زیاته وګڼله؛ نو الله تعالی دا وحي ورته وکړه: که هغه څه چې ده ته ئې ورکوې له خپل مال ئې ورکوې؛ نو مه ئې ورکوه؛ او که له هغه څه ئې ورکوې چې ما درکړي؛ نو دومره ورکړه چې هغه پرې راضي شي. بیا أبی بن کعب د عباس رضي الله عنه په حق کې فیصله وکړه.

او عباس رضي الله عنه له دې پرېکړي وروسته؛ دا زمکه په خپله خوښه د مسجد لپاره وقف کړه.

هو؛ اسلام شخصي ملکیت ته همدومره درناوی لري؛ هیڅا ته؛ د خلیفه او امیر المؤمنین په شمول؛ دا اجازه او حق نه ورکوي چې د چا ملکیت په زور او د مالك له خوښي او موافقې پرته مصادره کړي؛ که څه هم د نبوي مسجد د پراخوالي په څېر د مهم او ضروري مقصد لپاره وي!! له دې قیاسولو شو چې د نورو موخو لپاره به د چا د زمکې، کور، باغ او بل ملکیت د مصادره کولو، ورانولو او قبضه کولو حکم څه وي. اسلامي حکومت یوازې په هغه صورت کې کولی شي د سړك، جومات، روغتون، هوائي ډګر، او نورو ضروري او حیاتي عام المنفعه تأسیساتو لپاره د چا زمکه ترې واخلي چې: ۱- حکومت دې کار ته اړ شوی وي او بله

چاره ونه لري، ٢- د حكومت او د زمكي د خاوند دعوى عادل او عالم قاضي ته وړاندي شي او هغه د شريعت مطابق پرېكړه وكړي، ٣- د زمكي خاوند پرې راضي او موافق وي، ٤- مناسب بديل يا عادلانه قيمت ئې ورکړي، ٥- كه د هستوګني كور ترې اخيستل كېږي نو لومړى بايد د بل مناسب كور بند وبست ورته وكړي.

دا روايت له يوې خوا مورِ ته په اسلامي نظام كې د قضاء او قاضي استقلال او لوړ حيثيت راښيي؛ له بلې خوا قانون ته د امير او زعيم التزام او له استبداد او استكبار ځان ساتنه، او په ضمن كې هغه څرګنده الهي لارښوونه او عملي بېلګه ئې زمورِ مخي ته ږدي چې وايي: د مسلمانانو امراء او مشران مطلق العنان واكمنان نه دي، د قانون په وړاندي ئې حيثيت همدومره دئ لكه د يوه عادي مسلمان، كه له عام مسلمانانو سره په كومي قضيې كې له اختلاف سره مخ شي نو پرېكړه به قاضي كوي نه دوى، مدعي او مدعى عليه به د الله تعالى او د هغه د رسول حكم او لارښوونو ته رجوع كوي؛ كه څه هم يو ئې د عمر رضي الله عنه په څېر د اسلامي امت درېيم عظيم شخصيت وي او بل ئې يو عادي مسلمان او حتى كوم يهودي او غير مسلمان ذمي؛ دعوى به محكمې ته راجع كېږي او ورستۍ پرېكړه به قاضي كوي؛ نه امير المؤمنين؛ دلته به ټولې پرېكړې او قضاوتونه د الله تعالى د دين مطابق وي نه د واكمنو د هوى او هوس او شخصي رأى او سليقې مطابق؛ دلته د حكمونو صادروونكى او د قانون وضع كوونكى فقط الله تعالى دئ؛ د الله له لورې لېږل شوى كتاب د ټولو قوانينو لومړۍ او وروستۍ مرجع ده؛ دلته هيڅوك د فوق العاده احكامو او فرامينو صادرولو هيڅ حق نه لري، امير د چارو سمبالوونكى دئ نه د فرامينو صادروونكى؛ يوازي هغه پرېكړه او امر ئې د منلو او اطاعت وړ دئ چې په هغه كې د الله له حكم بغاوت نه وي مضمر؛ لكه چې قرآن فرمايي:

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَ وَأُوْلِى ٱلْأَمْرِ مِنكُمْۖ

فَإِن تَنَٰزَعۡتُمۡ فِي شَيۡءٖ فَرُدُّوهُ إِلَى ٱللَّهِ وَٱلرَّسُولِ إِن كُنتُمۡ تُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِۚ ذَٰلِكَ خَيۡرٞ وَأَحۡسَنُ تَأۡوِيلًا ٥٩ النساء

اې مؤمنانو! د الله اطاعت وکړئ او د پیغمبر او د خپلو چارواکو اطاعت وکړئ، نو که په کوم څه کې مو په خپلو کې شخړه وکړه، نو الله او پیغمبر ته ئې راجع کړئ، که پر الله او د آخرت پر ورځ ایمان لرئ، دا ډېر غوره دئ او د پایلې له پلوه ډېر ښایسته.

یعني ټول مؤمنان د الله او د هغه د رسول په بشپړ اطاعت مکلف دي، د امیر اطاعت د الله او د هغه د رسول په اطاعت پورې مشروط دئ، په هغه څه کې به د ده اطاعت کوي چې د الله تعالی او د هغه د رسول د لارښوونو مطابق وي، که له امیر ئې داسې څه ولیدل چې د شریعت خلاف وي نو نه یوازې د ده اطاعت به نه کوي بلکې مخالفت او ممانعت به ئې کوي، که د امیر او ولس تر منځ په کومې قضیې کې اختلاف رامنځته شي؛ نو منازعه به د الله کتاب او د رسول سنت ته راجع کېږي، وروستۍ پرېکړه به د قرآن او سنت له مخې کېږي. د قانون په وړاندې ټول برابر دي، هیڅوک دا حق نه لري چې ځان تر قانون اوچت وګڼي، قانون ځان ته تابع او ځان د وروستۍ پرېکړې وروستۍ مرجع وګرځوي.

نن د نړۍ ډېرې حکومتونه داسې دي لکه د غلو کومه غدۍ چې د امنیتي ځواکونو په یونیفورم کې پر کوم بې اسرې او بې وسلې کلي مسلطه شي، هر څه ئې د حکومتي وسلې او جامې په مټ لوټي؛ او کلیوالو ته وایي: پام کوئ چې د مخالفت او تېښتي هڅه ونه کړئ؛ له قانون د بغاوت او سرغړاوي سزا درنه ده!! په لسګونو ډوله ظالمانه مالیې، ټکسونه او جریمې پر خلکو وضع کوي؛ د دې سرکاري غلو له تېرې ئې نه سر او عزت خوندي وي او نه مال. او مور بیا په هر څه کې یا له نورو تقلید کوو؛ او یا له هغو نړۍ والو بانکونو او مالي مؤسسو پورونه تر لاسه کوو او ټولو شرائطو ته ئې غاړه ږدو چې په اصل کې د نورو

هېوادونو د غارت او لوټلو لپاره رامنځته شوي؛ حکومتونو ته سودي قرضې ورکوي، او دا شرائط پرې وضع کوي چې په مختلفو نومونو له خپل ولس ټکسونه او مالیې تر لاسه کړي؛ مثلاً د سړک او پل جوړولو په ارتباط پور ورکوي خو په څنګ کې ئې دا شرط وضع کوي چې د هر لوی ښار د وتلو او ننوتلو په دراوزو کې او پر هر پُل د تېرېدو په بدل کې به ټکس (tooll tax) تر لاسه کوي؛ دا د دې لپاره چې ځان مطمئن کړي له پور اخیستونکي حکومت خپل پور او ګټه؛ په خپل ټاکلي وخت او له ځنډ پرته تر لاسه کولی شي. په دې سره له یوې خوا د (IMF) په څېر نړۍ والي مالي مؤسسې خپلې ګټې خوندي کوي او له بلې خوا پور اخیستونکي حکومتونه کولی شي خلکو ته وښیي چې دا دې زموږ غمخور حکومت سړک راته جوړ کړ!! خو له دې خبر نه دي چې دا سړک په هغو پیسو جوړ شوی چې د دوی له جیب په رښا ورځ غلا شوې؛ د دوی د سفرونو کرایه زیاته شوې، د ضروري او حیاتي اجناسو (غله، مېوه، جامه، دوا، د خښتو، ډبرو، سمنټو په څېر د عمراني توکیو د انتقال لګښت زیات شوی) او بیه ئې لوړه شوې؛ دا سړک د سود په پیسو جوړ شوی او سود ئې د ولس له جیبونو اداء شوی.

یو ښاغلی ښاروال به وغواړي چې د لوړ پورو واکمنو توجه او التفات جلب او خپل صداقت او اهلیت ورته ثابت کړي؛ نو د واټونو د پراخولو نقشه به جوړه کړي؛ د نقشې پلي کول به د ډبرو کورونو، دکانونو، روغتونونو، دفترونو، هوټلونو ... ورانول ایجابوي؛ حکومت ته به خپله طرح وړاندي کړي؛ د وړاندیز په دفاع کې به دا هم ولیکي چې په دې سره به د حکومت او مشرانو محبوبیت او ولسي حمایت زیات شي، د پروژې لګښت به د حق العبور له ټکسونو، د کورونو، دکانونو، غرفو، کتنځایونو او .... له مالیه او ټکسونو تأمین شي، دې ته ورته ګڼ شمېر نور داسي دلائل چې د واکمنو موافقه تر لاسه کړي؛ همدا ورته کافي ده چې خپل کار پیل کړي؛ نه د دې پروا کوي چې د چا کور، دکان، تعمیر... ورانول او زمکه ئې غصبول او مصادره کول جائز دي که نه، حکومت

متضرر کېدونکو خلکو ته د عادلانه معاوضې ورکولو توان لري که نه؛ د دې پروا هم نه کوي چې د نویو سړکونو جوړول او د زړو رغول او پراخول؛ باید د ښار د هغه عمومي او اوږدمهال پلان (Master Plan) په مطابقت کې وي چې ټول ښار احتوی کوي؛ که احیاناً په عمومي پلان کې دا په نظر کې نیول شوې وي چې د زاړه ښار یوه برخه یا ځینې وزارتونه او نظامي او امنیتي تأسیسات باید نوي ځای ته انتقال شي؛ نو نه د زړو سړکونو پراخولو ته ضرورت شته او نه د کورونو او دکانونو ورانولو ته. د کابل ښار تنګ دئ؛ نفوس او د حمل و نقل وسائط ئې تر ظرفیت ډېر زیات شوي، تر زمکې لاندې اوبه ئې د فاجعې تر حده ژوري شوې؛ په ژمي کې د بخاریو او مرکز ګرمیو دود او لوخړي ئې فضاء داسې ککړه او زهرجنه کړي چې له مازدیګر وروسته په واټونو کې ګرځېدا ګرانه شي. ستونزه ئې نه د نویو سړکونو په جوړولو سره حل کېږي او نه د واټونو په پراخولو سره؛ څو لسیزې وړاندې باید داسې اقدامات شوي وی چې د اوسني ازدحام رامنځته کېدو مخنیوی ئې کړی وی؛ د کابل نوي ښار نقشه باید ډېر وړاندې پلې شوې وی؛ اوس د دې پر ځای چې زوړ ښار رغوو، واټنونه ئې پراخوو؛ او د کورونو او مخکینیو تأسیساتو په ورانولو لاس پوري کوو؛ همدا مصارف د نوي ښار په جوړولو او هلته د دولتي تأسیساتو په انتقال وکړو. په هر صورت شریعت هیڅ ته دا حق نه دئ ورکړی چې شخصي ملکیتونه د خپل څښتن له موافقې او رضایت پرته په زور مصادره کړي.

دا مو غوره وګڼله چې د کتاب په پای کې د زکات اړوند ځینې روایات هم له ژباړې او مختصر شرحې سره د لوستونکو مخې ته کښېږدو؛ د دې لپاره مو د بخاري د زکات کتاب غوره کړی؛ خو دې ته مو پام وي چې امام بخاري رحمه الله په خپل کتاب کې یوازې هغه روایات راوړي چې د ده له خاص مسلك او لید لوري سره اړخ لګوي؛ د هغو روایاتو له راوړلو ئې ډډه کړې چې د نورو امامانو او محدثینو له نظره معتبر او د صحت په شرائطو برابر دي؛ حتی خپل استاد ئې إسحاق

بن راهويه او شاگرد ئې امام مسلم هم په هغي جمع کې دي چې ده ئې د ځينو رواياتو له راوړلو ډډه کړې؛ په ځانګړې توګه ئې د هغو رواياتو له راوړلو ډډه کړې چې د امام ابو حنيفه رحمه الله او د احنافو نورو فقهاءو او محدثينو له نظره؛ د سند او متن له پلوه موثق او صحيح دي؛ دا کار ئې د لمانځه په اړه هم کړی او د زکات په شمول په ځينو نورو مواردو کې هم.

راتلونکي عنوان (د زکات کتاب) دئ؛ د بخاري دا برخه د حکمة الباري په درېيم جلد کې راوړل شوې؛ دلته مو د اسلامي اقتصاد په کتاب کې ځکه دا برخه راوړې چې د اقتصاد له موضوع سره خاص تړاو لري او له دې پرته به دا کتاب نيمګړی او ناقص وو؛ مخصوصاً د هغو له نظره چې غواړي پوه شي د زکات په اړه په رواياتو کې څه راغلي.

د زکات کتاب

۱ باب: د زکات فرضيت

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّه عَنْهُمَا: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم بَعَثَ مُعَاذًا رضى الله عنه إِلَى الْيَمَنِ، فَقَالَ: «ادْعُهُمْ إِلَى شَهَادَةِ أَنْ لا إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَأَنِّي رَسُولُ اللَّهِ، فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لِذَلِكَ، فَأَعْلِمْهُمْ أَنَّ اللَّهَ قَدِ افْتَرَضَ عَلَيْهِمْ خَمْسَ صَلَوَاتٍ فِي كُلِّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ، فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لِذَلِكَ، فَأَعْلِمْهُمْ أَنَّ اللَّهَ افْتَرَضَ عَلَيْهِمْ صَدَقَةً فِي أَمْوَالِهِمْ، تُؤْخَذُ مِنْ أَغْنِيَائِهِمْ وَتُرَدُّ عَلَى فُقَرَائِهِمْ». (بخارى: ۱۳۹۵)

له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چې نبي صلى الله عليه و سلم معاذ رضي الله عنه يمن ته ولېږو او وئې فرمايل: (هغوی (يمنيان) دې ګواهي ورکولو ته راوبله چې له الله پرته بل معبود نه شته؛ او دا چې

زه د الله رسول یم، که هغوی دا ومنله نو خبر ئې کړه چې الله تعالی پر دوی په هري شپې او ورځې کې پنځه لمونځونه فرض کړي، که دا ئې ومنله نو خبر ئې کړه چې الله تعالی په خپلو مالونو کې داسې صدقه (زکات) پرې فرض کړی چې د دوی له شتمنو اخیستل کېږي او فقیرانو ته ئې ورکول کېږي.

دا روایت په بخاري کې ۷ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۱۳۹۵ - ۱۴۵۸ - ۱۴۹۶ - ۲۴۴۸ - ۴۳۴۷ - ۷۳۷۱ -۷۳۷۲؛ د لومړي (۱۳۹۵) روایت راویان دا دي: أَبُو عَاصِمٍ الضَّحَّاك بْن مَخْلَدٍ، زَكَرِيَّاءَ بْنِ إِسْحَاقَ، يَحْيَى بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ صَيْفِيّ، أَبو مَعْبَد او ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّه عنهما؛ له دې وروسته راویان بېل بېل دي؛ سره له دې چې لومړي راویان سره ورته دي خو د دغو ۷ روایاتو په الفاظو او د الفاظو ترکیب کې پراخ توپیرونه ګورو؛ او دا ښیي چې دا روایات له یوه بل ته په تحریري توګه نه دي رسېدلي؛ بلکې یوه له بل اورېدلي؛ نه دي توانېدلي چې الفاظ په دقیقه توګه حفظ کړي او نورو ته ئې ورسوي. همدا راز له توپیرونو معلومېږي چې راویانو خپل روایات بالمعنی انتقال کړي؛ هر یوه چې څه له بل اورېدلي؛ یوازې د معنی انتقال هڅه ئې کړې او الفاظ ئې تر ډېره حده خپل وو نه په دقیقه توګه د مخکیني راوي الفاظ؛ ډېره ګرانه ده چې اورېدلي الفاظ او ترکیب ئې؛ په بشپړ امانت او دقت سره حفظ او انتقال شي؛ تاسو به د بخاري د مکررو روایاتو تر منځ دومره پراخ توپیرونه وګورئ چې له دې پرته بله توجیه ورته نه شئ موندلی.

د بخاري دا روایات او لومړني راویان ئې ۳ او دا دي: یحیی بن عبد الله بن صیفي، اِبي معبد او ابن عباس رضي الله عنهما؛ او تر منځ ئې دا توپیرونه دي: په یوه کې بَعَثَ مُعَاذًا رضي الله عنه إِلَى الْيَمَنِ په بل کې لَمَّا بَعَثَ مُعَاذًا رضي الله عنه عَلَى الْيَمَنِ په بل کې قَالَ لِمُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ حِينَ بَعَثَهُ إِلَى الْيَمَنِ په بل کې لَمَّا بَعَثَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم مُعَاذًا نَحْوَ الْيَمَنِ، په یوه کې ادْعُهُمْ إِلَى شَهَادَةِ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ، وَأَنِّي رَسُولُ اللَّهِ په بل کې فَلْيَكُنْ أَوَّلَ مَا تَدْعُوهُمْ إِلَيْهِ عِبَادَةُ اللَّهِ په بل کې فَإِذَا جِئْتَهُمْ

فَادْعُهُمْ إِلَى أَنْ يَشْهَدُوا أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ په بل کې فَلْيَكُنْ أَوَّلَ مَا تَدْعُوهُمْ إِلَى أَنْ يُوَحِّدُوا اللَّهَ تَعَالَى، په يوه کې فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لِذَلِكَ فَأَعْلِمْهُمْ أَنَّ اللَّهَ قَد افْتَرَضَ عَلَيْهِمْ خَمْسَ صَلَوَاتٍ فِي كُلِّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ، فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لِذَلِكَ فَأَعْلِمْهُمْ أَنَّ اللَّهَ افْتَرَضَ عَلَيْهِمْ صَدَقَةً فِي أَمْوَالِهِمْ، تُؤْخَذُ مِنْ أَغْنِيَائِهِمْ وَتُرَدُّ عَلَى فُقَرَائِهِمْ په بل کې فَإِذَا عَرَفُوا اللَّهَ فَأَخْبِرْهُمْ أَنَّ اللَّهَ قَدْ فَرَضَ عَلَيْهِمْ خَمْسَ صَلَوَاتٍ فِي يَوْمِهِمْ وَلَيْلَتِهِمْ، فَإِذَا فَعَلُوا، فَأَخْبِرْهُمْ أَنَّ اللَّهَ فَرَضَ عَلَيْهِمْ زَكَاةً { تُؤْخَذُ } مِنْ أَمْوَالِهِمْ وَتُرَدُّ عَلَى فُقَرَائِهِمْ، فَإِذَا أَطَاعُوا بِهَا فَخُذْ مِنْهُمْ، وَتَوَقَّ كَرَائِمَ أَمْوَالِ النَّاسِ په بل کې فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لَكَ بِذَلِكَ، فَأَخْبِرْهُمْ أَنَّ اللَّهَ قَدْ فَرَضَ عَلَيْهِمْ خَمْسَ صَلَوَاتٍ فِي كُلِّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ، فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لَكَ بِذَلِكَ فَأَخْبِرْهُمْ أَنَّ اللَّهَ قَدْ فَرَضَ عَلَيْهِمْ صَدَقَةً تُؤْخَذُ مِنْ أَغْنِيَائِهِمْ فَتُرَدُّ عَلَى فُقَرَائِهِمْ، فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لَكَ بِذَلِكَ فَإِيَّاكَ وَكَرَائِمَ أَمْوَالِهِمْ، وَاتَّقِ دَعْوَةَ الْمَظْلُومِ، فَإِنَّهُ لَيْسَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ اللَّهِ حِجَابٌ په بل کې اتَّقِ دَعْوَةَ الْمَظْلُومِ، فَإِنَّهَا لَيْسَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ اللَّهِ حِجَابٌ په بل کې فَإِذَا عَرَفُوا ذَلِكَ فَأَخْبِرْهُمْ أَنَّ اللَّهَ فَرَضَ عَلَيْهِمْ خَمْسَ صَلَوَاتٍ فِي يَوْمِهِمْ وَلَيْلَتِهِمْ، فَإِذَا صَلُّوا فَأَخْبِرْهُمْ أَنَّ اللَّهَ افْتَرَضَ عَلَيْهِمْ زَكَاةً فِي أَمْوَالِهِمْ تُؤْخَذُ مِنْ غَنِيِّهِمْ فَتُرَدُّ عَلَى فَقِيرِهِمْ، فَإِذَا أَقَرُّوا بِذَلِكَ فَخُذْ مِنْهُمْ وَتَوَقَّ كَرَائِمَ أَمْوَالِ النَّاسِ.

دا یوازي په بخاري کې د یوه روایت حال دئ؛ که همدا روایت په نورو کتابونو کې وګورئ نو توپیرونه به تر دې هم پراخ ومومئ؛ نه یوازي په الفاظو کې بلکې په محتوی کې هم؛ په الفاظو کې توپیر اکثراً په محتوی کې د تغییر او توپیر باعث کېږي؛ په نورو کتابو کې به په ډېرو مواردو کې وګورئ چې د یوه کتاب روایت د بل له روایت سره عمیقاً تعارض او حتی تناقض لري؛ حتی په یوه کتاب کې به وګورئ چې په یوه روایت کې ئې یو څه او په بل کې د همدې خلاف خبره شوې؛ په بخاري کې به ډېر مکرر روایات همداسي ومومئ. په دې درسونو کې به ډېر دغسي روایات ستاسو مخې ته راشي.

همدا پرون ما د عمرې په بحث کې د څېړنې په دوران کې ولیدل چې

د بخاري یو روایت وایي: اسماء بنت ابو بکر رضي الله عنها وویل: ما او خور مي عائشه رضي الله عنها طواف وکړ او بیا له احرام ووتلو او ماښام مو د حج نیت وکړ؛ په داسي حال کي چي په بخاري کي تر دغه روایت لږ وړاندي بل روایت داسي راغلی چي عائشه رضي الله عنها وایي: زه د یوه عذر له کبله له عمرې پاته شوې وم؛ له حج وروسته رسول الله صلی الله علیه و سلم له خپل ورور عبدالرحمن سره تنعیم ته ولېږلم چي عمره راباندي وکړي.

چي د یوې موضوع په ارتباط؛ دوو خوښدو ته منسوب روایت داسي وي؛ نو د نورو به څه حال وي؟! دا خبره د دې لپاره کوو چي پوه شو په روایاتو کي؛ تر ډېره حده له توپیرونو او تفاوتونو سره مخامخ کېږو؛ د دوی له منځه د غوره او اصح روایت موندل او پېژندل ګران کار دئ؛ دا داسي فقیه ته ضرورت لري چي تر حدیث وړاندي په قرآن پوه وي، په حدیث پوه وي؛ د حدیث علم او پوهه ئې په یوه کتاب کي منحصره نه وي، د درایت او فراست خاوند وي؛ حقپال وي؛ تقوی ولري او د تعصب له کبله د صحیح رأی او روایت خلاف له کمزوري او مرجوح رأی او روایت دفاع ونه کړي؛ د مذاهبو ائمه او فقهاء همداسي وو او همدا کار ئې کړی.

ومو لیدل چي په دې روایاتو کي زیات توپیرونه شته؛ او دا په داسي حال کي چي په دریو طبقو کي یو یو راوي لري، په څلورمي او پنځمي طبقې کي ئې راویان تر یوه زیات شوي، امام بخاري دا وضاحت نه دئ کړی چي دا توپیرونه د وروستنیو راویانو له لوري رامنځته شوي او که د لومړنیو راویانو له لوري، دا وضاحت هم نه دئ شوی چي معاذ بن جبل د والي په توګه لېږل شوی، که د قاضي په توګه، که د عامل (زکات راټولوونکي) په توګه او که د یوه داعي په توګه.

ما په حکمة البارئ (د بخاري پښتو ژباړه او شرح) کي دا ټول ۷ روایات له راویانو سره ئې راوړي؛ خو هلته مي لیکلي چي له دې وروسته به د ټولو روایاتو له راوړلو ډډه کوو؛ یوازي توپیرونه به ئې وړاندي کوو؛

ما د حکمة البارئ په څلورو مخکینیو جلدونو کې همدا کار کړی؛ که مې ټول تکراري روایات راوړي وی نو څو جلده ضخیم کتاب ترې جوړېدل.

په پورتنیو تکراري روایاتو کې تر ټولو جامع ئې دا دی:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم لِمُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ حِينَ بَعَثَهُ إِلَى الْيَمَنِ « إِنَّكَ سَتَأْتِي قَوْمًا أَهْلَ كِتَابٍ، فَإِذَا جِئْتَهُمْ فَادْعُهُمْ إِلَى أَنْ يَشْهَدُوا أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لَكَ بِذَلِكَ، فَأَخْبِرْهُمْ أَنَّ اللَّهَ قَدْ فَرَضَ عَلَيْهِمْ خَمْسَ صَلَوَاتٍ فِي كُلِّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ، فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لَكَ بِذَلِكَ فَأَخْبِرْهُمْ أَنَّ اللَّهَ قَدْ فَرَضَ عَلَيْهِمْ صَدَقَةً تُؤْخَذُ مِنْ أَغْنِيَائِهِمْ فَتُرَدُّ عَلَى فُقَرَائِهِمْ، فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لَكَ بِذَلِكَ فَإِيَّاكَ وَكَرَائِمَ أَمْوَالِهِمْ، وَاتَّقِ دَعْوَةَ الْمَظْلُومِ، فَإِنَّهُ لَيْسَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ اللَّهِ حِجَابٌ »

له ابن عباس رضي الله عنهما روایت دئ چې نبي صلى الله عليه و سلم معاذ رضي الله عنه ته هغه مهال چې دی ئې یمن ته ولېږو وفرمایل: ته داسي یو قوم ته درومې چې اهل کتاب دي؛ نو کله چې ورغلې هغوی دې ته وبله چې گواهي ورکړي له الله پرته بل معبود نه شته؛ او دا چې محمد د الله رسول دئ، که هغوی دا درسره ومنله نو خبر ئې کړه چې الله تعالى پر دوی په هري شپې او ورځې کي پنځه لمونځونه فرض کړي، که دا ئې درسره ومنله نو پوه ئې کړه چې الله تعالى په خپلو مالونو کې داسي صدقه (زکات) پرې فرض کړی چې د دوی له شتمنو اخیستل کېږي او فقیرانو ته ئې ورکول کېږي؛ که دا ئې درسره ومنله؛ نو د دوی له غوره مالونو ډډه کوه، د مظلوم له دعاء ځان ساته، یقیناً چې د ده او الله تر منځ هیڅ حجاب نه شته.

دا حدیث مورږ ته ښیي چې په اسلامي نظام کې؛ د ولس په وړاندې؛ د حکومت او چارواکو مهم مسئولیتونه او دندې کومې دي او د اهمیت ترتیب او تسلسل ئې څنګه دئ؛ د دې حدیث د لارښونو په رڼا کې په څرګنده توګه ګورو چې مسئولیتونه ئې په دې توګه دي:

۱. توحید ته د خلکو بلل؛ په دې ئې پوهول چې له الله پرته بل معبود نه شته؛ او دا چې محمد د الله رسول دئ.
۲. له دې وروسته لومړی ستر او مهم کار چې حکومت باید تر ټولو زیات او په لومړي سر کې ورته اهتمام ولري؛ د لمونځ اقامه او خلك په دې پوهول چې الله تعالی پر دوی په هري شپې او ورځې کې پنځه لمونځونه فرض کړي، د دغې فریضې اداء کولو ته خلك چمتو کول.
۳. دریمه مهمه دنده ئې دا ده چې له فقر او مسکنت سره مقابله وکړي؛ فقیران له لوړي او فقر وژغوري؛ هغه هم په دې توګه چې خلکو ته دا لارښوونه وکړي: الله تعالی د دوی په شتمنیو او مالونو کې داسې (زکات) پرې فرض کړی چې له شتمنو به ئې اخیستل کېږي او فقیرانو ته به ئې ورکول کېږي؛ یعني د زکات راغونډول او پر فقیرانو وېشل ئې د اسلامي حکومت دریمه اساسي دنده ده.
٤. د اسلامي نظام چارواکي مکلف شوي چې له خلکو به یوازې هغه څه تر لاسه کوي چې الله تعالی پرې فرض کړي؛ نه دا چې د خپلې خوښې مالیات پرې وضع کړي؛ او څه او څومره چې زړه ئې غواړي او خوښ ئې شي؛ ترې وائې خلې؛ همغسې لکه چې غیر اسلامي حکومتونه او حکام ئې کوي؛ له خلکو په مختلفو نومونو او څومره چې ئې خوښه وي مالیات، محصولات او ګمرکات اخلي؛ هغه هم نه یوازې له شتمنو بلکې تر دوی وړاندې او زیات له عام ولس او له غیر شتمنو وګړو؛ خو د فقیرانو په وړاندې او له فقر او احتیاج د دوی د ژغورلو په اړه نه د مسئولیت احساس کوي او نه دا خپله دنده او وظیفه ګڼي؛ نن چې د ګمرك په نامه څه اخیستل کېږي؛ په حقیقت کې له نادارو او اړمنو اخیستل کېږي؛ په اسلام کې داسې مالیات نه شته؛ دا حدیث مور ته همدا لارښوونه کوي.
۵. د عدالت او امنیت تأمین او له ظلم او تېري مخنیوی او ډډه کول، د مظلوم له ښېراوو ځان ساتل؛ او په خپلو تصرفاتو او اجراءاتو کې تل او په دقت سره دا په پام کې لرل چې د مظلوم او الله تعالی تر منځ هیڅ

حجاب نه شته.

په دې روایاتو کې دا وضاحت نه دئ شوی چې د زکات اموال به په اړوند سیمې کې پر فقراءو وېشل کېږي که بلې سیمې ته ئې انتقال او پر نورو فقیرانو ئې وېشل هم جائز دي. د روایت له فحوی او د رسول الله صلی الله علیه و سلم له سنت او د صحابه وو له منهج معلومېږي چې د زکات لومړني مستحقین د اړوند سیمې فقیران دي، د روایت الفاظ هم وایي: د دوی له شتمنو اخیستل کېږي او د دوی فقیرانو ته ورکول کېږي، خو د مسلمانانو امیر کولی شي او دا صلاحیت لري چې د ضرورت په صورت کې د زکات اموال بلې سیمې ته انتقال او پر نورو فقیرانو ووېشل شي. دې ته مو هم باید پام وي چې د زکات مستحقین یوازې فقیران نه دي، قرآن د زکات د مصرف موارد مورِ ته جوت کړي، د التوبه سورې په ٦۰ آیت کې دغه وګړي د زکات مستحقین ګڼل شوي:

۱. فقیران: هغه چې هیڅ نه لري،
۲. مسکینان: هغه چې څه لري خو ورته کفایت نه کوي،
۳. عاملین: د زکات اړوند مأمورین،
٤. مؤلفة القلوب: هغه چې په څه مرستو سره ئې د اسلام لوري او د مسلمانانو ملګرتیا ته د دوی راغب کول مفید او ګټور وي،
۵. د غلامانو آزادول؛ او له هغه غلام سره مرسته کول چې غواړي له مالك سره د مکاتبې له لاري خپله آزادي وپېري،
٦. د پورورو ژغورل،
۷. د الله په لار کې: په جهادي امورو او په عام المنفعه چارو کې،
۸. او له هغو مسافرانو سره مرسته چې محتاج شوي وي.

دې ته په پام سره چې اسلام یوازې په توحید، لمونځ او زکات کې نه خلاصه کېږي؛ نور عقائد، فرائض او احکام هم شته، لکه په آخرت ایمان، په کتابونو ایمان، په قضاء او قدر ایمان، روژه، حج، امر بالمعروف، نهي عن المنکر، جهاد... نو په یقین سره ویلی شو چې په دې روایت کې د هغو لارښوونو یوازې یوه وړه برخه ذکر شوې چې رسول الله صلی الله علیه

و سلم به معاذ رضي الله عنه ته کړې وي، د نورو لارښوونو تر څنګ به ئې هغه ته دغه لارښووني هم کړې وي چې په دې روایت کې ورته اشاره شوې.

په روایت کې دا هم نه دي ویل شوي چې معاذ رضي الله عنه ټول یمن ته لېږل شوی که ئې یوې برخې ته، له نورو روایاتو معلومېږي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم د یمن پنځو برخو ته پنځه کسان لېږلي: خالد بن سعید صنعاء ته، مهاجر بن أبي أمیة کنده ته، زیاد بن لبید حضرموت ته، معاذ بن جبل جندل ته او أبي موسی؛ زبید، عدن او ساحل ته.

د روایت په الفاظو کې اجمال او اختصار د دې باعث شوی چې په تعبیر کې ئې د علماءو تر منځ اختلاف رامنځته شي، ځینو ویلي چې له هر غني به زکات اخیستل کېږي؛ که بالغ وي او که نابالغ؛ ګواکې زکات پر مال فرض کېږي او هر غني احتواء کوي؛ دوی وایي چې عمر، علي، عائشة او ابن عمر رضي الله عنهم هم دغه رأیه درلوده؛ ځینې نور وایي چې د یتیم په مال کې تر هغه زکات نه شته چې بلوغ ته ورسېږي؛ سفیان الثوري، عبد الله بن المبارك، أبو حنیفة او یاران ئې؛ أبو وائل، سعید بن جبیر، النخعي، الشعبي او الحسن البصري رحمهم الله په دې ډلې کې دي. په دوی کې ځینې په دې باور دي چې ټولو صحابه وو پر دې رأیي اتفاق کړی؛ سعید بن المسیب وایي: زکات یوازې پر هغه چا فرض دئ چې لمونځ او روژه وربانديې فرض شوي.

دا موضوع چې آیا پر زکات سربېره د مسلمان په مال کې بل داسې مسلم حق شته چې حکومت ئې له اغنیاءو اخیستلی شي؛ تر دې عنوان لاندې څېړل شوې (د مسلمان په مال کې له زکات علاوه بل حق نه شته)؛ اما دا یو واضح حقیقت دئ چې شتمن مسلمان نور مالي وجائب او مسئولیتونه هم لري؛ او نور د ده په مال کې ورسره شریك دي او دی ئې په وړاندې مسئولیتونه لري، مېرمني ته مهر ورکول، د خپلې کورنۍ هغه غړي چې د ده تر کفالت لاندې دي؛ لکه مېرمن او اولاد ئې او د دوی

ورځني ضروري مصارف په غاړه اخيستل، په همدې ضمن کې دي، د دغو دوو اختلافي آراءو تلفيق داسي کېدی شي چې د خلکو په مالونو کې يوه هغه حق دئ چې اسلامي حکومت ئې پر اخيستلو ګمارل شوی او حکومت ته به ورکول کېږي؛ دا په زکات کې محدود او مختص شوي او حکومت نه شي کولی پر زکات علاوه کوم څه له خلکو واخلي؛ لکه پر زمکې، کور او دکان مالیه، ګمرکي ټکس او محصول، په يوه بل نامه کميشن، او تر بل هر نامه لاندي؛ له خلکو څه په زور اخيستل منع دي او ظلم او تعدي ګڼل کېږي؛ اما هغه مالي وجائب چې مسلمان ئې د خپلې کورنۍ، مېرمن، اولاد، خپلوان، ګاونډيان، هر فقير، مسکين، محتاج او مضطر انسان په وړاندي لري، يا مکلف دئ د جهاد لپاره وسائل او تجهيزات برابر کړي او دې ته ورته مواردو کې مصارف کول؛ د هر شتمن مسلمان په مالي مکلفيتونو او وجائبو کې راځي.

له روايت دا هم معلومېږي چې الله تعالی د مظلوم دعاء قبلوي که څه هم کافر وي.

عَنْ أَبِي أَيُّوبَ رضی الله عنه: أَنَّ رَجُلاً قَالَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم أَخْبِرْنِي بِعَمَلٍ يُدْخِلُنِي الْجَنَّةَ. قَالَ: «مَا لَهُ مَا لَهُ» وَقَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم: «أَرَبٌ مَا لَهُ، تَعْبُدُ اللَّهَ وَلا تُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا، وَتُقِيمُ الصَّلاةَ، وَتُؤْتِي الزَّكَاةَ، وَتَصِلُ الرَّحِمَ». (بخاری: ۱۳۹۶)

له ابو ايوب رضي الله عنه روايت دئ چې يوه سړي رسول الله صلى الله عليه و سلم ته وويل: له داسي عمل مي خبر کړه چې جنت ته مي داخل کړي، يوه صحابي وويل: څه غواړي؟ څه غواړي؟ نبي صلى الله عليه و سلم وفرمايل: څه چې غواړي يوه اړتيا ده، بيا ئې سؤال کوونکي ته وفرمايل: "د الله عبادت کوه، هيڅ څه مه ورسره شريکوه، لمونځ کوه، زکات ورکوه او خپلوي پاله".

دا روايت په بخاري کې دوه ځلي نور هم په دغو شمېرو راغلی: ۵۹۸۲، ۵۹۸۳؛ په يوه کې ويل شوي: أَنَّ رَجُلاً قَالَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ

وَسَلَّم په بل کې قِيلَ يَا رَسُولَ اللَّهِ، په يوه کې قَالَ: «مَا لَهُ مَا لَهُ»، په بل کې فَقَالَ الْقَوْمُ مَا لَهُ مَا لَهُ.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضى الله عنه: أَنَّ أَعْرَابِيًّا أَنَّى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم فَقَالَ: دُلَّنِي عَلَى عَمَلٍ إِذَا عَمِلْتُهُ دَخَلْتُ الْجَنَّةَ. قَالَ: «تَعْبُدُ اللَّهَ لا تُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا، وَتُقِيمُ الصَّلاةَ الْمَكْتُوبَةَ، وَتُؤَدِّى الزَّكَاةَ الْمَفْرُوضَةَ، وَتَصُومُ رَمَضَانَ». قَالَ: وَالَّذِى نَفْسِى بِيَدِهِ لا أَزِيدُ عَلَى هَذَا. فَلَمَّا وَلَّى، قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم: «مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَنْظُرَ إِلَى رَجُلٍ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ، فَلْيَنْظُرْ إِلَى هَذَا». (بخارى: ۱۳۹۷)

له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چې: يو کوچی نبي صلى الله عليه و سلم ته راغی او وئې ويل: داسې عمل راوښيه چې په کولو سره ئې جنت ته داخل شم. وئې فرمايل: د الله تعالى عبادت کوه او هيڅ څه مه ورسره شريکوه، فرض لمونځونه کوه، فرض زکات ورکوه او د رمضان روژه نيسه، هغه وويل: قسم په هغه ذات چې زما سا ئې په واک کې ده پر دې به هيڅ څه زيات نه کړم، کله چې ئې شا واړوله او ولاړ، نبي صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (که څوک په دې خوښېږي چې يو جنتي سړی وګوري نو ده ته دي وګوري).

دغه مطالب د بخاري په څلورو نورو رواياتو کې هم راغلي چې شمېرې ئې دا دي: ٤٦، ١٧٩٢، ٢٥٣٢، ٦٥٥٦؛ په دوی کې دا توپيرونه تر سترګو کېږي: په يوه کې أَنَّ أَعْرَابِيًّا أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم او په بل کې جاء رجل إلى رسول الله صلى الله عليه و سلم من أهل نجد ثائر الرأس په بل کې أن أعرابيا جاء إلى رسول الله صلى الله عليه و سلم ثائر الرأس په بل کې جاء رجل إلى رسول الله صلى الله عليه و سلم فإذا هو يسأله عن الإسلام په يوه کې دُلَّنِي عَلَى عَمَلٍ إِذَا عَمِلْتُهُ دَخَلْتُ الْجَنَّةَ، په بل کې فإذا هو يسأل عن الإسلام، په بل کې فقال يا رسول الله أخبرني ماذا فرض الله علي من الصلاة، أخبرني ما فرض الله علي من الصيام، أخبرني بما فرض الله علي من الزكاة، په بل کې فإذا هو يسأله عن الإسلام، په يوه کې

تَعْبُدُ اللَّهَ لا تُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا، وَتُقِيمُ الصَّلاةَ الْمَكْتُوبَةَ، وَتُؤَدِّي الزَّكَاةَ الْمَفْرُوضَةَ، وَتَصُومُ رَمَضَانَ په بل کي خمس صلوات في اليوم والليلة، إلا أن تطوع، وصيام رمضان إلا أن تطوع، والزكاة إلا أن تطوع، په بل کي الصلوات الخمس إلا أن تطوع شيئا، شهر رمضان إلا أن تطوع شيئا، په بل کي فأخبره رسول الله صلى الله عليه و سلم بشرائع الإسلام، په يوه کي وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لا أَزِيدُ عَلَى هَذَا په بل کي والذي أكرمك لا أتطوع شيئا ولا أنقص مما فرض الله علي شيئا په بل کي والله لا أزيد على هذا ولا أنقص، په يوه کي مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَنْظُرَ إِلَى رَجُلٍ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ، فَلْيَنْظُرْ إِلَى هَذَا په بل کي أفلح إن صدق أو دخل الجنة إن صدق په بل کي أفلح إن صدق راغلي.

له دې او دې ته ورته رواياتو معلومېږي چې که څوک فرائض تر سره کړي؛ نو د دنيا او آخرت بريا ئې په برخه کېږي؛ که څه هم په فضائلو او تر فرائضو رالاندي امورو کي کمی او قصور ولري؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم چې د هغه کوچې په اړه څه ويلي او په فرائضو اکتفاء ئې د جنتي کېدو لپاره کافي ګڼلي؛ مور هم بايد د هر مؤمن په اړه همدا قضاوت ولرو؛ نه دا چې د مستحباتو او فضائلو په ترک سره څوک تکفير کړو او د اسلام له دائرې ئې وتلی وګڼو او د پايڅو او مسواك له مخي د بل په اړه قضاوت وکړو؛ جنتي او دوزخي ئې کړو.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضى الله عنه قَالَ: لَمَّا تُوُفِّيَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم وَكَانَ أَبُو بَكْرٍ رضى الله عنه، وَكَفَرَ مَنْ كَفَرَ مِنَ الْعَرَبِ، فَقَالَ عُمَرُ رضى الله عنه: كَيْفَ تُقَاتِلُ النَّاسَ؟ وَقَدْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم: «أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَقُولُوا: لا إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ، فَمَنْ قَالَهَا فَقَدْ عَصَمَ مِنِّي مَالَهُ وَنَفْسَهُ إِلاَّ بِحَقِّهِ، وَحِسَابُهُ عَلَى اللَّهِ» فَقَالَ: وَاللَّهِ لأُقَاتِلَنَّ مَنْ فَرَّقَ بَيْنَ الصَّلاةِ وَالزَّكَاةِ، فَإِنَّ الزَّكَاةَ حَقُّ الْمَالِ، وَاللَّهِ لَوْ مَنَعُونِي عَنَاقًا كَانُوا يُؤَدُّونَهَا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم لَقَاتَلْتُهُمْ عَلَى مَنْعِهَا. قَالَ عُمَرُ

رضى الله عنه: فَوَاللَّهِ مَا هُوَ إِلاَّ أَنْ قَدْ شَرَحَ اللَّهُ صَدْرَ أَبِي بَكْرٍ رضى الله عنه لِلْقِتَالِ، فَعَرَفْتُ أَنَّهُ الْحَقُّ. (بخاری: ۱۳۳۹، ۱۴۰۰)

له ابو هریره رضي الله عنه روایت دئ چي وایي: کله چي رسول الله صلى الله عليه و سلم وفات شو او أبو بکر رضي الله عنه (خلیفه) شو؛ او له عربانو ځینې کافران شول؛ عمر رضي الله عنه (ابو بکر رضي الله عنه) ته وویل: څنګه له خلکو سره جګړه کوې؟ په داسي حال کي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمایلي: (په دې ګمارل شوی یم چي تر هغه له خلکو سره وجنګېږم چي ووایي: له الله پرته بل معبود نه شته، چا چي دا کلمه وویله نو ځان او مال ئې له ما خوندي کړ، مګر په حق سره ئې او حساب ئې پر الله دئ؛ نو ابو بکر رضي الله عنه وویل: قسم په خدای له هغو سره به حتماً جنګېږم چي د لمانځه او زکات تر منځ توپیر کوي؛ دا ځکه چي زکات مالي حق دئ؛ قسم په الله که یو سېرلی چي رسول اکرم صلى الله عليه و سلم ته ئې ورکولو له ما وسپموي نو حتماً به د دې امتناع له کبله ورسره وجنګېږم؛ عمر رضي الله عنه وویل: قسم په الله چي دا له دې پرته بل څه نه دي چي الله د ابو بکر رضي الله عنه سینه جنګ ته پرانیستلې ده؛ او زه پوه شوم چي حق همدا دئ.

دا روایت په بخاري کي څلور ځلي نور په دغو شمېرو راغلی: ۱۴۰۰، ۱۴۵۶، ۶۹۲۵، ۷۲۸۵؛ په یوه کي د عمر رضي الله عنه دا وینا كَيْفَ تُقَاتِلُ النَّاسَ؟ راغلې خو په نورو کي نه ده راغلې؛ په یوه کي فَوَاللَّه مَا هُوَ إِلاَّ أَنْ قَدْ شَرَحَ اللَّهُ صَدْرَ أَبِي بَكْرٍ رضي الله عنه لِلْقِتَالِ، فَعَرَفْتُ أَنَّهُ الْحَقُّ په بل کي فَوَاللَّهِ مَا هُوَ إِلاَّ أَنْ رَأَيْتُ أَنْ قَدْ شَرَحَ اللَّهُ صَدْرَ أَبِي بَكْرٍ لِلْقِتَالِ فَعَرَفْتُ أَنَّهُ الْحَقُّ په بل کي مَا هُوَ إِلاَّ أَنْ رَأَيْتُ اللَّهَ قَدْ شَرَحَ صَدْرَ أَبِي بَكْرٍ لِلْقِتَالِ فَعَرَفْتُ أَنَّهُ الْحَقُّ راغلي.

په دې روایاتو کي د ابو بکر رضي الله عنه د خلافت په لومړیو کي هغي فتنې ته اشاره شوې چي د زکات د مانعینو له لوري راولاړه شوه؛

ابو بکر رضي الله عنه د هغوی په ضد د جګړې اراده وکړه؛ د عمر رضي الله عنه په شمول ځینو صحابه وو دا مناسب نه ګڼله چې په هغه حساس وخت کې د دوی په ضد جګړه پیل شي؛ عمر رضي الله عنه د رسول الله صلى الله عليه و سلم پر دې حدیث استناد کولو چې وایي: په دې ګمارل شوی یم چې تر هغه له خلکو سره وجنګېږم چې ووایي: له الله پرته بل معبود نه شته، چا چې دا کلمه وویله نو ځان او مال ئې رانه خوندي کړ...، ابو بکر رضي الله عنه د التوبه د سورې پر پنځم آیت استناد کولو چې وایي:

فَإِذَا ٱنسَلَخَ ٱلۡأَشۡهُرُ ٱلۡحُرُمُ فَٱقۡتُلُواْ ٱلۡمُشۡرِكِينَ حَيۡثُ وَجَدتُّمُوهُمۡ وَخُذُوهُمۡ وَٱحۡصُرُوهُمۡ وَٱقۡعُدُواْ لَهُمۡ كُلَّ مَرۡصَدٖۚ فَإِن تَابُواْ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُاْ ٱلزَّكَوٰةَ فَخَلُّواْ سَبِيلَهُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ٥ التوبة

نو کله چې دا محترمې میاشتې تېرې شوې؛ نو هر ځای چې دا مشرکان مومئ وئې وژئ، وئې نیسئ، محاصره ئې کړئ او په هر کمینځي کې ورته کښېنئ؛ نو که ئې توبه وکړه، لمونځ ئې قائم کړ او زکات ئې ورکړ؛ نو لاره ئې خوشې کړئ؛ بې شکه چې خدای بخښونکی مهربان دئ.

له دې آیت په څرګنده توګه معلومېږي چې د لمانځه له تارکینو او د زکات له مانعینو سره جګړه کېدی شي؛ ابو بکر صدیق رضی الله عنه پر همدې آیت استناد وکړ او د هغو خلکو په خلاف ئې د جګړې فیصله وکړه چې د اسلام دعوی ئې درلوده خو د زکات له ورکړې ئې امتناع کوله.

متأسفانه ځینې د دې پېښې ظواهرو ته په پام سره داسې انګېرې چې د مسلمانانو امیر کولی شي له مسلمانانو سره له مشورې پرته پرېکړه وکړي؛ په داسې حال کې چې خبره قطعاً داسې نه ده؛ مشوره یو شرعي مکلفیت دئ؛ هیڅوک حق نه لري دا الهي لارښوونه له پامه وغورځوي؛ په اسلام کې نه مطلق العنان امیر شته او نه ئې فوق العاده او له مشورې پرته فرامین؛ اسلام هغه امیر واجب العزل ګڼي چې د شورى او مشورې

الهي لارښووني او امر اعتناء او تمکين نه کوي. ابو بکر رضي الله عنه د قرآن په څرګند آيت استناد کړی، د عمر رضي الله عنه په شمول له چا سره چي بله رأيه وه له خپلي رأيي تېر شوي او له ابو بکر رضي الله عنه سره ئې توافق کړی؛ او د جنګ پرېکړه په اتفاق سره شوې؛ د روايت الفاظ په ډېر صراحت سره وايي چي عمر رضي الله عنه په ډېر تأکيد سره وويل: قسم په الله چي دا له دې پرته بل څه نه دي چي الله د ابو بکر رضي الله عنه سينه جنګ ته پرانيستلې ده؛ او زه پوه شوم چي حق همدا دئ.

د خيبر يهودانو په اړه چي عمر رضي الله عنه؛ له ټولو مسلمانانو سره له مشورې وروسته کومه پرېکړه کړې؛ او اجماع ئې رامنځته کړې؛ او د همدې متفقه پرېکړې له مخي ئې عمل کړی؛ د دې واضح عملي مثال دئ؛ په هغه روايت کې راغلي: عمر رضي الله عنه وويل: نو زما رأی دا ده چي دوی تبعيد شي؛ ابن عمر وايي: کله چي عمر رضي الله عنه په دې اړه اجماع رامنځته کړه؛ د بني ابی الحُقَيْق يو تن ورته راغی او وئې ويل: يا امير المؤمنين! آيا مورِ باسې؛ په داسي حال کي چي محمد صلی الله عليه و سلم پرېښودلو؛ او پر خپلو اموالو (زمکو او باغونو) ئې وګمارلو چي کار په کې وکړو؛ او دا شرط ئې مورِ ته وټاکلو؟

دې ته بايد متوجه وو چي د زکات له ورکړې امتناع له نظام بغاوت دئ او د باغي خلاف تر هغه جنګ جائز دئ چي له بغاوت لاس واخلي.

۲ باب: د زکات نه ورکولو ګناه

عن أَبِي هُرَيْرَةَ رضی الله عنه قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صلی الله عليه و سلم: «تَأْتِي الإِبِلُ عَلَى صَاحِبِهَا عَلَى خَيْرِ مَا كَانَتْ، إِذَا هُوَ لَمْ يُعْطِ فِيهَا حَقَّهَا، تَطَؤُهُ بِأَخْفَافِهَا، وَتَأْتِي الْغَنَمُ عَلَى صَاحِبِهَا عَلَى خَيْرِ مَا كَانَتْ إِذَا لَمْ يُعْطِ فِيهَا حَقَّهَا، تَطَؤُهُ بِأَظْلاَفِهَا وَتَنْطَحُهُ بِقُرُونِهَا». وَقَالَ: «وَمِنْ حَقِّهَا أَنْ تُحْلَبَ عَلَى الْمَاءِ». قَالَ: «وَلا يَأْتِي أَحَدُكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِشَاةٍ يَحْمِلُهَا عَلَى رَقَبَتِهِ لَهَا يُعَارٌ، فَيَقُولُ: يَا مُحَمَّدُ، فَأَقُولُ: لا أَمْلِكُ لَكَ مِنَ

اللهِ شَيْئًا، قَدْ بَلَّغْتُ، وَلا يَأْتِي بِبَعِيرٍ يَحْمِلُهُ عَلَى رَقَبَتِهِ لَهُ رُغَاءٌ، فَيَقُولُ: يَا مُحَمَّدُ، فَأَقُولُ: لا أَمْلِكُ لَكَ مِنَ اللَّهِ شَيْئًا، قَدْ بَلَّغْتُ». (بخاری: ۱۴۰۲)

له ابو هریره رضي الله عنه روایت دئ چې وایي: نبي صلی الله علیه و سلم فرمایلي: (د قیامت په ورځ به) دا اوښان په خپل هغه ډېر سِه حالت کې چې مخکې ئې درلود؛ پر خپل خاوند راشي او تر خپلو خاپوړو (پښو) لاندي به ئې کړي؛ که د هغوی اړوند خپل حق (زکات) ئې نه وي ورکړی؛ او دا پسونه به په خپل هغه ډېر سِه حالت کې چې مخکې ئې درلود؛ پر خپل خاوند راشي او تر خپلو نوکانو (پښو) لاندي به ئې کړي؛ که د هغوی اړوند خپل حق (زکات) ئې نه وي ورکړی؛ او په خپلو سِکرونو به ئې وهي؛ او د اوښانو او مېږو له حقوقو یو دا دئ چې په اوبه خور ئې ولوشي (کله چې رمه خړوبوي او همدا مهال کوم تړی او وړی محتاج انسان وګوري؛ نو د هغه لپاره دې ولوشي او شیدي دي پرې وخښي)؛ او وئې فرمایل: داسي نه چې ستاسو کوم یو د قیامت په ورځ په داسي حال کې ما ته راشي چې پسه پر خپل څټ وړي او هغه بغېږي او دی وایي: یا محمد! او زه ورته وایم: نن د الله په وړاندي هیڅ څه درته په واك کې نه لرم؛ یقیناً چې ما پیغام دررسولی وو؛ او نه دي داسي راشي چې اوښ پر خپل څټ وړي او هغه اوښ غږمېږي او دی راته وایي: یا محمد! او زه ورته وایم: نن د الله په وړاندي هیڅ څه درته په واك کې نه لرم؛ یقیناً چې ما پیغام دررسولی وو.

دا روایت په بخاري کې درې ځلي نور هم په دغو شمېرو راغلی: ۲۳۷۸، ۳۰۷۳، ٦۹۵۸؛ غریب دئ؛ په ۵ طبقو کې یو یو راوي لري چې دا دي: الحَكَم بْن نَافِعٍ، شُعَيْب، أَبُو الزِّنَادِ، عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ هُرْمُزَ الأَعْرَجَ او أَبو هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ. پر بخاري علاوه یوازي په سنن الکبری للنسائي کې هم له دغه متن او سند سره راغلی. په یوه کې تَأْتِي الإِبِلُ عَلَى صَاحِبِهَا عَلَى خَيْرِ مَا كَانَتْ؛ إِذَا هُوَ لَمْ يُعْطِ فِيهَا حَقَّهَا؛ تَطَؤُهُ بِأَخْفَافِهَا (تر ګامونو لاندي به ئې کړي) په بل کې لاَ أُلْفِيَنَّ أَحَدَكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَى رَقَبَتِهِ شَاةٌ

لَهَا ثُغَاءٌ؛ عَلَى رَقَبَتِهِ فَرَسٌ لَهُ حَمْحَمَةٌ او په بل کې تُسَلَّطُ عَلَيْهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ؛ تَخْبِطُ وَجْهَهُ بِأَخْفَافِهَا، په بل کې وَعَلَى رَقَبَتِهِ صَامِتٌ (سپين او سره زر او امثال ئې)؛ او عَلَى رَقَبَتِهِ رِقَاعٌ تَخْفِقُ (يوه ټوته چې خوځي به) په يوه کې فَيَقُولُ يَا مُحَمَّدُ. فَأَقُولُ لاَ أَمْلِكُ لَكَ شَيْئًا قَدْ بَلَّغْتُ په بل کې يَقُولُ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَغِثْنِى فَأَقُولُ لاَ أَمْلِكُ لَكَ شَيْئًا قَدْ أَبْلَغْتُكَ راغلي.

دا روايت له وروستي سره تعارض لري؛ چې وينا ئې د دې خلاف ده:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضى الله عنه قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم « مَنْ آتَاهُ اللَّهُ مَالاً، فَلَمْ يُؤَدِّ زَكَاتَهُ مُثِّلَ لَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ شُجَاعًا أَقْرَعَ، لَهُ زَبِيبَتَانِ، يُطَوَّقُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، ثُمَّ يَأْخُذُ بِلِهْزِمَتَيْهِ- يَعْنِى شِدْقَيْهِ - ثُمَّ يَقُولُ أَنَا مَالُكَ، أَنَا كَنْزُكَ » ثُمَّ تَلاَ (لاَ يَحْسِبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ) الآيَةَ. (بخارى: ۱۴۰۳)

له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: چا ته چې الله کوم مال ورکړی وي او زکات ئې ورنه کړي؛ نو همدغه مال به ئې د قيامت په ورځ د داسي يوه شامار په بڼه کي ورته څرګند کړی شي چې سر به ئې پك وي او (پر سر به ئې) دوه ټاپي وي؛ پر غاړي به ئې راتاو کړی شي او د خولې له کونجونو به ئې ونيسي؛ بيا به ورته وايي: زه دي مال يم؛ زه دي خزانه يم)؛ ورپسې رسول الله صلى الله عليه و سلم دا آيت تلاوت کړ:

وَلا يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ بِمَا آتَاهُمُ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ هُوَ خَيْرًا لَهُمْ بَلْ هُوَ شَرٌّ لَهُمْ سَيُطَوَّقُونَ مَا بَخِلُوا بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلِلَّهِ مِيرَاثُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ﴿۱۸۰﴾ آل عمران

دا روايت په بخاري کې څلور ځلي نور په دغو شمېرو راغلی: ۳۱۹۸-۴۵۶۵، ۴۶۵۹، ۶۹۵۷؛ له دې توپيرونو سره: په يوه کې مَنْ آتَاهُ اللَّهُ مَالاً، فَلَمْ يُؤَدِّ زَكَاتَهُ مُثِّلَ لَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ شُجَاعًا أَقْرَعَ په بل کې يَكُونُ كَنْزُ أَحَدِكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ شُجَاعًا أَقْرَعَ په يوه کې يُطَوَّقُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، يَأْخُذُ

بِلِهْزِمَتَيْهِ په بل کې يَفِرُّ مِنْهُ صَاحِبُهُ فَيَطْلُبُهُ وَيَقُولُ أَنَا كَنْزُكَ وَاللَّهِ لَنْ يَزَالَ يَطْلُبُهُ حَتَّى يَبْسُطَ يَدَهُ فَيُلْقِمَهَا فَاهُ (په خپلي خولې کې به ئې منډې) راغلي.

دا روايت له مخکيني سره تعارض لري؛ هغه وايي مال به ئې په خپلې هغې مخکينۍ بڼې کې د قيامت په ورځ راڅرګند شي چې په دنيا کې ئې وو؛ تر ټولو په ښه مخکيني حالت کې؛ که څاروي وي او صامت (سره او سپين زر)؛ په خپل مخکيني حالت کې راڅرګند شي؛ اما دا روايت وايي چې د ښامار په بڼې کې به راشي؛ لاس به لري او دا کس به ونيسي او په خپلې خولې کې به ئې ومنډي؛ په کوم آيت چې استناد شوی له هغه قطعاً دا نه معلوميږي چې له مال به ئې ښامار جوړ شي. په دې آيت کې راغلي چې د بخيل هغه مال چې ده په کې بخل کړی؛ د قيامت په ورځ به د ده پر غاړې تاو کړی شي؛ يعني داسي به ټمثيل شي چې همغه مال پرې بار دئ. اما دا روايت وايي چې د ښامار په بڼې کې به پرې راتاو شي.

سره له دې ټولو څرګندو توپيرونو او تعارضاتو؛ ځينې داسي انګيرې چې ښايي د مالونو تر منځ د توپير له کبله به د عذاب بڼه ښه ښله ښودل شوې وي؛ لکه د څارويو ښله بڼه کې او د سرو سپينو زرو ښله بڼه کې!! خو دا له تکلف ډکه توجيه ده.

څو آيتونه بايد په پام کې ولرو:

فَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ ۝٧ وَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ ۝٨

الزلزال

نو چا چې د وړې ذرې په اندازه نېکي کړې؛ وينې به ئې؛ او چا چې د وړې ذرې په اندازه د شر کار کړی؛ وينې به ئې.

يعني په هغه ورځ به هر چا ته خپل عمل وروښودی شي، هر څوک به هغه اعمال چې په دنيا کې ئې کړي وو؛ خپلې مخې ته مجسم ومومي؛ يوازې دا نه چې خپل عملونه به په خپلې عملپاڼې کې وګوري او سزا او

بدله به ئې ورکړی شي؛ بلکې پر دې سربېره به خپل ټول ښه او بد عملونه خپلې مخې ته څرګند او تمثیل شوي ومومي، د الزلزال سورې له ٤ او ٦ آیتونو معلومېږي چې د انسان عملونه له (غږ او بڼې) سره ضبط کېږي او د قیامت په ورځ به انسان هم د خپلو عملونو (اخبار) واوري او هم به ئې (بڼه) وګوري.

څوارلس پېړۍ مخکې هیڅا ته په دې خبرې پوهېدا ممکنه نه وه چې کېدی شي د انسان (غږ) او د خوځښت (انځور) او فیلم ئې ثبت شي او له څه مودې وروسته بیا ولیدی او واورېدی شي؛ خو اوس او له هغه وروسته چې ټیپ ریکارډر او کامرې اختراع شوي؛ هر چا ته دا خبره جوته شوه.

(خیر) او (شر)؛ که ستر وي او که وړ؛ حتی که د یوې وړې ذرې په اندازه وي؛ ټول به په خپلې عملپاڼې کې وګورې، ټول به ستا مخې ته مجسم کړی شي، وبه ګورې چې هیڅ څه دي له پامه نه دي غورځېدلي، هر څه په ډېر دقت سره ثبت شوي او د دغو له مخې به ستا برخلیك او راتلونکی ټاکل کېږي.

باید متوجه وئ چې د دې آیتونو الفاظ داسې نه دي چې وښیي انسان به د هر وړوکي عمل سزا ګوري؛ داسې نه دي ویل شوي چې که د ذرې په اندازه د خیر او شر عمل ئې کړی وي؛ سزا به ئې ګوري؛ بلکې عمل به ګوري او ضروري نه ده چې سزا به ئې هم ګوري.

وَوُضِعَ الْكِتَابُ فَتَرَى الْمُجْرِمِينَ مُشْفِقِينَ مِمَّا فِيهِ وَيَقُولُونَ يَا وَيْلَتَنَا مَالِ هَذَا الْكِتَابِ لا يُغَادِرُ صَغِيرَةً وَلا كَبِيرَةً إِلا أَحْصَاهَا وَوَجَدُوا مَا عَمِلُوا حَاضِرًا وَلا يَظْلِمُ رَبُّكَ أَحَدًا﴿٤٩﴾ الكهف

او کتاب به کښېښودی شي؛ نو مجرمین به ګورې چې له هغه څه وېرېدونکي دي چې په دې (کتاب) کې دي؛ او وایي به: افسوس پر موږ! دا څنګه کتاب دئ! نه ئې ووړ (عمل) پرېښی او نه ستر؛ مګر هغه ئې درج کړی؛ او هر هغه څه به حاضر وومومي چې کړي ئې ول؛ او ستا رب

به پر هیڅا ظلم نه کوي.

د دې آیت لارښوونې دا دي:

۱. محاسبه به پیل شي، د هر چا په وړاندې به د ده خپل کتاب او عملپاڼه کښېښودی شي، مجرمین به ګورې چې د خپلې عملپاڼې په لیدو سره وېرې اخیستي او په پرېوتې او له تأسف ډك غږ سره وایي: افسوس پر موږ! دا څنګه کتاب دئ! نه ئې زمونږ وړې عمل پرېښی او نه ستر، هر څه په کې درج شوي، هر هغه څه به حاضر ومومي چې کړي ئې ول؛ له دې وینا داسي معلومېږي چې هر څوك به خپل عملونه داسي حاضر او مخامخ ګوري لکه چې ویډیو او فیلم ګوري!! د دې وینا پر حقیقت او ماهیت نن شه پوهېدی شو؛ تر هغه وړاندې چې انسان انځور او فیلم ثبتول کشف او اختراع کړي؛ د دې آیت پر ټولو ابعادو پوهېدل ممکن نه وو.

۲. ستا رب به هر چا ته مناسبه او عادلانه سزا ورکړي او پر هیڅا به ظلم نه کوي.

له محاسبې وروسته خلك په ډلو ډلو وېشل کېږي؛ جنتیان بېل، دوزخیان بېل او اصحاب اعراف بیل؛ جنتیان او دوزخیان بیا په اوو اوو ټولیو وېشل کېږي؛ هر ټولی به جنت او دوزخ ته له بېلو بېلو دروازو ننوځي؛ د مکافات او مجازات ځای ئې جنت او دوزخ دئ؛ قرآن فرمایي:

وَإِنَّ جَهَنَّمَ لَمَوْعِدُهُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٤٣﴾ لَهَا سَبْعَةُ أَبْوَابٍ لِّكُلِّ بَابٍ مِّنْهُمْ جُزْءٌ مَّقْسُومٌ ﴿٤٤﴾ الحجر

او یقیناً چې دوزخ د دوی ټولو موعد دئ؛ چې اوه دروازې ئې دي؛ د هري دروازي لپاره د دوی یوه وېشل شوې برخه ده.

هلته به د جنتیانو، دوزخیانو او په اعراف کې مېشت کسانو؛ تر منځ حجابونه وي؛ خو که وغواړي یو به بل ته له لري ښودل کېږي؛ یو به د بل لوړ غږ هم اورېدی شي. قرآن په دې اړه فرمایي:

وَنَادَىٰ أَصْحَابُ الْجَنَّةِ أَصْحَابَ النَّارِ أَنْ قَدْ وَجَدْنَا مَا وَعَدَنَا رَبُّنَا حَقًّا

فَهَلْ وَجَدْتُمْ مَا وَعَدَ رَبُّكُمْ حَقًّا قَالُوا نَعَمْ فَأَذَّنَ مُؤَذِّنٌ بَيْنَهُمْ أَنْ لَعْنَةُ اللَّهِ عَلَى الظَّالِمِينَ ﴿٤٤﴾ الأعراف

او جنتيان به دوزخيانو ته غږ کړي: مورږ خو هغه څه رښتيني وموندل چې زمورږ رب ئې وعده راسره کړې وه؛ آيا تاسو هم هغه څه رښتيني وموندل چې ستاسو رب ئې وعده درسره کړې وه؟ وبه وايي: هو؛ نو يو غږ کوونکی به د دوی تر منځ غږ کړي چې: په دغو ظالمانو دي لعنت وي.

دلته د جنتيانو او دوزخيانو تر منځ د خبرو يوه صحنه زمورږ مخي ته ايښودل شوې: جنتيان دوزخيانو ته وايي: الله تعالی چې له مورږ سره کومي وعدې کړې وې؛ ټولې رښتيني شوې او مورږ ئې مصداق په خپلو سترګو ګورو؛ آيا تاسو هم د الله تعالی وعدې رښتينې وموندلې؟ ځواب به ئې په لنډه توګه؛ هو؛ وي. په دې وخت کې به يو منادي په جګ غږ ووايي: پر هغو ظالمانو دي لعنت وي چې د الله پر لارې له تلو ئې ډډه کوله، نور ئې ترې منع کول، په الهي دين کې به ئې تحريفونه کول، هڅه به ئې کوله چې د دين سمي خبرې په کږو واړوي او له آخرت ئې انکار کولو.

وَبَيْنَهُمَا حِجَابٌ وَعَلَى الْأَعْرَافِ رِجَالٌ يَعْرِفُونَ كُلا بِسِيمَاهُمْ وَنَادَوْا أَصْحَابَ الْجَنَّةِ أَنْ سَلامٌ عَلَيْكُمْ لَمْ يَدْخُلُوهَا وَهُمْ يَطْمَعُونَ ﴿٤٦﴾ الأعراف

او د دوی تر منځ به حجاب وي؛ او پر لوړو (ئې) داسې کسان چې هر يو به له خپلو څېرو پېژني او جنتيانو ته به غږ کړي: سلام پر تاسو! ورداخل شوي به نه وي خو طمع به ئې کوي.

د جنتيانو او دوزخيانو تر منځ به حجاب وي؛ د الحديد سورې په ۱۳آيت کې ويل شوي...

فَضُرِبَ بَيْنَهُم بِسُورٍ لَّهُۥ بَابٌۢ بَاطِنُهُۥ فِيهِ ٱلرَّحْمَةُ وَظَٰهِرُهُۥ مِن قِبَلِهِ ٱلْعَذَابُ ﴿١٣﴾ الحديد

د دوی تر منځ به داسي دېوال جوړ شي چي دروزاه به ئې وي؛ د ننه ئې رحمت او شا ته ئې عذاب.

له دې معلومېږي چي دا حجاب به هسي کومه پرده نه وي بلکي پرېږ او لوړ دېوال به وي، داسي چي نه به جنتيان د دوزخ له لوخړو او بد بوی ځورېږي او نه به دوزخيان د جنت له ښکلو منظرو د لذت او خوند اخيستو مجال تر لاسه کولی شي.

د دې حجاب پر لوړو به درېيمه ډله خلك ناست وي، دوی به په دواړو ډلو کې داسي خلك ګوري چي له څېرو ئې پېژني؛ خو دا به څوك وي او څوك به پېژني؟

وَنَادَىٰٓ أَصْحَٰبُ ٱلْأَعْرَافِ رِجَالا يَعْرِفُونَهُم بِسِيمَاهُمْ قَالُوا مَا أَغْنَىٰ عَنكُمْ جَمْعُكُمْ وَمَا كُنتُمْ تَسْتَكْبِرُونَ ﴿٤٨﴾ الأعراف

او اعراف وال به ځينو کسانو ته چي له څېرو ئې پېژني غږ کړي او وبه وايي: نه ستاسو ډېروالي (د مال او پلويانو) هيڅ څه درنه دفع کړی شو او نه ستاسو هغه تکبر او لويي غوښتني.

وَنَادَىٰٓ أَصْحَٰبُ ٱلنَّارِ أَصْحَٰبَ ٱلْجَنَّةِ أَنْ أَفِيضُوا عَلَيْنَا مِنَ ٱلْمَاءِ أَوْ مِمَّا رَزَقَكُمُ ٱللَّهُ قَالُوٓا إِنَّ ٱللَّهَ حَرَّمَهُمَا عَلَى ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٥٠﴾ الأعراف

او دوزخيان به جنتيانو ته غږ کړي چي پر موږ خو لږ اوبه يا هغه څه چي الله تاسو ته درکړي راتوی کړئ! وبه وايي: يقيناً الله دا پر کافرانو حرام کړي.

له دغو آيتونو په څرګنده توګه معلومېږي چي دا هر څه به جنت او دوزخ ته له تګ وروسته وي؛ نه د حشر په ميدان کې؛ د حشر ميدان کې به هر چا ته خپله عملپاڼه ورښودل کېږي؛ د ځينو عملونه به نورو

ته هم وښودل شي؛ او دا به د هغوی لپاره ستره افتضاح وي؛ او ځینو ته به داسي وښودل شي چې له ده پرته به بل انسان پرې خبر نه شي؛ په حدیث کې دا حالت داسي انځور شوی لکه یو انسان بل انسان ته په پټه د څه ویلو لپاره هغه خپلي خوا ته نژدې کړي او لاس پرې واچوي؛ الله تعالی به دا بندګان همداسي خپلي خوا ته نژدې کړي او عملپاڼه او په هغې کې د دوی عملونه به وروښيي؛ پرته له دې چې بل څوك پرې پوه شي.

په دې اړه د بخاري دواړه روایات په خپلو کې هم تعارض لري؛ د سند له پلوه هم غریب دي؛ یو راوي لري او هغه ته متضاد خبري منسوب شوې؛ او د قرآن له دغو آیتونو سره هم منافات لري.

۳ باب: د کوم مال چې زکات ورکړل شي هغه کنز (ذخیره کول) نه ګڼل کېږي

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ رضی الله عنه قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صلی الله علیه و سلم: «لَيْسَ فِيمَا دُونَ خَمْسِ أَوَاقٍ صَدَقَةٌ، وَلَيْسَ فِيمَا دُونَ خَمْسِ ذَوْدٍ صَدَقَةٌ، وَلَيْسَ فِيمَا دُونَ خَمْسِ أَوْسُقٍ صَدَقَةٌ». (بخاری: ۱۴۰۵)

له ابو سعید خدري رضي الله عنه روایت دئ چې وایي: نبي صلی الله علیه و سلم فرمایلي: په هغه مال کې چې تر پنځو اوقیو کم وي زکات نه شته، په اوښانو کې چې تر پنځو کم وي زکات نه شته او په هغې غلې کې چې تر پنځو وسقو لږ وي زکات نه شته.

یادونه: پنځه اَوقِیې تقریبًا ۷۰۰ ګرامه او پنځه وسقه ۶۵۲ کیلو ګرامه کېږي.

دا روایت په بخاري کې درې ځلي نور هم په دغو شمېرو راغلی: ۱۴۴۷، ۱۴۵۹، ۱۴۸۴؛ له دې توپیرونو سره: په یوه کې لَيْسَ فِيمَا دُونَ خَمْسِ أَوَاقٍ صَدَقَةٌ په بل کې لَيْسَ فِيمَا دُونَ خَمْسِ أَوَاقٍ مِنَ الْوَرِقِ (سپین زر) صَدَقَةٌ په بل کې وَلاَ فِي أَقَلَّ مِنْ خَمْسِ أَوَاقٍ مِنَ الْوَرِقِ صَدَقَةٌ په یوه

کي لَيْسَ فِيمَا دُونَ خَمْسِ ذَوْدٍ صَدَقَةٌ په بل کي لَيْسَ فِيمَا دُونَ خَمْسِ ذَوْدٍ مِنَ الإِبِلِ صَدَقَةٌ په يوه کي لَيْسَ فِيمَا دُونَ خَمْسِ أَوْسُقٍ صَدَقَةٌ په بل کي لَيْسَ فِيمَا دُونَ خَمْسَةِ أَوْسُقٍ مِنَ التَّمْرِ صَدَقَةٌ په بل کي لَيْسَ فِيمَا أَقَلُّ مِنْ خَمْسَةِ أَوْسُقٍ صَدَقَةٌ راغلي.

دلته د باب او روايت تر منځ همغږي نه تر سترګو کېږي؛ باب دا دئ: د کوم مال چې زکات ورکړل شي هغه کنز (ذخيره کول) نه ګڼل کېږي؛ خو کوم روايت چې ترې لاندي راوړل شوی له باب سره هيڅ همغږي نه لري؛ په روايت کي نه د کنز ذکر شوی او نه ئې په اړه بحث شوی بلکي د هغو شيانو د مقدار او شمېر بيان شوی چې زکات پرې فرض کېږي. باب يو څه وايي او روايت بل څه!!

د ۱۴۰۳ روايت په پای کي چې د کوم آيت يوه ابتدائي فقره راغلې؛ دا آيت د سرو او سپينو زرو د کنز په ارتباط دئ؛ آيت دا دئ:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّ كَثِيرًا مِّنَ ٱلْأَحْبَارِ وَٱلرُّهْبَانِ لَيَأْكُلُونَ أَمْوَٰلَ ٱلنَّاسِ بِٱلْبَٰطِلِ وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ ۗ وَٱلَّذِينَ يَكْنِزُونَ ٱلذَّهَبَ وَٱلْفِضَّةَ وَلَا يُنفِقُونَهَا فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٣٤﴾ التوبه

اې مؤمنانو! د احبار (ملايانو) او رهبان (پيرانو) ډېرى د خلکو مالونه په ناحقه خوري او د الله له لاري مخنيوى کوي او هغه چې سره او سپين زر ذخيره کوي او د الله په لار کي ئې نه مصرفوي؛ نو د دردناك عذاب زېرى ورکړه.

په دې مبارك آيت کي احبار، رهبان او د سرو سپينو زرو کنز کوونکي يو ځای ياد شوي او ټولو ته ئې په ګډه د دردناك عذاب زيرى ورکړى. حقيقت دا دئ چې په هري ظلم ځپلې او جهل وهلې ټولني کي مخکيني دوه د وروستني درېيم په خدمت کي وي او دوی په ګډه د ظالمو واکمنانو د ښې او کين لاس مرستيالان او مدافعان وي، يو ورته فتوی ورکوي، بل ورته دعاء کوي او درېيم د هغو پيسو يوه برخه ورکوي چې د عام ولس د شکولو او غارت کولو له لاري ئې تر لاسه کوي.

کنز هغه مال ته وایي چې که څه هم له حلالو لارو تر لاسه شوی وي خو هغه حق نه وي په کې اداء شوی چې الله تعالی لازم کړی او په هغه ځای کې نه وي مصرف شوی چې الله تعالی ئې د مصرفولو امر کړی. که د دې کنز کوونکي سزا دومره سخته وي نو د هغه چا سزا به څنګه وي چې له حرامو لارو حتی د دین پلورني له لارې ئې تر لاسه کوي، خپل ایمان پرې پلوري، خپل عزت پرې بایلي او خپل آخرت پرې تباه کوي؟!

خو دې ته مو باید پام وي چې که دلته قرآن د مال کنزول غندلي، په بل ځای کې ئې ویلي چې څه تر حاجت او ضرورت زیات وي هغه انفاق کړئ، خو د دې تر څنګ مؤمنانو ته لارښوونه کوي چې مه بخل کوئ او مه په پراخ لاس دومره مصرف چې سبا حیران او بل ته اړ وئ؛ د دواړو تر منځ وسط لار غوره کړئ،؛ دا د انسان او د ده د ټولني حالت ته پربښودل شوي، کله داسي حالت راشي چې په کار ده مؤمن انسان تر خپل ضرورت زیات هر څه د الله په لار کې وقف کړي؛ او کله ئې لږ برخه او کله یوازي هومره چې پرې فرض دي؛ دا داسي وګڼئ لکه فرض لمونځ او تهجد او نفل؛ تهجد او نفل د انسان ظروفو او شرائطو او خپلې خوښې ته پربښودل شوي. همداسي په مال کې له فرائضو او واجباتو علاوه انفاق د انسان خوښې او د ده او د ده د ټولني ظروفو او شرائطو ته پربښودل شوی.

په دې روایت کې ویل شوي چې په هغه مال کې چې تر پنځو اوقیو کم وي، په اوښانو کې چې تر پنځو کم وي او په هغې غلې کې چې تر پنځو وسقو لږ وي زکات نه شته؛ دوه خبرې باید په پام کې ولرو:

- دلته د سپینو زرو؛ اوښانو او خرما یادونه شوې؛ آیا دا د نورو شیانو لپاره معیار ګڼل شوی؟ یعني که د سکو بیع تر پنځو اوقیو سپینو زرو (چې دوه سوه درهمه کېږي) کمه وي زکات په کې نه شته، که د نورو څارویو معادل ارزښت د پنځو اوښانو حد ته نه وي رسېدلی زکات په کې نه شته، که د نورو میوو او غلو معادل ارزښت د خرما پنځو اوسقو ته

نه وي رسېدلی زکات په کې نه شته؟! او که د نورو شیانو په اړه له دې پرته ېبله ېبله لارښوونه شوې؟! دا پوښتنه هم راولاړېږي چې د سکو او اجناسو بیع له یوه تر بل او له یوې سیمې تر بلې توپیر لري او بدلېږي رابدلېږي؛ په هغو سیمو کې چې کجوري لري د خرما ارزښت تر هغو سیمو ډېر لږ دئ چې کجوري نه لري؛ د رسول الله صلی الله علیه و سلم په وخت کې د یوه وسق غنمو ارزښت نژدې دوه وسقه کجوري وو.

- د اسلام د راتلو په وخت کې یوه اوقیه سپین زر څلوېښت درهمه ارزښت درلود، یو رطل دولس اوقیه یعني څلور سوه اتیا درهمه وو، یو نش شل درهمه... رسول الله صلی الله علیه و سلم همدا د مدینې سکې او اوزان معتبر وګڼل؛ وسق د یوه اوښ بار ته ویل کېدل، چې ویل کېږي شپېته صاع وو، کله چې د سرو زرو مقدار دوه سوه درهمو ته ورسېږي نو په هرو څلوېښتو دراهمو کې باید یو درهم زکات ورکړی شي؛ او بیا چې هر څومره زیاتېږي په هرو څلوېښتو دراهمو کې به یو یو درهم ورکول کېږي؛ نوري سکې په همدې قیاس کېږي، خو په دې اړه د فقهاءو تر منځ اختلاف دئ چې تر څلوېښتو دراهمو لږ کې زکات شته که نه؟ غوره رأیه دا ده چې په دې کې به دوه نیم سلنه زکات ورکول کېږي. البته په هغو کې چې تر نصاب زیات وي. یعني د چا شتمني چې د زکات نصاب حد ته ورسېده؛ په ٤٠ کې یوه او په ١٠٠ کې دوه نیم به زکات ورکوي؛ د سکې نوعیت چې هر څه وي او مقدار ئې تر٤٠ هر څومره کم یا زیات وي؛ په کم او زیات کې به ٢,٥٪ زکات ورکوي؛ داسي نه چې په ٨٠ کې به ٢ ورکول کېږي پاته ٢٠ کې هیڅ!
- په روایت کې داسي څه نه مومو چې که د مال زکات ورکړل شي نو بیا که همداسي راکد پرېښودل شي کنز نه ګڼل کېږي؛ په داسي حال کې چې د غلې احتکار او بازار ته ئې هغه مهال وړاندي کول چې بیه ئې لوړه شوې وي؛ ناجائز عمل دئ؛ دا ځکه چې احتکار په خپله د اجناسو بیه لوړوي او عام ولس ته صدمه رسوي؛ که څه هم محتکر او د غلې خاوند د هغه زکات ورکړی وي؛ د سکې او نورو شتمنیو حکم دې ته

ورته دئ؛ تأثیر او پایله ئې د غلې د احتکار په څېر ده.

- آیا کېدی شي ووایو؛ د زکات مقدار؛ په غنیمت کې د خمس له مخې ټاکل شوی؟
- د زکات د نصاب او مقدار په اړه دا پوښتنه راولاړېږي چې آیا د قرآن دا لارښوونه چې د غنیمت پنځمه برخه به بیت المال ته سپارل کېږي؛ د نورو مالي وجائبو لپاره بنسټ او معیار نه دئ غوره شوی؟
- رسول الله صلی الله علیه و سلم مور ته د زمکو د حاصلاتو، د باغونو د مېوو، د څارویو او د سرو او سپینو زرو؛ هم نصاب ټاکلی هم د زکات مقدار؛ د هغو شتمنیو چې ثمره او حاصل ئې په کم لګښت او لږ خواري تر لاسه کېږي؛ زکات ئې نسبت هغو ته زیات دئ چې لګښت او خواري ئې زیاته وي؛ د مثال په توګه له هغو زمکو لسمه اخیستل کېږي چې د نهر په روانو اوبو خړوبېږي او له هغو شلمه چې خړوبول ئې مصارف او زیار ایجابوي؛ همداسي په غنیمت کې پنځمه د بیت المال سهم وي او څلور ئې د جنګیالیو؛ د درهم او دینار زکات څلوېشتمه ده؛ او د مېږو هم څلوېښتمه؛ له دې معلومېږي چې د زکات مقدار د لګښت او زیار په تناسب ټاکل شوی؛ تر ټولو لږ زکات د مېږو او نقد پیسو (درهم او دینار) دئ او تر ټولو زیات د غنیمت؛ په قرآن کې یوازې د غنیمت په اړه ویل شوي چې پنځمه ئې ترې اخیستل کېږي؛ په قرآن کې د نورو مواردو د زکات مقدار؛ په څرګنده توګه نه مومو؛ پوښتنه راولاړېږي چې آیا رسول الله صلی الله علیه و سلم د نورو املاکو او عوائدو د زکات مقدار د قرآن دغې لارښوونې ته په پام سره ټاکلی؛ او که د هرې برخې لپاره مستقله وحي نازله شوې؟ که ئې منشأ قرآن وي؛ نو اړوند آیتونه ئې کوم دي؟ او که بېله وحي وي؛ په کوم حدیث کې ویل شوي چې الله تعالی په دې اړه مشخصه وحي ورته کړې؟ او دا وحي کله او چېرې پر رسول الله صلی الله علیه و سلم نازله شوې؟ زه د خپل معلومات له مخې وایم چې داسي روایات مي له نظره نه دي تېر شوي؛ لږ تر لږه دومره ویلی شم چې د حکمة البارئ په څلورو جلدونو کې چې ما د

بخاري نژدې دوه ثلثه روايات څېړلي؛ د بخاري د زکات کتاب په شمول؛ داسي کوم روايت مي نه دئ ليدلی؛ له همدې کبله وايم چې رسول الله صلی الله عليه و سلم د زکات مقدار د قرآن د دغي لارښووني له مخي ټاکلی:

وَاعْلَمُوا أَنَّمَا غَنِمْتُمْ مِنْ شَيْءٍ فَأَنَّ لِلَّهِ خُمُسَهُ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَابْنِ السَّبِيلِ إِنْ كُنْتُمْ آمَنْتُمْ بِاللَّهِ وَمَا أَنْزَلْنَا عَلَى عَبْدِنَا يَوْمَ الْفُرْقَانِ يَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعَانِ وَاللَّهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿٤١﴾ الأنفال

او په دې پوه شئ چې څه په غنيمت تر لاسه کوئ نو پنځمه ئې د الله، د پيغمبر، د خپلوانو، يتيمانو، مسکينانو او مسافرو ده؛ که په الله او هغه څه مو ايمان راوړی وي چې په خپل بنده ئې د فرقان په ورځي نازل کړ؛ هغه ورځ چې دواړه ډلې سره مخامخ شوې؛ او الله په هر څه ښه قادر دئ.

دلته د غنائمو په اړه ويل شوي چې پنځمه برخه ئې د الله، د پيغمبر، د خپلوانو، يتيمانو، مسکينانو او مسافرو برخه ده؛ يعني چې دا به بيت المال ته سپارل کېږي.

که څه هم زکات او لمونځ په ۸۲ آيتونو کې څنګ په څنګ ياد شوي؛ او لږ ئې له مکې پيل شوې؛ خو زکات په دوهم هجري کال فرض شوی؛ او رسول الله صلی الله عليه و سلم ئې تفصيلات له دې وروسته مؤمنانو ته بيان کړي؛ او دا هغه وخت دئ چې د انفال سوره او دغه آيت ئې نازل شوی؛ دا سوره په دوهم هجري کال او د بدر له جګړې وروسته نازله شوې.

رسول الله صلی الله عليه و سلم د قرآن شارح او مفسر دئ؛ الله تعالی هغه ته د قرآن په ټولو رموزو او اسرارو پوهه او د بيان او تفسير بشپړ علم ورکړی؛ ده ته همدا آيت کافي وو چې له مخي ئې د نورو مالي

وجائبو اندازه وټاکي. دې ته مو هم پام وي چې د مالي وجائبو نور مقادیر د همدې خمس؛ ضریب دي؛ همدا ۵ په ۲-٤-۸ ضرب شوي؛ لسمه، شلمه او څلوېښتمه ترې جوړ شوي.

کوم روایت چې مورږ لګیا یو پرې بحث کوو؛ په دې کې ویل شوي: په هغه مال کې چې تر (پنځو) اوقیو کم وي، په اوښانو کې چې تر (پنځو) کم وي او په هغې غلې کې چې تر (پنځو) وسقو لږ وي؛ زکات نه شته؛ دلته هم ګورئ چې همغه د الانفال سورې د ٤١ آیت (خمس: پنځمه) معیار ګڼل شوی. له دې آیت او روایت په واضح توګه معلومېږي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم د زکات ټول تفصیلات له دې آیت استباط کړي.

٤ باب: زکات یا خیرات په پاک مال کي وي

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ تَصَدَّقَ بِعَدْلِ تَمْرَةٍ مِنْ كَسْبٍ طَيِّبٍ، وَلاَ يَقْبَلُ اللَّهُ إِلَّا الطَّيِّبَ، وَإِنَّ اللَّهَ يَتَقَبَّلُهَا بِيَمِينِهِ، ثُمَّ يُرَبِّيهَا لِصَاحِبِهِ، كَمَا يُرَبِّي أَحَدُكُمْ فَلُوَّهُ، (فَصِيلَهُ) حَتَّى تَكُونَ مِثْلَ الجَبَلِ» (بخاری: ۱٤۱۰)

له ابو هریره رضي الله عنه روایت دئ چې وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: چا چې له پاک مال د یوې خرما په اندازه صدقه ورکړه او الله تعالی له حلال او پاک شي پرته بل څه نه قبلوي؛ نو الله تعالی ئې په خپل سِي لاس ترې قبلوي، بیا ئې د مال خاوند ته داسي وده ورکوي لکه چې ستاسو کوم یو خپل بیاړ (او جونګی) روزي او وده ورکوي، تر هغه چې دا (صدقه) د غره په څېر شي.

دا روایت په بخاري کې یو ځل بیا په دې شمېرې راغلی ۷٤۳۰؛ د دواړو روایاتو راویان په څلورو طبقو کې دا دي: عَبْدِ اللَّهِ بْنِ دِينَارٍ، پلار ئې دینار، أَبُو صَالِحٍ او أَبُو هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ د أبو صالح په اړه ابن حجر او الذهبي په څېر محققین وایي چې ضعیف دئ او استناد نه شي

پرې کېدی.

تر منځ ئې دا توپیر دئ چې په یوه کې وَلاَ يَقْبَلُ اللَّهُ إِلَّا الطَّيِّبَ او په بل کې وَلاَ يَصْعَدُ إِلَى اللَّهِ إِلَّا الطَّيِّبُ راغلي.

د دې حدیث مطلب او مدلول دا دئ چې الله تعالی یوازې پاکه صدقه او خیرات قبلوي، نه یوازې قبلوي ئې بلکې هغه ته خاص ارزښت ورکوي او لکه څرنګه چې انسان یو باارزښته شی په شي لاس اخلي، شکور خدای هم د خپل بنده پاکې صدقې ته ارزښت ورکوي او قبلوي ئې؛ باید متوجه وو چې په دې حدیث کې د یمین کلمه په مجازي توګه کارول شوې او ظاهري معنی ئې مراد نه ده، ځکه ګورو چې صدقه د یوه انسان له خوا بل انسان ته ورکول کېږي، ورکوونکی او اخیستونکی دواړه انسانان دي یو ئې د بل په لاس کې ږدي، متأسفانه ځینې په دې روایت استناد کوي او وایي: الله تعالی دوه لاسونه لري، یو ئې (یمین) یعني ښی دئ او بل ئې (شمال) یعني کین دئ؛ او ګواکې الله تعالی د بنده صدقه په حقیقي معنی په خپل ښي لاس کې اخلي!! دا په داسي حال کې چې دلته د يَتَقَبَّلُهَا بِيَمِينِهِ الفاظ راغلي نه د (يأخذ بيمينه) الفاظ چې په لاس د اخیستلو معنی افاده کوي، په ټولو هغو نصوصو کې چې د الله تعالی او د هغه د صفاتو په اړه متشابه الفاظ کارول شوي؛ مجازي معنی ئې مراد وي نه حقیقي معنی ئې؛ لکه دا حدیث:

۹۰۹۵- عن ابْن عَبَّاس يَقُولُ: الرُّكْنُ، يَعْنِي الْحَجَرَ، يَمِينُ اللهِ فِي الأَرْضِ، يُصَافِحُ بِهَا خَلْقَهُ مُصَافَحَةَ الرَّجُلِ أَخَاهُ، يَشْهَدُ لِمَنِ اسْتَلَمَهُ بِالْبِرِّ وِالْوَفَاءِ، وَالَّذِي نَفْسُ ابْنِ عَبَّاسٍ بِيَدِهِ، مَا حَاذَى بِهِ عَبدٌ مُسْلِمٌ يَسْأَلُ اللهَ تَعَالَى خَيْرًا إِلاَّ أَعْطَاهُ إِيَّاهُ. مصنف عبدالرزاق الصنعانی

حجر الاسود په زمکه کې د الله تعالی ښی لاس دئ، چې په هغې سره الله تعالی له خپلو بندګانو سره داسي مصافحه کوي لکه چې یو سړی له خپل ورور سره مصافحه کوي؛ د هغه چا په اړه به شهادت ورکوي چې پر دې ئې د ښېګڼې او وفا ژمنې سره لاس کښېښود؛ په هغه ذات قسم چې د

ابن عباس سا ئې په واك كې ده؛ هيڅ مسلم بنده به؛ هغې ته مخامخ له الله تعالى كوم خير ونه غواړي مگر دا چې حتماً به ئې ورکړي.

په دې حديث كې گورو چې په لومړنۍ برخه كې ئې حجر الاسود ته په زمكه كې د الله تعالى يمين (ښى لاس) ويل شوي او په دوهمه برخه كې د حجر الاسود لمس كول له الله تعالى سره مصافحه گڼل شوې؛ هيڅ عاقل انسان به دا ادعاء ونه كړي چې له دې الفاظو د هغوى ظاهري معنى مراد ده؛ حقيقت دا دئ چې دلته دواړه په مجازي توگه كارول شوي؛ دلته د بحث موضوع؛ د الله تعالى د ذات څرنگوالى نه دئ؛ بلكې د حجر الأسود څرنگوالى او منزلت د بحث اصلي موضوع ده؛ مور ته وايي: په حجر الأسود لاس ايښودل؛ داسي دئ لكه الله تعالى ته لاس ورکول او ژمنه ورسره كول؛ ډېر بې عقل او سفيه انسان به له دې مجاز او استعارې؛ بل مطلب اخلي؛ نه يوازي دلته؛ بلكې په ټول قرآن كې يو داسي مورد نه مومو چې د الله تعالى د ذات په اړه په كې بحث شوى وي؛ نه صراحتاً او نه اشارتاً؛ دا ځكه چې د الله تعالى د ذات په څرنگوالي پوهېدل؛ انسان ته قطعاً ممكن او مقدور نه دئ؛ د انسان سترگي د الله تعالى د ليدو توان نه لري؛ عقل ئې له دې ډېر عاجز او ناتوان دئ چې هغه درك كړى شى؛ په انساني قاموس كې هغه أسماء او صفات نه شته چې په مرسته ئې د الله تعالى د ذات كيفيت او صفات بيان كړى شي؛ د انسان قاموس له هغو أسماء او صفاتو جوړ شوى چې انسانانو په خپله د څرگندو او مشهودو مخلوقاتو لپاره وضع كړي؛ په دې صفاتو سره د عظيم خداى د ذات كيفيت بيانول ممكن نه دي.

له اهل ظاهر پوښتنه كوو: د خپل مسلك او مذهب له مخي دا حديث څنگه تعبيروئ:

إِنَّ الْمُقْسِطِينَ عِنْدَ اللهِ، عَلَىٰ مَنَابِرَ مِنْ نُورٍ، عَنْ يَمِينِ الرَّحْمَنِ عَزَّ وَجَلَّ وَكِلْتَا يَدَيْهِ يَمِينٌ. رواه مسلم

په تحقيق سره عدل كوونكي به د الله تعالى څنگ كې او ښي لاس ته ئې

د نور پر منبرونو ناست وي او د الله تعالی دواړه لاسونه ښي دي.

که دلته (يد) او (يمين) ستاسي د مسلك په اساس په همدې ظاهري معنی واخلو؛ نو خبره نه په عقل برابره راځي او نه په نقل؛ په عقل سره ځکه چې دوه ښي لاسونه عقل نه مني او په نقل سره ځکه چې رسول صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم په بل حديث کې فرمايي:

عن عَبْدِ اللهِ بْنُ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:" يَطْوِى اللهُ عَزَّ وَجَلَّ السَّمَاوَاتِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، ثُمَّ يَأْخُذُهُنَّ بِيَدِهِ الْيُمنٰى، ثُمَّ يَقُولُ: أَنَا الْمَلِكُ، أَيْنَ الْجَبَّارُونَ؟ أَيْنَ الْمُتَكَبِّرُونَ. ثُمَّ يَطْوِى الْأَرَضِينَ بِشِمَالِهِ، ثُمَّ يَقُولُ: أَنَا الْمَلِكُ أَيْنَ الْجَبَّارُونَ؟ أَيْنَ الْمُتَكَبِّرُونَ؟ رواه مسلم

له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: الله تعالى به د قيامت په ورځ آسمانونه راونغاړي او بيا به ئې په ښي لاس کې ونيسي او وبه فرمايي: زه پاچا (ملك) يم؛ جابران چېرې دي؟ متكبران چېرې دي؟ بيا به زمکې راونغاړي او په کين لاس کې به ئې ونيسي او وبه فرمايي: زه پاچا يم چېرې دي جابران؟ چېرې دي متكبران؟

تاسو او خداى مو؛ آيا دې پوښتني ته داسي ځواب لرئ چې ستاسو خپل ايمان او عقل پرې قانع شي؛ او دا طمع ولرئ چې بل ئې درسره ومني؟! مونږ د دواړو حديثونو په الفاظو اقرار کوو، ايمان پرې لرو، حق ئې بولو، خو هغه متشابهات او استعارې ګڼو او وايو چې د "يداليمنٰى، شمال، يأخذ او يطوي" کلمات د استعارو په توګه کارول شوې؛ او په استعارو کې هيڅ لفظ په اصلي معنی نه شو تعبيرولی؛ فقط دغه مفاهيم افاده کوي:

- لومړنی حديث دا مطلب څرګندوي: هغه کسان چې عدل ئې کړی، په خپلو قضاوتونو کې ئې د انصاف رعايت کړی او حق ئې خپل څښتن ته سپارلی؛ د دوې مقام ډېر لوړ دئ، د الله تعالى په وړاندې د اوچت مقام خاوندان دي، د قيامت په ورځ به د الله تعالى خوا ته د نور پر

منبرونو ناست وي.

- لکه څرنګه چې په دنیا کې د پاچایانو او واکمنو دا دود دئ چې که وغواړي څوک تقدیر کړي او درناوی ئې وکړي نو هغوی خپلې ښې خوا ته دروي او کښېنوي؛ الله تعالی هم عدل کوونکو ته خاص مقام ورکوي او تقدیروي ئې خپلې خوا ته ځای ورکوي؛ خو پام مو وي چې الله تعالی له مخلوق سره تشبیه نه کړئ، د الله تعالی په رابطه ښی او کیڼ مطرح نه دي، هر څوک چې هر چېرې د الله تعالی خوا ته ځای ومومي؛ همغه ځای مبارک دئ.

لکه چې قرآن موسی علیه السلام ته د طور په لمنې کې وفرمایل:

فَلَمَّا جَاءَهَا نُودِيَ أَنْ بُورِكَ مَنْ فِي النَّارِ وَمَنْ حَوْلَهَا وَسُبْحَانَ اللَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿٨﴾ النمل

نو کله چې ورته راغی؛ ورغږ شو چې هغه هم مبارک کړی شوی چې په اور کې دئ او هغه هم چې شاوخوا کې ئې دئ؛ او پاکي د عالمونو رب الله ته ده.

یعني کله چې موسی علیه السلام د اور ځای ته ورغی؛ داسې غږ پرې وشو: دا یو سپېڅلی ناو دئ، هغه هم مبارک دئ چې په اور کې دئ او هغه هم چې شاوخوا کې ئې دي؛ او پاکي د عالمونو رب الله ته ده.

یعني اوس دا سیمه د الله تعالی تر خاص رعایت لاندې ده او هر څه ئې مبارک دي. د آیت دا فقره غور غواړي چې وایي: پاکي هغه الله ته ده چې د عالمونو رب دئ؛ باید وګورو چې له مخکینیو فقرو سره ئې تړاو څنګه دئ، تر دې وړاندې د یوه مکان، اور او غږ یادونه شوې؛ له هر چا سره دا پوښتنه راولاړېږي چې له رب العالمین سره د دغو دریو (مکان، اور او غږ) تړاو څنګه دئ؟ په دې فقرې سره دغې پوښتنې ته ځواب ویل شوی او هغه داسې چې الله تعالی د عالمونو رب دئ، له هر عیب او نقص منزه دئ، نه مکان ته اړ دئ، نه ئې دلته حضور داسې وو لکه کوم مخلوق چې یو ځای پرېږدي او بل ځای ته ولاړ شي، نه دا اور

او رښا ئې د ده د تجلي او جلال رښا وه او نه دې ته اړ دئ چې چا ته د يوې لارښوونې د القاء لپاره داسې تکلم وکړي لکه د يوه انسان تکلم له بل سره؛ د الله تعالى هيڅ څه مخلوق ته ورته نه دي، په هيڅ څه کې د مخلوق په څېر نه دئ، داسې نه چې الله تعالى له مخلوق سره تشبيه کړئ، داسې نه چې يوه وړه دره د رب العالمين لپاره مکان وګڼئ، الله تعالى همدلته له موسى عليه السلام سره تکلم کړى، خو دا تکلم څنګه وو؟ مور نه پوهېږو، يوازې دومره ويلې شو چې موسى عليه السلام ته داسې غږ شوى او داسې تکلم ورسره شوى چې دى پرې پوه شوى، دا اور او رښا د الله تعالى د تجلي رښا نه وه، ځکه قرآن په خپله په بل ځاى کې مور ته لارښوونه کوي چې موسى عليه السلام له الله تعالى وغوښتل چې ځان وروښيي، هغه ته وويل شو چې ما نشې ليدلى، دا دئ وګوره چې ستر غر د الله تعالى د تجلي په وړاندې مقاومت نه شي کولى، الله تعالى د غره په لوري تجلي وکړه، غر ټوټې ټوټې شو او موسى عليه السلام بې سده شو.

په روايت کې ويل شوي: که نن يو شمېر جابر او متکبر واکمنان په خپل قوت او واکمنۍ غره دي، اقتدار او واکمني ئې د تمرد سبب شوې او دا ئې هېره کړې چې الله تعالى د هر څه واکمن دئ او دا هر څه د هغه په واك کې دي؛ همدا مغرور واکمنان به د قيامت په ورځ وګوري چې زمکې او آسمانونه د الله تعالى ملکيت دي، دا زمکې او آسمانونه د الله تعالى د عظمت په وړاندې داسې دي لکه د انسان لپاره د کاغذ يوه پاڼه، الله تعالى به آسمان او زمکه داسې راونغاړي لکه د کاغذ يوه پاڼه زمور په لاس کې.

په قرآن کې ګڼ شمېر استعارې راغلې؛ په دغو استعارو کې کارول شوي الفاظ؛ هيڅکله په اصلي معنى نه کارول شوي او نه ئې مور په اصلي معنى تعبيرولى شو؛ لکه د قرآن په اړه چې راغلي:

نَزَّلَ عَلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ مُصَدِّقًا لِمَا بَيْنَ يَدَيْهِ وَأَنْزَلَ التَّوْرَاةَ وَالإِنْجِيلَ

﴿۳﴾ آل عمران

پر تا ئې دا كتاب په حقه نازل كړ؛ د هغه څه تصديقوونكى چې ترې وړاندې دي او تورات او انجيل ئې نازل كړ.

په دې آيت كې دا الفاظ د استعارو په توګه كارول شوي: نَزَّلَ، مَا بَيْنَ يَدَيْهِ او أَنْزَلَ؛ يو ئې هم په اصلي معنى نه شو تعبيرولى؛ ځكه نه قرآن له آسمان د مجسم كتاب په بڼه كې راكوز كړى شوى، نه تورات او انجيل او نه نور كتابونه او نه قرآن دوه لاسونه لري چې مخكيني كتابونه ئې په كې نيولي وي او ربښتيني ئې بولي؛ د الله تعالى په اړه (يد) او (يمين او شمال)؛ همداسې استعارې دي.

۵ باب: تر رد كېدو وړاندې صدقه

عن حَارِثَةَ بْنَ وَهْبٍ، قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم يَقُولُ: " تَصَدَّقُوا، فَإِنَّهُ يَأْتِي عَلَيْكُمْ زَمَانٌ يَمْشِي الرَّجُلُ بِصَدَقَتِهِ، فَلاَ يَجِدُ مَنْ يَقْبَلُهَا، يَقُولُ الرَّجُلُ: لَوْ جِئْتَ بِهَا بِالأَمْسِ لَقَبِلْتُهَا، فَأَمَّا اليَوْمَ، فَلاَ حَاجَةَ لِي بِهَا " (بخارى: ۱۴۱۱)

له حارثه بن وهب رضي الله عنه روايت دئ چې وايي: له نبي صلى الله عليه و سلم مي اوربدلي چې فرمايل ئې: همدا اوس د خپلو مالونو زكات وركوئ ځكه داسي وخت دربانديي راتلونكى دئ چې يو كس به د خپل مال زكات او صدقه بهر وړي؛ خو داسي څوك به نه مومي چې هغه ترې واخلي، ده ته به هغه سړى (چې زكات وركول غواړي) وايي: كه پرون دي راوړې وى؛ نو اخيستې به مي وه؛ خو نن ورته ضرورت نه لرم.

دا روايت په بخاري كې دوه ځلي نور هم په دغو شمېرو راغلى: ۱۴۲۴، ۷۱۲۰؛ غريب دئ؛ په ٤ طبقو كې يو يو راوي لري چې دا دي: آدَم، شُعْبَة، مَعْبَد بْن خَالِد او حَارِثَة بْن وَهْب رضي الله عنه؛ له بخاري پرته په بل هيڅ كتاب كې نه دئ راوړل شوى؛ يعني چې هم غريب دئ او هم شاذ.

توپيرونه ئې دا دي: په يوه كې فَإِنَّهُ يَأْتِي عَلَيْكُمْ په بل كې فَسَيَأْتِي

عَلَيْكُمْ او په بل کې فَسَيَأْتِي عَلَى النَّاسِ، په دوو کې دا فقره راغلې فَلاَ يَجِدُ مَنْ يَقْبَلُهَا او په يوه کې نه ده راغلې، په يوه کې لَقَبِلْتُهَا او په بل کې لَقَبِلْتُهَا مِنْكَ، په يوه کې فَلاَ حَاجَةَ لِي بِهَا او په بل کې فَلاَ حَاجَةَ لِي فِيهَا راغلي.

دلته څو خبري بايد په پام کې ولرو:

- په دې روايت کې مسلمانان د صدقې په ورکولو کې تلوار ته هڅول شوي، د مال خاوند بايد د صدقې په ورکړې کې تلوار وکړي؛ داسې نه چې تأني او سستي ئې د دې باعث شي چې د صدقې اخيستونکی ونه مومي.
- له صدقې مراد عامه صدقه ده، هغه چې صدقه ورکوونکی ئې په خپل لاس کوم مسکين او فقير ته ورکوي؛ نه هغه زکات او عشر چې اسلامي حکومت ئې له خلکو تر لاسه کوي او په خپلو مواردو کې ئې لګوي.
- په دې اړه د محدثينو تر منځ اختلاف دئ چې د وفرت هغه مهال به کله وي چې د صدقې اخيستونکی به نه شو موندلی؛ ځينې دا د قيامت له اشراطو او علائمو بولي او وايي تر قيامت وړاندې به داسې حالت رامنځته شي؛ وايي له نورو رواياتو معلومېږي چې دا د قيامت له علائمو او نښو ده. ځينې بيا وايي چې د مسلمانانو د اقتدار په دوران کې يو وخت همداسې حالت راغلی چې په ځينو سيمو کې به زکات اخيستونکي نه موندل کېدل.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضى الله عنه قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم لاَ تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يَكْثُرَ فِيكُمُ الْمَالُ فَيَفِيضَ، حَتَّى يُهِمَّ رَبَّ الْمَالِ مَنْ يَقْبَلُ صَدَقَتَهُ، وَحَتَّى يَعْرِضَهُ فَيَقُولَ الَّذِى يَعْرِضُهُ عَلَيْهِ لاَ أَرَبَ لِي. (بخارى: ١٤١٢)

له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چې وايي: نبي صلى الله عليه و سلم فرمايلي: قيامت تر هغه نه راځي چې په تاسو کې شتمني ډېره شي او دومره ډېرښت به ومومي چې عامه به شي؛ تر هغه چې د مال څښتن ته به دا اندېښنه راولاړه کړي چې څوك به ئې صدقه قبوله کړي؟ حتى وړاندې به ئې کړي خو هغه څوك چې وروړاندې کړې ئې ده وبه وايي:

زه کومه اړتیا نه لرم.

تکرار: دا روایت په بخاري کې دوه ځلي نور په دغو شمېرو راغلی: ۱۰۳٦، ۷۱۲۱؛ غریب دئ؛ په ۵ طبقو کې یو یو راوي لري چې دا دي: أَبُو اليَمَانِ، شُعَيْب، أَبُو الزِّنَادِ، عَبْد الرَّحْمَن او أَبو هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ له بخاري علاوه په صحیح مسلم کې هم راوړل شوی؛ خو له ابوهریره وروسته ئې راویان بېل دي.

توپیرونه ئې دا دي: په دوو نورو کې د مال د کثرت تر څنګ څو نورو امورو ته هم اشاره شوې، لکه يُقْبَضَ الْعِلْمُ، وَتَكْثُرَ الزَّلاَزِلُ، وَيَتَقَارَبَ الزَّمَانُ، وَتَظْهَرَ الْفِتَنُ، وَيَكْثُرَ الْهَرْجُ - وَهْوَ الْقَتْلُ الْقَتْلُ، حَتَّى تَقْتَتِلَ فِئَتَانِ عَظِيمَتَانِ، يَكُونُ بَيْنَهُمَا مَقْتَلَةٌ عَظِيمَةٌ، دَعْوَتُهُمَا وَاحِدَةٌ، وَحَتَّى يُبْعَثَ دَجَّالُونَ كَذَّابُونَ، قَرِيبٌ مِنْ ثَلاَثِينَ، كُلُّهُمْ يَزْعُمُ أَنَّهُ رَسُولُ اللَّهِ، وَحَتَّى يَتَطَاوَلَ النَّاسُ فِي الْبُنْيَانِ، وَحَتَّى يَمُرَّ الرَّجُلُ بِقَبْرِ الرَّجُلِ فَيَقُولُ يَا لَيْتَنِي مَكَانَهُ. وَحَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْ مَغْرِبِهَا، فَإِذَا طَلَعَتْ وَرَآهَا النَّاسُ - يَعْنِي - آمَنُوا أَجْمَعُونَ، فَذَلِكَ حِينَ لاَ يَنْفَعُ نَفْسًا إِيمَانُهَا لَمْ تَكُنْ آمَنَتْ مِنْ قَبْلُ؛ او كَسَبَتْ فِي إِيمَانِهَا خَيْرًا، وَلَتَقُومَنَّ السَّاعَةُ وَقَدْ نَشَرَ الرَّجُلاَنِ ثَوْبَهُمَا بَيْنَهُمَا، فَلاَ يَتَبَايَعَانِهِ وَلاَ يَطْوِيَانِهِ، وَلَتَقُومَنَّ السَّاعَةُ وَقَدِ انْصَرَفَ الرَّجُلُ بِلَبَنِ لِقْحَتِهِ (د خپلې اوښې شیدې به ئې لوشلې وي) فَلاَ يَطْعَمُهُ، وَلَتَقُومَنَّ السَّاعَةُ وَهْوَ يُلِيطُ حَوْضَهُ (خپل حوض به سمبالوي) فَلاَ يَسْقِي فِيهِ، وَلَتَقُومَنَّ السَّاعَةُ وَقَدْ رَفَعَ أُكْلَتَهُ إِلَى فِيهِ فَلاَ يَطْعَمُهَا.

له روایت معلومېږي چې قیامت به ناڅاپي وي؛ هیڅوک به نه پوهېږي او نه به ګمان کوي چې داسي ژر به قیامت راشي، په خپلو کارونو به لګیا وي چې ناڅاپي به قیامت پرې راشي؛ او دا هغه څه دي چې قرآن فرمایي:

يَسْأَلُونَكَ عَنِ السَّاعَةِ أَيَّانَ مُرْسَاهَا قُلْ إِنَّمَا عِلْمُهَا عِنْدَ رَبِّي لا يُجَلِّيهَا لِوَقْتِهَا إِلا هُوَ ثَقُلَتْ فِي السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ لا تَأْتِيكُمْ إِلا بَغْتَةً يَسْأَلُونَكَ كَأَنَّكَ حَفِيٌّ عَنْهَا قُلْ إِنَّمَا عِلْمُهَا عِنْدَ اللَّهِ وَلَكِنَّ أَكْثَرَ

النَّاسِ لا يَعْلَمُونَ ﴿١٨٧﴾ الأعراف

د دې نېټې (قيامت) په اړه تا پوښتي چې د وقوع وخت ئې کله دئ؟ ووايه: علم ئې فقط زما له رب سره دئ، له ده پرته ئې بل څوك په خپل وخت کې نه راڅرګندوي، په آسمانونو او زمکې کې درنه شوې، نه درته راځي مګر ناڅاپي، تا داسې پوښتي چې ګواکې ترې خبر يې، ووايه: علم ئې يوازې له الله سره دئ؛ خو اکثر خلك نه پوهېږي.

دا آيت په مکرره توګه د قيامت علم الله تعالى ته مختص کوي او پر دې تأکيد کوي چې فقط الله به ئې په خپلې ټاکلې نېټې رابرسېره کوي او له دې پټ راز به پرده اوچتوي، ناڅاپي او له مخکينۍ اطلاع پرته به تاسو نيسي؛ د دې لپاره چې د قيامت حادثه هومره سترە ده چې ټول آسمانونه او زمکه به احتواء کوي، نو ځکه ئې په ټاکلې نېټې پوهېدل انسان ته ګران شوي. له پيغمبر عليه السلام ستاسو پوښتنې داسې دي لکه چې هغه ترې خبر وي؛ په داسې حال کې چې له الله پرته هيڅوك پرې نه پوهېږي.

عَنْ عَدِيَّ بْنَ حَاتِمٍ رضى الله عنه يَقُولُ كُنْتُ عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم فَجَاءَهُ رَجُلاَنِ أَحَدُهُمَا يَشْكُو الْعَيْلَةَ، وَالآخَرُ يَشْكُو قَطْعَ السَّبِيلِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم أَمَّا قَطْعُ السَّبِيلِ فَإِنَّهُ لاَ يَأْتِي عَلَيْكَ إِلاَّ قَلِيلٌ حَتَّى تَخْرُجَ الْعِيرُ إِلَى مَكَّةَ بِغَيْرِ خَفِيرٍ، وَأَمَّا الْعَيْلَةُ فَإِنَّ السَّاعَةَ لاَ تَقُومُ حَتَّى يَطُوفَ أَحَدُكُمْ بِصَدَقَتِهِ لاَ يَجِدُ مَنْ يَقْبَلُهَا مِنْهُ، ثُمَّ لَيَقِفَنَّ أَحَدُكُمْ بَيْنَ يَدَيِ اللَّهِ لَيْسَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهُ حِجَابٌ وَلاَ تُرْجُمَانٌ يُتَرْجِمُ لَهُ، ثُمَّ لَيَقُولَنَّ لَهُ أَلَمْ أُوتِكَ مَالاً فَلَيَقُولَنَّ بَلَى. ثُمَّ لَيَقُولَنَّ أَلَمْ أُرْسِلْ إِلَيْكَ رَسُولاً فَلَيَقُولَنَّ بَلَى. فَيَنْظُرُ عَنْ يَمِينِهِ فَلاَ يَرَى إِلاَّ النَّارَ، ثُمَّ يَنْظُرُ عَنْ شِمَالِهِ فَلاَ يَرَى إِلاَّ النَّارَ، فَلْيَتَّقِيَنَّ أَحَدُكُمُ النَّارَ وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ، فَإِنْ لَمْ يَجِدْ فَبِكَلِمَةٍ طَيِّبَةٍ. (بخارى: ١٤١٣)

له عَدِي بن حاتِم رضي الله عنه روايت دئ چې وايي: د رسول الله صلى

الله علیه و سلم سره خوا ته وم چې دوه کسان ورته راغلل؛ یوه ئې له فقر او بل ئې د لارو له شوکو شکایت کاوو؛ نو رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: دا شوکې داسې دي چې پر تا به لا لږه موده نه وي تېره شوې چې یو کاروان به د مکې په لوري وځي؛ پرته له کوم بدرګه وال؛ او دا نېستمني داسې ده چې تر هغه به قیامت نه راځي چې ستاسو یو سړی به له خپلې صدقې سره چورلې خو داسې څوک به نه مومي چې صدقه ئې ترې قبوله کړي (د شتمنیو د ډېرښت له امله)، بیا به د قیامت په ورځ چې ستاسو هر څوک به په داسې حال کې د الله تعالی په وړاندې ودرېږي چې د ده او الله تر منځ به نه پرده وي او نه داسې ترجمان چې ده ته ترجماني وکړي؛ بیا به حتماً ورته ووایي: آیا مال مي نه وو درکړی؟ هغه سړی به حتماً ووایي: هو؛ ولې نه؛ بیا به حتماً ورته وفرمایي: آیا یو رسول مي نه وو دراستولی؟ هغه سړی به حتماً ووایي: هو؛ ولې نه؛ نو بیا به خپلې ښۍ خوا ته وګوري او له اور پرته به بل څه ونه ګوري، بیا به خپل کېڼ لوري ته وګوري او له اور پرته به بل څه ونه ویني؛ نو (اې خلکو!) ستاسو هر یو دي له دې اور ځان وساتي که څه هم د یوې کجورې په کومې ټوټې سره وي؛ او که (دا هم) ونه مومي نو په یوې نېکي وینا سره (دي له دې اور ځان وژغوري).

دا روایت په بخاري کې اته ځلي نور هم په دغو شمېرو راغلی: ۱٤۱۷، ۳۵۹۵، ٦۰۲۳، ٦۵۳۹، ٦۵٤۰، ٦۵٦۳، ۷٤٤۳، ۷۵۱۲؛ غریب دئ؛ په صحابه وو کې یو راوي لري چې عَدِي بن حاتِم رضي الله عنه دئ؛ په معجم الکبیر للطبراني او سنن الکبرى للبیهقي کې هم له همدې سند او متن سره راغلی؛ د ټولو راویان په ٤ طبقو کې دا دي: سَعِيد بْن بِشْر، أَبُو مُجَاهِد، مُحِلّ بْن خَلِيفَة الطَّائِي او عَدِي بْنَ حَاتِم رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ.

توپیرونه ئې دا دي: په یوه کې بَيْنَا أَنَا عِنْدَ النَّبِيّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم په بل کې كُنْتُ عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم په یوه کې فَجَاءَهُ رَجُلَانِ أَحَدُهُمَا يَشْكُو الْعَيْلَةَ، وَالآخَرُ يَشْكُو قَطْعَ السَّبِيلِ په بل کې إِذْ أَتَاهُ رَجُلٌ فَشَكَا إِلَيْهِ الْفَاقَةَ، ثُمَّ أَتَاهُ آخَرُ، فَشَكَا قَطْعَ السَّبِيلِ، په یوه کې فَيَنْظُرُ

عَنْ يَمِينِهِ فَلاَ يَرَى إِلاَّ جَهَنَّمَ، وَيَنْظُرُ عَنْ يَسَارِهِ فَلاَ يَرَى إِلاَّ جَهَنَّمَ په بل کې وَيَنْظُرُ بَيْنَ يَدَيْهِ فَلاَ يَرَى إِلاَّ النَّارَ تِلْقَاءَ وَجْهِهِ فَيَنْظُرُ أَيْمَنَ مِنْهُ فَلاَ يَرَى إِلاَّ مَا قَدَّمَ مِنْ عَمَلِهِ، وَيَنْظُرُ أَشْأَمَ مِنْهُ فَلاَ يَرَى إِلاَّ مَا قَدَّمَ، په یوه کې تَخْرُجَ الْعِيرُ إِلَى مَكَّةَ بِغَيْرِ خَفِيرٍ، په بل کې الظَّعِينَةَ (په کجاوه کې مېرمن) تَرْتَحِلُ مِنَ الْحِيرَةِ، حَتَّى تَطُوفَ بِالْكَعْبَةِ، لاَ تَخَافُ أَحَدًا إِلاَّ اللَّهَ په یوه کې لَيَقِفَنَّ أَحَدُكُمْ بَيْنَ يَدَيِ اللَّهِ لَيْسَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهُ حِجَابٌ وَلاَ تُرْجُمَانٌ يُتَرْجِمُ لَهُ په بل کې وَلَيَلْقَيَنَّ اللَّهَ أَحَدُكُمْ يَوْمَ يَلْقَاهُ، وَلَيْسَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهُ تُرْجُمَانٌ يُتَرْجِمُ لَهُ په بل کې مَا مِنْكُمْ أَحَدٌ إِلاَّ سَيُكَلِّمُهُ رَبُّهُ، لَيْسَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهُ تَرْجُمَانٌ په یوه کې ثُمَّ لَيَقُولَنَّ أَلَمْ أُرْسِلْ إِلَيْكَ رَسُولاً په بل کې فَيَقُولَنَّ أَلَمْ أَبْعَثْ إِلَيْكَ رَسُولاً په یوه کې لَيَقُولَنَّ لَهُ أَلَمْ أُوتِكَ مَالاً په بل کې فَيَقُولُ أَلَمْ أُعْطِكَ مَالاً وَأُفْضِلْ عَلَيْكَ په یوه کې لَيْسَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهُ حِجَابٌ، وَلا تَرْجُمَانٌ يُتَرْجِمُ لَهُ په بل کې لَيْسَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهُ تُرْجُمَانٌ وَلاَ حِجَابٌ يَحْجُبُهُ په یوه کې مَا مِنْكُمْ أَحَدٌ إِلاَّ سَيُكَلِّمُهُ رَبُّهُ په بل کې ثُمَّ لَيَقِفَنَّ أَحَدُكُمْ بَيْنَ يَدَيِ اللَّهِ راغلي.

د دې ټولو روایاتو محوري او اساسي موضوع دا ده چې د اسلام له برکته به د جاهلیت د دور خوره بې امني او فقر له منځه ولاړ شي، ډاډمن امنیت به تأمین شي، وفرت او کثرت به رامنځته شي؛ مسلمانان انفاق او د صدقې ورکولو ته هڅوي او لارښوونه ورته کوي چې هر څوک به په داسي حال کې د الله تعالی په وړاندې ودرېږي چې د ده او الله تر منځ به نه پرده وي او نه داسي ترجمان چې ده ته ترجماني وکړي؛ هلته به خپل ښي او کیڼ لوري ته د اور لمبې ګوري، ورته وایي: هر یو دي له دې اور ځان وساتي که څه هم د یوې کجورې په کومې ټوټې سره وي؛ او که (دا هم) ونه مومي نو په یوې نېکي وینا سره (دي له دې اور ځان وژغوري).

٦ باب: صدقه له اور د نجات سبب دئ

عَنْ أَبِي مُوسَى رضى الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم قَالَ: «لَيَأْتِيَنَّ عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ يَطُوفُ الرَّجُلُ فِيهِ بِالصَّدَقَةِ مِنَ الذَّهَبِ، ثُمَّ لا يَجِدُ أَحَدًا يَأْخُذُهَا مِنْهُ، وَيُرَى

الرَّجُلُ الْوَاحِدُ يَتْبَعُهُ أَرْبَعُونَ امْرَأَةً يَلُذْنَ بِهِ، مِنْ قِلَّةِ الرِّجَالِ وَكَثْرَةِ النِّسَاءِ». (بخاری: ۱٤۱٤)

له ابو موسی رضي الله عنه روایت دئ چي نبي صلی الله علیه و سلم فرمایلي: پر خلکو به داسي زمانه راشي چي یو سړی به د سرو زرو له صدقې سره چورلي خو داسي څوک به نه مومي چي ترې وائې خلي؛ او لیدل کېږي به چي په یوه سړي پسي به څلوېښت ښځي رواني وي چي د هغه پناه ئې په برخه شي؛ د نارینه وو د لږوالي او د ښځو د ډېرښت له امله.

دا روایت په بخاري کي یو ځل راغلی؛ غریب دئ؛ په ۵ طبقو کي یو یو راوي لري چي دا دي: مُحَمَّد بْن العَلاَءِ، أَبُو أُسَامَة، بُرَيْد، أَبو بُرْدَةَ او أَبو مُوسَى رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ. پر بخاري علاوه یوازي په مسلم کي له همدې سند او متن سره راغلی.

مطلب ئې د مال او ښځو د زیاتوالي په اړه وړاندوینه ده، داسي چي صدقه ورکوونکي به د داسي چا لټه کوي چي صدقه ئې ترې قبوله کړي خو نه به ئې مومي، د ښځو شمېر به د نارینه وو په پرتله دومره زیات شي چي څلوېښت ښځي به په یوه نارینه پسي رواني وي (په دې موخه چي د هغه خوا ته پناځی ومومي)

عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ الأَنْصَارِيِّ رضی الله عنه قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم إِذَا أَمَرَنَا بِالصَّدَقَةِ، انْطَلَقَ أَحَدُنَا إِلَى السُّوقِ، فَيُحَامِلُ، فَيُصِيبُ الْمُدَّ، وَإِنَّ لِبَعْضِهِمُ الْيَوْمَ لَمِائَةَ أَلْفٍ». (بخاری: ۱٤۱٦)

له ابو مسعود انصاري رضي الله عنه روایت دئ چي وایي: کله چي به رسول الله صلی الله علیه و سلم مور ته د صدقې امر کاوو؛ زمور یو کس به بازار ته ولاړ نو پېټي به ئې پر شا وړل او په بدل کي به ئې یوه لپه کجوري په برخه شوې؛ او یقیناً چي نن د دوی ځیني د سلو زرو خاوندان دي.

دا روایت په بخاري کې څلور ځلي نور هم په دغو شمېرو راغلی: ۱٤۱۵، ۲۲۷۳، ٤٦٦۸، ٤٦٦۹؛ غریب دئ؛ په ۵ طبقو کې یو یو راوي لري چې دا دي: سَعِيد بْن يَحْيَى، پلار ئې يحيى، الأَعْمَش، شَقِيق او أَبو مَسْعُود الأَنْصَارِيّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ. پر بخاري علاوه یوازي په المعجم الكبير للطبراني کې راغلی.

توپیرونه ئې دا دي: په یوه کې كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم إِذَا أَمَرَنَا بِالصَّدَقَةِ په بل کې لَمَّا نَزَلَتْ آيَةُ الصَّدَقَةِ، په یوه کې يُحَامِلُ په بل کې فَتَحَامَلَ په بل کې كُنَّا نَتَحَامَلُ په بل کې كُنَّا نُحَامِلُ په یوه کې فَيُصِيبُ الْمُدَّ، په بل کې يَجِيءَ بِالْمُدِّ، په بل کې فَجَاءَ أَبُو عَقِيلٍ بِنِصْفِ صَاعٍ، په بل کې فَجَاءَ رَجُلٌ فَتَصَدَّقَ بِشَيْءٍ كَثِيرٍ فَقَالُوا مُرَائِي وَجَاءَ رَجُلٌ فَتَصَدَّقَ بِصَاعٍ فَقَالُوا إِنَّ اللَّهَ لَغَنِيٌّ عَنْ صَاعِ هَذَا په بل کې وَجَاءَ إِنْسَانٌ بِأَكْثَرَ مِنْهُ، په بل کې فَقَالَ الْمُنَافِقُونَ إِنَّ اللَّهَ لَغَنِيٌّ عَنْ صَدَقَةِ هَذَا، وَمَا فَعَلَ هَذَا الآخَرُ إِلَّا رِئَاءً، په یوه کې كَأَنَّهُ يُعَرِّضُ بِنَفْسِهِ په بل کې قَالَ مَا نُرَاهُ إِلَّا نَفْسَهُ (ګمان کوو چې هغه خپل ځان ښودو؛ یعني له (احد) د ابو مسعود رضي الله عنه مقصد خپل ځان وو) راغلي.

د دې روایاتو مطلب دا دئ چې د اسلام په لومړیو کې مسلمانانو په فقر کې ژوند کولو، ډېرو به ئې په بازار کې شاقه کارونه کول، پېټي به ئې پر شا وړل، په بدل کې به ئې یوه لپه خرما تر لاسه کړه، همدا به ئې د الله په لار کې وقف کړه؛ منافقینو به پر دغو نېستمنو مؤمنانو ملنډې وهلې؛ او که به چا زیات مال د الله تعالی په لار کې وقف کړ نو منافقینو به هغوی په ریاء او ځان ښودني تورنول؛ لا لنډه موده نه وه تېره شوې چې له همدغو نېستمنو مسلمانانو ځینې دومره شتمن شول چې شتمني ئې سلو زرو ته رسېدله.

ځینو د دې روایت په اړه ویلي: له دې روایاتو معلومېږي چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم د هغې وړاندویني یو مصداق همدا د مسلمانانو د اقتصادي حالت ښه کېدا وو.

د روایت یوه برخه هغه څه دي چې د قرآن په دې آیت کې راغلي:

الَّذِينَ يَلْمِزُونَ الْمُطَّوِّعِينَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ فِي الصَّدَقَاتِ وَالَّذِينَ لا يَجِدُونَ إِلا جُهْدَهُمْ فَيَسْخَرُونَ مِنْهُمْ سَخِرَ اللَّهُ مِنْهُمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٧٩﴾

التوبة

هغه چې د مؤمنانو پر ايثارګرو (په پراخ زړه انفاق کوونکو) نيوکې کوي او پر هغو د دې لپاره ملنډې وهي چې د خپل زيار (له حاصل علاوه) څه نه مومي؛ الله پر دوی ټمسخر کړی او دوی ته دردوونکی عذاب دئ.

يعني منافقينو له يوې خوا پر هغو ايثارګرو مؤمنانو نيوکې کولې چې په پراخ زړه او خلاص لاس خپلې شتمنۍ د الله تعالى په لار کې وقف کوي، وايي: دوی د رياء او ځان ښودنې لپاره دا کار کوي او زيات مال وقف کوي!! خو له بلې خوا پر هغو بې وزلو مؤمنانو د دې لپاره ملنډې وهي چې د نېستمنۍ په وجه ډېر لږ څه د الله تعالى په لار کې وقف کولی شي، څوک د کجورو يو وړی، څوک يو سېرلی، څوک څو درهمه او څوک د خپل ورځني زيار او کار د مزد او اجورې يوه برخه؛ نور څه نه مومي چې د الله تعالى په لار کې ئې قرباني کړي، منافقينو به پرې خندل چې دوی غواړي د مړز په ورون سره روم فتح کړي؛ خو الله تعالى فرمايي چې د منافقينو حالت د ټمسخر وړ دئ نه د دغو مخلصو مؤمنانو!! دا ځکه چې نفاق ئې له هغه دردناك عذاب سره مخامخ کوي چې الله تعالى منافقينو ته ټاکلی.

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّه عَنْهَا قَالَتْ: دَخَلَتِ امْرَأَةٌ مَعَهَا ابْنَتَانِ لَهَا تَسْأَلُ، فَلَمْ تَجِدْ عِنْدِى شَيْئًا غَيْرَ تَمْرَةٍ، فَأَعْطَيْتُهَا إِيَّاهَا، فَقَسَمَتْهَا بَيْنَ ابْنَتَيْهَا، وَلَمْ تَأْكُلْ مِنْهَا، ثُمَّ قَامَتْ فَخَرَجَتْ، فَدَخَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم عَلَيْنَا فَأَخْبَرْتُهُ، فَقَالَ: «مَنِ ابْتُلِيَ مِنْ هَذِهِ الْبَنَاتِ بِشَيْءٍ كُنَّ لَهُ سِتْرًا مِنَ النَّارِ».

(بخارى: ١٤١٨)

له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چې وايي: يوه ښځه چې دوه لونې ورسره وې راغله؛ سوال ئې کاوو؛ خو له ما سره له يوې خرما پرته بل څه

نه موندل کېدل؛ نو همغه مي ورکړه؛ نو هغې دا خرما د خپلو دوو لونو تر منځ ووېشله او په خپله ئې څه تري ونه خوړل، بيا پاڅېده او ووتله؛ بيا رسول الله صلى الله عليه و سلم مور ته راغى نو دا خبره مي ورته وکړه؛ نو وئې فرمايل: څوک چې له دغو نجونو په ځينو وآزمويل شي؛ هغوى به د دوزخ د اور په وړاندي ورته پرده شي.

دا روايت په بخاري کې يو ځل بيا هم په دغي شمېرې راغلى: ۵۹۹۵؛ غريب دئ؛ په ۷ طبقو کې يو يو راوي لري چې دا دي: بِشْر بْن مُحَمَّد، عَبْدُ اللَّهِ، مَعْمَر، الزُّهْرِيّ، عَبْد اللَّهِ بْن أَبِي بَكْرِ بْنِ حَزْمٍ، عُرْوَة او عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا. پر بخاري علاوه يوازي په شعب الايمان للبيهقي، مسند احمد او مصنف عبدالرزاق کې راغلى.

توپيرونه ئې دا دي: په يوه کې جَاءَتْنِى امْرَأَةٌ مَعَهَا ابْنَتَانِ تَسْأَلُنِى په بل کې دَخَلَتِ امْرَأَةٌ مَعَهَا ابْنَتَانِ لَهَا تَسْأَلُ په يوه کې فَلَمْ تَجِدْ عِنْدِى غَيْرَ تَمْرَةٍ وَاحِدَةٍ فَأَعْطَيْتُهَا په بل کې فَلَمْ تَجِدْ عِنْدِى شَيْئًا غَيْرَ تَمْرَةٍ فَأَعْطَيْتُهَا إِيَّاهَا په يوه کې فَقَسَمَتْهَا بَيْنَ ابْنَتَيْهَا په بل کې فَقَسَمَتْهَا بَيْنَ ابْنَتَيْهَا وَلَمْ تَأْكُلْ مِنْهَا په يوه کې فَحَدَّثْتُهُ په بل کې فَأَخْبَرْتُهُ په يوه کې مَنْ يَلِى مِنْ هَذِهِ الْبَنَاتِ شَيْئًا فَأَحْسَنَ إِلَيْهِنَّ كُنَّ لَهُ سِتْرًا مِنَ النَّارِ په بل کې مَنِ ابْتُلِىَ مِنْ هَذِهِ الْبَنَاتِ بِشَىْءٍ كُنَّ لَهُ سِتْرًا مِنَ النَّارِ راغلي.

۷ باب: کومه صدقه غوره ده

عَنْ أَبُى هُرَيْرَةَ رضى الله عنه قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَيُّ الصَّدَقَةِ أَعْظَمُ أَجْرًا؟ قَالَ: أَنْ تَصَدَّقَ وَأَنْتَ صَحِيحٌ شَحِيحٌ، تَخْشَى الْفَقْرَ وَتَأْمُلُ الْغِنَى، وَلا تُمْهِلُ حَتَّى إِذَا بَلَغَتِ الْحُلْقُومَ، قُلْتَ: لِفُلانٍ كَذَا، وَلِفُلانٍ كَذَا، وَقَدْ كَانَ لِفُلانٍ. (بخارى: ۱۴۱۹)

له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چې وايي: يو سړى رسول الله صلى الله عليه و سلم ته راغى او وئې ويل: يا رسول الله! کومه صدقه ستر اجر لري؟ وئې فرمايل: دا چې ته په داسي حال کې صدقه ورکړې چې

ته روغ او له مال سره حرص لرونکی یې، له فقر وېره او د شتمنتیا هیله لري؛ او تر هغه ئې ونه ځنډوي چې روح ستوني ته ورسېږي، (او هغه مهال) ووایې: د فلاني لپاره دومره او د فلاني لپاره دومره، په داسې حال کې چې هغه مهال هسې هم د فلاني او فلاني وي.

دا روایت په بخاري کې یو ځل بیا په دغې شمېرې راغلی: ۲۷٤۸؛ غریب دئ؛ په ۵ طبقو کې یو یو راوي لري چې دا دي: مُوسَى بْن إِسْمَاعِيل، عَبْدُ الوَاحِد، عُمَارَة بْن القَعْقَاعِ، أَبُو زُرْعَةَ او أَبُو هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ په ډېرو نورو کتابونو کې هم له همدې سند او متن سره راوړل شوی.

توپیرونه ئې دا دي: په یوه کې جَاءَ رَجُلٌ په بل کې قَالَ رَجُلٌ په یوه کې أَيُّ الصَّدَقَةِ أَعْظَمُ أَجْرًا په بل کې أَيُّ الصَّدَقَةِ أَفْضَلُ په یوه کې وَأَنْتَ صَحِيحٌ شَحِيحٌ په بل کې وَأَنْتَ صَحِيحٌ حَرِيصٌ په یوه کې تَخْشَى الْفَقْرَ وَتَأْمُلُ الْغِنَى په بل کې تَأْمُلُ الْغِنَى، وَتَخْشَى الْفَقْرَ راغلي.

د روایت مراد دا دئ چې صدقه تر هغه مه ځنډوه چې مرګ رانژدې شي او روح ستوني ته راورسېږي؛ هغه مهال خو هسې هم ستا مال بل ته پاته کېږي؛ تر دې وړاندې او هغه مهال صدقه ورکړه چې ته روغ رمټ یې، له فقر وېره او د لازیاتو شتمنیو تر لاسه کولو هیله لرې.

۸ باب: له صدقه ورکولو سره مینه

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّه عَنْهَا: أَنَّ بَعْضَ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم قُلْنَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم أَيُّنَا أَسْرَعُ بِكَ لُحُوقًا؟ قَالَ: أَطْوَلُكُنَّ يَدًا. فَأَخَذُوا قَصَبَةً يَذْرَعُونَهَا، فَكَانَتْ سَوْدَةُ أَطْوَلَهُنَّ يَدًا، فَعَلِمْنَا بَعْدُ أَنَّمَا كَانَتْ طُولَ يَدِهَا الصَّدَقَةُ، وَكَانَتْ أَسْرَعَنَا لُحُوقًا بِهِ، وَكَانَتْ تُحِبُّ الصَّدَقَةَ. (بخاری: ۱٤۲۰)

له عائشې رضي الله عنها روایت دئ چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم ځینو مېرمنو نبي صلی الله علیه و سلم ته وویل: له موږ به کومه یوه تر نورو مخکې له تا سره ملحقه او یو ځای شي؟ وئې فرمایل: ستاسو هغه چې تر ټولو ئې لاس اوږد وي؛ بیا ئې مېرمنو یو نی راواخیست او

خپل لاسونه ئې پرې اندازه کول؛ نو سوده رضي الله عنها داسي وه چې لاس ئې تر ټولو اوږد وو، خو وروسته پوه شوو چې د لاس له اوږدوالي مطلب سخا او زیاته صدقه ورکول وو او همغه تر مورِ ټولو ژر له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره ملحق شوه، (وفات شوه) او هغې به صدقه ورکول خوښول.

دا روایت په بخاري کې یو ځل راغلی؛ غریب دئ؛ په ۵ طبقو کې یو یو راوي لري چې دا دي: مُوسَى بْن إِسْمَاعِيلَ، أَبُو عَوَانَةَ، فِرَاس، الشَّعْبِيّ، مَسْرُوقٍ او عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا.

د بخاري دا روایت څو جدي ستونزي لري:

- د مسلم له هغه روایت سره تعارض لري چې د ام المؤمنین زینب د فضائلو په اړه ئې راوړی؛ روایت دا دئ:

١٠١ - عَنْ عَائِشَةَ أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَسْرَعُكُنَّ لَحَاقًا بِي أَطْوَلُكُنَّ يَدًا» قَالَتْ: فَكُنَّ يَتَطَاوَلْنَ أَيَّتُهُنَّ أَطْوَلُ يَدًا، قَالَتْ: فَكَانَتْ أَطْوَلَنَا يَدًا زَيْنَبُ، لِأَنَّهَا كَانَتْ تَعْمَلُ بِيَدِهَا وَتَصَدَّقُ.

له عائشې رضي الله عنها روایت دئ چې وئې ویل: رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمایل: له تاسو به هغه تر نورو وړاندي له ما سره ملحق شي (وبه مري او له ما سره به یو ځای شي چې تر ټولو ئې لاس اوږد وي؛ نو مورِ خپلو منځونو کې سیالي کوله چې د کومې به لاس تر ټولو اوږد وي؛ نو زینب داسي وه چې لاس ئې تر ټولو اوږد وو؛ د دې لپاره چې په خپل لاس به ئې کار کولو او صدقه به ئې ورکوله.

- ګورئ چې د یوې موضوع په اړه؛ عائشې رضي الله عنها ته دوه متضادي خبرې منسوب شوې؛ په بخاري کې راغلی روایت وایي چې سوده رضي الله عنها تر نورو وړاندي وفات شوه او د مسلم روایت بیا د دې عکس وایي چې زینب رضي الله عنها وړاندي وفات شوې.

د مسلم روایت ځکه د بخاري تر روایت غوره دئ چې زینب تر نورو وړاندي وفات شوې؛ نه سوده رضي الله عنهما؛ او زینب رضي الله

عنها په دې مشهوره وه چې د خير په کارونو او له بې وزلو سره په مرستې کې تر نورو وړاندې وه. تفصيل ئې د صحيح مسلم د شرحې په ۲٤٥۲ روايت او فتح الباري کې وګورئ.

• همدا راز دا روايت له قرآن سره جدي تعارض لري چې وايي: د غيب علم الله تعالى ته مختص دئ او په زمکې او آسمان کې له الله تعالى پرته هيڅوک په غيب نه پوهېږي؛ هيڅ انسان نه پوهېږي چې کله او چېرې به مري، د مرګ د نېټې او ځای په اړه له الله تعالى پرته بل څوک علم نه لري. قرآن فرمايي:

... وَمَا تَدْرِى نَفْسٌ مَاذَا تَكْسِبُ غَدًا وَمَا تَدْرِى نَفْسٌ بِأَىِّ أَرْضٍ تَمُوتُ ... ﴿٣٤﴾ لقمان

... او هيڅ ژوى نه پوهېږي چې سبا به څه کوي او څه به تر لاسه کړي؛ او هيڅ کس نه پوهېږي چې په کومې سيمې او زمکې کې به مري...

قرآن رسول الله صلى الله عليه و سلم ته په خطاب کې فرمايي:

قُلْ مَا كُنْتُ بِدْعًا مِنَ الرُّسُلِ وَمَا أَدْرِى مَا يُفْعَلُ بِى وَلا بِكُمْ إِنْ أَتَّبِعُ إِلا مَا يُوحَى إِلَىَّ وَمَا أَنَا إِلا نَذِيرٌ مُبِينٌ ﴿٩﴾ الأحقاف

ووايه: زه د پيغمبرانو لومړنى نه يم (تر ما وړاندې ډېر راغلي او تللي)؛ او زه نه پوهېږم چې له ما سره به څه کېږي او له تاسو سره څه؛ زه فقط د وحي متابعت کوم؛ له يوه نذير پرته بل څه نه يم.

يعني رسول الله صلى الله عليه و سلم نه د خپل مرګ له نېټې خبر وو او نه د بل د مرګ له نېټې.

آيا د هغو رواياتو په منلو مکلف يو چې له شاهد پرته يو راوي لري؟

• دا روايت مطلق غريب دئ؛ د احنافو ائمه؛ د امام ابو حنيفه په شمول او د ټولو محققينو رأى دا ده: کوم روايات چې په يوه طبقه کې يو راوي لري؛ هيڅ راوي ئې داسې شاهد نه لري چې په يقين منتج شي؛ يوازې په هغه صورت کې د استناد وړ دي چې په قرآن کې شاهد ولري

او لږ تر لږه له قرآن سره تعارض ونه لري؛ هیڅوك هغه روایت د اعتبار او استناد وړ نه ګڼي چې له قرآن سره تعارض ولري؛ په ځانګړې توګه د دې روایت په څېر روایات چې د قرآن له لسګونو هغو صریح آیتونو سره جدي تناقض لري چې غیب د الله تعالی مختص صفت ګڼي او له بل هر چا ئې نفي کوي؛ ځینې په ډېر تکلف سره هڅه کوي او د داسي روایاتو په اړه وایي: هو؛ له الله تعالی پرته هیڅوك په غیب نه پوهېږي؛ که رسول الله صلی الله علیه و سلم د غیب په اړه څه ویلي نو هغه ته به د وحي له لارې ویل شوي وي!! د دوی په ځواب کې باید ووایو: دا ادعاء په هغه صورت کې د منلو وړ ده چې رسول الله صلی الله علیه و سلم یا په خپله ویلي وي چې په دې اړه ما ته وحي شوې؛ او یا راوي په خپلو سترګو هغه د وحي نازلېدو په حالت کې لیدلی وي او ویلي ئې وي: رسول الله صلی الله علیه و سلم مي ولید چې د وحي راتلو حالت پرې راغلی او بیا ئې وویل.

د احادیثو د تدریس او لوستلو په وخت کې څو خبرې باید تل په پام کې ولرو: که مو داسي روایت ولیدو چې دغه روایت ته ورته وي چې په یوه طبقه کې یو راوي ولري؛ دا روایت په پنځو طبقو کې یو یو راوي لري؛ همغه څه باید وکړو چې عمر رضي الله عنه کړي: کله چې به هغه واورېدل چې یو څوك وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم داسي فرمایلي؛ نو هغه ته به ئې وویل: یا شاهد وړاندي کړه او یا دُرې ته چمتو شه!! یعني له شاهد پرته به د هیچا روایت نه منو؛ د عمر رضي الله عنه دا وینا د ده شخصي رأی نه ده؛ قرآن همدا وایي چې د یوه مدعي دعوی او ادعاء باید هغه مهال ومنو چې شاهد وړاندي کړي؛ دوه، درې او څلور شاهدان. د آحاد روایاتو؛ هغه چې یو یا لږ راویان لري؛ په اړه د امام ابو حنیفه اسلوب دا وو چې قرآن ته به ئې راجع کولو؛ له قرآن سره به ئې د مطابقت موندلو هڅه کوله؛ د عدم مطابقت په صورت کې به ئې په قرآن اکتفاء کوله.

همداسي که وګورو چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته د قرآن

خلاف خبره منسوب شوې؛ مثلاً دا چې په غیب پوهېدا ورته منسوب شوې؛ ابو هریره او ابو سعید الخدري رضي الله عنهما هغه دوه صحابه دي چې دواړو ته ځیني داسي روایات منسوب شوي چې ښیي رسول الله صلی الله علیه و سلم په غیب پوهېدو؛ دا په داسي حال کې چې د قرآن ګڼ شمېر آیتونه وایي چې په زمکې او آسمان کې له الله تعالی پرته هیڅوك په غیب نه پوهېږي؛ د رسول الله صلی الله علیه و سلم په اړه په مشخصه توګه همدا خبره په مکررو آیتونو کې راغلې او د ګڼ شمېر پیغمبرانو په اړه په عامه توګه همدا ویل شوي چې په غیب نه پوهېدل. ابراهیم، یعقوب، زکریا، لوط علیهم السلام او مریم علیها السلام په ارتباط همداسي راغلي؛ د ابراهیم او لوط علیهما السلام خوا ته فرشتې راغلې خو دوی نه پېژندلې او د زلمیانو ګمان ئې پرې کړی، د یعقوب علیه السلام زوی؛ یوسف علیه السلام خپلو وروڼو په څاه کې اچولی؛ یعقوب علیه السلام نه پوهېدو چې زامنو ئې هغه څو مېرې آخوا په کوهي کې اچولی؛ سترګې ئې ورپسې ړندې شوې؛ زکریا علیه السلام ته د زوی زېږی ورکړی شوی؛ هغه هم د فرشتو په لاس؛ چې الله تعالی به زوی درکړي؛ وئې ویل: څنګه او کله به ئې راکوي؟ قرآن رسول الله صلی الله علیه و سلم ته په خطاب کې وایي: خلکو ته ووایه: نه پوهېږم چې الله تعالی به له ما سره څه کوي او له تاسو سره څه. هو؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ډېر څه د وحي له لاري؛ د غیب له عالم ویل شوي؛ قرآن له داسي لارښوونو ډك دئ چې د غیب عالم پوري تړاو لري؛ داسي روایات هم باید قرآن ته راجع کړو؛ د قرآن په تله ئې وتلو؛ د مطابقت په صورت کې به ئې منو. له دې به ځان ساتو چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته داسي څه منسوب کړو او یا ئې بل څوك منسوب کړي او مور ئې ومنو چې متیقن نه یو رسول الله صلی الله علیه و سلم به دا خبره کړې وي؛ دا ځکه چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایي: څوك چې ما ته داسي خبره منسوب کړي چې ما نه وي کړې؛ خپل ځای دي په دوزخ کې ولټوي.

مورِ څه مجبوريت لرو او ولي د داسي رأی او روايت منلو ته ځان اړ ګڼو چي د إسنادو له پلوه له مدعي پرته بل شاهد نه لري او د متن له پلوه په قرآن کي شاهد نه لري؛ او له نورو رواياتو سره هم اړخ نه لګوي؛ لکه د بخاري پورتنی روايت؛ ولي به د قرآن په مقابل کي يوه فرد ته منسوب غريب روايت منو؟! ضرورت ئې کوم دئ او ګټه ئې څه؟ ولي رسول الله صلى الله عليه و سلم ته داسي څه منسوب کړو چي متيقن او ډاډه نه يو او داسي يقيني شواهد نه لرو چي ثابته کړي رسول الله صلى الله عليه و سلم دا خبره کړې؟! مورِ ته رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: چا چي ما ته داسي خبره منسوب کړه چي ما نه ده ويلې خپل ځای دي په جهنم کي ولټوي؛ که قرآن مورِ په دې مکلف کړي يو چي د قرض او پېر پلور په څېر عادي قضاياوو په اړه بايد د مدعي خبره او ادعاء په هغه صورت کي ومنو چي دوه، درې او حتى څلور شاهدان وړاندي کړي؛ نو د رسول الله صلى الله عليه و سلم د حديث په اړه به ولي د يوه راوي ادعاء له شاهد پرته منو؟! هغه هم داسي ادعاء چي د قرآن له وينا سره تعارض او تضاد لري؟!

ځيني مغالطه کوي او د خپلي غلطي ادعاء په دفاع کي وايي: صحابه خو رښتيني وو او الله تعالى ترې راضي وو؛ نو ځکه بايد د يوه خبره هم له شاهد پرته ومنو!! دغو جنابانو ته وايو: د قرآن د دې وينا لومړني مخاطبين صحابه وو؛ دوی ته تر مورِ وړاندي ويل شوي چي د مدعي ادعاء يوازي هغه مهال د منلو وړ ده چي دوه، درې او څلور شاهدان ولري؛ هغه مهال عمر رضي الله عنه هم له مدعي شاهدان غوښتل او هر قاضي هم؛ همغه مهال الله تعالى فرمايلي: څوك چي پر بل د زنا تور ولګوي او څلور شاهدان وړاندي نه کړي؛ د الله تعالى په نزد دروغجن دئ!!

۹ باب: غني ته صدقه ورکول

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضى الله عنه: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم قَالَ: «قَالَ

رَجُلٌ: لأَتَصَدَّقَنَّ بِصَدَقَةٍ، فَخَرَجَ بِصَدَقَتِهِ فَوَضَعَهَا فِي يَدِ سَارِقٍ، فَأَصْبَحُوا يَتَحَدَّثُونَ: تُصُدِّقَ عَلَى سَارِقٍ. فَقَالَ: اللَّهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ، لأَتَصَدَّقَنَّ بِصَدَقَةٍ، فَخَرَجَ بِصَدَقَتِهِ فَوَضَعَهَا فِي يَدَيْ زَانِيَةٍ، فَأَصْبَحُوا يَتَحَدَّثُونَ: تُصُدِّقَ اللَّيْلَةَ عَلَى زَانِيَةٍ، فَقَالَ: اللَّهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ، عَلَى زَانِيَةٍ، لأَتَصَدَّقَنَّ بِصَدَقَةٍ، فَخَرَجَ بِصَدَقَتِهِ فَوَضَعَهَا فِي يَدَيْ غَنِيٍّ، فَأَصْبَحُوا يَتَحَدَّثُونَ: تُصُدِّقَ عَلَى غَنِيٍّ، فَقَالَ: اللَّهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ عَلَى سَارِقٍ، وَعَلَى زَانِيَةٍ، وَعَلَى غَنِيٍّ، فَأُتِيَ فَقِيلَ لَهُ: أَمَّا صَدَقَتُكَ عَلَى سَارِقٍ: فَلَعَلَّهُ أَنْ يَسْتَعِفَّ عَنْ سَرِقَتِهِ، وَأَمَّا الزَّانِيَةُ: فَلَعَلَّهَا أَنْ تَسْتَعِفَّ عَنْ زِنَاهَا، وَأَمَّا الْغَنِيُّ فَلَعَلَّهُ يَعْتَبِرُ، فَيُنْفِقُ مِمَّا أَعْطَاهُ اللَّهُ».

(بخاری: ۱۴۲۱)

له ابو هریره رضي الله عنه روایت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمایل: یوه سړي وویل: حتمًا به یوه صدقه ورکړم؛ نو له خپلې صدقې سره ووت؛ او (په بې خبرې سره ئې) د یوه غله په لاس کې کېښوده، سهار خلکو په خپلو منځونو کې ویل: یوه غله ته صدقه ورکړی شوې ده؛ نو هغه وویل: خدایه! ستاینه تا ته ده؛ حتمًا به یوه صدقه ورکړم؛ نو له خپلې صدقې سره ووت؛ او (په بې خبرې سره ئې) د یوې زنا کاري ښځې په لاس کې کېښوده؛ سهار خلکو په خپلو منځونو کې ویل: دغه شپه یوې زناکاري ښځې ته صدقه ورکړی شوې ده؛ نو هغه وویل: خدایه! ستاینه تا ته ده؛ پر یوې زناکاري (مي پېرزو کړې)؛ حتمًا به یوه صدقه ورکړم؛ نو له خپلې صدقې سره ووت؛ او (په بې خبرې سره ئې) د یوه شتمن په لاس کې کېښوده؛ سهار بیا خلکو په خپلو منځونو کې ویل: غني ته صدقه ورکړی شوې؛ هغه سړي وویل: خدایه! ستاینه تا ته ده؛ پر غله، زنا کاري ښځې او شتمن (مي پېرزو کړې)؛ نو څوك (په خوب یا ویښه کې) ورته راغی او ورته وویل شوو: غله ته ستا صدقه کېدی شي له غلا د هغه د لاس اخیستلو سبب شي؛ او زنا کاري ښځې ته

ستا صدقه کېدی شي له خپلې زنا د هغې د لاس اخیستلو سبب شي او غني ته ستا صدقه کېدی شي د هغه د عبرت وسیله شي او بیا له هغه څه صدقه ورکړي چې الله تعالی ورکړي.

دا روایت په بخاري کې یو ځل راغلی؛ غریب دئ؛ په ۵ طبقو کې یو یو راوي لري چې دا دي: أَبُو اليَمَان، شُعَيْب، أَبُو الزِّنَاد، الأَعْرَج او أَبو هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عنه؛ د مسلم و سنن النسائي په شمول په ځینو نورو کتابونو کې له همدې متن او سند سره راغلی.

د دې روایت په اړه څو خبرې په پام کې ولرئ:

- دې سړي د شپې له لورې او په داسې حال کې چې نه ئې غوښتل دی صدقه اخیستونکی وپېژني او صدقه اخیستونکی دی وپېژني؛ خپله صدقه ورکړي، سبا ئې د خلکو له خولې اورېدلې چې صدقه ئې د غله، زناکاري ښځې او شتمن لاس ته ورغلې؛ هر ځل ئې د حیرانتیا په توګه ویلي: اللَّهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ او بیا ئې د صدقې ورکولو پرېکړه کړې ده. په دې سره مسلمانانو ته لارښوونه شوې چې د همدې مخلص بنده په څېر خپله صدقه په پټه مستحق کس ته وسپاري؛ او که د غیر مستحق لاس ته ورغله؛ بیا ئې جبران کړي.
- دې کس ته څوک (په خوب یا ویښه کې) ورغلی او ورته ویلي ئې دي: ستا صدقه نه ده ضائع شوې، هیله ده همدا صدقه د هغه غله، زناکاري ښځې او شتمن د اصلاح باعث شي.
- په دې اړه ټول فقهاء متفق دي چې که داسې صدقه د نېستمن غله او نېستمني بدلمني ښځې لاس ته ورغله نو مقبوله صدقه ګڼل کېږي او اعاده ئې لازمه نه ده؛ خو د شتمن په اړه ځینې په دې رأی دي چې داسې صدقه باید اعاده شي؛ د حدیث له فحوی معلومېږي چې داسې صدقه هم مقبوله محسوب کېږي او اعاده ئې لازمه نه ده؛ امام ابوحنیفه رحمة الله علیه دغې رأیې ته ترجیح ورکړې.

۱۰ باب څوک چې په نا خبرې کې خپل زوی ته صدقه ورکړي

عَنْ مَعْنِ بْنِ يَزِيدَ رضى الله عنه قَالَ: بَايَعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم أَنَا وَأَبِي وَجَدِّي، وَخَطَبَ عَلَيَّ فَأَنْكَحَنِي، وَخَاصَمْتُ إِلَيْهِ، وَكَانَ أَبِي يَزِيدُ أَخْرَجَ دَنَانِيرَ يَتَصَدَّقُ بِهَا، فَوَضَعَهَا عِنْدَ رَجُلٍ فِي الْمَسْجِدِ، فَجِئْتُ فَأَخَذْتُهَا، فَأَتَيْتُهُ بِهَا، فَقَالَ: وَاللَّهِ مَا إِيَّاكَ أَرَدْتُ، فَخَاصَمْتُهُ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم فَقَالَ: «لَكَ مَا نَوَيْتَ يَا يَزِيدُ، وَلَكَ مَا أَخَذْتَ يَا مَعْنُ». (بخاری: ۱۴۲۲)

له مَعْن بن يزيد رضي الله عنه روايت دئ چې وايي: ما، پلار او نیکه مي له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره بیعت وکړ؛ پلار مي د کوژدې خِطبه او نکاح هم وکړه؛ نو هغه سره مي شخړه رسول الله صلى الله عليه و سلم ته وړاندي کړه؛ او زما پلار مي یزید؛ څو دیناره وایستل (ګوښي ئې کړل) چې صدقه ئې کړي؛ نو په جومات کې ئې له یوه چا سره کښېنودل، (چې کوم محتاج ته ئې ورکړي)؛ زه ورغلم او هغه مي واخیستل او له هغوی سره پلار ته راغلم؛ هغه راته وویل: په خدای قسم چې ستا اراده مي نه وه کړې (مقصد مي دا نه وو چې خپله صدقه تا ته درکړم)؛ نو له هغه سره مي دا شخړه رسول الله صلى الله عليه و سلم ته وړاندي کړه؛ نو وئې فرمایل: یزیده! تا ته هغه څه دي چې نیت دې کړی او تا ته اې معن! هغه څه دي چې اخیستي دي دي.

دا روایت په بخاري کې یو ځل راغلی؛ غریب دئ؛ په٤ طبقو کې یو یو راوي لري چې دا دي: مُحَمَّد بْن يُوسُف، إِسْرَائِيل، أَبُو الجُوَيْرِيَةِ او مَعْن بْن يَزِيدَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ په ځینو نورو کتابونو کې هم له دغه سند او متن سره راغلی.

د دې روایت اساسي مطالب دا دي: زوی له پلار څو شکایتونه درلودل: د ده له موافقې او خوښي پرته ئې پلار ورته مېرمن غوره کړې، د خطبې لپاره د هغې کورنۍ ته ورغلی، نکاح ئې تر سره کړې؛ پلار ئې خپله صدقه بل ته سپارلې چې محتاج او مستحق کس ته ئې ورکړي؛

هغه مَعْن بن يزيد ته ورکړې؛ کله چې معن خپل پلار ته دا خبره کړې؛ هغه ورته ويلي: په خدای قسم چې مقصد مي دا نه وو چې خپله صدقه تا ته درکړم؛ کله چې لانجه رسول الله صلى الله عليه و سلم ته وړاندي شوه؛ نو وئې فرمايل: يزيده! تا ته هغه څه دي چې نيت دې کړی او تا ته اې معن! هغه څه دي چې اخيستي دي دي.

خو په دې اړه د فقهاءو تر منځ اختلاف رأی شته چې که دا صدقه زکات وي نو بيا ئې خپلوانو ته ورکړه څنګه دي؟ د ډېرې فقهاءو رأيه دا ده چې نېستمنو خپلوانو ته زکات ورکول نه يوازي څه مانع نه لري بلکې هم د زکات ثواب پرې مرتب کېږي او هم د صله رحم او خپلوۍ پاللو، خو که دا خپلوان د زکات ورکوونکي په عيال کې شامل او دی ئې د نفقې متکفل وي نو بيا هغوی ته زکات نه شي ورکولی.

۱۱ باب: چا چې خپل خادم ته د صدقې امر کړی او په خپل لاس ئې نه ده ورکړې

عَنْ عَائِشَةَ رضى الله عنها قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم إِذَا أَنْفَقَتِ الْمَرْأَةُ مِنْ طَعَامِ بَيْتِهَا، غَيْرَ مُفْسِدَةٍ، كَانَ لَهَا أَجْرُهَا بِمَا أَنْفَقَتْ، وَلِزَوْجِهَا أَجْرُهُ بِمَا كَسَبَ، وَلِلْخَازِنِ مِثْلُ ذَلِكَ، لا يَنْقُصُ بَعْضُهُمْ أَجْرَ بَعْضٍ شَيْئًا. (بخاری: ۱٤۲۵)

له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: کله چې يوه مېرمن د خپل کور له خوړو صدقه ورکړي خو داسې چې فساد کوونکې نه وي (اسراف ونه کړي او خاوند ونه ځوروي)؛ نو هغې ته به د صدقې ورکولو له امله اجر وي او خاوند ته ئې د ګټلو او حاصلولو اجر؛ او ساتونکي ته به د همدې په څېر؛ او د دوی ځينې به د ځينو نورو د اجر هيڅ څه نه کموي. (هر يوه ته به خپل خپل اجر ورکول کېږي).

دا روايت په بخاري کې پنځه ځلي نور په دغو شمېرو راغلی: ۱٤۳۷،

١٤٣٩، ١٤٤٠، ١٤٤١، ٢٠٦٥؛ غريب دئ؛ په ٥ طبقو کي يو يو راوي لري چي دا دي: جَرِير، مَنْصُور، شَقِيق، مَسْرُوقٍ او عَائِشَة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا؛ د مسلم او نسائي په شمول په ځينو نورو کتابونو کي هم له همدې سند او متن سره راغلی.

توپيرونه ئې دا دي: په يوه کي إِذَا أَنْفَقَتِ الْمَرْأَةُ په بل کي إِذَا تَصَدَّقَتِ الْمَرْأَةُ په بل کي أَطْعَمَتِ الْمَرْأَةُ په يوه کي مِنْ طَعَامِ بَيْتِهَا په بل کي مِنْ طَعَامِ زَوْجِهَا په بل کي مِنْ بَيْتِ زَوْجِهَا په يوه کي كَانَ لَهَا أَجْرُهَا، وَلِزَوْجِهَا بِمَا كَسَبَ، وَلِلْخَازِنِ مِثْلُ ذَلِكَ په بل کي لَهَا أَجْرُهَا، وَلَهُ مِثْلُهُ، وَلِلْخَازِنِ مِثْلُ ذَلِكَ، لَهُ بِمَا اكْتَسَبَ، وَلَهَا بِمَا أَنْفَقَتْ راغلي.

د روايت مطلب دا دئ چي ښځه کولی شي د خپل مېړه د کور له خوراکي توکيو څه انفاق کړي؛ خو داسي چي د خپل مېړه د رضاء خلاف کار ونه کړي، اسراف ونه کړي، داسي څه ونه کړي چي له امله ئې کومه لانجه راولاړه شي او د مېړه د خفګان باعث شي؛ داسي څه انفاق نه کړي چي ورته جائز نه وي او خاوند ئې اجازه نه وي ورکړې؛ د بل روايت له مخي معلومېږي چي دا کار هغه مهال کولی شي چي د مېړه اجازه ئې تر لاسه کړې وي.

١٢ باب: غوره صدقه هغه ده چي د غناء په حالت کي وي

عَنْ حَكِيمِ بْنِ حِزَامٍ رضى الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم قَالَ: الْيَدُ الْعُلْيَا خَيْرٌ مِنَ الْيَدِ السُّفْلَى، وَابْدَأْ بِمَنْ تَعُولُ، وَخَيْرُ الصَّدَقَةِ عَنْ ظَهْرِ غِنًى، وَمَنْ يَسْتَعْفِفْ يُعِفَّهُ اللَّهُ، وَمَنْ يَسْتَغْنِ يُغْنِهِ اللَّهُ. (بخارى: ١٤٢٨)

له حکيم بن حِزام رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: برنی لاس تر لاندينې لاس غوره دئ؛ او له هغو ئې پيل کړه چي ته ئې پالنه کوې (نفقه ئې پر تا ده)؛ او غوره صدقه هغه ده چي د غناء په حالت کي وي او څوک چي د عفاف او ځان ساتنې په لټه کي شي (د بل صدقې ته طمع ونه کړي)؛ الله به عفاف ورپه برخه

کړي؛ او څوک چې د صدقې له اخیستلو استغناء او بې نیازي وکړي الله تعالی به ئې بې نیاز کړي.

دا روایت په بخاري کې څلور ځلي نور په دغو شمېرو راغلی: ١٤٢٦، ١٤٢٨، ٥٣٥٥، ٥٣٥٦؛ غریب دئ؛ په صحابه وو کې دوه راویان لري؛ حَكِيمِ بْنِ حِزَام او ابْنِ عُمَر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُم؛ خو په نورو طبقو کې یو یو چې دا دي: مُوسَى بْن إِسْمَاعِيل، وُهَيْب، هِشَام او پلار ئې؛ په اکثرو کتابونو کې په همدې توګه راغلی.

توپیرونه ئې دا دي: په یوه کې عَنْ ظَهْرِ غِنًى په بل کې مَا كَانَ عَنْ ظَهْرِ غِنًى، په بل کې مَا تَرَكَ غِنًى راغلي.

په دې روایت کې مسلمانان د صدقې ورکړي او له ګدایي او بل ته لاس اوږدولو اجتناب ته هڅول شوي، برنی لاس تر لاندیني لاس غوره ګڼل شوی، پورتنی لاس هغه دئ چې صدقه ورکوي او لاندینی لاس هغه دئ چې صدقه اخلي، څوك چې د بل صدقې ته طمع ونه کړي؛ الله تعالی به عفاف او له سؤال ځان ساتنه ورپه برخه کړي؛ او څوک چې د صدقې له اخیستلو استغناء او بې نیازي وکړي الله تعالی به ئې بې نیاز کړي.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّه عَنْهُمَا: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم قَالَ وَهُوَ عَلَى الْمِنْبَرِ وَذَكَرَ الصَّدَقَةَ وَالتَّعَفُّفَ وَالْمَسْأَلَةَ: الْيَدُ الْعُلْيَا خَيْرٌ مِنَ الْيَدِ السُّفْلَى فَالْيَدُ الْعُلْيَا هِيَ الْمُنْفِقَةُ وَالسُّفْلَى هِيَ السَّائِلَةُ. (بخاری:١٤٢٩)

له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم په داسي حال کي چې پر منبر وو او د صدقې، تعفف (له خیرات اخیستلو ځان ساتل) او سوالګرۍ یادونه ئې کوله وفرمایل: پورتنی لاس تر لاندیني لاس غوره دئ؛ پورتنی لاس هغه دئ چې خیرات ورکوي او لاندینی هغه دئ چې سؤال کوي.

دا روایت په بخاري کې یو ځل راغلی؛ غریب دئ؛ په ٥ طبقو کې یو یو راوي لري چې دا دي: أَبُو النُّعْمَان، حَمَّاد بْن زَيْد، أَيُّوبَ، نَافِع او ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا؛ له بخاري پرته په بل مهم معروف کتاب کې نه دئ

راغلی.

١٣ باب: صدقې ته هڅونه او د فقير لپاره ئې سپارښتنه

عَنْ أَبِي مُوسَى رضى الله عنه قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم إِذَا جَاءَهُ السَّائِلُ؛ او طُلِبَتْ إِلَيْهِ حَاجَةٌ، قَالَ: اشْفَعُوا تُؤْجَرُوا، وَيَقْضِي اللَّهُ عَلَى لِسَانِ نَبِيِّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم مَا شَاءَ. (بخارى:١٤٣٢)

ابو موسى رضي الله عنه ويلي: رسول الله صلى الله عليه و سلم داسي وو چې كله به سوالگر ورته راغى او يا به د كوم (چا) د حاجت په اړه غوښتنه تري وشوه نو فرمايل به ئې: سپارښتنه وكړئ اجر به درکړی شي او الله تعالى د خپل نبي صلى الله عليه و سلم په ژبه هغه څه جاري كوي چې غوښتي ئې وي؛ (يعني د سپارښتني په اړه رسول الله صلى الله عليه و سلم همغه څه وايي چې الله تعالى غوښتي وي؛ نو په نه منلو به ئې نه ناراضه كېږئ)

دا روايت په بخاري كي درې ځلي نور په دغو شمېرو راغلى: ٦٠٢٧، ٦٠٢٨، ٧٤٧٦؛ له نورو كتابونو يوازي په مسند احمد او صحيح مسلم كي هم راغلى؛ خو له دوهمي طبقې وروسته ئې راويان له بخاري سره ورته نه دي.

توپيرونه ئې دا دي: په يوه كي إِذَا جَاءَهُ السَّائِلُ؛ او طُلِبَتْ إِلَيْهِ حَاجَةٌ په بل كي وَكَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم جَالِسًا إِذْ جَاءَ رَجُلٌ يَسْأَلُ أَوْ طَالِبُ حَاجَةٍ په بل كي أَنَّهُ كَانَ إِذَا أَتَاهُ السَّائِلُ أَوْ صَاحِبُ الْحَاجَةِ په يوه كي قَالَ: اشْفَعُوا تُؤْجَرُوا، وَيَقْضِي اللَّهُ عَلَى لِسَانِ نَبِيِّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم مَا شَاءَ په بل كي فَقَالَ اشْفَعُوا فَلْتُؤْجَرُوا، وَلْيَقْضِ اللَّهُ عَلَى لِسَانِ نَبِيِّهِ مَا شَاءَ راغلي.

عَنْ أَسْمَاءَ رضى الله عنها قَالَتْ: قَالَ لِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم لا تُوكِي فَيُوكَى عَلَيْكِ. وفى رواية: قَالَ: «لا تُحْصِي فَيُحْصِيَ اللَّهُ عَلَيْكِ». (بخارى:١٤٣٣)

له اسماء رضي الله عنها روايت دئ چې وايي: رسول الله صلى الله عليه

و سلم راته وفرمايل: بخل مه كوه (مال مه ذخيره كوه؛ او د كښوړي خوله ئې مه تړه) كه نه نو پر تا به ئې هم خوله وتړل شي؛ او په بل روايت كي داسي راغلي: مه ئې شمېره، كه نه نو الله تعالى به ئې هم شمېرنه درسره وكړي.

يعني له بخل او كنجوسۍ ځان ساته، خپلي مرستي مه شمېره او زيات ئې مه ګڼه، كه نه نو الله تعالى به دې ته ورته معامله درسره وكړي. بخل د الهي نعمتونو دړي د انسان پر مخ تړي او انفاق د بركت او د رزق او روزي زياتېدو باعث كېږي.

دا روايت په بخاري كي درې ځلي نور په دغو شمېرو راغلى: ١٤٣٤، ٢٥٩٠، ٢٥٩١؛ غريب دئ؛ په ٥ طبقو كي يو يو راوي لري چي دا دي: صَدَقَة بْن الفَضْلِ، عَبْدَة، هِشَام، فَاطِمَة او أَسْمَاء رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا.

توپيرونه ئې دا دي: په يوه كي لا تُوكِي فَيُوكَى عَلَيْكِ په بل كي لاَ تُوعِى فَيُوعِىَ اللَّهُ عَلَيْكِ په بل كي أَنْفِقِى وَلاَ تُحْصِى فَيُحْصِىَ اللَّهُ عَلَيْكِ په يوه كي ارْضَخِى مَا اسْتَطَعْتِ په بل كي تَصَدَّقِ راغلي.

١٤ باب: صدقه د توان تر حد

وفى رواية: «لا تُوعِى فَيُوعِىَ اللَّهُ عَلَيْكِ، ارْضَخِى مَا اسْتَطَعْتِ». (بخارى:١٤٣٣)

اوپه بل روايت كي راغلي: مال دي مه غوټه كوه كه نه نو الله تعالى به ئې ستا په تاوان غوټه كړي، دومره څه انفاق كړه چي كولى ئې شې.

د روايت معنى دا ده چي رسول الله صلى الله عليه و سلم اسماء رضي الله عنها ته فرمايلي: مال دي په پندو كي مه ساته؛ يعني بخل مه كوه؛ له كنز ئې ډډه وكړه؛ كه نه نو الله تعالى به هم خپل نعمتونه له تا وسپموي؛ د خپل توان په اندازه صدقه وركوه.

١٥ باب: څوک چي له صدقې وركولو وروسته مسلمان شي

عَنْ حَكِيمِ بْنِ حِزَامٍ رضى الله عنه قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَرَأَيْتَ أَشْيَاءَ كُنْتُ أَتَحَنَّثُ بِهَا فِي الْجَاهِلِيَّةِ، مِنْ صَدَقَةٍ؛ او عَتَاقَةٍ، وَصِلَةِ رَحِمٍ، فَهَلْ فِيهَا مِنْ أَجْرٍ؟ فَقَالَ

النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم أَسْلَمْتَ عَلَى مَا سَلَفَ مِنْ خَيْرٍ. (بخاری: ١٤٣٦)
له حكيم بن حزام رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم ته مي وويل: يا رسول الله! څنګه ئې ګڼې هغه شيان چي ما د جاهليت په دوران کي د عبادت په توګه تر سره کړي؛ لکه کومه صدقه، د غلامانو آزادول؛ او صله رحمي؛ آيا په دوی کي به ما ته کوم اجر وي؟ رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: ته خو د همدغو ښېګڼو له کبله مسلمان شوې چي تر دې وړاندي دي کړې وې.

دا روايت په بخاري کي درې ځلي نور؛ په دغو شمېرو راغلی ٢٢٢٠، ٢٥٣٨، ٥٩٩٢؛ غريب دئ؛ په ٦ طبقو کي يو يو راوي لري چي دا دي: عَبْد اللَّهِ بْن مُحَمَّد، هِشَامٌ، مَعْمَرٌ، الزُّهْرِيّ، عُرْوَةَ او حَكِيمِ بْنِ حِزَام رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ له بخاري او مسلم پرته په بل هيڅ کتاب کي نه دئ راوړل شوی؛ خو له زهري وروسته ئې راويان توپير لري او دا دي: حَرْمَلَة بْن يَحْيَى، ابْن وَهْب او يُونُسُ.

توپيرونه ئې دا دي: په يوه کي أَرَأَيْتَ أَشْيَاءَ كُنْتُ أَتَحَنَّثُ بِهَا په بل کي أَرَأَيْتَ أُمُورًا كُنْتُ أَتَحَنَّثُ أَوْ أَتَحَنَّثُ بِهَا په بل کي أَرَأَيْتَ أَشْيَاءَ كُنْتُ أَصْنَعُهَا فِي الْجَاهِلِيَّةِ په يوه کي أَسْلَمْتَ عَلَى مَا سَلَفَ مِنْ خَيْرٍ په بل کي أَسْلَمْتَ عَلَى مَا سَلَفَ لَكَ مِنْ خَيْرٍ په يوه کي دا هم راغلي چي حكيم بن حزام په جاهليت کي سل غلامان آزاد کړي وو او سلو کسانو ته ئې د سورلۍ اوښان ورکړي وو؛ او کله چي ئې ايمان راوړ همداسي سل مريان ئې آزاد کړل او سل اوښان ئې د پلو د سورلۍ لپاره صدقه کړل.

لکه چي ګورئ دلته د أَتَحَنَّثُ او أَتَحَنَّثُ الفاظ راغلي؛ محققين اتحنث صحيح ګڼي؛ معنى ئې عبادت کول دي؛ يعني د عبادت په توګه مي دا د خير کارونه کول؛ په يوه بل روايت کي د دې دواړو الفاظو په ځای أتحبب راغلي چي معنى ئې دا ده: د خير له دغو کارونو سره د محبت له کبله مي کول.

د روايت مطلب دا دئ چي د کفر او شرك په حالت کي د حكيم بن حزام د خير او ښېګڼي کارونه د دې باعث شول چي الله تعالى هغه ته

د ایمان توفیق ورپه برخه کړي.

١٦ باب: د هغه خادم ثواب چې د خپل بادار په امر صدقه ورکړي

عَنْ أَبِي مُوسَى رضى الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم قَالَ: «الْخَازِنُ الْمُسْلِمُ الأَمِينُ الَّذِى يُنْفِذُ - وَرُبَّمَا قَالَ: يُعْطِى- مَا أُمِرَ بِهِ، كَامِلاً مُوَفَّرًا، طَيِّبًا بِهِ نَفْسُهُ فَيَدْفَعُهُ إِلَى الَّذِى أُمِرَ لَهُ بِهِ، أَحَدُ الْمُتَصَدِّقَيْنِ». (بخارى:١٤٣٨)

له ابو موسی رضي الله عنه روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: هغه مسلمان او امین ساتونکی چې (د خپل مالك حکم) نافذوي؛ یا ښایي وئې وفرمایل: هغه څه ورکوي چې پرې ګمارل شوی؛ پوره، بشپړ، په داسي حال کې چې په دې ورکړي سره ئې زړه خوښ وي؛ او همغه چا ته ئې ورکوي چې د هغه امر ورته شوی؛ نو دی یو له صدقه ورکوونکو دئ. یعني (د صدقه ورکوونکو په ضمن کې ګڼل کېږي او د هغوی په اندازه به ثواب او اجر تر لاسه کوي).

دا روایت په بخاري کې دوه ځلي نور هم په دغو شمېرو راغلی: ٢٢٦٠، ٢٣١٩؛ غریب دئ؛ په ٥ طبقو کې یو یو راوي لري چې دا دي: مُحَمَّد بْن العَلاَءِ، أَبُو أُسَامَةَ، بُرَيْدِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، أَبو بُرْدَةَ او أَبو مُوسَى رضي الله عنه، له نورو کتابونو یوازي صحیح مسلم کې په همدې توګه راغلی.

توپیرونه ئې دا دي: په یوه کې الْخَازِنُ الْمُسْلِمُ الأَمِينُ الَّذِى يُنْفِذُ په بل کې الْخَازِنُ الأَمِينُ الَّذِى يُؤَدِّى په بل کې الْخَازِنُ الأَمِينُ الَّذِى يُنْفِقُ په یوه کې كَامِلاً مُوَفَّرًا طَيِّبٌ بِهِ نَفْسُهُ په بل کې طَيِّبٌ نَفْسُهُ په بل کې طَيِّبَةً نَفْسُهُ په یوه کې فَيَدْفَعُهُ إِلَى الَّذِى أُمِرَ لَهُ بِهِ په بل کې إِلَى الَّذِى أُمِرَ بِهِ راغلي.

١٧ باب: د الله تعالى دا قول چې فرمايي: (فَأَمَّا مَنْ أَعْطَى وَاتَّقَى)

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضى الله عنه أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم قَالَ: «مَا مِنْ يَوْمٍ يُصْبِحُ الْعِبَادُ فِيهِ، إِلَّا مَلَكَانِ يَنْزِلانِ، فَيَقُولُ أَحَدُهُمَا: اللَّهُمَّ أَعْطِ مُنْفِقًا خَلَفًا، وَيَقُولُ الآخَرُ: اللَّهُمَّ أَعْطِ مُمْسِكًا تَلَفًا». (بخارى: ١٤٤٢)

له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چې نبي صلى الله عليه و سلم وفرمايل: هره ورځ چې پر خلكو سهار كېږي؛ دوې فرښتې راكوزېږي چې يوه ئې وايي: خدايه! خيرات وركوونكي ته عوض وركړې او بله وايي: خدايه! بخيل ته د مال تلف كېدا ورپه برخه كړې.

دا روايت په بخاري كې يو ځل راغلى؛ غريب دئ؛ په ٦ طبقو كې يو يو راوي لري چې دا دي: إِسْمَاعِيل، ورور ئې، سُلَيْمَانَ، مُعَاوِيَة بْنِ أَبِي مُزَرِّد، أَبو الحُبَابِ او أَبو هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ په صحيح مسلم كې هم له همدې سند او متن سره راغلى.

د باب او روايت تر منځ مناسبت جوت او څرگند نه دئ؛ په روايت كې د دې آيت معنى او تفسير نه ليدل كېږي؛ كه څوك عنوان ته په پام سره او په دې هيلي دا ځاى پرانيزي چې د آيت په تفسير او شرح ځان پوه كړي؛ دا هيله ئې نه ترسره كېږي. په مسلم كې تر دې باب لاندي راوړل شوى: بَابٌ فِي الْمُنْفِقِ وَالْمُمْسِكِ؛ چې تر بخاري زيات مناسب او واضح دئ. آيت په اصل كې د يوه بشپړ كلام يوه برخه ده او له دوو وروستنيو آيتونو سره په گډه يو مطلب افاده كوي؛ آيات داسي دي:

فَأَمَّا مَنْ أَعْطَىٰ وَٱتَّقَىٰ ﴿٥﴾ وَصَدَّقَ بِٱلْحُسْنَىٰ ﴿٦﴾ فَسَنُيَسِّرُهُۥ لِلْيُسْرَىٰ ﴿٧﴾

نو هغه چې وركړه (انفاق) او تقوى ئې وكړه؛ او حسنى (غوره او ښايسته) ئې تصديق كړه (رښتيا ئې وگڼله)؛ نو ژر به ئې آساني ته آسان كړو.

يعني هغه چې د خپل همنوع د لاس نيوي لپاره خپل مال وقف كوي، له بخل او حرص ځان ساتي، د بل په حق تېرى نه كوي، له هغه

څه ډډه کوي چې ده يا د ده همنوع ته تاوان رسوي. (حسنى) تأييدوي، چې څو تعبيرونه ئې شوي: د عمل په ښې بدلې باور لري، په ښايسته جنت باور لري، موحد دئ ښه عقيده لري؛ او تر ټولو غوره تعبير ئې دا چې: ښايست پېژني او اعتراف پرې کوي، د ښه او بد، ښايسته او ناښايسته تر منځ د تفکيک توان لري، له ټولو سره ورته چلن نه کوي، د انسان تر ټولو غوره او ښکلى عمل له هغه بېلولى شي چې تر ټولو بد او کرکجن دئ، ټول يو شانته او برابر نه ګڼي؛ د دې انسان عمل د ورځې په څېر ښکلى او ښايسته دئ، الله تعالى به ئې هغې آساني لارې ته هدايت کړي چې د ده د روغ او سالم فطرت مقتضى ده او په دې لار تګ به ورته آسان کړي.

قرآن له يوې خوا د ايمان لار (سهل) او آسانه ګڼي او له بلې خوا ئې ګرانه، سخته او (عقبه)؛ دا ځکه چې ځينو ته آسانه وي او ځينو ته ګرانه او سخته برېښي. دا لار ستا لپاره (فطري) لار ده، په هغې کې به د زړه ډاډ او د روح تسکين تر لاسه کړې، وجدان به دې راضي او عقل به دې قانع وي، که څه هم په دې لار کې لوړې ژورې او کږلېچونه شته، له ډول ډول ابتلاءاتو سره توأم ده، د شر او فساد له ځواکونو سره ټکرونه په کې دي، له ګواښونو سره مخامخېدل، زندان ته تګ، قرباني ورکول، هجرتونه، شهادتونه، محاصرې او محروميتونه له ځان سره لري؛ نو هم آسانه ده او هم ګرانه.

که په روايت کې د آيت د شرحې او تفسير په ارتباط همداسې څه راغلي وى نو باب او روايت به سره همغږي وو.

۱۸ باب: د سخي او بخيل مثال

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضى الله عنه قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَثَلُ الْبَخِيلِ وَالْمُتَصَدِّقِ كَمَثَلِ رَجُلَيْنِ، عَلَيْهِمَا جُبَّتَانِ مِنْ حَدِيدٍ، مِنْ ثُدِيِّهِمَا إِلَى تَرَاقِيهِمَا، فَأَمَّا الْمُنْفِقُ: فَلا يُنْفِقُ إِلَّا سَبَغَتْ؛ او وَفَرَتْ عَلَى جِلْدِهِ، حَتَّى تُخْفِيَ بَنَانَهُ، وَتَعْفُوَ أَثَرَهُ. وَأَمَّا

الْبَخِيلُ: فَلا يُرِيدُ أَنْ يُنْفِقَ شَيْئًا، إِلَّا لَزِقَتْ كُلُّ حَلْقَةٍ مَكَانَهَا، فَهُوَ يُوَسِّعُهَا وَلا تَتَّسِعُ. (بخاری:١٤٤٤)

له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي له رسول الله صلى الله عليه و سلم ئې اورېدلي چي فرمايل ئې: د بخيل او سخي مثال د هغو دوو کسانو مثال ته ورته دئ چي له سينې تر ستوني پوري ئې د اوسپني زغري (يا پوستين او چپني) پرې پرتې وي، صدقه ورکوونکی چي هره صدقه ورکوي هغه (زغره) پراخېږي، يا ئې پر پوستکي خورېږي تر هغه چي ګوتې ئې وپوښي او پلونه ئې محو او رنګ کړي؛ خو بخيل؛ نه غواړي څه شی انفاق کړي مګر دا چي هره کړۍ پر خپل خپل ځای مضبوطېږي او هغه ئې د پراخولو هڅه کوي خو نه پراخېږي.

دا روايت په بخاري کې څلور ځلي نور؛ په دغو شمېرو راغلی: ١٤٤٤، ٢٩١٧، ٥٢٩٩، ٥٧٩٧؛ غريب دئ؛ په ٢ لومړنيو طبقو کې يو يو راوي لري چي طَاوُس او أَبو هُرَيْرَة دي؛ په نورو طبقو کې ئې راويان بېل بېل دي.

توپيرونه ئې دا دي: په يوه کې عَلَيْهِمَا جُبَّتَانِ مِنْ حَدِيدٍ په بل کې جُنَّتَانِ (محققانو دا غوره کړی) په يوه کې مِنْ ثُدِيِّهِمَا إِلَى تَرَاقِيهِمَا په بل کې قَدِ اضْطَرَّتْ أَيْدِيَهُمَا إِلَى تَرَاقِيهِمَا په بل کې مِنْ لَدُنْ ثَدْيَيْهِمَا إِلَى تَرَاقِيهِمَا په يوه کې فَأَمَّا الْمُنْفِقُ فَلاَ يُنْفِقُ إِلَّا سَبَغَتْ - أَوْ وَفَرَتْ - عَلَى جِلْدِهِ په بل کې فَكُلَّمَا هَمَّ الْمُتَصَدِّقُ بِصَدَقَتِهِ اتَّسَعَتْ عَلَيْهِ حَتَّى تُعَفِّيَ أَثَرَهُ (تر هغه چي اثر ئې محو شي)؛ په بل کې فَأَمَّا الْمُنْفِقُ فَلاَ يُنْفِقُ شَيْئًا إِلَّا مَادَّتْ عَلَى جِلْدِهِ (پر پوستکي ئې خوره شي)؛ حَتَّى تُجِنَّ بَنَانَهُ وَتَعْفُوَ أَثَرَهُ په بل کې فَجَعَلَ الْمُتَصَدِّقُ كُلَّمَا تَصَدَّقَ بِصَدَقَةٍ انْبَسَطَتْ عَنْهُ حَتَّى تَغْشَى أَنَامِلَهُ وَتَعْفُوَ أَثَرَهُ په يوه کې وَأَمَّا الْبَخِيلُ فَلاَ يُرِيدُ أَنْ يُنْفِقَ شَيْئًا إِلَّا لَزِقَتْ كُلُّ حَلْقَةٍ مَكَانَهَا په بل کې وَكُلَّمَا هَمَّ الْبَخِيلُ بِالصَّدَقَةِ انْقَبَضَتْ كُلُّ حَلْقَةٍ إِلَى صَاحِبَتِهَا وَتَقَلَّصَتْ عَلَيْهِ په يوه کې فَيَجْتَهِدُ أَنْ يُوَسِّعَهَا فَلاَ تَتَّسِعُ په بل کې فَهُوَ يُوسِعُهَا فَلاَ تَتَّسِعُ راغلي. له دې معلومېږي چي دا روايات؛ هر راوي په خپلو الفاظو انتقال کړي؛ هر يوه له مخکيني څه اورېدلي؛ مطلب ئې

تر لاسه کړی او هغه ئې په خپلو الفاظو بل ته بیان کړی.

د دې روایت ښه تعبیر دا دئ: کله چې یو سخاوتمن انسان کوم څه انفاقوي په دې انفاق سره د نفس او شیطان هغه وسوسې په څېړه وهي چې دی بخل او حرص ته هڅوي او د انفاق له پایلو ئې وېروي؛ د دې کار تکرار د دې باعث شي چې د شیطاني او نفساني وسوسو اغېز په بشپړه توګه محو شي؛ او بخیل انسان چې هر ځل دغو وسوسو ته تسلیمېږي په همدې سره د خپل نفس او شیطان د وسوسو په وړاندي د ده مقاومت کمزوری کېږي او کار ئې هغه پراو ته رسېږي چې نور نو د دغو وسوسو له منګولو ځان نه شي ژغورلی. سخاوتمن انسان بیا داسي عیار شوی وي چې تل انفاق ته په پراخ زړه چمتو وي.

۱۹ باب: پر هر مسلمان صدقه لازمه ده، څوک چې څه ونه لري د خیر کارونه دي کوي

عَنْ أَبِي مُوسَى رضی الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم قَالَ: «عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ صَدَقَةٌ». فَقَالُوا: يَا نَبِيَّ اللَّهِ، فَمَنْ لَمْ يَجِدْ؟ قَالَ: «يَعْمَلُ بِيَدِهِ فَيَنْفَعُ نَفْسَهُ وَيَتَصَدَّقُ». قَالُوا: فَإِنْ لَمْ يَجِدْ؟ قَالَ:«يُعِينُ ذَا الْحَاجَةِ الْمَلْهُوفَ».قَالُوا: فَإِنْ لَمْ يَجِدْ؟ قَالَ: «فَلْيَعْمَلْ بِالْمَعْرُوفِ، وَلْيُمْسِكْ عَنِ الشَّرِّ، فَإِنَّهَا لَهُ صَدَقَةٌ». (بخاری:۱٤٤٥)

له ابو موسی رضي الله عنه روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: (پر هر مسلمان صدقه لازمه ده)، (حاضرینو) وویل: اې د الله نبي! که څوک څه ونه لري؟ وئې فرمایل: (په خپل لاس دي کار کوي، ځانته دي ګټه رسوي او (بل ته دي) صدقه ورکوي)، هغوی وویل: که دا هم ونه مومي؟ وئې فرمایل: (له مظلوم او مضطر سره دي مرسته کوي)، هغوی وویل: که دا هم ونه مومي؟ وئې فرمایل: (په معروف دي عمل کوي؛ او له شر او بدو دي ځان ساتي او همدا ئې صدقه ده).

دا روايت په بخاري کې يو ځل بيا په دغي شمېرې راغلی: ٦٠٢٢؛ غريب دئ؛ په ۵ طبقو کې يو يو راوي لري چې دا دي: آدَم، شُعْبَة، سَعِيد بْن أَبِي بُرْدَة، پلار ئې ابو برده او نيکه ئې أَبو مُوسَى أَشْعَرِي رضي الله عنه.

توپيرونه ئې دا دي: په يوه کې فَقَالُوا يَا نَبِيَّ اللَّهِ فَمَنْ لَمْ يَجِدْ په بل کې قَالُوا فَإِنْ لَمْ يَجِدْ په يوه کې يَعْمَلُ بِيَدِهِ په بل کې فَيَعْمَلُ بِيَدَيْهِ په يوه کې فَإِنْ لَمْ يَجِدْ په بل کې فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ أَوْ لَمْ يَفْعَلْ په يوه کې يُعِينُ په بل کې فَيُعِينُ په يوه کې قَالُوا فَإِنْ لَمْ يَجِدْ په بل کې قَالُوا فَإِنْ لَمْ يَفْعَلْ په يوه کې فَلْيَعْمَلْ بِالْمَعْرُوفِ، وَلْيُمْسِكْ عَنِ الشَّرِّ په بل کې « فَيَأْمُرُ بِالْخَيْرِ » أَوْ قَالَ « بِالْمَعْرُوفِ » قَالَ فَإِنْ لَمْ يَفْعَلْ قَالَ « فَيُمْسِكُ عَنِ الشَّرِّ» راغلي.

په مخکيني روايت کې د صدقې څو صورتونه ښودل شوي:

- دا چې څوك غني وي او صدقه ورکوي.
- دا چې څوك غني نه وي، څه په لاس کې نه لري، کار وکړي، څه وګټي، هم خپل مالي مشکلات حل کړي او هم بل ته صدقه ورکړي.
- دا چې د خپل ورځني کار له لاري دومره څه نه شي تر لاسه کولی چې له بل سره هم مرسته وکړي نو هغه دي له بې وزلي او محتاج انسان سره د کوم کار له لاري يا هغه ته د کار پيدا کولو له لاري د هغه مرسته وکړي.
- دا چې په کومي نېکي مشورې او لارښووني سره د يوه محتاج او اړ انسان مرسته وکړي.
- که دا يو هم نه شي کولی نو له شر او بدو دي ځان ساتي، بل ته دي د تاوان له رسولو ډډه کوي؛ دا هم صدقه ګڼل کېږي.

۲۰ باب: د زكات او صدقې اندازه

عَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ رضى الله عنها قَالَتْ: بُعِثَ إِلَى نُسَيْبَةَ الأَنْصَارِيَّةِ بِشَاةٍ، فَأَرْسَلَتْ إِلَى

عَائِشَةَ رضى الله عنها مِنْهَا، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم «عِنْدَكُمْ شَيْءٌ»؟ فَقُلْتُ: لا، إِلَّا مَا أَرْسَلَتْ بِهِ نُسَيْبَةُ مِنْ تِلْكَ الشَّاةِ، فَقَالَ: «هَاتِ فَقَدْ بَلَغَتْ مَحِلَّهَا». (بخاری: ۱٤٤٦)

له ام عطیه رضي الله عنها روایت دئ چي وایي: نُسَیبَه انصاریه رضي الله عنها ته یو پسه ور واستول شو، هغې د پسه څه برخه عائشې رضي الله عنها ته ور ولېږله، (عائشه رضي الله عنها وایي) بیا رسول الله صلی الله علیه و سلم راته وفرمایل: (آیا د خوړو لپاره څه درسره شته؟) ما ورته وویل: نه؛ یوازي هغه څه چي نُسَیبې له هغه پسه رالېږلې؛ نو وئې فرمایل: (رائې وړه؛ یقیناً چي هغه خپل مناسب ځای ته رسېدلې).

دا روایت په بخاري کي دوه ځلي نور په دغو شمېرو راغلی: ۱٤۹٤، ۲۵۷۹؛ په یوه کي دا فِقره راغلې بُعِثَ إِلَى نُسَيْبَةَ الأَنْصَارِيَّةِ بِشَاةٍ فَأَرْسَلَتْ إِلَى عَائِشَةَ رضى الله عنها مِنْهَا او په نورو کي نه شته، په یوه کي عِنْدَكُمْ شَيْءٌ په بل کي هَلْ عِنْدَكُمْ شَيْءٌ په یوه کي فَقُلْتُ لاَ إِلَّا مَا أَرْسَلَتْ بِهِ نُسَيْبَةُ مِنْ تِلْكَ الشَّاةِ په بل کي إِلَّا شَيْءٌ بَعَثَتْ بِهِ إِلَيْنَا نُسَيْبَةُ مِنَ الشَّاةِ الَّتِى بَعَثْتَ بِهَا مِنَ الصَّدَقَةِ په بل کي إِلَّا شَيْءٌ بَعَثَتْ بِهِ أُمُّ عَطِيَّةَ مِنَ الشَّاةِ الَّتِى بُعِثَ إِلَيْهَا مِنَ الصَّدَقَةِ په یوه کي هَاتِ فَقَدْ بَلَغَتْ مَحِلَّهَا په بل کي إِنَّهَا قَدْ بَلَغَتْ مَحِلَّهَا راغلي.

د روایت مطلب دا دئ چي د نُسَيْبَةَ الأَنْصَارِيَّةِ (أم عمارة رضي الله عنها چي له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره ئې په غزواتو کي برخه اخیستې وه او د احد په جنګ کي ئې له رسول الله صلی الله علیه و سلم کلکه دفاع کړې وه)؛ هغې ته یو پسه د صدقې په توګه لېږل شوی وو، یو روایت وایي چي دا پسه رسول الله صلی الله علیه و سلم په خپله ورلېږلی وو؛ خو بل روایت کي د لېږونکي په اړه وضاحت نه کوي؛ هغې پسه ذبح کړی او څه غوښه ئې عائشې رضي الله عنها ته لېږلې؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم د عائشې رضي الله عنها کور ته راغلی، پوښتنه ئې کړې چي آیا د خوړو لپاره څه درسره شته؟ هغې ورته ویلي: نه؛

یوازي هغه څه شته چي نُسَیبې رضي الله عنها له هغه پسه رالېږلې؛ له دې پرته نور څه د هغې په کور کې نه وو؛ غوښتل ئې پوه شي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم به د دې صدقې په اړه څه لارښوونه ورته کوي؛ ځکه رسول الله صلی الله علیه و سلم صدقه نه قبلوله، د خپلې کورنۍ غړي ئې هم د صدقې له اخیستلو منع کړي وو؛ خو رسول الله صلی الله علیه و سلم هغې ته دا ځواب ورکړ: رائې وړه؛ یقیناً چې هغه خپل مناسب ځای ته رسېدلې ده؛ یعني دا د نُسَیبې لپاره صدقه محسوبېږي او د نُسَیبې له لوري چې عائشې رضي الله عنها ته څه ورکړی شوي هغه هدیه ګڼل کېږي؛ هدیه هغه تحفه ده چې شریعت ئې د بدلې ورکولو سپارښتنه کړې؛ تر هدیې غوره یا لږ تر لږ د هغې په څېر بدله؛ خو صدقه هغه څه ده چې د غني له لوري مسکین ته له معاوضې او بدلې پرته ورکول کېږي. قرآن په دې اړه فرمایي:

وَإِذَا حُيِّيتُمْ بِتَحِيَّةٍ فَحَيُّوا بِأَحْسَنَ مِنْهَا أَوْ رُدُّوهَا إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ حَسِيبًا ﴿٨٦﴾ النساء

او که کله په کوم ښه تحیه او سلام پر تاسو سلام وویل شو نو یا تر دې غوره سلام ووایئ او یا همغه وروګرځوئ؛ بې شکه چې الله په هر څه ښه حساب کوونکی دئ.

د تحیې معنی یو بل ته د ژوندی اوسې ویل دي؛ نو د آیت معنی دا ده چې د سلام، ښه راغلاست او ژوندی دي وې؛ ځواب به یا تر دې په غوره کلماتو ورکوئ او یا به همدغه کلمات په ځواب کې وایئ؛ په دې پوه شئ چې الله تعالی حسیب دئ له بنده سره په هر څه کې حساب کوي.

هدیه او تحفه په همدې قیاس کېږي؛ یعني که چا کومه تحفه او ډالۍ درکړه؛ مادي یا معنوي تحفه؛ نو یا به تر هغې غوره تحفه ورکوې او یا لږ تر لږه د هغې په څېر؛ خو پام چې رشوت ته د تحفې نوم او رنګ ورنه کړئ؛ یا د شکرانې او له مدرسې سره د بسپنې په پلمه له چا

په زور او اصرار څه وانه خلې؛ دولتي مأمورينو او چارواکو ته د تحفو اخيستل منع دي؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم يو کس د زکات راغونډولو لپاره لېږلی وو؛ کله چې راستون شو نو وئې ويل: دا برخه زکات ده او دا هغه تحفې دي چې ما ته راکړل شوې؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم د دې خبرې په اورېدو سره غصه شو؛ او وئې فرمايل: په خپل کور کې به ناست وې چې ليدلې دي وئ خلك تحفې درکوي که نه؛ بيا ئې د منبر پر سر همدا خبره وکړه او وئې فرمايل؛ مور څوك د زکات راغونډولو لپاره لېږو؛ خو هغه راشي او وايي: دا زکات دئ او دا ما ته راکړل شوې تحفې!! هغه دي د خپل پلار په کور کې کښېني او ودي گوري چې څوك تحفې ورکوي؟

د دې باب عنوان داسي دئ: باب: د زکات او صدقې اندازه؛ له عنوان داسي معلومېږي چې له مال به څومره زکات ورکول کېږي؟ خو په روايت کې د صدقې او زکات د مقدار په اړه هيڅ څه نه مومو؛ د روايت هدف دا دئ چې کېدی شي صدقه يوه ته د صدقې حکم ولري او که همدغه صدقه اخيستونکی؛ له دغې صدقې بل چا ته څه د هديې په توګه ورکړي نو هغه ته به هديه ګڼل کېږي؛ که دغه پسه رسول الله صلى الله عليه و سلم؛ يا ئې کورنۍ ته لېږل شوی وو نو هغوی ځکه نه اخيستلو چې دوی ته د ځان لپاره زکات اخيستل جائز نه دي؛ اما که له همدې صدقې کوم څه د تحفې او هديې په توګه ورکړی شي؛ ورته جائزه ده؛ خو هديه بدله ايجاوي.

د ترجمة الباب او روايت تر منځ د تړاو او مناسبت په ارتباط هر محقق غور کړی؛ تاسو چې د بخاري شروح ولولئ نو وبه ګورئ چې هر شارح دا موضوع څېړلې؛ چا توجيه کړې او چا اعتراض کړی؛ عمدة القاري د بخاري له هر څه د دفاع کولو لار غوره کړې؛ د هر عنوان او باب په اړه ئې هڅه کړې يوه توجيه؛ که څه هم په ډېر تکلف سره وي؛ ورته وړاندي کړي؛ ابن حزم بيا هم د بخاري متعارض روايات، ضعيف راويان او د باب او روايت تر منځ عدم مناسبتونه په ګوته کړي. د بابونو په

انتخاب او تنظيم كي هم مسلم تر بخاري وړاندي دئ او هم ترمذي؛ مسلم دغه روايت تر دې باب لاندي تنظيم كړى: باب إِبَاحَةِ الْهَدِيَّةِ لِلنَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم. دا عنوان له روايت سره دقيق مناسبت لري او يقيناً چې د بخاري تر ترجمة الباب ډېر غوره او دقيق دئ.

۲۱ باب: په زكات كي د مال اخيستل

عَنْ أَنَسٍ رضى الله عنه: أَنَّ أَبَا بَكْرٍ رضى الله عنه كَتَبَ لَهُ الَّتِي أَمَرَ اللَّهُ رَسُولَهُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم «وَمَنْ بَلَغَتْ صَدَقَتُهُ بِنْتَ مَخَاضٍ وَلَيْسَتْ عِنْدَهُ، وَعِنْدَهُ بِنْتُ لَبُونٍ، فَإِنَّهَا تُقْبَلُ مِنْهُ، وَيُعْطِيهِ الْمُصَدِّقُ عِشْرِينَ دِرْهَمًا أَوْ شَاتَيْنِ، فَإِنْ لَمْ يَكُنْ عِنْدَهُ بِنْتُ مَخَاضٍ عَلَى وَجْهِهَا، وَعِنْدَهُ ابْنُ لَبُونٍ، فَإِنَّهُ يُقْبَلُ مِنْهُ، وَلَيْسَ مَعَهُ شَيْءٌ». (بخارى: ۱۴۴۸)

له انس رضي الله عنه روايت دئ چې ابو بكر رضي الله عنه؛ ده ته؛ هغه څه وليكل چې الله تعالى؛ خپل رسول صلى الله عليه و سلم ته امر كړى وو: (د چا د اوښانو زكات چې بنت مخاض (يوه كلنه جونګې) ته ورسېږي خو بنت مخاض ونه لري، بلكي بنت لبون (دوه كلنه جونګې) ورسره وي نو همغه بنت لبون دي د بنت مخاض په ځاى تر ې قبوله شي او صدقه اخيستونكى دي شل درهمه يا دوه پسونه وركړي. او كه بنت مخاض ئې نه درلوده او ابن لبون (دوه كلن جونګى) ورسره وو؛ نو همغه ابن لبون دي تر ې قبول شي او نور څه ورته نه شته).

دا روايت په بخاري كي نه (۹) ځلي نور په دغو شمېرو راغلى: ۱۴۵۰، ۱۴۵۱، ۱۴۵۳، ۱۴۵۴، ۱۴۵۵، ۲۴۸۷، ۳۱۰۶، ۵۸۷۸، ۶۹۵۵؛ غريب دئ؛ په ۴ طبقو كي يو يو راوي لري چې دا دي: مُحَمَّد بْن عَبْدِ اللَّهِ، پلار ئې عبدالله، ثُمَامَة او أَنَس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ توپيرونه ئې دا دي: په يوه كي كَتَبَ لَهُ الَّتِى أَمَرَ اللَّهُ رَسُولَهُ په بل كي كَتَبَ لَهُ الَّتِى فَرَضَ رَسُولُ اللَّهِ په بل كي كَتَبَ لَهُ فَرِيضَةَ الصَّدَقَةِ الَّتِى أَمَرَ اللَّهُ رَسُولَهُ په بل كي كَتَبَ لَهُ هَذَا الْكِتَابَ: هَذِهِ فَرِيضَةُ الصَّدَقَةِ الَّتِى فَرَضَ رَسُولُ اللَّهِ په بل كي هَذِهِ فَرِيضَةُ

الصَّدَقَةِ الَّتِی فَرَضَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّی اللَّهُ عَلَیهِ وَسَلَّم عَلَی الْمُسْلِمِینَ، وَالَّتِی أَمَرَ اللَّهُ بِهَا رَسُولَهُ (دلته جدي تعارض مومو؛ يو ئې وايي چې رسول الله فرض کړي او بل ئې وايي: الله تعالی فرض کړي؛ الله تعالی خپل پیغمبر پرې ګمارلی؛ کوم یو ئې صحیح دئ؟ له شك پرته دا دوهم صحیح دئ؛ ځکه د فرض حکم د الله تعالی له لوري وي، الله تعالی په حکم کې هیڅوك له ځان سره نه شریکوي؛ او ابلاغ ئې د پیغمبر له لوري) په یوه کې وَلاَ یُجْمَعُ بَیْنَ مُتَفَرِّقٍ، وَلاَ یُفَرَّقُ بَیْنَ مُجْتَمِعٍ، خَشْیَةَ الصَّدَقَةِ (یعني نه به د څو کسانو متفرق څاروي د زکات د مقدار راکمولو په موخه یو ځای کېږي؛ داسي چې درې تنه چې هر یو څلوېښت پسونه لري، په هر یوه د زکات یو پسه لازمېږي؛ خو که دوی خپل پسونه سره یو ځای کړي نو ټول به په ګډه یو پسه ورکوي) او همدا راز یو ځای شوي څاروي به د زکات راکمولو په موخه نه وېشل کېږي؛ داسي چې دوه شریکان په ګډه څلوېښت پسونه لري؛ چې یو پسه به په زکات کې ورکوي؛ که دوی ئې سره بېل کړي؛ او هر یوه ته شل شل ورسېږي نو دواړو به ځان له زکات ورکولو ژغورلی وي)؛ په بل کې وَمَا کَانَ مِنْ خَلِیطَیْنِ فَإِنَّهُمَا یَتَرَاجَعَانِ بَیْنَهُمَا بِالسَّوِیَّةِ (که څاروي په ګډه د دوو کسانو وي؛ د هر یوه د زکات برخه به د هغه د څارویو په تناسب وي).

دلته ویل شوي چې که د چا د اوښانو شمېر دومره وي چې باید یوه کلنه جونګۍ په زکات کې ورکړي خو له هغه سره یوه کلنه جونګۍ نه وي؛ نو کولی شي دوه کلنه جونګۍ ورکړي خو صدقه اخیستونکی به دوه پسونه او یا د هغوی قیمت چې هغه مهال شل درهمه وو؛ د مال خاوند ته ورکوي، دې ته مو پام وي چې دلته شل درهم یا دوه پسونه د اوښانو او پسونو د هغه مهال ارزښت ته په پام سره ټاکل شوي.

اوسنیو شرائطو ته په پام سره ویلی شو چې که د څارویو متوسط قیمت معلوم شي او بیا ئې زکات د مجموعي قیمت له مخي وټاکل شي او ۲،۵ سلنه ئې زکات ورکړی شي؛ هغه ستونزه به حل شي چې په اوسنیو شرائطو کې یو حکومت د څارویو په راغونډولو او ساتلو کې ورسره مخامخ

کېږي. فقهاء بايد په دې اړه غور وکړي او مناسبه فتوی ورکړي.

۲۲ باب: متفرق دي نه يو ځای کېږي او ګډ دي نه بېلېږي

عَنْ أَنَسٍ رضی الله عنه: أَنَّ أَبَا بَكْرٍ رضی الله عنه كَتَبَ لَهُ الَّتِي فَرَضَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم «وَلا يُجْمَعُ بَيْنَ مُتَفَرِّقٍ، وَلا يُفَرَّقُ بَيْنَ مُجْتَمِعٍ، خَشْيَةَ الصَّدَقَةِ». (بخاری:۱۴۵۰)

له انس رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: ابو بكر رضي الله عنه هغه څه ورته وليكل چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرض كړي وو: (د زكات له وېرې دي نه متفرق مالونه سره يو ځای كېږي او نه دي ګډ مالونه سره بېل كېږي).

دا روايت چي د مخكيني روايت يوه برخه ده؛ وايي: هيڅوك دي داسي نه كوي چي بېل بېل څاروي په دې موخه سره يو ځای كړي يا ګډ څاروي سره بېل بېل كړي چي زكات ئې راكم كړي؛ لكه دا چي درې كسان څلوېښت څلوېښت پسونه لري، كه دوی خپل پسونه سره يو ځای كړي نو يو سل شل پسونه ترې جوړېږي چي زكات به ئې يوازي يو پسه وي، خو كه بېل بېل وي نو هر يو به يو پسه وركوي؛ يا دا چي دوه كسان سره شريك وي، هر يو ئې يو سل يو (۱۰۱) پسونه لري؛ په دغو دوه سوه دوو پسونو كې درې پسونه زكات لازمېږي؛ خو كه دوی خپل څاروي سره بېل كړي نو پر هر يوه ئې يوازي يو پسه زكات راځي.

دې پوښتني ته هم معقول ځواب په كار دئ چي ولي به د ٤٠ پسونو زكات هم يو پسه وي او د ۱۲۰هم؟ په داسي حال كې چي؛ كه د پسونو د ارزښت له مخي د زكات اندازه وټاكل شي؛ نو د ٤٠ درهم زكات يو درهم دئ او د ۱۲۰ درهم؛ ۳ درهم؟

۲۳ باب: كه د دوو كسانو مالونه سره ګډ وو نو زكات به ئې په

متناسبه توګه د دوی تر منځ وېشل کېږي

وَ فِي رِوَايَةٍ: أَنَّ أَبَا بَكْرٍ رضى الله عنه كَتَبَ لَهُ الَّتِي فَرَضَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم «وَمَا كَانَ مِنْ خَلِيطَيْنِ فَإِنَّهُمَا يَتَرَاجَعَانِ بَيْنَهُمَا بِالسَّوِيَّةِ». (بخارى: ١٤٥١)

او په بل روايت کي راغلي: ابو بکر رضي الله عنه هغه څه ورته وليکل چي رسول الله صلى الله عليه و سلم لازم ګرځولي وو: (که دوه کسان په کوم مال کي سره شريك وي؛ نو زکات به ئې په برابره توګه د دوی تر منځ وېشل کېږي)، هر يو به د ټول زکات نيمايي ورکوي.

٢٤ باب: د اوښانو زكات

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رضى الله عنه: أَنَّ أَعْرَابِيًّا سَأَلَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم عَنِ الْهِجْرَةِ، فَقَالَ: «وَيْحَكَ، إِنَّ شَأْنَهَا شَدِيدٌ، فَهَلْ لَكَ مِنْ إِبِلٍ تُؤَدِّى صَدَقَتَهَا»؟ قَالَ: نَعَمْ. قَالَ: فَاعْمَلْ مِنْ وَرَاءِ الْبِحَارِ فَإِنَّ اللَّهَ لَنْ يَتِرَكَ مِنْ عَمَلِكَ شَيْئًا». (بخارى:١٤٥٢)

له ابو سعيد الخدري رضي الله عنه روايت دئ چي يوه کوچي له رسول الله صلى الله عليه و سلم د هجرت په اړه وپوښتل؛ وئې فرمايل: (افسوس دئ څه درباندي شوي! هجرت سخت دئ؛ آيا داسي اوښان لرې چي زکات ئې ورکړې؟) وئې ويل: هو؛ وئې فرمايل: (ځه او له سمندرونو آخوا (له کلي او خلکو ډېر لري) کار کوه؛ الله تعالى به هيڅ کله ستا د عمل کوم څه ضائع نه کړي).

دا روايت په بخاري کي درې ځلي نور په دغو شمېرو راغلى: ٢٦٣٣، ٣٩٢٣، ٦١٦٥؛ توپيرونه ئې دا دي: په يوه کي أَنَّ أَعْرَابِيًّا سَأَلَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم عَنِ الْهِجْرَةِ په بل کي جَاءَ أَعْرَابِيٌّ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم فَسَأَلَهُ عَنِ الْهِجْرَةِ په بل کي أَنَّ أَعْرَابِيًّا قَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَخْبِرْنِي عَنِ الْهِجْرَةِ په يوه کي فَهَلْ لَكَ مِنْ إِبِلٍ تُؤَدِّى صَدَقَتَهَا په بل کي فَهَلْ لَكَ

مِنْ إِبِلٍ؛ قَالَ نَعَمْ. قَالَ «فَتُعْطِى صَدَقَتَهَا» په بل کې فَهَلْ لَكَ مِنْ إِبِلٍ». قَالَ نَعَمْ. قَالَ « فَتُعْطِى صَدَقَتَهَا». قَالَ نَعَمْ. قَالَ «فَهَلْ تَمْنَحُ مِنْهَا: څه تړې هديه کوې». قَالَ نَعَمْ. قَالَ «فَتَحْلُبُهَا يَوْمَ وُرُودِهَا؟». قَالَ نَعَمْ، په بل کې فَتَحْلُبُهَا يَوْمَ وِرْدِهَا؟ راغلي.

د دې روايت په اړه بايد څو خبرې په پام کې ولرو:

- د روايت له فحوى معلومېږي چې دا کوچی د مکې اړوند سيمې استوګن وو، غوښتل ئې مدينې ته هجرت وکړي، رسول الله صلى الله عليه و سلم د هجرت کړاوونو ته اشاره کړې او هغه ته ئې ويلي: که خپل ديني وجائب تر سره کړې، د خپل مال زکات ورکړې او هغه حقوق اداء کړې چې الله تعالى ستا په مال کې درته ټاکلي؛ نو که له مدينې ډېر لرې او له سمندرونو آخوا هم استوګن وې؛ الله تعالى به ستا هيڅ نېک عمل ضائع نه کړي.
- د محدثينو تر منځ په دې اړه اختلاف دئ چې دا کوچی کله رسول الله صلى الله عليه و سلم ته راغلى؛ د مکې له فتحې وروسته که لږ وړاندې؟ دې ته په پام سره چې د مکې له فتحې وروسته د هجرت هغه فرضيت پای ته رسېدلى چې د مکې استوګن پرې مکلف ول؛ او رسول الله صلى الله عليه و سلم هغه ته دا نه دي ويلي چې اوس نو د هجرت هغه مخکينى فرضيت پای ته رسېدلى؛ نو په يقين سره ويلى شو چې دا کوچی د مکې تر فتحې وړاندې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ورغلى او دا پوښتنه ئې کړې وه.

۲۵ باب: د چا زکات چې بنت مخاض وي خو له هغه سره بنت مخاض نه وي

عَنْ أَنَسٍ رضى الله عنه: أَنَّ أَبَا بَكْرٍ رضى الله عنه كَتَبَ لَهُ فَرِيضَةَ الصَّدَقَةِ الَّتِي أَمَرَ اللَّهُ رَسُولَهُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم «مَنْ بَلَغَتْ عِنْدَهُ مِنَ الإِبِلِ صَدَقَةُ الْجَذَعَةِ وَلَيْسَتْ عِنْدَهُ جَذَعَةٌ، وَعِنْدَهُ حِقَّةٌ فَإِنَّهَا تُقْبَلُ مِنْهُ الْحِقَّةُ، وَيَجْعَلُ

مَعَهَا شَاتَيْنِ، إِنِ اسْتَيْسَرَتَا لَهُ أَوْ عِشْرِينَ دِرْهَمًا، وَمَنْ بَلَغَتْ عِنْدَهُ صَدَقَةُ الْحِقَّةِ، وَلَيْسَتْ عِنْدَهُ الْحِقَّةُ وَعِنْدَهُ الْجَذَعَةُ، فَإِنَّهَا تُقْبَلُ مِنْهُ الْجَذَعَةُ وَيُعْطِيهِ الْمُصَدِّقُ عِشْرِينَ دِرْهَمًا أَوْ شَاتَيْنِ، وَمَنْ بَلَغَتْ عِنْدَهُ صَدَقَةُ الْحِقَّةِ، وَلَيْسَتْ عِنْدَهُ إِلَّا بِنْتُ لَبُونٍ فَإِنَّهَا تُقْبَلُ مِنْهُ بِنْتُ لَبُونٍ وَيُعْطِي شَاتَيْنِ أَوْ عِشْرِينَ دِرْهَمًا، وَمَنْ بَلَغَتْ صَدَقَتُهُ بِنْتَ لَبُونٍ وَعِنْدَهُ حِقَّةٌ فَإِنَّهَا تُقْبَلُ مِنْهُ الْحِقَّةُ وَيُعْطِيهِ الْمُصَدِّقُ عِشْرِينَ دِرْهَمًا أَوْ شَاتَيْنِ، وَمَنْ بَلَغَتْ صَدَقَتُهُ بِنْتَ لَبُونٍ وَلَيْسَتْ عِنْدَهُ وَعِنْدَهُ بِنْتُ مَخَاضٍ، فَإِنَّهَا تُقْبَلُ مِنْهُ بِنْتُ مَخَاضٍ وَيُعْطِي مَعَهَا عِشْرِينَ دِرْهَمًا أَوْ شَاتَيْنِ». (بخاری: ۱٤٥۳)

له انس رضي الله عنه روایت دئ چي ابو بکر رضي الله عنه د زکات هغه فریضه ورته ولیکله چي الله تعالی خپل رسول ته امر کړی وو، (او هغه دا چي:) (که په اوښانو کي د چا زکات جَذَعَه (څلور کلني جونګی) ته ورسېدو او جذعه ورسره نه وه نو حِقَّه (درې کلني جونګی) ورسره وي؛ نو همدا حقه ترې قبلېږي او له دې سره دي دوه پسونه یو ځای کړي، که ورته ممکنه وه؛ یا دي شل درهمه ورسره یو ځای کړي؛ او د چا زکات چي د حِقَّه کچي ته ورسېدو خو حقه ورسره نه وي او جذعه ورسره وي نو همدغه جذعه ترې قبلېږي او زکات اخیستونکی دي شل درهمه یا دوه پسونه ورکړي؛ او د چا زکات چي د حقه کچي ته ورسېدو خو له هغه سره له بنت لبون (دوه کلنه جونګی) پرته بل څه نه وي نو همدا بنت لبون ترې قبلېږي خو دوه پسونه یا شل درهمه دي هم ورسره ورکړي؛ او که د چا زکات د بنت لبون کچي ته ورسېدو او هغه بنت لبون ونه لري خو حقه ورسره وي نو همدا حقه ترې قبلېږي خو زکات اخیستونکی به شل درهمه یا دوه پسونه ورکوي؛ او که د چا زکات د بنت لبون کچي ته ورسېدو او هغه ئې ونه لري خو بنت مخاض ورسره وي؛ نو همدا بنت مخاض ترې قبول دئ خو شل درهمه یا دوه پسونه

به پرې علاوه کوي.

دا روايت تر دې باب لاندې راغلی: د چا زکات چې بنت مخاض وي خو له هغه سره بنت مخاض نه وي؛ خو په روايت کې دا مطلب نه مومو؛ بلکې دا مومو: ... خو بنت مخاض ورسره وي؛ نو همدا بنت مخاض ترې قبول دئ.

٢٦ باب: د مېږو (پسونو) زکات

عَنْ أَنَسٍ رضى الله عنه: أَنَّ أَبَا بَكْرٍرضى الله عنه كَتَبَ لَهُ هَذَا الْكِتَابَ لَمَّا وَجَّهَهُ إِلَى الْبَحْرَيْنِ: بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ، هَذِهِ فَرِيضَةُ الصَّدَقَةِ الَّتِي فَرَضَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم عَلَى الْمُسْلِمِينَ، وَالَّتِي أَمَرَ اللَّهُ بِهَا رَسُولَهُ، فَمَنْ سُئِلَهَا مِنَ الْمُسْلِمِينَ عَلَى وَجْهِهَا فَلْيُعْطِهَا، وَمَنْ سُئِلَ فَوْقَهَا فَلا يُعْطِ: فِي أَرْبَعٍ وَعِشْرِينَ مِنَ الإِبِلِ فَمَا دُونَهَا مِنَ الْغَنَمِ، مِنْ كُلِّ خَمْسٍ شَاةٌ، إِذَا بَلَغَتْ خَمْسًا وَعِشْرِينَ إِلَى خَمْسٍ وَثَلاثِينَ فَفِيهَا بِنْتُ مَخَاضٍ أُنْثَى، فَإِذَا بَلَغَتْ سِتًّا وَثَلاثِينَ إِلَى خَمْسٍ وَأَرْبَعِينَ فَفِيهَا بِنْتُ لَبُونٍ أُنْثَى، فَإِذَا بَلَغَتْ سِتًّا وَأَرْبَعِينَ إِلَى سِتِّينَ فَفِيهَا حِقَّةٌ طَرُوقَةُ الْجَمَلِ، فَإِذَا بَلَغَتْ وَاحِدَةً وَسِتِّينَ إِلَى خَمْسٍ وَسَبْعِينَ فَفِيهَا جَذَعَةٌ، فَإِذَا بَلَغَتْ يَعْنِي سِتًّا وَسَبْعِينَ إِلَى تِسْعِينَ فَفِيهَا بِنْتَا لَبُونٍ، فَإِذَا بَلَغَتْ إِحْدَى وَتِسْعِينَ إِلَى عِشْرِينَ وَمِائَةٍ فَفِيهَا حِقَّتَانِ طَرُوقَتَا الْجَمَلِ، فَإِذَا زَادَتْ عَلَى عِشْرِينَ وَمِائَةٍ فَفِي كُلِّ أَرْبَعِينَ بِنْتُ لَبُونٍ، وَفِي كُلِّ خَمْسِينَ حِقَّةٌ، وَمَنْ لَمْ يَكُنْ مَعَهُ إِلَّا أَرْبَعٌ مِنَ الإِبِلِ فَلَيْسَ فِيهَا صَدَقَةٌ، إِلَّا أَنْ يَشَاءَ رَبُّهَا، فَإِذَا بَلَغَتْ خَمْسًا مِنَ الإِبِلِ فَفِيهَا شَاةٌ، وَفِي صَدَقَةِ الْغَنَمِ فِي سَائِمَتِهَا إِذَا كَانَتْ أَرْبَعِينَ إِلَى عِشْرِينَ وَمِائَةٍ شَاةٌ، فَإِذَا زَادَتْ عَلَى عِشْرِينَ وَمِائَةٍ إِلَى مِائَتَيْنِ شَاتَانِ، فَإِذَا زَادَتْ عَلَى مِائَتَيْنِ إِلَى ثَلاثِ مِائَةٍ فَفِيهَا ثَلاثُ شِيَاهٍ، فَإِذَا زَادَتْ عَلَى ثَلاثِ مِائَةٍ فَفِي كُلِّ مِائَةٍ شَاةٌ، فَإِذَا كَانَتْ سَائِمَةُ الرَّجُلِ نَاقِصَةً مِنْ أَرْبَعِينَ شَاةً وَاحِدَةً فَلَيْسَ فِيهَا صَدَقَةٌ،

إِلَّا أَنْ يَشَاءَ رَبُّهَا، وَفِي الرِّقَّةِ رُبْعُ الْعُشْرِ فَإِنْ لَمْ تَكُنْ إِلَّا تِسْعِينَ وَمِائَةً فَلَيْسَ فِيهَا شَيْءٌ إِلَّا أَنْ يَشَاءَ رَبُّهَا. (بخاری: ١٤٥٤)

له انس رضي الله عنه روایت دئ چي وایي: کله چي ابو بکر رضي الله عنه دی بحرین ته ولېږلو نو دا لیکنه ئې ورته وکړه: بسم الله الرحمن الرحیم؛ دا د زکات هغه فریضه ده چي رسول الله صلی الله علیه و سلم پر مسلمانانو فرض کړې ده؛ هغه چي الله تعالی خپل رسول ته د هغې امر کړی؛ نو څوک چي له مسلمانانو د هغې مطابق غوښتنه وکړي؛ نو هغه دي ورکړي؛ او چا چي تر هغې زیات وغوښتل نه دې ورکوي: په هرو (٢٤) څلور ویشتو او تر دې لږ شمېر اوښانو باندي پسونه (مېږي) لازمېږي؛ داسي چي په هرو پنځو اوښانو باندي یو پسه، که اوښان پنځه ویشت شول نو تر پنځه دېرشو پوري اوښانو باندي یوه بنت مخاض (یوه کلنه جونګۍ) لازمېږي، که شپږ دېرش شول نو تر پنځه څلوېښتو پوري اوښانو باندي یوه بنت لبون (دوه کلنه جونګۍ) لازمېږي؛ اوښان چي شپږ څلوېښت شول نو تر شپېتو پوري اوښانو باندي یوه حقه (څلور کلنه اوښه) چي حامله کېدو ته تیاره وي؛ لازمېږي او چي یو شپېته شول نو تر پنځه اویا پوري اوښانو باندي یوه جَذَعَه لازمېږي؛ او چي شپږ اویا شول نو تر نوي پوري اوښانو باندي دوې بنت لبون لازمېږي؛ او چي یو نوي شول بیا تر یو سل او شل (١٢٠) پوري اوښانو باندي دوې حقې چي حامله کېدو ته تیاري وي لازمېږي او چي له ١٢٠ زیات شول نو بیا په هرو څلوېښتو اوښانو باندي یوه بنت لبون لازمېږي او په هرو پنځوسو اوښانو باندي یوه حقه لازمېږي؛ او څوک چي یوازي څلور اوښان ولري نو په هغوی باندي هیڅ زکات نه شته؛ مګر دا چي خاوند ئې په خپله خوښه څه ورکړي او چي اوښان ئې پنځه شول نو یو پسه پرې لازمېږي.

او د مېږو د زکات په اړه: مېږي چي په صحراء کي څرېدونکې وي او شمېر ئې څلوېښتو ته ورسېږي نو بیا له څلوېښتو تر یو سل او شلو

مېږو پوري يو پسه لازمېږي، که له ۱۲۰ زياتې شي بيا تر دوو سوو پوري مېږو باندي دوه پسونه دي، له دوو سوو چې زياتې شي بيا تر دري سوو مېږو پوري درې پسونه دي او تر درې سوه چې زياتې شي نو په هرو سلو کي يو پسه لازمېږي او که د چا په صحراء کي څرېدونکې مېږي څلوېښت نه وي نو که له څلوېښتو يوه هم کمه وي په هغې کي زکات نه شته؛ مګر دا چې مالک ئې په خپله خوښه څه ورکړي.

او په سپينو زرو کي د زکات اندازه ربع العشر (د لسو يو پر څلورو) (يعني په څلوېښتو درهمو کي يو درهم) دئ او چې شمېر ئې يو سل او نوي يا تر دې لږ وي نو زکات په کې نه شته، مګر دا چې مالک ئې په خپله خوښه څه ورکړي.

په دې روايت کې د ٤٠ درهمو زکات يو درهم ښودل شوی او د ٤٠ هغو پسونو چې په صحراء کې څري زکات هم يو پسه؛ دا پوښتنه راولاړېږي چې آيا کېدی شي همدا له څلوېښتو يو او په ۱۰۰ کې دوه نيم د زکات اصلي مقدار وګڼل شي؟ هم په سکو او اسعارو کې او هم په هغو څارويو کې چې په پالني کې ئې پر خاوند کوم لګښت نه راځي او په صحراء کې څري؟ هغه مهال چې راکړه ورکړه تر ډېره حده جنس د جنس په مقابل کې وه او د څارويو زکات به هم څاروي وو؛ بل بديل ورته نه وو يا بل بديل ورته موندل ګران کار وو؛ دې ته په پام سره چې د څارويو په زکات کې يو ډول د بل ډول په بدل کې هم قبول شوي؛ سکې هم او د جامو ټوټې هم؛ اوسنی وضعيت ايجابوي چې په دې اړه نوې فتوی ورکړی شي.

۲۷ باب: د زکات مال بايد سالم وي

عَنْ أَنَسٍ رضی الله عنه: أَنَّ أَبَا بَكْرٍرضی الله عنه كَتَبَ لَهُ: الصَّدَقَةَ الَّتِي أَمَرَ اللَّهُ رَسُولَهُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم «وَلا يُخْرَجُ فِي الصَّدَقَةِ هَرِمَةٌ وَلا ذَاتُ عَوَارٍ وَلا تَيْسٌ إِلَّا مَا شَاءَ الْمُصَدِّقُ». (بخاری: ۱٤٥٥)

له انس رضي الله عنه روايت دئ چي ابو بکر رضي الله عنه ده ته د هغي صدقې په اړه وليکل چي الله تعالى خپل رسول صلى الله عليه و سلم ته امر کړى: (د زکات لپاره دي زوړ، معيوب او وز (د وزو نر) څاروى نه ايستل کېږي؛ مګر دا چي زکات غونډوونکى ئې قبول کړي).

٢٨ باب: نه ښايي په زکات کي د خلکو تر ټولو غوره اموال واخيستل شي

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّه عَنْهُمَا: حديث بَعْثِ مُعَاذ رضى الله عنه إِلَى الْيَمَنِ تقدم وفى هذه الرواية قَالَ: «إِنَّكَ تَقْدَمُ عَلَى قَوْمٍ أَهْلِ كِتَابٍ....» وَذَكَرَ بَاقِيَ الحديثِ ثُمَّ قَالَ فِي آخِرِهِ: «وَتَوَقَّ كَرَائِمَ أَمْوَالِ النَّاسِ». (بخارى:١٤٥٨)

له ابن عباس رضي الله عنهما: يمن ته د معاذ رضي الله عنه د لېږلو حديث مخکي تېر شو او په دې روايت کي وايي: (ته اهل کتابو ته ورځې...) نور حديث ئې ذکر کړى چي په آخر کي ئې راغلي: رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (او د خلکو د غوره مالونو له اخيستلو ډډه کوه).

٢٩ باب: خپلوانو ته د زکات ورکول

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضى الله عنه قَالَ: كَانَ أَبُو طَلْحَةَ أَكْثَرَ الأَنْصَارِ بِالْمَدِينَةِ مَالاً مِنْ نَخْلٍ، وَكَانَ أَحَبُّ أَمْوَالِهِ إِلَيْهِ بَيْرُحَاءَ، وَكَانَتْ مُسْتَقْبِلَةَ الْمَسْجِدِ، وَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم يَدْخُلُهَا، وَيَشْرَبُ مِنْ مَاءٍ فِيهَا طَيِّبٍ. قَالَ أَنَسٌ: فَلَمَّا أُنْزِلَتْ هَذِهِ الآيَةُ: (لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتَّى تُنْفِقُوا مِمَّا تُحِبُّونَ) قَامَ أَبُو طَلْحَةَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّ اللَّهَ تَبَارَكَ وَتَعَالَى يَقُولُ: (لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتَّى تُنْفِقُوا مِمَّا تُحِبُّون) وَإِنَّ أَحَبَّ أَمْوَالِي إِلَيَّ بَيْرُحَاءَ، وَإِنَّهَا صَدَقَةٌ لِلَّهِ، أَرْجُو بِرَّهَا وَذُخْرَهَا

عِنْدَ اللَّهِ، فَضَعْهَا يَا رَسُولَ اللَّهِ، حَيْثُ أَرَاكَ اللَّهُ. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم «بَخٍ، ذَلِكَ مَالٌ رَابِحٌ، ذَلِكَ مَالٌ رَابِحٌ، وَقَدْ سَمِعْتُ مَا قُلْتَ، وَإِنِّي أَرَى أَنْ تَجْعَلَهَا فِي الأَقْرَبِينَ». فَقَالَ أَبُو طَلْحَةَ: أَفْعَلُ يَا رَسُولَ اللَّهِ، فَقَسَمَهَا أَبُو طَلْحَةَ فِي أَقَارِبِهِ وَبَنِي عَمِّهِ. (بخاری:١٤٦١)

له انس بن مالك رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: ابو طلحه رضي الله عنه د مدينې په انصارو کي تر ټولو زياتي د خرما وني درلودې او ده ته په خپلو شتمنيو کې تر ټولو ډېر ګران د بَيْرُحَاءَ باغ وو چي نبوي جومات ته مخامخ پروت وو؛ او رسول الله صلى الله عليه و سلم به کله کله ورتلو او د باغ پاکي او خوندوري اوبه به ئې څښلې. انس رضي الله عنه وايي: کله چې دا آيت نازل شو: (لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتَّى تُنْفِقُوا مِمَّا تُحِبُّون: تر هغه به ښېګڼې ته ونه رسېږئ چې درته ګران شته مو انفاق کړئ)؛ ابو طلحه رضي الله عنه پاڅېد او رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ورغی او وئې ويل: يا رسول الله! الله تعالى فرمايي: (لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتَّى تُنْفِقُوا مِمَّا تُحِبُّون)؛ او تر ټولو غوره او ګران مال مي د بَيرُحاء باغ دئ او همدا د الله تعالى په لار کي صدقه شو، د الله په خوا کې ئې د ښېګڼې او ذخيره کېدو هيله لرم، يا رسول الله! څنګه چې ئې الله تعالى درته لارښوونه کوي همغسي ئې ولګوه؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: واه، واه؛ دا ډېر ګټه رسوونکی مال دئ، دا ډېر ګټه رسوونکی مال دئ؛ هغه څه مي واورېدل چې تا وويل؛ او زه دا مناسبه ګڼم چې هغه پر خپلوانو ووېشې؛ نو ابو طلحه رضي الله عنه وويل: همداسي به وکړم يا رسول الله! بيا ئې هغه په خپلو خپلوانو او تربرونو وويشلو.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رضى الله عنه: حَدِيْثُهُ فِيْ خُرُوْجِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم إِلَى الْمُصَلَّى تَقَدَّمَ وَفِيْ هذِهِ الرِّوَايَةِ قَالَ: فَلَمَّا صَارَ إِلَى مَنْزِلِهِ، جَاءَتْ زَيْنَبُ، امْرَأَةُ ابْنِ مَسْعُودٍ، تَسْتَأْذِنُ عَلَيْهِ، فَقِيلَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، هَذِهِ

زَيْنَبُ، فَقَالَ: «أَيُّ الزَّيَانِبِ»؟ فَقِيلَ: امْرَأَةُ ابْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: «نَعَمْ ائْذَنُوا لَهَا». فَأُذِنَ لَهَا، قَالَتْ: يَا نَبِيَّ اللَّهِ، إِنَّكَ أَمَرْتَ الْيَوْمَ بِالصَّدَقَةِ، وَكَانَ عِنْدِي حُلِيٌّ لِي، فَأَرَدْتُ أَنْ أَتَصَدَّقَ بِهِ، فَزَعَمَ ابْنُ مَسْعُودٍ أَنَّهُ وَوَلَدَهُ أَحَقُّ مَنْ تَصَدَّقْتُ بِهِ عَلَيْهِمْ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم «صَدَقَ ابْنُ مَسْعُودٍ، زَوْجُكِ وَوَلَدُكِ أَحَقُّ مَنْ تَصَدَّقْتِ بِهِ عَلَيْهِمْ». (بخارى: ١٤٦٢)

له ابو سعيد خدري رضي الله عنه هغه روايت مخكې تېر شو چې مصلى (د لمانځه ځای) ته د رسول الله صلى الله عليه و سلم د وتلو په اړه وو او په دې روايت کې وايي: کله چې رسول الله صلى الله عليه و سلم خپل کور ته ستون شو نو د ابن مسعود رضي الله عنه مېرمن زينب رضي الله عنها راغله او کور ته د داخلېدو اجازه ئې وغوښتله، وويل شول: يا رسول الله! دا زينب (راغلې) ده، وئې فرمايل: د زينبو کومه يوه؟ ورته وويل شول: د ابن مسعود رضي الله عنه مېرمن؛ وئې فرمايل: صحيح ده اجازه ورکړئ؛ نو اجازه ئې ورکړه، هغې وويل: اى د الله نبي! نن تا د صدقې ورکولو امر وکړ، له ما سره ځيني خپلي ګاڼې دي، ومي غوښتل چې صدقه ئې کړم، خو ابن مسعود رضي الله عنه داسي انګېري چې دى او زوى ئې تر ټولو هغو زيات د دې مستحق دي چې زه صدقه ورکوم؛ نو د الله نبي صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (ابن مسعود رښتيا وايي، ستا خاوند او زوى تر ټولو هغو زيات مستحق دي چې ته صدقه ورکوې).

دا روايت په بخاري کې درې ځلي نور په دغو شمېرو راغلى:٣٠٤، ١٩٥١، ٢٦٥٨؛ توپېرونه ئې دا دي: په يوه کې يوازي فَمَرَّ عَلَى النِّسَاءِ او په بل کې فَوَعَظَ النَّاسَ وَأَمَرَهُمْ بِالصَّدَقَةِ فَقَالَ أَيُّهَا النَّاسُ تَصَدَّقُوا فَمَرَّ عَلَى النِّسَاءِ راغلي، په يوه کې دا راغلي مَا رَأَيْتُ مِنْ نَاقِصَاتِ عَقْلٍ وَدِينٍ أَذْهَبَ لِلُبِّ الرَّجُلِ الْحَازِمِ مِنْ إِحْدَاكُنَّ، په بل کې نه دي راغلي، په يوه کې د ابن مسعود د مېرمني زينب رضي الله عنها وينا راغلي په نورو کې نه ده راغلي، په ځينو کې فِي أَضْحًى أَوْ فِطْرٍ راغلي په ځينو کې نه دي راغلي،

تفصيل ئې په اول جلد ۲۰۸ روايت کې وګورئ.

د دې روايت په اړه څو مطالب بايد په پام کې ولرو:

- که څه هم دا روايت د زکات تر باب لاندې راغلی؛ خو ځينې وايي چې مطلب ئې زکات نه بلکې صدقه او خيرات دئ؛ ځکه زينب رضي الله عنها ويلي چې له ما سره ګاڼه ده؛ غواړم صدقه ئې کړم؛ داسې ئې نه دي ويلي چې غواړم زکات ئې ورکړم.
- دا موضوع د بخاري په بل روايت کې داسې راغلې چې ګواکې زينب رضي الله عنها له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره مخامخ نه وي ليدلې بلکې د بلال رضي الله عنه په وساطت ئې دا پوښتنه کړې او ځواب ئې تر لاسه کړی؛ موضوع يوه ده او راوي هم يو؛ خو روايات ئې متفاوت؛ او دا هم نه دي ويل شوي چې کوم يو ئې تر بل غوره او صحيح دئ.
- د زکات تر عنوان لاندې څو نور روايات هم داسې راوړل شوي چې موضوع ئې صدقه ده نه زکات؛ غوره دا وه چې د زکات او صدقاتو روايات تر يېلو يېلو عنوانونو لاندې تنظيم شوي وی. زکات حکومت او زعامت ته ورکول کېږي او صدقات په خپله خوښه مسکينانو او فقيرانو ته ورکول کېږي؛ د زکات مقدار ثابت دئ او صدقات بيا ثابت مقدار نه لري.

۳۰ باب: د آس زکات نه شته

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضى الله عنه قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم «لَيْسَ عَلَى الْمُسْلِمِ فِي فَرَسِهِ وَغُلامِهِ صَدَقَةٌ». (بخاری: ١٤٦٣)

له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چې وايي: نبي صلى الله عليه و سلم فرمايي: (پر مسلمان د ده په آس او غلام کي زکات نه شته).

دا روايت په بخاري کې يو ځل بيا په دغې شمېرې راغلی: ١٤٦٤؛ توپير ئې دا دئ: په يوه کې لَيْسَ عَلَى الْمُسْلِمِ فِي فَرَسِهِ وَغُلاَمِهِ صَدَقَةٌ په بل کې لَيْسَ عَلَى الْمُسْلِمِ صَدَقَةٌ فِي عَبْدِهِ وَلاَ فَرَسِهِ راغلي.

که آس د سورلۍ لپاره وي زکات پرې نه شته؛ خو که د تجارت لپاره وي زکات پرې لازم دئ. د سورلۍ نور وسائل هم په دې قیاس کولی شو، د هغو آسونو د زکات په اړه چې په صحراء کې څري ځینې په دې رأیه دي چې هیڅ زکات په کې نه شته، ځینې نور په دې رأی دي چې د هر آس پر سر یو دینار زکات راځي، امام ابوحنیفه رحمة الله علیه په همدې رأی دئ، ځینې نور وایي: د آس د قیمت له مخې به د هغه زکات ټاکل کېږي، چې په دې صورت کې په هرو څلوېښتو سکو کې یوه سکه زکات راځي.

دا پوښتنه راولاړېږي چې که د آسونو په اړه دا جائز وي چې د قیمت له مخې ئې زکات ورکړی شي؛ په هرو څلوېښتو درهمو کې یو درهم؛ یعني ۲،۵٪؛ همغسي چې د سکو زکات دئ؛ آیا دا هم جائزه ده چې د نورو څارویو په اړه دې ته ورته معامله وشي او زکات ئې د قیمت له مخې وي؛ دې ته په پام سره چې ننني حکومتونو ته د څارویو ساتل ګران دي؛ دا موضوع باید د داسي جیدو علماءو په غونډې کې وڅېړل شي چې په قرآن او حدیث پوه او په دیانت او تقوی کې معروف او منلي وي. دوی باید دا پوښتنه هم ځواب کړي چې ولې د ٤۰ مېږو خاوند هم د یوې مېږي په ورکړي مکلف دئ او تر څلوېښتو د زیاتو مېږو خاوندان تر ۱۲۰ پورې یوه او له ۱۲۱ تر ۲۰۰ پورې دوه؛ له ۲۰۱ تر ۳۰۰ پورې درې او تر درې سوه چې زیاتې شي نو په هرو سلو کې یو پسه لازمېږي؟! خو که زکات د بیې او قیمت له مخې وي او ۲،۵ سلنه ئې زکات شي؛ نو پورتنۍ پوښتنه هم ځوابېږي؛ د عدالت په تأمین کې هم مرسته کوي، د حکومت مشکل پرې حل کېږي او د رمو ساتلو او پلورلو ته هم نه اړ کېږي.

دې ته هم باید متوجه وو چې د زراعتي زمکو د حاصلاتو لسمه او شلمه زکات د تجارتي شتمنیو او د څارویو د زکات په پرتله ځکه زیات دئ چې زیار او زحمت ئې لږ او ګټه او عائد ئې زیات وي؛ په زکات او مالیې کې د عدالت تقاضا دا ده چې د عائد او ګټې له مخې وي؛ نه د

شتمنيو له مخي؛ په هغو سيستمونو او نظامونو کې چې د زمکې د مساحت له مخي مالیه تر لاسه کوي؛ عدالت تر پښو لاندې کېږي.

٣١ باب: يتيمانو ته صدقه ورکول

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيَّ رضى الله عنه: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم جَلَسَ ذَاتَ يَوْمٍ عَلَى الْمِنْبَرِ، وَجَلَسْنَا حَوْلَهُ، فَقَالَ: «إِنِّي مِمَّا أَخَافُ عَلَيْكُمْ مِنْ بَعْدِي، مَا يُفْتَحُ عَلَيْكُمْ مِنْ زَهْرَةِ الدُّنْيَا وَزِينَتِهَا». فَقَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللَّهِ؛ اويَأْتِي الْخَيْرُ بِالشَّرِّ؟ فَسَكَتَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم فَقِيلَ لَهُ: مَا شَأْنُكَ؟ تُكَلِّمُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم وَلا يُكَلِّمُكَ؟ فَرَأَيْنَا أَنَّهُ يُنْزَلُ عَلَيْهِ، قَالَ: فَمَسَحَ عَنْهُ الرُّحَضَاءَ، فَقَالَ: «أَيْنَ السَّائِلُ»؟ وَكَأَنَّهُ حَمِدَهُ، فَقَالَ: إِنَّهُ لا يَأْتِي الْخَيْرُ بِالشَّرِّ، وَإِنَّ مِمَّا يُنْبِتُ الرَّبِيعُ يَقْتُلُ أَوْ يُلِمُّ؛ إِلَّا آكِلَةَ الْخَضْرَاءِ، أَكَلَتْ حَتَّى إِذَا امْتَدَّتْ خَاصِرَتَاهَا، اسْتَقْبَلَتْ عَيْنَ الشَّمْسِ فَثَلَطَتْ، وَبَالَتْ، وَرَتَعَتْ، وَإِنَّ هَذَا الْمَالَ خَضِرَةٌ حُلْوَةٌ، فَنِعْمَ صَاحِبُ الْمُسْلِمِ مَا أَعْطَى مِنْهُ الْمِسْكِينَ، وَالْيَتِيمَ، وَابْنَ السَّبِيلِ». أَوْ كَمَا قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم «وَإِنَّهُ مَنْ يَأْخُذُهُ بِغَيْرِ حَقِّهِ، كَالَّذِي يَأْكُلُ وَلا يَشْبَعُ، وَيَكُونُ شَهِيدًا عَلَيْهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ». (بخارى:١٤٦٥)

له ابو سعيد خدري رضي الله عنه روايت دئ چې وايي: يوه ورځ نبي صلى الله عليه و سلم پر منبر کښېناست او موږ ئې شاو خوا ته کښېنستلو، وئې فرمايل: (له هغه څه چې له ځان وروسته (له وفات وروسته) ئې پر تاسو وېره لرم يو ئې دا دئ چې د دنيايي ښکلاوو او ځلاوو ور درته پرانيستل شي؛ نو يوه سړي وويل: يا رسول الله! آيا خير هم له ځان سره شر راوستی شي؟ نو رسول الله صلى الله عليه و سلم چوپ پاته شو، هغه کس ته وويل شول: څه دي کړي چې ته له رسول

الله صلى الله عليه و سلم سره خبري کوې خو هغه خبري نه درسره کوي؟ نو متوجه شوو چې پر رسول الله صلى الله عليه و سلم وحي نازلېږي، راوي وايي: بيا رسول الله! خپلې خولې پاکې کړې او وئې فرمايل: پوښتونکی چېرې دئ؟ او داسې ښکارېده چې هغه ستايي؛ او وئې فرمايل: "خير د شر سبب نه کېږي، خو له هغه څه چې پسرلی ئې راشنه کوي ځينې ئې داسې وي چې وژني او ځينې ئې د ناروغۍ سبب کېږي (د ډېر او مسلسل خوراك له کبله) مګر د شنو واښو هغه خوړونکی (حيوان) چې دومره خوري چې تشي (نس) ئې وپړسېږي، (بيا خوراك بس کړي)، لمر ته مخامخ شي (څملي)، خوشايي او بولې وکړي او بيا وخري، يقيناً چې دا دنيوي مال د شنو واښو په څېر او خوږ دئ، څومره بختور دئ هغه مسلمان خاوند ئې چې مسکين، يتيم او مسافر ته ترې ورکړه کوي" او يا هغسې چې رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي، "او يقيناً هغه څوک چې په ناحقه توګه ئې تر لاسه کوي هغه چا ته ورته دئ چې خوري خو نه مړېږي؛ او د قيامت په ورځ به د ده په خلاف شاهدي وايي".

دا روايت په بخاري کې درې ځلي نور په دغو شمېرو راغلی: ۹۲۱، ۲۸٤۲، ٦٤۲۷؛ له دې توپيرونو سره: په يوه کې إِنِّي مِمَّا أَخَافُ عَلَيْكُمْ مِنْ بَعْدِي په بل کې إِنَّمَا أَخْشَى عَلَيْكُمْ مِنْ بَعْدِي په بل کې إِنَّ أَكْثَرَ مَا أَخَافُ عَلَيْكُمْ په يوه کې مَا يُخْرِجُ اللَّهُ لَكُمْ مِنْ بَرَكَاتِ الأَرْضِ په بل کې مَا يُفْتَحُ عَلَيْكُمْ مِنْ زَهْرَةِ الدُّنْيَا وَزِينَتِهَا په بل کې مَا يُفْتَحُ عَلَيْكُمْ مِنْ بَرَكَاتِ الأَرْضِ ثُمَّ ذَكَرَ زَهْرَةَ الدُّنْيَا فَبَدَأَ بِإِحْدَاهُمَا وَثَنَّى بِالأُخْرَى (بيا ئې د بل زهرة الدنيا يادونه وکړه) په بل کې قِيلَ وَمَا بَرَكَاتُ الأَرْضِ قَالَ "زَهْرَةُ الدُّنْيَا" په يوه کې فَقَالَ رَجُلٌ يَا رَسُولَ اللَّهِ په بل کې فَقَامَ رَجُلٌ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ په يوه کې فَسَكَتَ النَّبِيُّ په بل کې فَسَكَتَ عَنْهُ النَّبِيُّ په يوه کې فَرَأَيْنَا أَنَّهُ يُنْزَلُ عَلَيْهِ په بل کې قُلْنَا يُوحَى إِلَيْهِ. وَسَكَتَ النَّاسُ كَأَنَّ عَلَى رُءُوسِهِمِ الطَّيْرَ په يوه کې ثُمَّ جَعَلَ يَمْسَحُ عَنْ جَبِينِهِ په بل کې فَمَسَحَ عَنْهُ الرُّحَضَاءَ (خولې) په يوه کې "أَيْنَ السَّائِلُ" وَكَأَنَّهُ حَمِدَهُ په بل کې أَيْنَ السَّائِلُ آنِفًا

أَوَخَيْرٌ هُوَ؟ (آيا دا مال خير دئ؟؛ درې ځلي ئې دا خبره تکرار کړه) په يوه کي مَنْ أَخَذَهُ بِحَقِّهِ وَوَضَعَهُ فِي حَقِّهِ، فَنِعْمَ الْمَعُونَةُ هُوَ په بل کي إِنَّهُ لاَ يَأْتِي الْخَيْرُ بِالشَّرِّ په بل کي إِنَّ الْخَيْرَ لاَ يَأْتِي إِلَّا بِالْخَيْرِ په يوه کي حَتَّى إِذَا امْتَدَّتْ خَاصِرَتَاهَا په بل کي حَتَّى إِذَا امْتَلأَتْ خَاصِرَتَاهَا فَاجْتَرَّتْ (بيا ئې وزدويي) وَثَلَطَتْ وَبَالَتْ ثُمَّ عَادَتْ فَأَكَلَتْ په يوه کي فَنِعْمَ صَاحِبُ الْمُسْلِمِ مَا أَعْطَى مِنْهُ الْمِسْكِينَ وَالْيَتِيمَ وَابْنَ السَّبِيلِ په بل کي وَنِعْمَ صَاحِبُ الْمُسْلِمِ لِمَنْ أَخَذَهُ بِحَقِّهِ، فَجَعَلَهُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ په بل کي مَنْ أَخَذَهُ بِحَقِّهِ وَوَضَعَهُ فِي حَقِّهِ، فَنِعْمَ الْمَعُونَةُ هُوَ په يوه کي وَإِنَّهُ مَنْ يَأْخُذُهُ بِغَيْرِ حَقِّهِ كَالَّذِي يَأْكُلُ وَلاَ يَشْبَعُ په بل کي وَمَنْ لَمْ يَأْخُذْهُ بِحَقِّهِ فَهُوَ كَالآكِلِ الَّذِي لاَ يَشْبَعُ راغلي.

په دې روايت کي د مال حريص انسان له هغه ځاروي سره تشبيه شوی چې د ډېرو واښو خوړلو له کبله بيمار يا مړ شي؛ او هغه څوک چې له روا لارو مال تر لاسه کوي، په سمه توګه ئې مصرفوي، له مسکين، يتيم او مسافر سره مرسته کوي او د الله په لار کي ئې لګوي ستايل شوی، د مال تر لاسه کول ئې داسي ګڼل شوي لکه ځاروي چې د پسرلي شنه واښه خوري، کله چې ماړه شي نو دمه کوي او لمر ته ځملي او هغه مهال ببرته د واښو خوړلو ته ستنېږي چې وږي شي.

۳۲ باب: خاوند او تر کفالت لاندي يتيمانو ته زکات ورکول

عَنْ زَيْنَبَ امْرَأَةِ عَبْدِاللَّهِ رَضِيَ اللَّه عَنْهُمَا: حَدِيْثُهَا تَقَدَّمَ قَرِيْباً، وَقَالَتْ فِيْ هذِهِ الرِّوَايَةِ: فَانْطَلَقْتُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم فَوَجَدْتُ امْرَأَةً مِنَ الأَنْصَارِ عَلَى الْبَابِ، حَاجَتُهَا مِثْلُ حَاجَتِي، فَمَرَّ عَلَيْنَا بِلالٌ، فَقُلْنَا سَلِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم أَيَجْزِي عَنِّي أَنْ أُنْفِقَ عَلَى زَوْجِي وَأَيْتَامٍ لِي فِي حَجْرِي؟ فَسَأَلَهُ، فَقَالَ: «نَعَمْ لَهَا أَجْرَانِ: أَجْرُ الْقَرَابَةِ، وَأَجْرُ الصَّدَقَةِ». (بخاری: ١٤٦٦)

د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه له مېرمني زينب رضي الله عنها روايت شوی حديث مخکي تېر شو او په دې روايت کي زينب رضي الله

عنها وايي: د رسول الله صلى الله عليه و سلم لوري ته روانه شوم، په دروازې کې مي يوه انصاري مېرمن وموندله، اړتيا ئې زما اړتيا ته ورته وه، بلال رضي الله عنه مو له خوا تېر شو، ورته ومو ويل: له رسول الله صلى الله عليه و سلم وپوښته چې که زه ئې پر خپل خاوند او هغو يتيمانو انفاق او مصرف کړم چې زما په کفالت کې دي؛ نو آيا له ما (د زکات په ځای) منل کېږي؟ نو ترې وئې وپوښتل او وئې فرمايل: (هو؛ دې ته دوه اجرونه دي: د خپلوۍ پاللو اجر او د صدقې اجر.

د دې روايت په اړه څو خبرې بايد په پام کې ولرو:

- ياد شوي يتيمان د نوموړي مېرمني ورېرونه او خوريونه وو.
- د دې (۷۳۸) او مخکيني (۷۳۵) روايتونو تر منځ تعارض تر سترګو کېږي، يو ئې وايي چې زينب رضي الله عنها په خپله مخامخ له رسول الله صلى الله عليه و سلم پوښتلي او بل ئې وايي چې د بلال په واسطه ئې خپله پوښتنه رسول الله صلى الله عليه و سلم ته وړاندي کړې او ځواب ئې له بلال رضي الله عنه اورېدلی؛ پرته له دې چې له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره مخامخ وګوري؛ امام بخاري رحمة الله عليه دا وضاحت نه دئ کړی چې په دې دواړو متعارضو رواياتو کې کوم يو ئې اصح او ارجح دئ؛ خو دې ته په پام سره چې رسول الله صلى الله عليه و سلم د خپل کور دروازې کې حاجب او ساتونکی نه درلود، که به کومي مېرمني غوښتل چې د کومي موضوع په اړه څه وپوښتي نو د ده کور ته به ورتلې او د رسول الله صلى الله عليه و سلم له مېرمنو به ئې پوښتني کولې او يا به ئې هملته له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره ليدل؛ نو غالب احتمال دا دئ چې زينب رضي الله عنها په خپله له رسول الله صلى الله عليه و سلم پوښتلي او خپل ځواب ئې تر لاسه کړی.
- همدا راز له دې وروستي روايت داسي معلومېږي چې زينب رضي الله عنها د زکات په اړه پوښتنه کړې؛ نه د عامي صدقې په اړه؛ ځکه چې الفاظ دا دي: أَيَجْزِي عَنِّي أَنْ أُنْفِقَ عَلَى زَوْجِي وَأَيْتَامٍ لِي فِي حَجْرِي؟: که پر خپل خاوند او هغو يتيمانو ئې انفاق او مصرف کړم چې زما په

كفالت كي دي؛ نو آيا له ما (د زكات په څاى) منل كېږي؟

عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ رضى الله عنها قَالَتْ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَلِيَ أَجْرٌ أَنْ أُنْفِقَ عَلَى بَنِي أَبِي سَلَمَةَ؟ إِنَّمَا هُمْ بَنِيَّ. فَقَالَ: «أَنْفِقِي عَلَيْهِمْ فَلَكِ أَجْرُ مَا أَنْفَقْتِ عَلَيْهِمْ». (بخارى: ١٤٦٧)

له ام سلمة رضي الله عنها روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم ته مي وويل: يا رسول الله! آيا ما ته به د دې اجر راپه برخه كېږي چي د ابو سلمه (د سلمه پلار) پر زامنو لګښت كوم؛ هغوى زما زامن هم دي؟ رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (پر دوى لګښت كوه؛ تا ته به د هغه څه اجر درپه برخه كېږي چي پر هغوى ئې لګوې).

دا روايت په بخاري كې يو ځل بيا په دغې شمېرې راغلى: ٥٣٦٩؛ له دې توپير سره: په يوه كې أَلِيَ أَجْرٌ په بل كې هَلْ لِي مِنْ أَجْرٍ په يوه كې أَنْ أُنْفِقَ عَلَى بَنِي أَبِي سَلَمَةَ إِنَّمَا هُمْ بَنِيَّ په بل كې أَنْ أُنْفِقَ عَلَيْهِمْ، وَلَسْتُ بِتَارِكَتِهِمْ هَكَذَا وَهَكَذَا، إِنَّمَا هُمْ بَنِيَّ راغلي.

يادونه: ابو سلمه رضي الله عنه د ام سلمه رضي الله عنها لومړنى خاوند وو؛ له هغه ئې څلور زامن درلودل؛ د ده له وفات وروسته ئې له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره نكاح وشوه؛ د خپلو زامنو په اړه ئې له رسول الله صلى الله عليه و سلم پوښتلي چي آيا كولى شي خپل زكات او صدقات پر هغوى ولګوي؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: پر دوى لګښت كوه؛ تا ته به د هغه څه اجر درپه برخه كېږي چي پر هغوى ئې لګوې.

٣٣ باب: د الله تعالى دا قول چي فرمايي: (وفي الرقاب والغارمين وفي سبيل الله)

حَدَّثَنَا أَبُو اليَمَانِ، أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ، حَدَّثَنَا أَبُو الزِّنَادِ، عَنِ الأَعْرَجِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: أَمَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم بِالصَّدَقَةِ،

فَقِيلَ مَنَعَ ابْنُ جَمِيلٍ، وَخَالِدُ بْنُ الوَلِيدِ، وَعَبَّاسُ بْنُ عَبْدِ المُطَّلِبِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا يَنْقِمُ ابْنُ جَمِيلٍ إِلَّا أَنَّهُ كَانَ فَقِيرًا، فَأَغْنَاهُ اللَّهُ وَرَسُولُهُ، وَأَمَّا خَالِدٌ: فَإِنَّكُمْ تَظْلِمُونَ خَالِدًا، قَدِ احْتَبَسَ أَدْرَاعَهُ وَأَعْتُدَهُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، وَأَمَّا العَبَّاسُ بْنُ عَبْدِ المُطَّلِبِ، فَعَمُّ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم فَهِيَ عَلَيْهِ صَدَقَةٌ وَمِثْلُهَا مَعَهَا " تَابَعَهُ ابْنُ أَبِي الزِّنَادِ، عَنْ أَبِيهِ، وَقَالَ ابْنُ إِسْحَاقَ: عَنْ أَبِي الزِّنَادِ، «هِيَ عَلَيْهِ وَمِثْلُهَا مَعَهَا» وَقَالَ ابْنُ جُرَيْجٍ: حُدِّثْتُ عَنِ الأَعْرَجِ بِمِثْلِهِ. (بخاری: ١٤٦٨)

له ابو هریره رضي الله عنه روایت دئ چي وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم د زکات امر وکړ؛ ورته وویل شول چي ابن جمیل، خالد بن ولید او عباس بن عبدالمطلب زکات نه ورکوي. نو نبي صلی الله علیه و سلم وفرمایل: (ابن جمیل یوازي له دې کبله غصه کوي چي فقیر وو او الله تعالی او د هغه رسول شتمن کړ او خالد بن ولید رضي الله عنه چي دئ تاسو د هغه په حق کي ظلم کوئ؛ ځکه هغه خپلي زغري او عتاد (وسائل، أسباب او سورلۍ) د الله تعالی په لار (جهاد) کي وقف کړې دي؛ (هر څه ئې د جهاد په خدمت کي دي) او عباس بن عبدالمطلب رضي الله عنه چي دئ هغه د رسول الله صلی الله علیه و سلم تره دئ نو پر هغه هم زکات لازم دئ او په څنګ کي ئې همدومره نور.

یادونه: ویل شوي چي د ابن جمیل په اړه د رسول الله صلی الله علیه و سلم دا وینا د هغه مهال وینا وه چي ابن جمیل د منافقانو په ډله کي وو؛ د زکات له ورکولو ئې ډډه کوله؛ خو وروسته ئې توبه وکړه او رښتینی مسلمان شو.

په صحیح مسلم کي دا روایت داسي دئ:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: بَعَثَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم عُمَرَ عَلَى الصَّدَقَةِ، فَقِيلَ: مَنَعَ ابْنُ جَمِيلٍ، وَخَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ، وَالْعَبَّاسُ عَمُّ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم «مَا يَنْقِمُ ابْنُ جَمِيلٍ إِلَّا أَنَّهُ كَانَ فَقِيرًا فَأَغْنَاهُ اللهُ، وَأَمَّا خَالِدٌ فَإِنَّكُمْ تَظْلِمُونَ خَالِدًا، قَدِ احْتَبَسَ أَدْرَاعَهُ وَأَعْتَادَهُ فِي سَبِيلِ اللهِ، وَأَمَّا الْعَبَّاسُ فَهِيَ عَلَيَّ، وَمِثْلُهَا مَعَهَا» ثُمَّ قَالَ: «يَا عُمَرُ، أَمَا شَعَرْتَ أَنَّ عَمَّ الرَّجُلِ صِنْوُ أَبِيهِ؟» صحيح مسلم

له أبو هريره رضي الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم؛ عمر رضي الله عنه د زکات راغونډولو لپاره وګمارلو؛ وويل شول چې ابن جميل، خالد بن وليد او عباس د رسول الله صلى الله عليه و سلم تره د زکات له ورکړې امتناع وکړه؛ نو رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: ابن جميل به يوازې له دې کبله غصه کوي چې فقير وو او الله غني کړ؛ او خالد چې دئ تاسو د هغه په حق کې ظلم کوئ؛ ځکه هغه خپلې زغرې او عتاد (وسائل، أسباب او سورلۍ) د الله په لار کې وقف کړې دي؛ او عباس نو زکات ئې پر ما دئ او مثل ئې هم ورسره؛ بيا ئې وويل: يا عمر! آيا متوجه نه يې چې تره د پلار په څېر وي؟

د مسلم او بخاري د روايتونو راويان په دريو طبقو کې دا درې دي: أَبُو الزِّنَادِ، الْأَعْرَج او أَبُو هُرَيْرَةَ؛ د روايت محتوى او موضوع هم يوه ده؛ خو تر منځ ئې دا جدي توپير ګورو: د مسلم روايت کې داسې راغلي: وَأَمَّا الْعَبَّاسُ فَهِيَ عَلَيَّ، وَمِثْلُهَا مَعَهَا»: اما عباس چې دئ زکات ئې پر ما دئ او دې ته ورته ئې هم ورسره؛ او په بخاري کې د دې خلاف داسې راغلي: وَأَمَّا العَبَّاسُ بْنُ عَبْدِ المُطَّلِبِ، فَعَمُّ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم فَهِيَ عَلَيْهِ صَدَقَةٌ وَمِثْلُهَا مَعَهَا؛ او عباس بن عبدالمطلب چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم تره دئ؛ همدا صدقه پرې لازمه او ورته ئې ورسره؛ د بخاري د روايت له فحوى داسې معلوميږي چې ګواکې رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي چې عباس بن عبد المطلب د رسول الله صلى الله عليه و سلم تره دئ؛ نو دا زکات پرې لازم دئ او همدومره نور پرې سرېږه؛ يعني دى به دوه برابره زکات ورکوي!! نه دا الفاظ له رسول الله

صلی الله علیه و سلم سره ښایي او نه دا ممکنه ده چې رسول الله صلی الله علیه و سلم به د زکات مقدار زیات کړی وي؛ اما د مسلم روایت ښیي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم د خپل تره زکات پر خپله غاړه اخیستی او فرمایلي ئې دي چې تره د پلار په څېر دئ؛ زه ئې د سږ کال زکات هم ورکوم او د راتلونکي کال هم او یا دا چې نه یوازي زکات ئې ورکوم بلکې همدومره مقدار نور هم ورکوم. او په دې کې هیڅ مانع او حرج نه شته چې یو څوك تر زکات زیات څه ورکړي؛ په څرګنده توګه معلومېږي چې د مسلم روایت له هره پلوه د بخاري تر روایت غوره او له ابهام عاري دئ.

له دغو روایاتو په واضح توګه معلومېږي چې زکات به له شتمنو د هیئتونو په ذریعه راغونډېدو؛ لکه چې ګورئ دلته د زکات راغونډوونکو شکایت کړی چې دغو دریو ابن جمیل، خالد بن ولید او عباس رضي الله عنه د زکات له ورکړي امتناع کړې.

۳٤ باب: له سوالګرۍ ډډه کول

حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ، أَخْبَرَنَا مَالِكٌ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَزِيدَ اللَّيْثِيِّ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الخُدْرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: إِنَّ نَاسًا مِنَ الأَنْصَارِ سَأَلُوا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَعْطَاهُمْ، ثُمَّ سَأَلُوهُ، فَأَعْطَاهُمْ، ثُمَّ سَأَلُوهُ، فَأَعْطَاهُمْ حَتَّى نَفِدَ مَا عِنْدَهُ، فَقَالَ: «مَا يَكُونُ عِنْدِي مِنْ خَيْرٍ فَلَنْ أَدَّخِرَهُ عَنْكُمْ، وَمَنْ يَسْتَعْفِفْ يُعِفَّهُ اللَّهُ، وَمَنْ يَسْتَغْنِ يُغْنِهِ اللَّهُ وَمَنْ يَتَصَبَّرْ يُصَبِّرْهُ اللَّهُ، وَمَا أُعْطِيَ أَحَدٌ عَطَاءً خَيْرًا وَأَوْسَعَ مِنَ الصَّبْرِ» (بخاری: ۱٤٦۹)

له ابو سعید خدري رضي الله عنه روایت دئ چې د انصارو څو سړیو له رسول الله صلی الله علیه و سلم مرسته وغوښته؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم څه ورکړل؛ بیا ئې ترې مرسته وغوښته؛ نو بیا ئې هم څه ورکړل؛ بیا ئې ترې مرسته وغوښته؛ نو بیا ئې هم څه ورکړل؛ تر هغه

چې له ده سره شته مال خلاص شو؛ نو وئې فرمايل: له مال چې څه راسره وي له تاسو ئې نه سپموم؛ او څوک چې له سوالګرۍ ځان وساتي؛ الله تعالی ئې ترې ساتي؛ او څوک چې بې نيازي وښيي؛ الله تعالی ئې بې نيازه کوي او څوک چې په زحمت سره صبر وکړي الله تعالی صبر ورپه برخه کوي او هيڅا ته تر صبر غوره او لوی خير نه دئ ورکړل شوی.

دا روايت په بخاري کې يو ځل بيا په دغې شمېرې راغلی: ٦٤٧٠؛ له دې توپير سره: په يوه کې ثُمَّ سَأَلُوهُ فَأَعْطَاهُمْ، ثُمَّ سَأَلُوهُ فَأَعْطَاهُمْ، په بل کې فَلَمْ يَسْأَلْهُ أَحَدٌ مِنْهُمْ إِلَّا أَعْطَاهُ په يوه کې حَتَّى نَفِدَ مَا عِنْدَهُ فَقَالَ په بل کې حَتَّى نَفِدَ مَا عِنْدَهُ فَقَالَ لَهُمْ حِينَ نَفِدَ كُلُّ شَيْءٍ أَنْفَقَ بِيَدَيْهِ په يوه کې مَا يَكُونُ عِنْدِي مِنْ خَيْرٍ فَلَنْ أَدَّخِرَهُ عَنْكُمْ په بل کې مَا يَكُنْ عِنْدِي مِنْ خَيْرٍ لاَ أَدَّخِرْهُ عَنْكُمْ په يوه کې وَمَا أُعْطِيَ أَحَدٌ عَطَاءً خَيْرًا وَأَوْسَعَ مِنَ الصَّبْرِ په بل کې وَلَنْ تُعْطَوْا عَطَاءً خَيْرًا وَأَوْسَعَ مِنَ الصَّبْرِ راغلي.

د دواړو روایاتو راویان په دریو طبقو کې سره ورته او دا دي: ابْنِ شِهَاب الزهري، عَطَاءِ بْنِ يَزِيدَ اللَّيْثِيّ، أَبُو سَعِيد الخُدْرِيّ؛ خو په متن کې ئې ژور تفاوت او اختلاف مومو؛ يَو ئې وايي: د انصارو څو سړيو له رسول الله صلی الله عليه و سلم درې ځلي پر له پسې غوښتنه وکړه او ورئې کړه؛ بل ئې وايي: د دغې ډلې هر کس چې څه ترې غوښتي ورئې کړل؛ څوك چې د حديث درس ورکوي او څوك چې د استاد او مدرس درس ته ناست وي او يا د محدث کتاب لولي؛ نو مدرس او محدث بايد ووايي چې کوم روايت تر بل غوره دئ؛ طالب او لوستونکی بايد د همدې پوښتني ځواب ولټوي؛ په پټو سترګو ترې تېرېدل د تعليم او تعلم او د علمي او ديني ادب خلاف کار دئ؛ د دواړو روایاتو الفاظو ته په پام سره ويلی شو چې ٦٤٧٠ روايت ارجح دئ؛ ځکه د يوې ډلې د مکرر غوښتلو پر ځای داسي راغلي: فَلَمْ يَسْأَلْهُ أَحَدٌ مِنْهُمْ إِلَّا أَعْطَاهُ: د دوی هيڅ يوه څه ترې ونه غوښتل مګر داچې ورئې کړل؛ دا ځکه چې د انصارو د يوې ډلې له لوري مکرر غوښتنه مناسب او محتمل نه برېښي. بل روايت ئې داسي دئ:

عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ: أَخْبَرَنِي عَطَاءُ بْنُ يَزِيدَ اللَّيْثِيُّ، أَنَّ أَبَا سَعِيدٍ الخُدْرِيَّ أَخْبَرَهُ: أَنَّ أُنَاسًا مِنَ الأَنْصَارِ سَأَلُوا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَلَمْ يَسْأَلْهُ أَحَدٌ مِنْهُمْ إِلَّا أَعْطَاهُ حَتَّى نَفِدَ مَا عِنْدَهُ، فَقَالَ لَهُمْ حِينَ نَفِدَ كُلُّ شَيْءٍ أَنْفَقَ بِيَدَيْهِ: «مَا يَكُنْ عِنْدِي مِنْ خَيْرٍ لاَ أَدَّخِرْهُ عَنْكُمْ، وَإِنَّهُ مَنْ يَسْتَعِفَّ يُعِفَّهُ اللَّهُ، وَمَنْ يَتَصَبَّرْ يُصَبِّرْهُ اللَّهُ، وَمَنْ يَسْتَغْنِ يُغْنِهِ اللَّهُ، وَلَنْ تُعْطَوْا عَطَاءً خَيْرًا وَأَوْسَعَ مِنَ الصَّبْرِ» بخاری ٦٤٧٠

بخاري دواړه متعارض روايات راوړي؛ پرته له دې چې يو ئې ترې غوره کړي او د بخاري لوستونکو ته ووايي چې کوم يو ئې ارجح او اصح دئ؛ دواړو ته هممهاله صحيح ويل؛ د توجيه وړ نه دي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضى الله عنه: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم قَالَ: «وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، لأَنْ يَأْخُذَ أَحَدُكُمْ حَبْلَهُ فَيَحْتَطِبَ عَلَى ظَهْرِهِ، خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَأْتِيَ رَجُلاً فَيَسْأَلَهُ، أَعْطَاهُ أَوْ مَنَعَهُ». (بخاری:١٤٧٠)

له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (قسم په هغه ذات چې زما سا د هغه په واک کې ده که ستاسو کوم يو؛ خپله رسۍ واخلي او پر خپلې شا خس او بوټي راوړي؛ دا تر دې ورته غوره ده چې يوه سړي ته ورشي او څه ترې وغواړي؛ هغه ئې ورکړي يا ئې ورنه کړي.

دا روايت په بخاري کې درې ځلي نور په دغو شمېرو راغلی: ١٤٨٠، ٢٠٧٤، ٢٣٧٤؛ توپيرونه ئې دا دي: په يوه کې وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ راغلي په نورو کې نه دي راغلي، په يوه کې لأَنْ يَأْخُذَ أَحَدُكُمْ حَبْلَهُ فَيَحْتَطِبَ عَلَى ظَهْرِهِ په بل کې لأَنْ يَأْخُذَ أَحَدُكُمْ حَبْلَهُ، ثُمَّ يَغْدُوَ - أَحْسِبُهُ قَالَ - إِلَى الْجَبَلِ فَيَحْتَطِبَ، فَيَبِيعَ فَيَأْكُلَ وَيَتَصَدَّقَ په بل کې لأَنْ يَحْتَطِبَ أَحَدُكُمْ حُزْمَةً عَلَى ظَهْرِهِ په يوه کې خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَأْتِيَ رَجُلاً، فَيَسْأَلَهُ، أَعْطَاهُ أَوْ مَنَعَهُ په بل کې خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَسْأَلَ النَّاسَ په بل کې خَيْرٌ مِنْ أَنْ يَسْأَلَ أَحَدًا، فَيُعْطِيَهُ

أَوْ يَمْنَعَهُ راغلي.

په دغو څلورو روایاتو کې به هم یو غوره کوو؛ زه به له هغو دریو یو غوره کوم چې د قسم الفاظ په کې نه دي راغلي؛ دا ځکه چې په داسي مواردو کې قسم کول مناسب نه برېښي او بل دا چې له څلورو په دریو کې د قسم الفاظ نه دي راغلي.

عَنِ الزُّبَيْرِ بْنِ الْعَوَّامِ رضی الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم قَالَ: «لأَنْ يَأْخُذَ أَحَدُكُمْ حَبْلَهُ، فَيَأْتِيَ بِحُزْمَةِ الْحَطَبِ عَلَى ظَهْرِهِ فَيَبِيعَهَا، فَيَكُفَّ اللَّهُ بِهَا وَجْهَهُ، خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَسْأَلَ النَّاسَ، أَعْطَوْهُ أَوْ مَنَعُوهُ». (بخاری: ۱٤۷۱)

له زبیر بن عوام رضي الله عنه روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: دا چې ستاسو یو کس خپل پرې واخلي او پر خپلي شا یوه پنډه بوټي راوړي او وئې پلوري او په دې سره الله تعالی د ده پت او عزت وساتي دا تر دې ورته غوره دئ چې له خلکو سوال وکړي او هغوی څه ورکړي یا ئې ورنه کړي.

دا روایت په بخاري کې دوه ځلي نور په دغو شمېرو راغلی: ۲۰۷۵، ۲۳۷۳؛ له دغو توپیرونو سره: په یوه کې لَأَنْ يَأْخُذَ أَحَدُكُمْ حَبْلَهُ په بل کې «لَأَنْ يَأْخُذَ أَحَدُكُمْ أَحْبُلَهُ» په بل کې لَأَنْ يَأْخُذَ أَحَدُكُمْ أَحْبُلاً په یوه کې أَعْطَوْهُ أَوْ مَنَعُوهُ په بل کې أُعْطِيَ أَمْ مُنِعَ راغلي.

عَنْ حَكِيم بنِ حِزَامٍ رضی الله عنه قَالَ: سَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم فَأَعْطَانِي، ثُمَّ سَأَلْتُهُ فَأَعْطَانِي، ثُمَّ سَأَلْتُهُ فَأَعْطَانِي، ثُمَّ قَالَ: «يَا حَكِيمُ، إِنَّ هَذَا الْمَالَ خَضِرَةٌ حُلْوَةٌ، فَمَنْ أَخَذَهُ بِسَخَاوَةِ نَفْسٍ بُورِكَ لَهُ فِيهِ، وَمَنْ أَخَذَهُ بِإِشْرَافِ نَفْسٍ لَمْ يُبَارَكْ لَهُ فِيهِ، كَالَّذِي يَأْكُلُ وَلا يَشْبَعُ، الْيَدُ الْعُلْيَا خَيْرٌ مِنَ الْيَدِ السُّفْلَى». قَالَ حَكِيمٌ: فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ لا أَرْزَأُ أَحَدًا بَعْدَكَ شَيْئًا حَتَّى أُفَارِقَ الدُّنْيَا. فَكَانَ أَبُو بَكْرٍ رضی الله عنه

يَدْعُو حَكِيمًا إِلَى الْعَطَاءِ فَيَأْبَى أَنْ يَقْبَلَهُ مِنْهُ، ثُمَّ إِنَّ عُمَرَ رضى الله عنه دَعَاهُ لِيُعْطِيَهُ فَأَبَى أَنْ يَقْبَلَ مِنْهُ شَيْئًا، فَقَالَ عُمَرُ: إِنِّي أُشْهِدُكُمْ يَا مَعْشَرَ الْمُسْلِمِينَ عَلَى حَكِيمٍ أَنِّي أَعْرِضُ عَلَيْهِ حَقَّهُ مِنْ هَذَا الْفَيْءِ فَيَأْبَى أَنْ يَأْخُذَهُ، فَلَمْ يَرْزَأْ حَكِيمٌ أَحَدًا مِنَ النَّاسِ بَعْدَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم حَتَّى تُوُفِّيَ. (بخاری: ۱٤۷۲)

له حکیم بن حزام رضي الله عنه روایت دئ چې وایي: له رسول الله صلی الله علیه و سلم مي مرسته وغوښته؛ نو رائې کړه، بیا مي تړې وغوښتله نو بیا ئې راکړه، بیا مي تړې وغوښتله نو بیا ئې راکړه؛ بیا ئې وفرمایل: (اې حکیمه! دنیوي مال ډېر زړه راښکونکی او خوږ دئ؛ که چا د سخاوت له احساس سره تر لاسه کړ نو ده ته به برکتي کړی شي؛ او که چا د حرص او طمعي له احساس سره لاسته راوړ نو الله تعالی به ئې ورته برکتي نه کړي او داسي به وي لکه څوک چې خواړه خوري خو نه مړېږي او پورتنی لاس تر لاندیني غوره دئ). حکیم رضي الله عنه وایي: ومي ویل: یا رسول الله! قسم په هغه ذات چې ته ئې په حق رالېږلی یې تر تا وروسته به تر هغه له چا څه ونه غواړم چې له دنیا ببل شم؛ نو ابو بکر رضي الله عنه به (کله چې خلیفه شو) حکیم رضي الله عنه ته بلنه ورکوله چې څه ورکړي خو هغه به له دې ډډه کوله چې څه تړې قبول کړي؛ بیا عمر رضي الله عنه (د خپل خلافت په دوران کې) بلنه ورکړه چې څه ورکړي (معاش ورته وټاکي)؛ خو ده به له دې ډډه کوله چې څه تړې قبول کړي؛ نو عمر رضي الله عنه وویل: اې مسلمانانو! تاسو د حکیم په اړه شاهدان نیسم چې زه په (فيء وړیا غنیمت) کې د ده د حق وړاندیز ورته کوم خو هغه ئې له اخیستلو ډډه کوي؛ نو حکیم له رسول الله صلی الله علیه و سلم وروسته تر هغه له هیڅا څه ونه غوښتل چې وفات شو.

دا روایت په بخاري کې درې ځلي نور په دغو شمېرو راغلی: ۲۷۵۰،

۳۱٤۳، ٦٤٤۱؛ له دغو توپیرونو سره: په یوه کې فَمَنْ أَخَذَهُ بِسَخَاوَةِ نَفْسٍ(په پتمنه توګه او له حرص او الحاح پرته واخیست) بُورِكَ لَهُ فِيهِ په بل کې فَمَنْ أَخَذَهُ بِطِيبِ نَفْسٍ (په پاکیزه نفس سره) بُورِكَ لَهُ فِيهِ په یوه کې كَالَّذِی يَأْكُلُ وَلاَ يَشْبَعُ په بل کې وَكَانَ كَالَّذِی يَأْكُلُ وَلاَ يَشْبَعُ راغلي.

۳۵ باب: چا ته چې الله تعالی له سؤال او حرص پرته څه ورکړي

عَنْ عُمَرَ رضی الله عنه قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم يُعْطِينِي الْعَطَاءَ، فَأَقُولُ: أَعْطِهِ مَنْ هُوَ أَفْقَرُ إِلَيْهِ مِنِّي، فَقَالَ: «خُذْهُ إِذَا جَاءَكَ مِنْ هَذَا المَالِ شَيْءٌ وَأَنْتَ غَيْرُ مُشْرِفٍ وَلَا سَائِلٍ، فَخُذْهُ وَمَا لَا فَلَا تُتْبِعْهُ نَفْسَكَ».

(بخاری: ۱٤۷۳)

له عمر رضي الله عنه روایت دئ چې وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم به کله کله څه راکول؛ ما به ورته ویل: داسي چا ته ئې ورکړه چې تر ما ډېر ورته اړ وي؛ نو رسول الله صلی الله علیه و سلم راته وفرمایل: (کله چې داسي مال درته راشي نو وائې خله په داسي حال کې چې ته نه طمع کوونکی یې او نه سؤال کوونکی؛ نو وائې خله؛ او که داسي نه وي نو په طلب کې ئې مه ورپسې کېږه).

دا روایت په بخاري کې دوه ځلي نور په دغو شمېرو راغلی: ۷۱٦۳، ۷۱٦٤؛ له دغو توپیرونو سره: په یوه کې فَأَقُولُ أَعْطِهِ مَنْ هُوَ أَفْقَرُ إِلَيْهِ مني په بل کې فَأَقُولُ أَعْطِهِ أَفْقَرَ إِلَيْهِ مني په یوه کې خُذْهُ په بل کې خُذْهُ فَتَمَوَّلْهُ (خپل مال ئې کړه) وَتَصَدَّقْ بِهِ په یوه کې فَمَا جَاءَكَ مِنْ هَذَا الْمَالِ وَأَنْتَ غَيْرُ مُشْرِفٍ وَلَا سَائِلٍ فَخُذْهُ، وَإِلَّا فَلَا تُتْبِعْهُ نَفْسَكَ په بل کې إِذَا جَاءَكَ مِنْ هَذَا الْمَالِ شَيْءٌ، وَأَنْتَ غَيْرُ مُشْرِفٍ وَلَا سَائِلٍ، فَخُذْهُ راغلي.

۳٦ باب: څوك چې ډېر سؤال کوي (د ډېرښت په موخه)

عَنْ عَبْدِاللَّهِ بْنِ عُمَرَ رضی الله عنهما قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم «مَا يَزَالُ الرَّجُلُ يَسْأَلُ النَّاسَ حَتَّى يَأْتِيَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ لَيْسَ فِي وَجْهِهِ مُزْعَةُ

لَحْمٍ». وَقَالَ: «إِنَّ الشَّمْسَ تَدْنُو يَوْمَ الْقِيَامَةِ حَتَّى يَبْلُغَ الْعَرَقُ نِصْفَ الأُذُنِ، فَبَيْنَا هُمْ كَذَلِكَ اسْتَغَاثُوا بِآدَمَ، ثُمَّ بِمُوسَى، ثُمَّ بِمُحَمَّدٍ صلى الله عليه و سلم». (بخاری: ١٤٧٤، ١٤٧٥)

له عبد الله بن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: نبي صلى الله عليه و سلم وفرمايل: يو سړی په پر له پسې توګه له خلکو څه غواړي؛ تر هغه چي د قيامت په ورځ به په داسي حال کې راشي چي پر مخ به ئې د غوښي کومه ټوټه نه وي؛ او وئې فرمايل: يقيناً چي د قيامت په ورځ به لمر دومره رانژدې شي چي خولې به د غوږ تر نيمايي ورسېږي؛ نو په داسي حال کې چي دوی به همداسي وي د آدم عليه السلام، موسى عليه السلام او محمد صلى الله عليه و سلم له لاري به استغاثه (د مرستي غوښتنه) وکړي.

دا روايت په بخاري کې يو ځل راغلی؛ غريب دئ؛ په ۵ طبقو کې يو يو راوي لري چې دا دي: يَحْيَى بْن بُكَيْرٍ، لَيْثٌ، عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي جَعْفَرٍ، حَمْزَةَ بْن عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ له بخاري پرته يوازي په سنن نسائي او شعب الإيمان للبيهقي کې له همدې متن او سند سره راغلی؛ روايت دوه برخي لري چې په بخاري کې بېل بېل په دغو شمېرو راغلی: ١٤٧٤، ١٤٧٥؛ دواړه روايات يو ځايي راوړل شوي خو مطالب ئې په بشپړه توګه بېل بېل دي. د يحيى بن بكير په اړه راغلي: ابن حزم؛ يو روايت چي يحيى بن بكير ئې په راويانو کې دئ؛ په کلکه ردوي؛ روايت دا دئ:

عن يحي بن بكير عن سَوَّار بن مصعب ... عن البراء بن عازب أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم قَالَ: «مَا أُكِلَ لَحْمُهُ فَلَا بَأْسَ بِبَوْلِهِ» قال: هذا خبر باطل موضوع، لان سوار بن مصعب متروك عند جميع أهل النقل، متفق على ترك الرواية عنه، يروى الموضوعات.

يحيى بن بكير له سوار بن مصعب روايت کوي؛ د راويانو لړۍ ئې تر

براء بن عازب رضي الله عنه پوري رسېږي چې ويلي ئې دي: رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: هغه چې غوښه ئې خوړل کېږي په ميتيازو کې ئې هم کومه ستونزه او بدي نه شته؛ چې دا باطله وينا او موضوعي او جعلي خبره ده؛ او د سوار بن مصعب په اړه د حديث علم ټول علماء متفق دي چې د ده روايات متروك او غير معتبر دي او جعلي روايات بيانوي.

يحيى بن بكير چې د بخاري په ثقه راويانو کې نيول شوی؛ د سوار بن مصعب په خبر متروك او مشبوه او د موضوعي رواياتو په نقلولو تورن شخص؛ داسي غلطي خبري مني او نورو ته ئې نقلوي؛ دا که هر څومره ښه سړی وي؛ بايد د ثقه راويانو له فهرست وايستل شي؛ او د خبري په منلو کې ئې احتياط وشي.

قرآن وينه حرام ګڼي؛ په ځانګړې توګه هغه بهېدونکې وينه چې د حيوان د ذبحي په وخت کې تري وځي؛ د خنزير په خوا کې ئې حرمت بيانوي او فرمايي:

قُلْ لا أَجِدُ فِي مَا أُوحِيَ إِلَيَّ مُحَرَّمًا عَلَى طَاعِمٍ يَطْعَمُهُ إِلا أَنْ يَكُونَ مَيْتَةً أَوْ دَمًا مَسْفُوحًا أَوْ لَحْمَ خِنْزِيرٍ فَإِنَّهُ رِجْسٌ أَوْ فِسْقًا أُهِلَّ لِغَيْرِ اللَّهِ بِهِ ...

﴿١٤٥﴾ الأنعام

ووايه: په هغه څه کې چې ما ته ئې وحي شوې له دې پرته بل حرام توکی پر هغه خوړونکي چې خوري ئې نه مومم چې يا مردار شوی وي، يا بهېدونکې وينه، يا د خنزير غوښه چې پليته ده، يا هغه ناجائزه (ذبيحه) چې له الله پرته د بل چا نوم پرې اخيستل شوی وي....

دلته پيغمبر عليه السلام ته ويل شوي چې مشرکينو ته ووايي: په هغو څارويو کې چې خلك ئې همدا اوس غوښه خوري؛ هيڅ يو ئې په هغي الهي وحي کې حرام نه مومم چې پر ما نازله شوې؛ مګر دا چې مردار شوی وي، يا بهېدونکې وينه وي، يا د خنزير غوښه چې پليته ده، يا هغه ناجائزه (ذبيحه) چې له الله پرته د بل چا نوم پرې اخيستل شوی

وي.

د انسان او حیوان بولي د ویني هغه برخه ده چې پښتورګي ئې د ویني د تصفیې لپاره تري بېلوي او له بدن ئې باسي؛ که دا تاوانې توکی له ویني ونه ایستل شي؛ د هر ژوي ژوند له جدي ګواښ سره مخ کېږي؛ یعني د ویني تر ټولو زیات مضر او حرام شی بولي دي؛ خو یحیی بن بکیر د بخاري یو راوي؛ همدا حرامي بولي د څاروي د غوښې په څېر ګڼي او اړوند روایت ئې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته منسوبوي؛ هغه هم د یوه مشبوه او متروك راوي له خولې!!

یعني چې د بخاري دا ډېر غریب او ناآشنا روایت نه یوازي د إسنادو له پلوه ستونزه لري؛ دا ځکه چې راویان ئې په صحابه وو، تابعینو او اتباع تابعینو کې هیڅ شاهد نه لري؛ بلکې د درایت او فراست له پلوه هم په تله درونده او معتبر نه خېژي؛ عقل دا خبره نه مني چې په یوه ورځ کې؛ که هر څومره اوږده او توده وي؛ له یوه کس یا له ټولو انسانانو؛ دومره خولې ووځي چې ټوله زمکه به پوښي او ټول انسانان به تر غوږونو پوري په کې ډوب وي؛ انسان د څو لیټره خولو په نتیجه کې مري؛ دا هم باید په پام کې ولرو چې د قیامت په ورځ به لومړی محاسبه وي او بیا به له محاسبې وروسته؛ د مکافات او مجازات لړۍ؛ په جنت او دوزخ کې پیل کېږي.

۳۷ باب: د غناء (شتمنۍ) اندازه

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضی الله عنه: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم قَالَ: «لَيْسَ الْمِسْكِينُ الَّذِی يَطُوفُ عَلَى النَّاسِ، تَرُدُّهُ اللُّقْمَةُ وَاللُّقْمَتَانِ، وَالتَّمْرَةُ وَالتَّمْرَتَانِ، وَلَكِنِ الْمِسْكِينُ الَّذِی لا يَجِدُ غِنًى يُغْنِيهِ، وَلا يُفْطَنُ بِهِ فَيُتَصَدَّقُ عَلَيْهِ، وَلا يَقُومُ فَيَسْأَلُ النَّاسَ». (بخاری: ۱٤۷۹)

له ابو هریره رضي الله عنه روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: (مسکین هغه نه دئ چې په خلکو ګرځي، یوه ګوله، دوې

ګولې، یوه خرما او دوې خرماوي په لاس ورشي؛ بلکي مسکین هغه دئ چې دومره شتمني نه لري چې شتمن او بې نیاز ئې کړي؛ او څوک ئې پر حال نه پوهېږي چې صدقه او خیرات ورکړی شي؛ او نه په خپله پاڅي چې له خلکو سؤال وکړي).

دا روایت په بخاري کې دوه ځلي نور په دغو شمېرو راغلی: ۱٤۷٦، ٤٥۳۹؛ له دغو توپیرونو سره: په یوه کې يَطُوفُ عَلَى النَّاسِ تَرُدُّهُ اللُّقْمَةُ وَاللُّقْمَتَانِ وَالتَّمْرَةُ وَالتَّمْرَتَانِ په بل کې تَرُدُّهُ الأُكْلَةُ وَالأُكْلَتَانِ په بل کې تَرُدُّهُ التَّمْرَةُ وَالتَّمْرَتَانِ وَلَا اللُّقْمَةُ وَلَا اللُّقْمَتَانِ په یوه کې تَرُدُّهُ التَّمْرَةُ وَالتَّمْرَتَانِ وَلَا اللُّقْمَةُ وَلَا اللُّقْمَتَانِ په بل کې لَيْسَ لَهُ غِنًى وَيَسْتَحْيِي أَوْ لَا يَسْأَلُ النَّاسَ إِلْحَافًا په بل کې يَتَعَفَّفُ وَاقْرَءُوا إِنْ شِئْتُمْ يَعْنِي قَوْلَهُ (لَا يَسْأَلُونَ النَّاسَ إِلْحَافًا) راغلي.

دا روایت که څه هم د غناء د اندازې تر باب لاندې راوړل شوی خو د غناء د اندازې په اړه څه نه دي په کې ویل شوي؛ بلکي مسکین ئې راښودلی؛ د غناء د حد په اړه په بل روایت کې راغلي چې پنځوس درهمه دئ؛ ښایي هغه مهال دا مقدار شتمني د یوه سړي او د هغه د عیال لپاره کفایت کولو.

۳۸ باب: د خرما د اندازې تخمین

عَنْ أَبِي حُمَيْدٍ السَّاعِدِيِّ رضى الله عنه قَالَ: غَزَوْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم غَزْوَةَ تَبُوكَ، فَلَمَّا جَاءَ وَادِيَ الْقُرَى، إِذَا امْرَأَةٌ فِي حَدِيقَةٍ لَهَا، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم لأَصْحَابِهِ: «اخْرُصُوا». وَخَرَصَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم عَشَرَةَ أَوْسُقٍ. فَقَالَ لَهَا: «أَحْصِي مَا يَخْرُجُ مِنْهَا». فَلَمَّا أَتَيْنَا تَبُوكَ قَالَ: «أَمَا إِنَّهَا سَتَهُبُّ اللَّيْلَةَ رِيحٌ شَدِيدَةٌ، فَلا يَقُومَنَّ أَحَدٌ، وَمَنْ كَانَ مَعَهُ بَعِيرٌ فَلْيَعْقِلْهُ». فَعَقَلْنَاهَا، وَهَبَّتْ رِيحٌ شَدِيدَةٌ، فَقَامَ رَجُلٌ فَأَلْقَتْهُ بِجَبَلِ طَيِّءٍ، وَأَهْدَى مَلِكُ أَيْلَةَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم بَغْلَةً بَيْضَاءَ، وَكَسَاهُ بُرْدًا، وَكَتَبَ لَهُ بِبَحْرِهِمْ، فَلَمَّا أَتَى وَادِيَ الْقُرَى قَالَ لِلْمَرْأَةِ:

«كَمْ جَاءَ حَدِيقَتُكِ»؟ قَالَتْ: عَشَرَةَ أَوْسُقٍ، خَرْصَ رَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم. فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم «إِنِّي مُتَعَجِّلٌ إِلَى الْمَدِينَةِ، فَمَنْ أَرَادَ مِنْكُمْ أَنْ يَتَعَجَّلَ مَعِي فَلْيَتَعَجَّلْ». فَلَمَّا - قَالَ الراوى كَلِمَةً مَعْنَاهَا- أَشْرَفَ عَلَى الْمَدِينَةِ قَالَ: «هَذِهِ طَابَةُ». فَلَمَّا رَأَى أُحُدًا قَالَ: «هَذَا جُبَيْلٌ يُحِبُّنَا وَنُحِبُّهُ، أَلا أُخْبِرُكُمْ بِخَيْرِ دُورِ الأَنْصَارِ»؟ قَالُوا: بَلَى. قَالَ: «دُورُ بَنِي النَّجَّارِ، ثُمَّ دُورُ بَنِي عَبْدِالأَشْهَلِ، ثُمَّ دُورُ بَنِي سَاعِدَةَ؛ او دُورُ بَنِي الْحَارِثِ بْنِ الْخَزْرَجِ، وَفِي كُلِّ دُورِ الأَنْصَارِ- يَعْنِي-خَيْرًا». (بخاری: ۱٤۸۱)

له ابو حُمَيد ساعدي رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره مو د تبوک په غزا کي غزا وکړه؛ کله چي (وادي القریٰ) ته ورسېدو؛ هغه مهال يوه ښځه په خپل باغ کي وه؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم خپلو يارانو ته وويل: (د خرماوو) اندازه ولګوئ؛ او رسول الله صلى الله عليه و سلم وانګېرل چي لس وسقه به وي؛ هغې ته ئې وفرمايل: (څه چي ترې راوځي اندازه ئې په ياد ساته)؛ کله چي تبوک ته ورسېدو وئې فرمايل: (نن شپه به سخته سيلۍ راشي؛ هيڅوک دي له خپل ځای نه پاڅي؛ او چا سره چي اوښ وي هغه دي کلک وتړي)؛ نو مور هغوی وتړل؛ سخته سيلۍ راغله؛ يو سړی پاڅېد چي د (طئ) پر غره ئې وغورځاوو. د (ايله) پاچا رسول الله صلى الله عليه و سلم ته يوه سپينه کچره هديه کړه او (رسول الله صلى الله عليه و سلم) هغه ته يو ځادر ورواغوست؛ او د هغه لپاره ئې د دوی د سمندر (سيمي) په اړه ليکنه وکړه؛ (سيمه ئې د دوی تر واك لاندي پرېښوده؛ دا سيمه ځکه د سمندر په نامه يادە شوې چي د سمندر په غاړه پرته وه). او کله چي رسول الله صلى الله عليه و سلم بېرته وادي القری ته راورسېد؛ همغي ښځي ته ئې وفرمايل: (باغ دي څومره حاصل ورکړ؟) ښځي وويل: همغه لس وسقه چي رسول الله صلى الله عليه و سلم ئې تخمين کړی وو؛ بيا نبي صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (زه مدينې ته بېړه لرم که څوک په

بيړه را سره ځي نو بيړه دي وکړي)؛ کله چې ئې پر مدينې سترګي ولګېدې (راوي داسي کلمه وويله چې معنى ئې همدا وه)؛ وئې فرمايل: (دا ښکلى او مبارک دئ) او کله چې ئې د احد غر ولید وئې فرمايل: (دا هغه وړوکى غر دئ چې هغه له مور سره او مور له هغه سره مينه لرو؛ آيا غواړئ د انصارو تر ټولو غوره استوګنځي دروښيم؟) يارانو ئې وويل: هو؛ ولي نه؛ وئې فرمايل: (د بني نجار استوګنځي، بيا د بني عبدالاشهل استوګنځي، بيا د بني ساعده استوګنځي يا د بني حارث بن خزرج استوګنځي او د انصارو په ټولو استوګنځيو کې خير دئ).

دا روايت په بخاري کې څلور ځلي نور په دغو شمېرو راغلى: ۱۸۷۲، ۳۱۶۱، ۳۷۹۱، ٤٤۲۲؛ له دغو توپيرونو سره: په اصل کې د همدې يوه روايت ببلي ببلي برخې په نورو روايتو کې راغلې دي. خو په يوه کې دا هم راغلي فَأَدْرَكَ سَعْدٌ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ، خُيِّرَ دُورُ الأَنْصَارِ فَجُعِلْنَا آخِرًا. فَقَالَ «أَوَلَيْسَ بِحَسْبِكُمْ أَنْ تَكُونُوا مِنَ الْخِيَارِ: سعد بن عباده د خزرجيانو مشر رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ورغى او وئې ويل: مور دي د انصارو د غوره استوګنځيو په آخر کې وګڼلو! رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: آيا دا درته کافي نه دي چې په غورو کې يئ.

دا روايت هم له بخاري پرته د حديث په هيڅ معروف کتاب کې؛ د صحاح سته په شمول نه دئ راغلى؛ يعني چې ټولو نورو کتابونو د راوړلو وړ نه دئ ګڼلى؛ د إسنادو له پلوه مطلق غريب دئ؛ راويان ئې دا دي: سَهْل بْن بَكَّار، وُهَيْب، عَمْرِو بْنِ يَحْيَى، عَبَّاس السَّاعِدِي او أَبُو حُمَيْدٍ السَّاعِدِيّ؛ امام بخاري ته له سَهْل بْن بَكَّار رسېدلى؛ د ده په اړه ابن حجر وايي: ثقة ربما وهم: ثقه دئ خو کله کله له خپل خيال او وهم څه وايي؛ د بل راوي وُهَيب په اړه وايي: ثقة ثبت لكنه تغير قليلا بآخرة: ثقه ګڼل شوى خو د عمر په پاى کې لږ بدل شو؛ يعني چې دا روايت ډېر ډېر غريب او ناآشنا دئ او په راويانو کې ئې داسي ضعيف کسان هم ليدل کېږي. په متن کې ئې داسي څه مومو چې عقل ئې نه مني او هغه دا چې

تېز باد یو کس په سر واخیست او د طئ پر غره ئې وغورځاوو. قرآن د عاد قوم د سخت تعذیب په اړه چې سرکښه سیلۍ پرې مسلطه شوې وه فرمایي:

وَأَمَّا عَادٌ فَأُهْلِكُواْ بِرِيحٍ صَرْصَرٍ عَاتِيَةٍ ۝٦ سَخَّرَهَا عَلَيْهِمْ سَبْعَ لَيَالٍ وَثَمَٰنِيَةَ أَيَّامٍ حُسُومٗاۖ فَتَرَى ٱلْقَوْمَ فِيهَا صَرْعَىٰ كَأَنَّهُمْ أَعْجَازُ نَخْلٍ خَاوِيَةٍ ۝٧ الحاقه

او عادیان چې په سرکښۍ توند باد هلاك شول؛ اُوه شپې او اته ورځې ئې دا پرېکنده (سیلۍ) پرې مسلط کړه؛ دا قوم به دي په دې (وخت) کې داسي موندلی وو چې پرمخي پراته دي، لکه ستې د خرما، تشي او له جړو ایستل شوې.

دغو آیتونو کې د عاد د سرکښ قوم د هلاکت څرنګوالی په ډېره عبرتناکه توګه انځور شوی او څو حقائق زمونږ مخي ته ږدي:

الف: دې عذاب اُوه شپې او اته ورځې دوام وکړ؛ خو ولې اُوه شپې او اته ورځې؟ ولې یوه اونۍ او یوازي اُوه شپې ورځې نه؟ آیا دا د دې لپاره چې څرګند ګناهونه ئې تر پټو زیات وو؟ او یا د دې لپاره چې د ورځې په رڼا کې به ئې دومره جنایات کول چې د شپو په تیاره کې به د دوی تر خیانتونو زیات ول؟ او یا له دې امله چې د اونۍ اُوه شپې ورځې به ئې په ګناه، عصیان او خیانت کې تېرې کړې او د راتلونکي اونۍ په سبا به ئې هم د جنایت او خیانت کلك هوډ کاوو؟ ښایي دا ټول، ځکه چې الهي عذاب تل د معذب شوو خلکو له کړنو سره متناسب او ورته وي.

ب: عادیانو داسي لوړ لوړ او دنګ دنګ قدونه درلودل چې د دوی په څېر خلك په هیڅ ځای کې نه تر سترګو کېدل، د دې تونديو سړې سیلۍ له کبله له داسي عبرتناك برخلیك سره مخامخ شول چې د مړو اجساد ئې په هغې وراني سیمې کې د ږنګو دېوالونو او نسکور شوو چتونو شاوخوا ته خواره واره پراته وو، داسي برېښېدل لکه د خرما کاواکه ستې چې له جړو ایستل شوې او هرې خوا ته نسکوري پرتې وي، د دوی

ظاهر؛ ښايسته او ځواکمن برېښېدو خو منځ ئې تش او کاواك، ظاهر ئې د خرما د سمسورو او دنګو ونو په څېر برېښېدو او دا ګمان پرې کېدو چې جړۍ به ئې په زمکې کې ژوري تللې وي؛ او آسمان هم په خپلې غېږ کې نیولې او قد ئې ورلوړ کړی، خو په حقیقت کې د دې ونو منځ تش او جړۍ ئې وچې وې، چې په یوې توندې سیلۍ له جړو وایستلی شوې او پر زمکه راپرېوتې.

ګورئ چې د سخت الهي عذاب دغې توندې او سرکښې سیلۍ هم څوك پر کوم غره نه دئ غورځولی؛ بلکې د خرما د ستو په څېر ئې نسکور کړي!! بادونه انسانان نسکورولی او رغړولی شي خو د خس او خاشاك په څېر ئې الوزولی نه شي.

قرآن د تبوك غزوې په اړه تفصیلي بحث لري؛ د التوبه سورې څو آیتونه ئې همدې بحث ته مختص کړي؛ په دې آیتونو کې نه یوازې د دې روایت دا خبرې نه مومو؛ بلکې خلاف ئې دا مومو چې قرآن وایي دا غزوه د دوبي د سختي ګرمي په موسم کې وه؛ دومره ګرمي چې منافقینو ویل: په دې ګرمي کې د جهاد لپاره مه وځئ؛ آیت دا دئ:

فَرِحَ الْمُخَلَّفُونَ بِمَقْعَدِهِمْ خِلافَ رَسُولِ اللَّهِ وَكَرِهُوا أَنْ يُجَاهِدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَقَالُوا لا تَنْفِرُوا فِي الْحَرِّ قُلْ نَارُ جَهَنَّمَ أَشَدُّ حَرًّا لَوْ كَانُوا يَفْقَهُونَ ﴿٨١﴾ التوبة

شا ته پرېښودل شوي (وګړي) د الله د رسول په خلاف په خپلې ناستي خوشحاله شول او له دې ئې کرکه وکړه چې د الله په لار کې په خپل مال او ځان سره جهاد وکړي او وئې ویل: په دې ګرمي کې مه وځئ؛ (ورته) ووایه: د دوزخ اور تر ټولو زیات ګرم دئ؛ کاش دوی پوهېدی.

د آیت له فحوی داسې معلومېږي چې د سورې دا برخه (له ۷۹ آیت د سورې تر پای پورې) د تبوك له غزوې وروسته او هغه مهال نازله شوې چې رسول الله صلی الله علیه و سلم له تبوك ېرته د مدینې په لوري خوځېدلی او لا مدینې ته نه وو رسېدلی، ځکه په دې آیت کې ویل

شوي چې منافقین په دې خوښ شول چې وروسته پاته شي او په دې غزوې کې برخه وانخلي، ورپسې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ویل شوي چې که الله تعالی هغوی ته ورستون کړې او دوی درنه وغوښتل چې په نورو غزواتو کې له تا سره برخه واخلي نو د رد ځواب ورکړه.

په دې ۵۱ آیتونو کې د تبوك د غزوې ډېر ابعاد؛ له تګ مخکې او وروسته ځې؛ په ډېر دقت او تفصیل سره څېړل شوي؛ د مخلصینو، منافقینو، شتمنو، غریبانو، مهاجرینو، انصارو، هغه چې د عذر له کبله پاته شوي، هغه چې بې له عذر او د منافقت له کبله پاته شوي، هغه چې نور ځې هم له تګ منع کول، هغه چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم او لښکر له بریالي راستنېدو وروسته ځې د خپلې پاته کېدا لپاره دلائل او عذرونه وړاندې کول؛ هغه مخلصین چې په خپلې غلطي ځې اعتراف کړی، د دوی له ډلې هغه درې جلیل القدر صحابه چې اعتراف ځې وکړ او د توبې قبلېدا ځې تر یوې نېټې وځنډول شوه؛ او بیا الله تعالی په قرآن کې د دوی او د توبې قبلېدا یادونه وکړه، او ډېر نور مطالب؛ په دې ټولو آیتونو کې د دې روایت دا خبره نه مومو.

که د سړې او توندې سیلې واقعه رامنځته شوې وی؛ دومره تونده چې یو تن ځې په هوا کړی او لرې ځې پر غره غورځولی؛ نو د دې لوی لښکر ډېرو جنګیالیو به دا عجیبه او حیرانوونکې پېښه نورو ته ویلې وه او د حدیث ټولو کتابونو به راوړې وه؛ د دې کس نوم به اخیستل شوی وو، پلار، زوی او ورور به ځې ویلي وو چې زموږ له فلاني خپلوان سره د تبوك د غزوې په دوران کې څه وشول؛ خو دا خبرې نه په بخاري کې مومو او نه د حدیث او تاریخ په کتابونو کې!! دې ټولو ته په پام؛ په بشپړ یقین سره ویلی شو چې دا روایت نه د منلو دئ او نه بل ته د ویلو؛ اصولاً په ډېرو پوري د اړوند پېښو روایات هغه مهال د اعتبار وړ دي چې له ډېرو په یو ډول واورېدل شي؛ خو دا روایت داسې دئ چې نه له ټول لوی لښکر یو بل راوي لري؛ او نه په صحابه وو، تابعینو او اتباع تابعینو کې تر یوه زیات راویان.

۳۹ باب: په هغو حاصلاتو كي چي د باران يا په جاري اوبو خړوبېږي عشر (لسمه برخه) لازمېږي

عَنْ عَبْدِاللَّهِ بْنِ عُمَرَ رضى الله عنهما عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم قَالَ: «فِيمَا سَقَتِ السَّمَاءُ وَالْعُيُونُ؛ او كَانَ عَثَرِيًّا، الْعُشْرُ، وَمَا سُقِيَ بِالنَّضْحِ، نِصْفُ الْعُشْرِ». (بخارى: ۱۴۸۳)

له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (په هغه (كښت) كي چي د آسمان او چينو په اوبو خړوبېږي او هغه چي په خپله خړوبېږي لسمه برخه (د حاصل ئې زكات) راځي؛ او كوم كښت چي په راايستونكو اوبو (لكه حيواني ارهټ او...) خړوبېږي؛ په هغوى كي د عشر نيمايي يا شلمه برخه (د حاصل ئې زكات) دئ).

دا روايت په بخاري كي يو ځل راغلى؛ غريب دئ؛ په ٦ طبقو كي يو يو راوي لري چي دا دي: سَعِيد بْن أَبِي مَرْيَم، عَبْدُ اللَّهِ بْن وَهْب، يُونُس بْن يَزِيد، الزُّهْرِيّ، سَالِم بْنِ عَبْدِ اللَّهِ او پلار ئې عبد الله بن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهما.

٤٠ باب: د خرما زكات د ټولولو په مهال اخيستل كېږي

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضى الله عنه قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم يُؤْتَى بِالتَّمْرِ عِنْدَ صِرَامِ النَّخْلِ، فَيَجِيءُ هَذَا بِتَمْرِهِ، وَهَذَا مِنْ تَمْرِهِ، حَتَّى يَصِيرَ عِنْدَهُ كَوْمًا مِنْ تَمْرٍ، فَجَعَلَ الْحَسَنُ وَالْحُسَيْنُ رضى الله عنه يَلْعَبَانِ بِذَلِكَ التَّمْرِ، فَأَخَذَ أَحَدُهُمَا تَمْرَةً فَجَعَلَهَا فِي فِيهِ، فَنَظَرَ إِلَيْهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم فَأَخْرَجَهَا مِنْ فِيهِ، فَقَالَ: «أَمَا عَلِمْتَ أَنَّ آلَ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم لا يَأْكُلُونَ الصَّدَقَةَ». (بخارى: ۱۴۸۵)

له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: د كجورو د راټولولو

په مهال به رسول الله صلى الله عليه و سلم ته کجوري راوړل کېدلې؛ دې کس به خپلې کجوري ورته راوړې او هغه بل به خپلې کجوري؛ نو د ده خوا ته به د کجورو کُوَتَه (ډېرې) جوړه شوه؛ حسن او حسين رضي الله عنهما به له دې کجورو سره لوبې کولې؛ يوه ئې يوه خرما واخيسته او په خوله ئې کړه؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم ورته وکتل او د هغه له خولې ئې راوايستله؛ او وئې فرمايل: (آيا نه پوهېږې چې آل محمد؛ زکات او خيرات نه خوري؟).

دا روايت په بخاري کې دوه ځلي نور په دغو شمېرو راغلى: ۱٤۹۱، ۳۰۷۲؛ غريب دئ؛ په ٦ طبقو کې يو يو راوي لري چې دا دي: عُمَر بْن مُحَمَّدِ بْنِ الحَسَنِ الأَسَدِي، پلار ئې مُحَمَّدِ بْنِ الحَسَنِ الأَسَدِي، إِبْرَاهِيم بْن طَهْمَان، مُحَمَّد بْن زِيَاد او أَبو هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ. توپيرونه ئې دا دي: په يوه کې فَأَخَذَ أَحَدُهُمَا تَمْرَةً، فَجَعَلَهَا فِي فِيهِ په بل کې أَنَّ الْحَسَنَ بْنَ عَلِيّ أَخَذَ تَمْرَةً مِنْ تَمْرِ الصَّدَقَةِ، فَجَعَلَهَا فِي فِيهِ په يوه کې فَقَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم "كِخْ كِخْ " لِيَطْرَحَهَا ثُمَّ قَالَ- «أَمَا شَعَرْتَ أَنَّا لَا نَأْكُلُ الصَّدَقَةَ» په بل کې فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم بِالفَارِسِيَّةِ: «كِخْ كِخْ، أَمَا تَعْرِفُ أَنَّا لاَ نَأْكُلُ الصَّدَقَةَ» په بل کې فَقَالَ « أَمَا عَلِمْتَ أَنَّ آلَ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم لَا يَأْكُلُونَ الصَّدَقَةَ » راغلي.

د بخاري هغه روايت چې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم په فارسي وفرمايل: كِخْ كِخْ أَمَا تَعْرِفُ أَنَّا لَا نَأْكُلُ الصَّدَقَةَ؛ هم غريب دئ او هم له بخاري پرته په بل هيڅ معروف کتاب کې نه دئ راغلى؛ يعني چې له امام بخاري پرته بل هيڅوا د اعتبار وړ نه دئ ګڼلى؛ که چا په کوم غير معروف کتاب کې راوړى نو د بخاري په حواله ئې راوړى. روايت دا دئ: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ زِيَادٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ الْحَسَنَ بْنَ عَلِيٍّ أَخَذَ تَمْرَةً مِنْ تَمْرِ الصَّدَقَةِ فَجَعَلَهَا فِي فِيهِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم بِالْفَارِسِيَّةِ كِخْ كِخْ أَمَا تَعْرِفُ أَنَّا لَا نَأْكُلُ الصَّدَقَةَ. بخارى: ۳۰۷۲

دا باید په پام کې ولرو چې امام بخاري؛ د نیشاپور په فارسي ژبې ښار کې پاته شوی؛ ښایي د کخ الفاظو منشأ دغه وي؛ او امام بخاري همدلته له داسي راوي اوربدلی وي چې په فارسي پوهېدو او هغه د عربي الفاظو په ځای د فارسي دا الفاظ کارولي.

٤١ باب: آیا څوك کولی شي خپل زکات (صدقات) وپېري؟

عَنْ عُمَرَ رضی الله عنه قَالَ: حَمَلْتُ عَلَى فَرَسٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، فَأَضَاعَهُ الَّذِي كَانَ عِنْدَهُ، فَأَرَدْتُ أَنْ أَشْتَرِيَهُ، وَظَنَنْتُ أَنَّهُ يَبِيعُهُ بِرُخْصٍ، فَسَأَلْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم فَقَالَ: «لا تَشْتَرِهِ، وَلا تَعُدْ فِي صَدَقَتِكَ، وَإِنْ أَعْطَاكَهُ بِدِرْهَمٍ، فَإِنَّ الْعَائِدَ فِي صَدَقَتِهِ كَالْعَائِدِ فِي قَيْئِهِ». (بخاری: ١٤٩٠)

له عمر رضي الله عنه روایت دئ چې وایي: یوه سړي ته مي د الله په لار کي د جهاد لپاره آس ورکړ؛ خو دا (آس چې کله د هغه شو) نو ضائع او خوار ئې کړ؛ نو ومي غوښتل چې په بیع ئې بېرته ترې واخلم او ګمان مي وکړ چې دی به ئې په ټیټه بیع وپلوري؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم مي وپوښتو؛ نو وئې ویل: (مه ئې پېره، خپلي صدقې ته مه ستنېږه، که څه هم په یوه درهم ئې درکړي، خپلي صدقې ته ستنېدونکی داسي دئ لکه خپل قې ته ستنېدونکی (لکه هغه چې خپل قې بېرته تېروي).

دا روایت په بخاري کې څلور ځلي نور په دغو شمېرو راغلی: ٢٦٢٣، ٢٦٣٦، ٢٩٧٠، ٣٠٠٣؛ له دغو توپېرونو سره: په یوه کې فَأَرَدْتُ أَنْ أَشْتَرِيَهُ په بل کې فَأَرَدْتُ أَنْ أَشْتَرِيَهُ مِنْهُ په یوه کې وَظَنَنْتُ أَنَّهُ بَائِعُهُ بِرُخْصٍ په بل کې فَرَأَيْتُهُ يُبَاعُ په یوه کې لَا تَشْتَرِهِ، وَإِنْ أَعْطَاكَهُ بِدِرْهَمٍ وَاحِدٍ په بل کې لَا تَشْتَرِهِ، وَلَا تَعُدْ فِي صَدَقَتِكَ په بل کې لَا تَشْتَرِهِ وَإِنْ بِدِرْهَمٍ په یوه کې فَإِنَّ الْعَائِدَ فِي صَدَقَتِهِ كَالْعَائِدِ فِي قَيْئِهِ په بل کې فَإِنَّ الْعَائِدَ فِي هِبَتِهِ كَالْكَلْبِ يَعُودُ فِي قَيْئِهِ راغلي.

سره له دې ټولو توپېرونو چې په دغو روایاتو کې تر سترګو کېږي مطلب ئې یو دئ او هغه دا چې د صدقه شوي او په زکات کې ورکړی

شوي مال له بېرته اخيستلو بايد ډډه وشي؛ که څه هم د يوه درهم بيع په بدل کې وي.

خو په دې اړه د علماءو تر منځ اختلاف دئ، ابْن بطال وايي: پورتني روايت ته په پام سره ډېرى علماء دا مکروه ګڼي چې څوك د خپل زکات مال بېرته په بيع واخلي؛ او دا د امام مَالك، د کوفې علماءو او امام شافِعِيّ وينا ده، که دا زکات وي يا خيرات او صدقه، خو که څوك خپله صدقه وپېري نو بيع ئې نه فسخ کېږي، غوره دا ده چې له دې ډډه وشي؛ او ابن مُنْذر وايي: حسن، عِكْرِمَة، رَبِيعَة او اَوْزَاعِي د خپلي صدقې د پېرلو رخصت ورکړى، وايي: که د خپلي صدقې پېرل جائز نه وى نو رسول الله صلى الله عليه و سلم به هغه هديه هم نه قبلوله چې په اصل کې زکات او صدقه وه؛ بل ته د زکات په توګه ورکړى شوې او ده ته د هديې په توګه (لکه چې په ١٤٤٦ روايت کې ورته اشاره وشوه: له ام عطيه رضي الله عنها روايت دئ چې وايي: نُسَيبه انصاريه رضي الله عنها ته يو پسه واستول شو، هغې د پسه څه برخه عائشې رضي الله عنها ته ور ولېږله، (عائشه رضي الله عنها وايي) بيا رسول الله صلى الله عليه و سلم راته وفرمايل: (آيا د خوړو لپاره څه درسره شته؟) ما ورته وويل: نه؛ يوازې هغه څه چې نُسَيبې رضي الله عنها له هغه پسه رالېږلې؛ نو وئې فرمايل: (رائې وړه، يقيناً چې هغه خپل اصلي ځاى ته رسېدلې)؛ همدا راز په بل روايت کې داسې راغلي:... جَاءَت امْرَأَة إِلَى رَسُول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم فَقَالَت: يَا رَسُول الله إِنِّي تَصَدَّقت على أُمِّي بِجَارِيَة وَأَنَّهَا مَاتَت، قَالَ: وَجب أجرك وردهَا على الْمِيرَاث: يوه مېرمن رسول الله صلى الله عليه و سلم ته راغله او وئې ويل: خپلي مور ته مي يوه وينزه صدقه کړه، مور مي وفات شوه، (له وينزي سره څه وکړم)، رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: ستا اجر درته واجب شو او په ميراث کې ئې پرېښوده (يعني هغه اوس په ميراث کې ګڼل کېږي او ستا شوه) که په دې صورت کې د صدقې او زکات اخيستل جائز وي نو په بيع ئې پېرل به ولې جائز نه وي؟!

٤٢ باب: د رسول الله صلى الله عليه و سلم د مېرمنو له لوري آزاد شوو غلامانو ته صدقه ورکول

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضى الله عنهما قَالَ: وَجَدَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم شَاةً مَيِّتَةً، أُعْطِيَتْهَا مَوْلاةٌ لِمَيْمُونَةَ مِنَ الصَّدَقَةِ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم «هَلَّا انْتَفَعْتُمْ بِجِلْدِهَا؟» قَالُوا: إِنَّهَا مَيْتَةٌ. قَالَ: «إِنَّمَا حَرُمَ أَكْلُهَا». (بخارى:١٤٩٢)

له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم هغه پسه مړ وموند چي د ميمونه رضي الله عنها آزادي شوې وينځي ته په صدقه کي ورکړی شوی وو، رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (ولې مو د هغه له پوستکي ګټه نه ده اخيستې؟) حاضرينو وويل: دا خو مردار دئ؟ وئې فرمايل: "د دې خو يوازي خوړل حرام شوي".

دا روايت په بخاري کي درې ځلي نور په دغو شمېرو راغلی: ۲۲۲۱، ۵۵۳۱، ۵۵۳۲؛ غريب دئ؛ په ۵ طبقو کي يو يو راوي لري چي دا دي: سَعِيد بْن عُفَيْرٍ، ابْن وَهْب، يُونُس، ابْنِ شِهَاب، عُبَيْدُ اللَّهِ بْن عَبْدِ اللَّهِ او ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا. تويږونه ئې دا دي: په يوه کي وَجَدَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم شَاةً مَيِّتَةً أُعْطِيَتْهَا مَوْلَاةٌ لِمَيْمُونَةَ مِنَ الصَّدَقَةِ په بل کي أَخْبَرَهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم مَرَّ بِشَاةٍ مَيِّتَةٍ په بل کي مَرَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم بِعَنْزٍ مَيْتَةٍ په يوه کي هَلَّا انْتَفَعْتُمْ بِجِلْدِهَا په بل کي هَلَّا اسْتَمْتَعْتُمْ بِإِهَابِهَا په بل کي مَا عَلَى أَهْلِهَا لَوِ انْتَفَعُوا بِإِهَابِهَا راغلي.

٤٣ باب: د زكات په حالت کي بدلون

عَنْ أَنَسٍ رضى الله عنه: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم أُتِيَ بِلَحْمٍ، تُصُدِّقَ بِهِ عَلَى بَرِيرَةَ، فَقَالَ: «هُوَ عَلَيْهَا صَدَقَةٌ، وَهُوَ لَنَا هَدِيَّةٌ». (بخارى: ١٤٩٥)

له انس رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم ته له هغي غوښي څه راوړل شوه چي بَرِيرَه رضي الله عنها ته په صدقه کي ورکړی شوې وه؛ وئې فرمايل: (دا هغې ته صدقه او موږ ته هديه ده).

دا روايت په بخاري کي اته ځلي نور په دغو شمېرو راغلی: ۲۵۷۷، ۵۰۹۷، ۱۴۹۳، ۲۵۷۸، ۵۲۷۹، ۵۲۸۴، ۵۴۳۰، ۶۷۵۱؛ غريب دئ؛ که څه هم په صحابه وو کي دوه راويان لري: عائشه او انس رضي الله عنهما؛ خو په نورو طبقو کي د يوه راويان دا دي: يَحْيَى بْن مُوسَى، وَكِيع، شُعْبَة، قَتَادَة او أَنَس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ او د بل راويان دا: إِسْمَاعِيل بْن عَبْدِ اللَّه، مَالِك، رَبِيعَة بْنِ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ، قَاسِمِ بْنِ مُحَمَّد او عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا. توپيرونه ئې دا دي: په يوه کي أُتِيَ بِلَحْمٍ تُصُدّقَ بِهِ عَلَى بَرِيرَةَ په بل کي أُتِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم بِلَحْمٍ فَقِيلَ تُصُدّقَ عَلَى بَرِيرَةَ په بل کي فَقِيلَ لَحْمٌ تُصُدّقَ عَلَى بَرِيرَةَ په بل کي وَأُتِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم بِلَحْمٍ فَقُلْتُ هَذَا مَا تُصُدّقَ بِهِ عَلَى بَرِيرَةَ په بل کي فَقِيلَ لِلنَّبِيّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم هَذَا تُصُدّقَ عَلَى بَرِيرَةَ په بل کي وَلَكِنْ ذَلِكَ لَحْمٌ تُصُدّقَ بِهِ عَلَى بَرِيرَةَ، وَأَنْتَ لَا تَأْكُلُ الصَّدَقَةَ په بل کي وَلَكِنَّهُ لَحْمٌ تُصُدّقَ بِهِ عَلَى بَرِيرَةَ، فَأَهْدَتْهُ لَنَا په يوه کي هُوَ عَلَيْهَا صَدَقَةٌ، وَهُوَ لَنَا هَدِيَّةٌ په بل کي هُوَ لَهَا صَدَقَةٌ، وَلَنَا هَدِيَّةٌ په بل کي هُوَ صَدَقَةٌ عَلَيْهَا، وَهَدِيَّةٌ لَنَا راغلي.

دا روايت هم د دې رأيي تأييد کوي چي د صدقې او زکات حالت او کيفيت بدلېږي، يوه ته د زکات ښه لري او بل ته د هديې ښه غوره کوي، کله چي زکات د چا لاس ته ورشي د هغه مال ګڼل کېږي؛ له دې وروسته د ده له نور مال سره کوم توپير نه لري.

٤٤ باب: زکات له شتمنو اخيستل کېږي او فقيرانو ته ورکول کېږي

حَدِيثُ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ رضى الله عنه وبَعَثِهِ إِلَى الْيَمَنِ تَقَدَّمَ وفى هَذِهِ الرِّوَايَةِ:

«وَاتَّقِ دَعْوَةَ الْمَظْلُومِ فَإِنَّهُ لَيْسَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ اللَّهِ حِجَابٌ». (بخاری: ۱۴۹۶)

یمن ته د معاذ رضي الله عنه د لېږلو حدیث مخکې تېر شو او په دې روایت کې راځي: (... او د مظلوم له دعاء (سپرا) ځان وساته ځکه چې د ده او الله تعالی تر منځ کومه پرده نه شته).

خو دا برخه له باب سره هیڅ مناسبت نه لري؛ باب دا دئ: زکات له شتمنو اخیستل کېږي او فقیرانو ته ورکول کېږي او دا روایت وایي: د مظلوم له دعاء (سپرا) ځان وساته...

دا روایت په بشپړه توګه په بخاري کې څو ځلي راغلی خو دغه برخه ئې دوه ځلي نور په دغو شمېرو راغلې: ۲۴۴۸، ۴۳۴۷

۴۵ باب: د صدقه ورکوونکي لپاره د خیر دعاء

عَنْ عَبْدِاللَّهِ بْنِ أَبِي أَوْفَى رضی الله عنه قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم إِذَا أَتَاهُ قَوْمٌ بِصَدَقَتِهِمْ قَالَ: «اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى آلِ فُلانٍ». فَأَتَاهُ أَبِي بِصَدَقَتِهِ، فَقَالَ: «اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى آلِ أَبِي أَوْفَى». (بخاری: ۱۴۹۷)

له عبدالله بن ابي اوفیٰ رضي الله عنه روایت دئ چې وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم داسي وو چې کله به کوم قوم خپله صدقه او زکات ورته راوړ؛ نو وبه ئې فرمایل: (الهي! پر آل فلان رحمت وکړه). او پلار مي خپل زکات وروړ؛ نو وئې فرمایل: (بارئ ربه! په آل ابي اوفیٰ رحم وکړه).

دا روایت په بخاري کې درې ځلي نور په دغو شمېرو راغلی: ۴۱۶۶، ۶۳۳۲، ۶۳۵۹؛ له دغو توپیرونو سره: په یوه کې إِذَا أَتَاهُ قَوْمٌ بِصَدَقَتِهِمْ په بل کې إِذَا أَتَاهُ قَوْمٌ بِصَدَقَةٍ په بل کې إِذَا أَتَاهُ رَجُلٌ بِصَدَقَةٍ په بل کې كَانَ إِذَا أَتَى رَجُلٌ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم بِصَدَقَتِهِ په یوه کې اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى آلِ فُلَانٍ په بل کې اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَيْهِمْ په بل کې اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَيْهِ راغلي.

قرآن په دې اړه رسول الله صلی الله علیه و سلم ته فرمایلي:

خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِمْ بِهَا وَصَلِّ عَلَيْهِمْ إِنَّ صَلاتَكَ

سَكَنٌ لَّهُمْ وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿١٠٣﴾ التوبة

له مالونو ئې داسي صدقه تر لاسه کړه چې پرې پاك او تزکیه ئې کړې او دعاء ورته وکړه؛ یقیناً چې ستا دعاء ورته یوه ډاډېنه ده؛ او الله پوه اورېدونکی دئ.

له دې معلومېږي چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم د ټولو دا ډول ویناوو، لارښوونو، اوامرو او قولي او فعلي سنت لپاره په قرآن کې منشأ او شاهد موندلی شو؛ که هغه د فرائضو په ارتباط وي یا د فضائلو او مستحباتو په ارتباط؛ خو په قرآن ښه پوهېدا، په قرآن او روایت کې غور؛ او لازم فهم، درایت او فراست درلودل ایجابوي.

٤٦ باب: څه چې له سمندر په لاس راځي

د دې عنوان په لیدو او اورېدو سره هر څوك داسي فکر کوي چې ښایي مراد به ئې د بحر کبان او ماهیان وي او یا قیمتي تیږي او بل داسي څه چې په بحر کې موندل کېږي؛ خو کوم روایت چې تر دې عنوان لاندي راغلی؛ بل څه وایي: روایت دا دئ:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضی الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صلی الله علیه و سلم: «أَنَّ رَجُلاً مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ سَأَلَ بَعْضَ بَنِي إِسْرَائِيلَ بِأَنْ يُسْلِفَهُ أَلْفَ دِينَارٍ، فَدَفَعَهَا إِلَيْهِ، فَخَرَجَ فِي الْبَحْرِ فَلَمْ يَجِدْ مَرْكَبًا، فَأَخَذَ خَشَبَةً فَنَقَرَهَا، فَأَدْخَلَ فِيهَا أَلْفَ دِينَارٍ، فَرَمَى بِهَا فِي الْبَحْرِ، فَخَرَجَ الرَّجُلُ الَّذِي كَانَ أَسْلَفَهُ فَإِذَا بِالْخَشَبَةِ، فَأَخَذَهَا لأَهْلِهِ حَطَبًا - فَذَكَرَ الْحَدِيثَ - فَلَمَّا نَشَرَهَا وَجَدَ الْمَالَ». (بخاری:۱٤۹۸)

له ابو هریره رضي الله عنه روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: (د بني اسرائیلو یوه سړي له کوم بل اسرائیلي وغوښتل چې زر دینار په پور ورکړي، هغه ورکړل؛ نو پوروړی (د پور ښرته سپارلو په ورځ) د سمندر غاړي (ته ولاړ چې په کشتۍ کې سپور شي او قرض

ورکوونکي ته ورشي او خپلي پيسې ورکړي)؛ خو کښتۍ ئې ونه موندله؛ نو يو لرګی ئې راواخيست، وئې کيندو او زر دينار ئې په کي داخل کړل؛ (سوری ئې بند کړ او لرګی ئې) په سمندر کي وغورځاوو؛ ناڅاپه هغه سړی چي ده ته ئې پور ورکړی وو (د سمندر بلي غاړي ته) راووت؛ ناڅاپه ئې همغه لرګی (په اوبو کي) وليد؛ نو کورنۍ ته ئې د خسو په توګه راونيولو؛ راوي مکمل حديث بيانوي. په پای کي ئې راځي: کله چي ئې هغه پرانيست نو هغه مال (زر دينار) ئې په کي وموندل).

دا روايت په بخاري کي شپږ ځلي نور په دغو شمېرو راغلی: ۲۰٦۳، ۲۲۹۱، ۲٤۰٤، ۲٤۳۰، ۲۷۳٤، ٦۲٦۱؛ په دغو روايتو کي يوازي ۲۲۹۱ روايت په بشپړه توګه راغلی؛ نور ئې داسي دي چي که چا ته بشپړ روايت معلوم نه وي نو له هغوی نه يوازي خاص مطلب نه شي اخيستلی؛ بلکي احتمالاً ناسم پوهاوی او ناقص مطلب به ترې واخلي؛ لکه همدا پورتنی روايت چي په ناقصه توګه راغلی؛ او بشپړ مطلب نه شي افاده کولی. بشپړ روايت داسي دئ:

۲۲۹۱ - قَالَ أَبُو عَبْدِ اللَّهِ: وَقَالَ اللَّيْثُ: حَدَّثَنِي جَعْفَرُ بْنُ رَبِيعَةَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ هُرْمُزَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " أَنَّهُ ذَكَرَ رَجُلًا مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ، سَأَلَ بَعْضَ بَنِي إِسْرَائِيلَ أَنْ يُسْلِفَهُ أَلْفَ دِينَارٍ، فَقَالَ: ائْتِنِي بِالشُّهَدَاءِ أُشْهِدُهُمْ، فَقَالَ: كَفَى بِاللَّهِ شَهِيدًا، قَالَ: فَأْتِنِي بِالكَفِيلِ، قَالَ: كَفَى بِاللَّهِ كَفِيلًا، قَالَ: صَدَقْتَ، فَدَفَعَهَا إِلَيْهِ إِلَى أَجَلٍ مُسَمًّى، فَخَرَجَ فِي البَحْرِ فَقَضَى حَاجَتَهُ، ثُمَّ التَمَسَ مَرْكَبًا يَرْكَبُهَا يَقْدَمُ عَلَيْهِ لِلْأَجَلِ الَّذِي أَجَّلَهُ، فَلَمْ يَجِدْ مَرْكَبًا، فَأَخَذَ خَشَبَةً فَنَقَرَهَا، فَأَدْخَلَ فِيهَا أَلْفَ دِينَارٍ وَصَحِيفَةً مِنْهُ إِلَى صَاحِبِهِ، ثُمَّ زَجَّجَ مَوْضِعَهَا، ثُمَّ أَتَى بِهَا إِلَى البَحْرِ، فَقَالَ: اللَّهُمَّ إِنَّكَ تَعْلَمُ أَنِّي كُنْتُ تَسَلَّفْتُ فُلاَنًا أَلْفَ دِينَارٍ، فَسَأَلَنِي كَفِيلاً، فَقُلْتُ: كَفَى بِاللَّهِ كَفِيلًا، فَرَضِيَ بِكَ، وَسَأَلَنِي شَهِيدًا، فَقُلْتُ: كَفَى

بِاللَّهِ شَهِيدًا، فَرَضِيَ بِكَ، وَأَنِّي جَهَدْتُ أَنْ أَجِدَ مَرْكَبًا أَبْعَثُ إِلَيْهِ الَّذِي لَهُ فَلَمْ أَقْدِرْ، وَإِنِّي أَسْتَوْدِعُكَهَا، فَرَمَى بِهَا فِي البَحْرِ حَتَّى وَلَجَتْ فِيهِ، ثُمَّ انْصَرَفَ وَهُوَ فِي ذَلِكَ يَلْتَمِسُ مَرْكَبًا يَخْرُجُ إِلَى بَلَدِهِ، فَخَرَجَ الرَّجُلُ الَّذِي كَانَ أَسْلَفَهُ، يَنْظُرُ لَعَلَّ مَرْكَبًا قَدْ جَاءَ بِمَالِهِ، فَإِذَا بِالخَشَبَةِ الَّتِي فِيهَا المَالُ، فَأَخَذَهَا لِأَهْلِهِ حَطَبًا، فَلَمَّا نَشَرَهَا وَجَدَ المَالَ وَالصَّحِيفَةَ، ثُمَّ قَدِمَ الَّذِي كَانَ أَسْلَفَهُ، فَأَتَى بِالأَلْفِ دِينَارٍ، فَقَالَ: وَاللَّهِ مَا زِلْتُ جَاهِدًا فِي طَلَبِ مَرْكَبٍ لِآتِيَكَ بِمَالِكَ، فَمَا وَجَدْتُ مَرْكَبًا قَبْلَ الَّذِي أَتَيْتُ فِيهِ، قَالَ: هَلْ كُنْتَ بَعَثْتَ إِلَيَّ بِشَيْءٍ؟ قَالَ: أُخْبِرُكَ أَنِّي لَمْ أَجِدْ مَرْكَبًا قَبْلَ الَّذِي جِئْتُ فِيهِ، قَالَ: فَإِنَّ اللَّهَ قَدْ أَدَّى عَنْكَ الَّذِي بَعَثْتَ فِي الخَشَبَةِ، فَانْصَرِفْ بِالأَلْفِ الدِّينَارِ رَاشِدًا "

له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (د بني اسرائيلو يوه سړي له کوم بل اسرائيلي وغوښتل چې زر دينار په پور ورکړي؛ هغه ورته وويل: ما ته شاهدان راوله چې گواه ئې ونيسم؛ ده وويل: الله تعالى د شاهد په توګه کافي دئ؛ هغه ورته وويل: کوم ضامن راته راوله؛ ده ورته وويل: الله تعالى د ضامن په توګه کافي دئ؛ هغه وويل: رښتيا دي وويل؛ نو ده ته ئې تر ټاکلې نېټې ورکړل؛ نو پوروړی د سمندر له لاري ووت، خپل حاجتونه ئې تر سره کړل، بيا د سورلۍ په لټه کې شو چې په هغې سره هغي نېټې ته ځان ورسوي چې ټاکلې ئې وه، خو کښتۍ ئې ونه موندله؛ نو يو لرګی ئې راواخيست، وئې کيندو او زر دينار ئې په کې داخل کړل؛ سره له خپل يوه ليك خپل ملګري ته؛ بيا ئې دغه ځای وپوښلو، بيا ئې دا لرګی سمندر ته يووړ؛ نو وئې ويل: الهي! ته ښه پوهېږې چې ما له فلاني زر دينار په پور واخيستل، هغه له ما کفيل وغوښتو؛ ومي ويل: الله د کفيل په توګه کافي دئ؛ پر تا (د کفيل په توګه) راضي شو؛ او له ما ئې شاهد وغوښتو؛ ومي ويل: الله د شاهد په توګه کافي دئ؛ پر تا راضي شو؛ ما هڅه وکړه چې

کومه سورلۍ پیدا کړم چې هغه ته خپل حق ورولېږم؛ خو ونه توانېدم؛ او زه ئې تا ته سپارم؛ نو هغه ئې په سمندر کې وغورځاوو؛ تر هغه چې په کې ننوت (ډوب شو)؛ بیا تر شا شو؛ په داسې حال کې چې دی هملته د سورلۍ په لټه کې وو چې خپل هېواد ته ولاړ شي؛ ناڅاپه هغه سړی چې ده ته ئې پور ورکړی وو (د سمندر بلې غاړې ته) راووت چې وګوري ښایي کومه سورلۍ به د ده مال ورته راوړي؛ ناڅاپه ئې همغه لرګی (په اوبو کې) ولید چې د ده پیسې په کې وې؛ نو هغه ئې کورنۍ ته د خسو په توګه راونیولو؛ کله چې ئې هغه پرانیست نو هغه مال (زر دینار) او هغه پاڼه ئې ومونډل؛ بیا هغه سړی راغی چې پور ئې ورکړی وو؛ زر دینار ئې راوړل؛ او وئې ویل: قسم په خدای چې تل مې د سورلۍ لټه کوله چې ستا مال درکړم؛ خو تر دې وړاندې چې راشم سورلۍ مې ونه مونده؛ هغه ورته وویل: آیا کوم څه دي ما ته رالېږلي دي؟ وئې ویل: زه درته وایم تر دې وړاندې چې راشم سورلۍ مې ونه مونده، هغه ورته وویل: یقیناً چې الله تعالی ستا له لوري هغه څه اداء کړل چې په لرګي کې دي لېږلي وو؛ نو له زرو دینارو سره بریالی ستون شه.

دا روایت د بخاري په تعلیقاتو کې شمېرل شوی؛ او د سند اتصال ئې د صحیح حدیث په څېر یقیني نه دئ؛ نه یوازې د اتصال له پلوه ئې بخاري ډاډه نه دئ؛ بلکې غریب دئ؛ اما د محتوی له پلوه څو ستونزې لري:

• یو ځای وایي: پوروړي زر دینار له یوه لیك سره په لرګي کې کښېښودل او لرګی ئې سیند ته غوځار کړ؛ او همدا لرګی د پور ورکوونکي لاس ته ورغی؛ خو وروسته وایي: پوروړی له زر دینار سره د پور ورکوونکي کور ته ورغی؛ او هغه ورته وویل: آیا کوم څه دي ما ته رالېږلي دي؟ وئې ویل: زه درته وایم تر دې وړاندې چې راشم سورلۍ مې ونه مونده؛ هغه ورته وویل: یقیناً چې الله تعالی ستا له لوري هغه څه اداء کړل چې په لرګي کې دي لېږلي وو؛ نو هغه ورته ویلي: له زرو دینارو سره بریالی ستون شه.

لکه چې ګورئ په روایت کې څرګند تناقض لیدل کېږي!

- د روایت مطالب داسي دي چې نه یوازې مسلمان مکلف نه دئ پرې عمل وکړي بلکې د قرض او پور په ارتباط د قرآن په هغو لارښوونو مکلف دئ چې وایي: د قرض ورکولو په مهال شاهد، کاتب او د شاهد او کاتب په نه شتون کې یو څه په رهن او ګرو کې له پور اخیستونکی تر لاسه کړئ؛ په دې اړه چې د البقرة سورې په ۲۸۲ او ۲۸۳ آیتونو کې کومې لارښوونې شوې؛ ټولې د امر په صیغه دي؛ او دا ښیي چې مراعات ئې پر مسلمان لازم او ضروري دي؛ آیتونه او ترجمه او شرح ئې مخکې تېر شوي.

٤٧ باب: د ګنج او زېرمي زکات پنځمه برخه ده

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضى الله عنه: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم قَالَ: «الْعَجْمَاءُ جُبَارٌ، وَالْبِئْرُ جُبَارٌ، وَالْمَعْدِنُ جُبَارٌ، وَفِي الرِّكَازِ الْخُمُسُ». (بخاری: ١٤٩٩)

له ابو هریره رضي الله عنه روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: بوده (څاروي) هدر دي (د څاروي په کړنو خاوند ئې نه نیول کېږي)، څاه هدر دئ (که څوک په هغه کې ولوېږي خاوند ئې نه مجازات کېږي)، کان هدر دئ (که څوک په هغه کې ولوېږي خاوند ئې نه مجازات کېږي)؛ او په ګنج کې خمس (پنځمه ئې زکات) دئ.

دا روایت په بخاري کې درې ځلي نور په دغو شمېرو راغلی: ۲۳۵۵، ٦٩١٢، ٦٩١٣؛ له دغو توپېرونو سره: په یوه کې الْعَجْمَاءُ جُبَارٌ، وَالْبِئْرُ جُبَارٌ، وَالْمَعْدِنُ جُبَارٌ، وَفِي الرِّكَازِ الْخُمُسُ په بل کې الْعَجْمَاءُ جُرْحُهَا جُبَارٌ، وَالْبِئْرُ جُبَارٌ، وَالْمَعْدِنُ جُبَارٌ، وَفِي الرِّكَازِ الْخُمُسُ په بل کې الْعَجْمَاءُ عَقْلُهَا (دیت ئې) جُبَارٌ، وَالْبِئْرُ جُبَارٌ، وَالْمَعْدِنُ جُبَارٌ، وَفِي الرِّكَازِ الْخُمُسُ راغلي، له دې توپېرونو معلومېږي چې پورتنی روایت په بشپړه توګه نه دئ راغلی او ځینې الفاظ ترې پاته شوي؛ په اوسنۍ بڼې کې واضح مطلب نه افاده کوي؛ د روایت مطلب دا دئ: که د چا څاروی بل ته تاوان ورسوي، د

چا په کوهي کې څوک ولوېږي يا د کيندلو پر مهال څوک په کې مړ يا ژوبل شي او يا د چا په کان کې څوک مړ يا ژوبل شي؛ خاوند ئې مجرم نه ګڼل کېږي او د ديت او تاوان په ورکولو نه ګمارل کېږي. دا مطلب په هغه صورت کې تر لاسه کولی شو چې په دوهمي او درېيمي فقرو کې هم د لومړۍ فقرې په څېر جُرْحُه مقدر وګڼو.

د روايت د وروستۍ فقرې په اړه د فقهاءو تر منځ د اختلاف شاهد يو. په هغه ګنج او خزانه کې چې د چا په کور او زمکې کې وموندل شي؛ ځيني ئې زکات خمس (پنځمه) بولي او ځيني ئې د زمکې د خاوند مال بولي او زکات ئې ۲,۵ %.

په دې اړه امام بخاري او استادانو ئې پر امام ابو حنيفه او احنافو سختي نيوکې کړې؛ نيوکې ئې هم داسې نه دي لکه د اختلاف رأی په صورت کې يو د بل رأی او نظر په دلائلو او برهان او حجت سره ردول؛ د امام بخاري يو استاد او مرجع؛ د امام ابو حنيفه په ارتباط داسې الفاظ کارولې چې نه يوازې له يوه عالم سره نه ښايي؛ بلکې هر مسلمان او شريف انسان بايد تړې ډډه وکړي. کله ئې هغه د حديث منکر ګڼلی، کله ئې اهل الرأی يعني رأی ته پر حديث ترجيح ورکوونکی؛ او دې ته ورته تورونه؛ حتی په دوی کې داسې هم شته چې هغه ئې تکفير کړی!!

له امام ابو حنيفه رحمه الله سره د ځينو اختلاف دوه اساسي وجوهات لري؛ د ډېرو پر ثانوي اختلافاتو سربېره؛ لکه د عرب او عجم نژادي تعصبات؛ اساسي ئې دا دوه دي: ۱- امام ابو حنيفه د رواياتو د صحت لپاره سخت شرائط وضع کړي؛ يوازې د راويانو ثقه والی ئې کافي نه دئ ګڼلی؛ غريب او آحاد روايات په هغه صورت کې د منلو وړ ګڼي چې په قرآن کې شاهد ولري؛ دا اصولي او پر احتياط مبتني تګلاره هغه ناپوهان نه خوښوي چې قرآن ته د روايت راجع کول ضروري نه ګڼي او هر هغه روايت مني چې د خپلو خاصو معيارونو له مخې ئې راويان ثقه او معتبر ګڼلي؛ او دوی ته منسوب شوی هر روايت صحيح او معتبر بولي؛ که څه هم په قرآن کې هيڅ شاهد ونه لري او له نورو صحيح

راویاتو سره هم تعارض ولري؛ بخاري له داسي روایاتو ډک دئ؛ اکثر مکرر روایات ئې همداسي دي. موږ او تاسو د دې درسونو په دوران کې په لسګونو همداسي روایات ولیدل. ۲- د ځینو نورو مخالفت له دې کبله وو چې دی د اموي او عباسي دور د ظالمو او جابرو حکامو مخالف او د هغوی تر ستم لاندي وو او د هغو ملاتړ او حمایت ئې کولو او خپلو پلویانو او شاګردانو ته ئې سپارښتنه کوله چې د هغوی مرسته او ملګرتیا وکړي چې د دغو ظالمو امراءو او سلاطینو خلاف په جهاد بوخت ول؛ د امام ابو حنیفه مخالفین د دربارونو مدافعین او مفتیان ول؛ له ده سره ئې مخالفت سیاسي وو نه علمي او مذهبي؛ إن شاء الله په مناسب وخت کې به په دې اړه تفصیلي بحث کوو.

موږ په افغانستان کې هم د دې شاهد یو چې په عربي هیوادو پورې تړلې ډلې؛ د هغوی په وینا کله له یوه سره یو ځای شوي او کله له بل سره؛ یو مهال د کابل له هغه ائتلافي حکومت سره ودرېدل چې د کمونستانو د حکومت له نسکورېدو وروسته؛ د هغې ائتلافي جبهې له لوري جوړ شو چې سي آی اې او کې جي بي له کمونستانو، غربپالو، منافقینو او په عربي هېوادو پورې تړلو ډلو رامنځته کړه؛ امریکا او روسیې ئې مرسته کوله، وسلې او نظامي تجهیزات ئې ورته رالېږل، افغانۍ ئې ورته چاپولې او د افغانستان سفارتونه ئې د دوی په واک کې پرېښي وو؛ کله چې همدغو عربي هېوادونو د طالبانو حکومت تأییدولو؛ دا ډلې له دوی سره ودرېدلې؛ خو له هغه وروسته چې امارت اسلامي د اسامه بن لادن له سپارلو ډډه وکړه؛ نو د نظام له مخالفینو سره یو ځای شول؛ او بیا د اشغال په دوران کې د امریکایي حکومتونو په خوا کې ولاړ او په حکومت کې شریک ول.

٤٨ باب: د الله تعالى دا قول: (...وَالْعَامِلِينَ عَلَيْهَا...) التوبة ٦٠ او د زكات راغونډوونكو محاسبه له امام سره

عَنْ أَبِي حُمَيْدٍ السَّاعِدِيِّ رضى الله عنه قَالَ: اسْتَعْمَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم رَجُلاً مِنَ الأَسْدِ عَلَى صَدَقَاتِ بَنِي سُلَيْمٍ، يُدْعَى ابْنَ اللُّتْبِيَّةِ، فَلَمَّا جَاءَ حَاسَبَهُ. (بخارى:١٥٠٠)

له ابو حميد ساعدي روايت دئ چې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم د اَسْد قبيلې يوه سړي ته چې نوم ئې ابن لُتْبِيَّه وو د بني سُلَيم قبيلې زكات راټولولو دنده وسپارله او كله چې ئې زكات راټول كړ او راغى نو رسول الله صلى الله عليه و سلم محاسبه ورسره وكړه.

دا روايت په بخاري كې پنځه ځلي نور هم په دغو شمېرو راغلى: ٩٢٥، ٢٥٩٧، ٦٦٣٦، ٦٩٧٩، ٧١٧٤، د اكثرو راويان ئې په دريو طبقو كې دا دي: زهْرِى، عُرْوَةَ او أَبُو حُمَيْد السَّاعِدِى؛ د إسنادو له پلوه غريب دئ. لكه چې گورئ په دې روایاتو كې ډېر توپيرونه ليدل كېږي؛ په يوه كې اسْتَعْمَلَ ابْنَ الأُتَبِيَّةِ عَلَى صَدَقَاتِ بَنِي سُلَيْمٍ په بل كې اسْتَعْمَلَ رَجُلاً مِنْ بَنِى أَسْدٍ يُقَالُ لَهُ ابْنُ الأُتَبِيَّةِ په بل كې اسْتَعْمَلَ رَجُلًا مِنَ الأَزْدِ، يُقَالُ لَهُ ابْنُ الأُتْبِيَّةِ عَلَى الصَّدَقَةِ، په يوه كې فَهَلَّا جَلَسْتَ فِي بَيْتِ أَبِيكَ، وَبَيْتِ أُمِّكَ حَتَّى تَأْتِيَكَ هَدِيَّتُكَ إِنْ كُنْتَ صَادِقًا په بل كې فَهَلَّا جَلَسَ فِي بَيْتِ أَبِيهِ، وَبَيْتِ أُمِّهِ حَتَّى تَأْتِيَهُ هَدِيَّتُهُ إِنْ كَانَ صَادِقًا، په يوه كې ثُمَّ رَفَعَ بِيَدِهِ حَتَّى رَأَيْنَا عُفْرَةَ إِبْطَيْهِ؛ په بل كې رَفَعَ يَدَهُ، حَتَّى إِنَّا لَنَنْظُرُ إِلَى عُفْرَةِ إِبْطَيْهِ (د تخرگ سپينوالى)، په بل كې ثُمَّ رَفَعَ يَدَهُ حَتَّى رُئِيَ بَيَاضُ إِبْطِهِ، په بل كې رَفَعَ يَدَهُ حَتَّى إِنَّا لَنَنْظُرُ إِلَى عُفْرَةِ إِبْطَيْهِ، په بل كې ثُمَّ رَفَعَ يَدَيْهِ حَتَّى رَأَيْنَا عُفْرَتَيْ إِبْطَيْهِ، په بل كې ثُمَّ رَفَعَ يَدَيْهِ حَتَّى رَأَيْتُ بَيَاضَ إِبْطَيْهِ او دې ته ورته نور توپيرونه ليدل كېږي.

په پورتني روايت كې دا برخه نه ده راغلې چې رسول الله صلى الله عليه و سلم پر منبر دا خبره كړې او په پاى كې ئې لاسونه دومره لوړ

کړي چې تخرګونه ئې لیدل شوي او وئې فرمایل: أَلاَ هَلْ بَلَّغْتُ پام چې آیا خبره مي ورسوله؟ یا ئې داسي وفرمایل: اللَّهُمَّ هَلْ بَلَّغْتُ: بارئ ربه! آیا ما خبره ورسوله؟

٤٩ باب: امام د زکات اوښان په نښه کوي

عن أَنَس بنِ مَالِكٍ رَضِى الله تَعَالَى عنهُ. قَالَ غَدَوْتُ إِلَى رسولِ الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم بِعَبْدِ الله بنِ أَبى طَلْحَة لِيُحنكِّهُ فَوَافَيْتُهُ فِى يَدِهِ المِيسَمُ يَسِمُ إِبِلَ الصَّدَقَةِ. بخارى: ١٥٠٢

له انس رضي الله عنه روایت دئ چې وایي: عبدالله بن ابي طلحه رضي الله عنه مي سبایي رسول الله ته یوور چې د تبرک لپاره ئې په تالو خرما وروموښي؛ نو په داسي حال کې مي ولید چې په لاس کي ئې یو اوسپنیز سیخ وو او د زکات اوښان ئې پرې په نښه کول.

دا روایت په بخاري کې همدا یو ځل راغلی. غریب دئ؛ له بخاري پرته په بل هیڅ مهم او معروف کتاب کې نه دئ راوړل شوی؛ که څه هم شرح السنة للبغوي کې ویل شوي چې په صحیح مسلم کې هم راغلی؛ خو ما په کې ونه موندلو؛ الشامله د دې روایت هیڅ برخه په صحیح مسلم کې ونه ښودله؛ نه دا برخه چې عَبْدِ الله بنِ أَبِي طَلْحَة د دې لپاره په ماشومتوب کې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته وړل شوی چې په تالو خرما وروموښي او نه دا چې په داغ شوي سیخ ئې د زکات اوښان په نښه کول؛ په داغ شوي سیخ د حیوان داسي داغل چې پوستکی ئې وسوزېږي او هغه درد احساس کړي د رسول الله صلى الله عليه و سلم له نورو لارښوونو سره مغایرت لري؛ اما که داسي وي چې یوازي وړې ئې وسوزوي بیا مانع نه لري؛ خو په روایت کې د دې وضاحت نه دئ شوی.

په صحیح مسلم کې د اسماء بنت ابوبکر رضي الله عنهما په اړه راغلي چې خپل زوی عبد الله بن زبیر ئې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته

ورور چې خرما ئې په تالو وروموښي؛ نو هغه ئې واخيست او په خپلې غېږ کې ئې ونيولو او بيا ئې خرما راوغوښتله: (لِيُحَنِّكَهُ «فَأَخَذَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم مِنْهَا، فَوَضَعَهُ فِي حَجْرِهِ، ثُمَّ دَعَا بِتَمْرَةٍ». خو دا روايت هم د سند له مخې داسې دئ چې په درېيمې طبقې کې هِشَام بْن عُرْوَةَ، له عُرْوَة بْن الزُّبَيْرِ او فَاطِمَة بِنْت الْمُنْذِرِ بْنِ الزُّبَيْرِ، اورېدلې خو دا نه دي ويل شوي چې دوی دواړو دا خبره له چا اورېدلې؛ د متن له پلوه دا ستونزه لري چې په روايت کې ويل شوي: بيا اسماء رضي الله عنها خپل زوی هغه مهال رسول الله صلى الله عليه و سلم ته راوست چې ۷- ۸ کلن وو او بيعت ئې ورسره وکړ؛ او دا له هغه روايت سره اړخ نه لګوي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم د ماشوم بيعت کول نه دي کنلي.

کوم روايت چې ورپسې زمور مخې ته راځي په تجريد الصريح کې نه دئ راوړل شوی:

عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: أَنَّ نَاسًا مِنْ عُرَيْنَةَ اجْتَوَوْا المَدِينَةَ «فَرَخَّصَ لَهُمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم أَنْ يَأْتُوا إِبِلَ الصَّدَقَةِ، فَيَشْرَبُوا مِنْ أَلْبَانِهَا، وَأَبْوَالِهَا»، فَقَتَلُوا الرَّاعِيَ، وَاسْتَاقُوا الذَّوْدَ، فَأَرْسَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأُتِيَ بِهِمْ، فَقَطَّعَ أَيْدِيَهُمْ وَأَرْجُلَهُمْ، وَسَمَرَ أَعْيُنَهُمْ، وَتَرَكَهُمْ بِالحَرَّةِ يَعَضُّونَ الحِجَارَةَ تَابَعَهُ أَبُو قِلاَبَةَ، وَحُمَيْدٌ، وَثَابِتٌ، عَنْ أَنَسٍ. بخاری: ۱۵۰۱

له انس رضي الله عنه روايت دئ چې د عرينه قبيلې ځينو خلکو له دې کرکه وښوده چې په مدينه کې پاته شي؛ (رسول الله صلى الله عليه و سلم اجازه ورکړه چې د زکات اوښانو څړځای ته ولاړ شي او شيدې او بولې ئې وڅښي)؛ خو هغوی شپون ووژلو او اوښان ئې په مخه کړل؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم (يو ټولګی پسې) ولېږلو او هغوی ئې راوستل؛ نو د هغوی لاس او پښې ئې پرې کړل، سترګې ئې په سرو ميخونو وداغلې او له تودو ډبرو ډك ډاګ کې ئې داسې پرېښودل چې (له تندي ئې) په

ډبرو خولې لګولې؛ بخاري وايي چې ابو قِلابه، حُمَيد او ثابت له انس هم د دغه راوي متابعت کړی.

په سنن ابن ماجه کې په دې صیغه راغلی:

٢٥٧٨ - عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ أُنَاسًا مِنْ عُرَيْنَةَ قَدِمُوا عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّم فَاجْتَوَوْا الْمَدِينَةَ، فَقَالَ: «لَوْ خَرَجْتُمْ إِلَى ذَوْدٍ لَنَا، فَشَرِبْتُمْ مِنْ أَلْبَانِهَا وَأَبْوَالِهَا» فَفَعَلُوا. فَارْتَدُّوا عَنِ الْإِسْلَامِ، وَقَتَلُوا رَاعِيَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَاسْتَاقُوا ذَوْدَهُ، فَبَعَثَ رَسُولُ اللَّهِ فِي طَلَبِهِمْ، فَجِيءَ بِهِمْ، فَقَطَعَ أَيْدِيَهُمْ وَأَرْجُلَهُمْ وَسَمَرَ أَعْيُنَهُمْ وَتَرَكَهُمْ بِالْحَرَّةِ حَتَّى مَاتُوا.

له انس رضي الله عنه روایت دئ چې د عرینه قبیلې ځینې خلك رسول الله صلی الله علیه و سلم ته راغلل؛ نو له مدینې ئې کرکه وښوده؛ وئې فرمایل:؛ (ښه به وي که زموږ د اوښانو خوا ته ووځئ او شیدې او بولې ئې وڅښئ)؛ نو همداسې ئې وکړل؛ نو له اسلام مرتد شول، د رسول الله صلی الله علیه و سلم شپون ئې ووژلو او د هغه اوښان ئې په مخه کړل؛ رسول الله (یو ټولګی) د هغوی په موندلو او نیولو پسې ولېږو او هغوی ئې راوستل؛ نو د هغوی لاس او پښې ئې پرې کړل، سترګې ئې په سرو میخونو وداغلې او له تودو ډبرو ډك ډاګ کې ئې تر هغه پرېښودل چې مړه شول.

په معجم الاوسط کې دا هم په روایت کې مومو چې ویل شوي: کله چې دوی روغ شول؛ او له دې معلومېږي د عُرَينَه قبیلي دا خلك د بېمارۍ له کبله د اوښانو څرځای ته لېږل شوي وو.

د دې روایت په اړه باید دا مطالب په پام کې ولرو:

- غریب دئ په دوو طبقو؛ صحابه او تابعینو کې یو یو راوي لري.
- تجرید الصریح چې یوازې د بخاري غیر مکرر روایات ئې راوړي؛ دا روایت ئې نه دئ راوړی، معلومېږي چې قصداً او ځکه ئې نه دئ راوړی چې یا ئې إسناد ورته معتبر نه دي برېښېدلي او یا ئې متن. نورو کتابونو

هم ښايي له همدې کبله د راوړلو وړ نه دئ ګڼلی.

- رسول الله صلی الله علیه و سلم ته داسي څه منسوب شوي چې هم د قرآن خلاف دي او هم د رسول الله د وينا او عمل خلاف.
- د ټولو ژوو بولي ناپاکي او حرامي دي؛ که په جامه توی شي لمونځ ورسره نه کېږي او که پر زمکي توی شوې وي پر هغه زمکه لمونځ صحیح نه دئ؛ خاوره ئې د تیمم لپاره هم روا نه ده. څښل ئې حرام دي؛ دا ځکه چې مضر، پلیت او کرکجني دي؛ د ژوو بدن ئې ځکه طرح کوي چې د انسان صحت ته تاوان لري، که په بدن کې پاته شي او وتل ئې بند شي انسان وژني؛ قرآن تاواني شیان حرام کړي.
- اسلام سزاګاني ښودلې؛ په دې سزاګانو کې نه سوزول شته او نه په سره مېخ او سیخ د چا بدن او سترګي داغل شته؛ د محارب دښمن د مړو مثله کول، لاس پښې، غوږ، پزه پرې کول نه شته؛ که چا غلا کړې وي لاس ئې له بند قطع کېږي، قاتل د مقتول د ورثه په غوښتنه وژل کېږي، قطاع الطریق؛ د لارو شوکماران؛ که یوازي مال لوټ کړي؛ لاس ئې قطع کېږي، که ئې څوك ووژلو؛ قصاص کېږي، که ئې د غلا تر څنګ څوك ووژلو؛ له وژلو وروسته د خلکو د عبرت لپاره پانسې کېږي؛ که ئې شوکي کړې وې نو لاس او پښه ئې په خلاف د یوه بل قطع کېږي؛ که مسلمان وو او د حکومت په خلاف ئې وسله وال بغاوت کړی وو؛ د هغوی خلاف تر هغه جنګ جائز دئ چې له بغاوت لاس واخلي؛ که ئې لاس واخیست په مخکیني جرم نه مواخذه کېږي؛ که د جنګ له میدان وتښتېدو؛ نو نه به تعقیب کېږي؛ زخمي به ئې نه وژل کېږي، مړي به ئې نه مُثْلَه کېږي، مال او وسلې به ئې غنیمت نه ګڼل کېږي، هر څه به ئې د کورنۍ غړو ته سپارل کېږي، څوك حق نه لري د هغوی کورونو ته ننوځي؛ که څه هم مېرمني ئې د بام له سر مجاهدین په ډبرو ولي او ښکنځلي ورته کوي!!
- قرآن په صریح توګه او پرېکنده الفاظو فرمایي: له هغو سره وجنګېږي چې ستاسو خلاف جنګېږي؛ خو تېری مه کوئ چې الله تعالی

تېري کوونکي نه خوښوي؛ په تېري کې دغه ټول شيان شامل دي.

دغو مطالبو ته په پام سره ويلی شو چې دا روايت د اعتبار وړ نه دئ. خو متأسفانه ځيني کمعلمه افراد د دغسې رواياتو تر اغېز لاندې او د همدغو رواياتو په استناد؛ هر وحشت جائز ګڼي؛ پر خپلو مخکينيو ملګرو هم رحم نه کوي؛ نيسي ئې، لاس، پښې او سترګې ئې ورټړي، پر ېمونو ئې کښېنوي او منفجروي ئې؛ سرونه ئې ترې غوڅوي او د تيږو له پاسه ئې ږدي، په جوماتونو کې؛ د لمانځه، د قرآن تفسير، د حديث درسونو په جريان کې وحشيانه چاودنې کوي، د بې ګناه او غير محارب خلکو د ګڼې ګوڼې او حتی د جنازو لمونځونو په ځای کې چاودنې کوي.

مورِ دوست او دښمن ته وايو: زمورِ په دين کې؛ د مهربان رب له لورې رالېږل شوي دين کې؛ هغه چې پيغمبر ئې رحمة للعالمين دئ؛ داسې وحشيانه او بې رحمانه وژنې نه شته؛ مورِ د هر انسان په نسبت په خپل زړه کې ترحم او زړه سوی لرو؛ د کافر له عمل کرکه لرو نه د هغه له انساني ذات؛ زمورِ پيغمبر عليه السلام وايي: د حيوان په ذبح کولو کې هم د مهربانۍ او زړه سوي طريقه غوره کړئ.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلٰهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

د کتاب له متن:

ناکاره حکومت او بیمار اقتصاد سره ترلي وي

د هر بریالي او رغنده اقتصـــاد تر شا به حتماً یو اهل او صالح زعیم او حکومت ومومئ او د هر بیمار اقتصـــاد تر شا به حتماً خائن حکام او فاسد حکومت.

آیا پوهیږئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي:

«إِنَّ صَاحِبَ الْمَكْسِ فِي النَّارِ» مسند احمد

د ټکس او مالیې اخیستونکی دوزخي دئ

«لَا يَدْخُلُ صَاحِبُ الْمَكْسِ الْجَنَّةَ» سنن ابي داؤد

د ټکس اخیستونکی به جنت ته داخل نه شي

«لَيْسَ فِي الْمَالِ حَقٌّ سِوَى الزَّكَاةِ» سنن ابن ماجه

د مسلمان په مال کې له زکات پرته بل حق نه شته؟

آیا پوهیږئ چې:

بانکونوتونه کله رائج شول او په اسلام کې ئې حکم څه دئ؟

او دا چې اسلام د پانګوال اقتصـــاد ټول بنســـتونه تحریم کړي؛ سود، احتکار، انحصـــار، قمار، لاټري، ګمرکي تعرفې، بیمه، ټکس او هره هغه معامله چې د چانس، تصـــادف، بخت آزمویني او قمار په څېر وي او له فقیر او مســـکین ټکس او مالیه اخیستل وي؟

د کتاب له متن:

ناکاره حکومت او بیمار اقتصـــادسره تړلي وي؛ د هر بریالي او رغنده اقتصـاد تر شا به حتماً یو اهل او صالح زعیم او حکومت ومومئ او د هر بیمار اقتصاد تر شا به حتماً خائن حکام او فاسد حکومت.

آیا پوهېږئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي:

«إِنَّ صَاحِبَ الْمَكْسِ فِي النَّارِ» مسند احمد

د ټکس او مالیې اخیستونکی دوزخي دئ

«لَا يَدْخُلُ صَاحِبُ الْمَكْسِ الْجَنَّةَ» سنن ابي داؤد

د ټکس اخیستونکی به جنت ته داخل نه شي

«لَيْسَ فِي الْمَالِ حَقٌّ سِوَى الزَّكَاةِ» سنن ابن ماجه

د مسلمان په مال کې له زکات پرته بل حق نه شته؟

آیا پوهېږئ چې:

بانکونوټونه کله رائج شول او په اسلام کې ئې حکم څه دئ؟

او دا چې اسلام د پانګوال اقتصـــاد ټول بنســـټونه تحریم کړي؛ سود، احتکار، انحصـــار، قمار، لاټري، ګمرکي تعرفې، بیمه، ټکس او هره هغه معامله چې د چانس، تصـــادف، بخت آزموینې او قمار په څېر وي او له فقیر او مســکین ټکس او مالیه اخیســـتل وي؟